# عامه بودیجه

(تیوري)

Ketabton.com

لیکوال: پوهنوال دوکتور سید محمد ټینگار

ژباړن: پوهنیار رحمت الله منګل

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کتاب ځانګړنې


د کتاب نوم: عامه بودیجه (تیوري)

لیکوال: پوهنوال دوکتور سید محمد ټینګار

ژباړن: پوهنیار رحمت الله منګل

خپرندوی: نوی مستقبل خپرندویه ټولنه

چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپ وار: دویم

چاپ کال: ۱۴۰۰ لمریز

قیمت: ۱۵۰ افغانی

**نوی مستقبل خپرندویه ټولنه**

مخامخ لومړی ادرس: کوټه سنګي–دسیلو د څلورم اوپنځم سړک ترمنځ د شاداب ظفر بلاکونوته

دویم ادرس: د دهمزنګ لومړی سړک (مرکز عمومي کتابفروشي). ۰۷۸۸۲۲۰۵۳۰

درېیم ادرس: جوي شیر دخپرندویه ټولنو او کتاب پلورنځینو عمومي مرکز ۰۷۸۱۸۹٤۰٦٤

۰۷۸۷۱۸۰۷۵۳/۰۷۷۸۸۷۰۳۰۵/اړیکې: ۰۷۸٦٦۳۰۷۳۱

برېښنا لیک: moustaqble۲۰۱۸@gmail.com


د چاپ حقوق یې ژباړن او خپرندویه سره خوندي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ!

ریښتینو علمأو، مجاهدینو، غازیانو، هیوادپالو او

هغو ته، چې د هېواد اوبه مدیریت کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ژباړن خبرې

لمړي سر کې باید یادونه وکړم، چې اقتصاد په برخه کې مې دا دویم کتاب دی؛ چې ژباړم یې لمړی کتاب د (عامه اقتصاد) په نوم دی، چې دوکتور پوهاند عبد القیوم عارف لیکلی او ما ژباړلی او دغه کتاب مې د نن څخه تقریباً څلور کاله دمخه ژباړلی ؤ او یو څه کارونه یې پاتې شول ځکه چې د ماستري د ترسره کولو لپاره ملیشیا هېواد ته لاړم او د دې کتاب د ژباړې او چاپ کارونه همداسې نیمګړي پاتې شول.

د کار پیل د اړتیا د رفع کولو په خاطر او یا هم د ستونزې د له منځ وړلو لپاره رامنځ ته کیږي. هغه څه؛ چې نن سبا په افغانستان کې ورته ډېره اړتیا لیدل کیږي د اقتصاد په برخه کې په کافي اندازه د پښتو کتابونو نه شتون دی او د محصلینو اوحتی د استادانو له طرفه دا شکایت کیږي چې په پوره ډول په پښتو موضوعات پیدا کول ډېر ستونزمن دي او دغه اړتیا باید رفع شي. دا یوه لویه ستونزه ده؛ چې په پښتو ژبه باندې په عموم کې لیکنې ډېرې کمې دي نو د دې ستونزې د له منځه وړلو لپاره د مختلفو ژبو څخه د کتابونو ژباړه اړینه بولم تر څو دغه ډول اړتیاوې مرفوع او ستونزې له منځه یووړل شي.

په لمړي سر کې غواړم، چې له سترکریم او تر ټولو مهربان ذات (ج) شکر ادا کړم، چې ما ته یې دا توان راکړی چې پدې برخه کې یو څه ولیکم. په دویم قدم کې د اروابناد پوهاند صاحب ډاکټر سید محمد ټینګار دې الله ج و ښښي چې یو ستر کار یې پدې برخه کې تر سره کړی او په ژوند یې ماته د دې کتاب د ژباړلو اجازه هم راکړه، الله ج دې یې ښکلي جنتونه په برخه کړي.

غواړم له ځینو استادانو او ملګرو څخه هم ځانګړې مننه وکړم، د شیخ زاید پوهنتون د اقتصاد پوهنځی استادان هر یو، پوهنیار شرف الدین شرف، پوهنیار خالد پښتون، د پکتیا پوهنتون استاد پوهنیار خالد شاکر،ماسټر خیبر خیبر، د پامیر پوهنتون استاد عزت الله تمدن او حضرت الله ارغوان،چې زما سره یې د دې کتاب په مخکتنه کې ځانګړې مرسته کړې کور یې ودان تل دې همداسې هڅاند وي.

د قرآني آیت د مفهوم مطابق چې فرمایلي یې دي، «انسان کمزوری پیدا شوی» نو د انسان هره کړنه له نیمګړتیاؤ خالي نه وي نو له ګرانو لوستونکو څخه هیله کوم، هغه نیمګړتیاوې، چې په دې کتاب کې موجودې وي راپه ګوته کړي،ترڅو په راتلونکې کې یې اصلاح کړم. الله دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړي چې ددغه علمي اثر ژباړه زمونږ درنو استادانواو محصلینو ته گټوره تمامه شي.
د یوه داسې افغانستان په هیله، چې د هر وګړي د سوکالۍ او آرامۍ هیلې یې پوره وي.

**پوهنیار رحمت الله منګل**

د شیخ زاید پوهنتون؛ اقتصاد پوهنځی؛ مالي او بانکي څانګې استاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تقریظ

محترم پوهنیار رحمت الله منګل، چې د اقتصاد پوهنځی د مالي او بانکي څانګې استاد دی یو داسې علمي کار تر سره کړی، چې نن سبا ورته زیاته اړتیا لیدل کیږي.

مهمه ده، چې په داسې موضوع لیکنه وشي، چې ورته اړتیا لیدل کیږي، په اوسني وخت کې ستره ستونزه دا ده، چې په اقتصاد کې د پښتو کتابونو لیکنو شمېر ډېر کم دی، د دې ستونزې سره زموږ محصلین لاس او ګرېوان دي، داسې لیکنې کمې دي، چې دوی دې په خپلو مونوګرافونو کې ترې ګټه پورته کړي. همداشان په خپله ژبه کې د کتابونو لیکنه او یا خپلې ژبې ته د نورو کتابونو ژباړل ستر خدمت دی. د شیکسپیر په وینا، هغه خلک ډېر څه زده کولی شي او زر پرمختګ کولی شي، چې  په خپله ژبه زده کړې تر سره کوي.

نوموړي استاد دغه ژباړل شوی کتاب مؤثر او ګټور بولم، د ګټورتیا علت یې دا دی، چې د افغانستان د اقتصاد پوهنځیو دریم ټولګي کې تدریسیږي او همدارنګه بل مهم اړخ یې دا دی چې دغه کتاب د اقتصاد پوهنځی د کریکولم د مفرداتو مطابق دی. نو ځکه ویلی شو چې د استادانو او زده کړیالانو هغه ستونزې چې په دې برخه کې یې لرلې تر ډېره حده به یې حل کړي او د استاد دغه ګام پرځای بولم او ستایم یې.

نوموړی کتاب چې له مختلفو معتبرو نړیوالو او داخلي منابعو څخه پکې استفاده شوې یوه ډېره ګټوره لیکنه ده هغه مفاهیم، چې ورته اړتیا ده په دې کتاب کې ورته ځای ورکړ شوی. په دغه کتاب کې ځینې داسې موضوعاتو ته ځای ورکړ شوی، چې د افغانستان بودیجوي سیستم لپاهر اړین دي. په نوموړي کتاب کې ځینې موضوعات د مالیې وزارت څخه را اخستل شوي، او د څو کلونو بودیجه سره پرتله شوې دا لوستونکو ته لا جالبه ځکه وي، چې موږ د افغانستان د بودیجې په اړه پوهیږو، چې اوس او مخکې کلونو کې د افغانستان بودیجه څه ډول وه او د پرتلې په اساس موږ کولی شو دا مالومه کړو، چې زموږ بودیجه ولې زیاته شوې یا کمه شوې، علتونو او ننګونو باندې یې پوه شو، د دې تر څنګ دا په ډاګه کوي، چې کوم فعالیتونو ته بودیجه کې ځای ورکړ شوی، پایله یې څه وه، اوس باید څه وشي، چې بودیجه کې بدلون ګټور تمام شي. پورته موضوعاتو ته په کتور دغه کتاب د اقتصاد په برخه کې یوه ګټوره زیاتونه ګڼم.

محترم استاد ته د لا بریاؤ دعا کوم.    په درنښت

**استاد پوهنوال ډاکټر رحیم جان دردمل**

د شیخ زاید پوهنتون اقتصاد پوهنځی پخوانی رئیس

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تقریظ

دایو حقیقت دی، چې د یوه کار پیل او په معقوله توګه یې تر سره کول زیات ستونزمن وي ولې ستونزو ته حل لاره نه پیدا کول تر هغه ستره ستونزه ده. د ژوند هر پړاو له ستونزو ډک وي که ستونزې تر یوه حده رفع هم شي بیا هم نیمګړتیا په همغه کار کې کیدای شي په پشپړ ډول له منځ لاړې نه شي ځکه چې انسان نیمګړی دی.

نو پدې هیله چې دغه کتاب تر یوه حده د بودیجې په برخه کې د اقتصاد پوهنځی محصلینو او استادانو د درسي موادو د نه شتون ستونزه راکمه کړي. نو محترم استاد رحمت الله منګل، چې د شیخ زاید پوهنتون اقتصاد پوهنځی د مالي او بانکي څانګې استاد دی یوه داسې هڅه تر سره کړې چې ورته اړتیا لیدل کیده، او د محترم استاد دغه چاره په ریښتیا هم یو ځانګړی اهمیت لري.

نوموړي استاد د عامه بودیجې تیورۍ تر عنوان لاندې دغه کتاب چې ژباړلی دی یوه ځانګړتیا، چې دغه کتاب یې له ځانه سره لري او د دې کتاب اهمیت څرګندوي هغه دا ده، چې دغه کتاب د افغانستان د پوهنتونونو د اقتصاد په پوهنځیو کې تدریسیږي او بل اهمیت یې دا دی چې هغه موضوعات  چې په دغه کتاب کې شامل دي هغه د اقتصاد پوهنځی د عامه بودیجې مضمون د کریکولم مفرداتو مطابق کټ مټ پدې کتاب کې راخستل شوي. او همدا شان هیله لرم، چې دغه کتاب به د محصلینو او استادانو سره د مرستې لامل وګرځي نو په همدې اساس د استاد دغه ژباړه چې تر سره کړې یې ده ستایم. محترم استاد د کتاب د ژباړې ټول اصول په پام کې نیولي.

نوموړی کتاب چې د دري ژبې څخه پښتو ته ژباړل شوی د کابل پوهنتون د اقتصاد پوهنځی د مالي او بانکي څانګې وتلي استاد محترم پوهنوال سید محمد ټینګار لخوا لیکل شوی اوچاپ شوی دی له نیکه مرغه دغه اثر اوس د استاد رحمت الله منګل په زیار او هڅو سره پښتو ژبې ته ژباړل شوی.

زه محترم استاد منګل صاحب ته په راتلونکې کې په علمي کړنو کې د نورو بریاؤ هیله کوم.

په درنښت

**استاد پوهنیار مامور الدین منګل**

د شیخ زاید پوهنتون اقتصاد پوهنځی معاون

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مطالبو لړلیک

**سریزه ............ ۱۵**
**لومړی څپرکی ............ ۱۷**
**د بودیجې مفهوم، ماهیت او تاریخي شالید ............ ۱۷**
د بودیجې تعریفونه ............ ۱۷
د بودیجې ځانګړتیاوې ............ ۱۸
په نړۍ کې د بودیجې تاریخي سېر ............ ۱۸
په افغانستان کې د بودیجې تاریخي سېر او تکامل ............ ۲۰
د بودیجې د شتون فلسفه ............ ۲۳
د دولت بودیجه ............ ۲۳
بودیجه او په اقتصاد کې د دولت رول ............ ۲۳
د غېرې انتفاعي، محلي، دولتي بودیجه بندۍ او خصوصي بودیجه جوړونې ترمنځ توپیرونه ............ ۲٤
د بودیجه بندۍ ګټې ............ ۲۸
د برنامې جوړونې او بودیجې تر منځ اړیکې ............ ۲۹
د دولت د بودیجې څلورګونی رول ............ ۲۹
پوښتنې ............ ۳٤
مأخذونه ............ ۳٤
**دویم څپرکی ............ ۳۵**
**د بودیجې دندې ............ ۳۵**
د بودیجې عنعنوي دندې ............ ۳۵
د بودیجې سیاسي دندې ............ ۳۵
د بودیجې قانوني دندې (حقوقي دندې) ............ ۳٦
د بودیجې د مالي سیاست دندې ............ ۳٦
د بودیجې اقتصادي سیاست دندې ............ ۳٦
د بودیجې ماډرنې دندې ............ ۳۷
د بودیجې د پلانګذارۍ دندې ............ ۳۷
د بودیجې تحلیلي دندې ............ ۳۷
لنډیز ............ ۳۹
پوښتنې ............ ٤۰
مأخذونه ............ ٤۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دریم څپرکی...... ٤١**

**د بودیجې د عوایدو او مصارفو پلان جوړونه...... ٤١**

مصارف او د بودیجې د مصارفو پلان گذاري ...... ٤١

د مصارفو طبقه بندي ...... ٤٢

په افغانستان کې د مصارفو طبقه بندي ...... ٤٤

عواید او د بودیجې د عوایدو پلان گذاري ...... ٤٥

د عوایدو طبقه بندي ...... ٤٧

په افغانستان کې دعوایدو طبقه بندي ...... ٤٨

لنډیز ...... ٤٩

پوښتنې ...... ٥١

مأخذونه...... ٥١

**څلورم څپرکی ...... ٥٢**

**د بودیجې اصول...... ٥٢**

د کلني والي اصل ...... ٥٢

د بودیجې د وحدت اصل ...... ٥٣

د بودیجې دتعادل اصل...... ٥٤

د بودیجې د جامعیت اصل...... ٥٥

د بودیجې د تفصیل یا شاملیت اصل...... ٥٥

د بودیجې د تخصیص اصل ...... ٥٦

د راپور ورکولو اصل...... ٥٧

د بودیجې د صلاحیت اصل ...... ٥٨

د بودیجې اجرائیوي اصل ...... ٥٨

د بودیجې د علنیت(څرگندوالي) اصل ...... ٥٩

لنډیز ...... ٦٠

پوښتنې ...... ٦٢

مأخذونه...... ٦٢

**پنځم څپرکی ...... ٦٣**

**د بود یجې جوړونې ډولونه ...... ٦٣**

د صفر په اساس بودیجه...... ٦٤

لنډیز ...... ٦٨

پوښتنې ...... ٦٩

مأخذونه...... ٦٩

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شپږم څپرکی ........................................ ۷۰**
**د بودیجې مراحل ........................................ ۷۰**
د بودیجې ترتیب: ........................................ ۷۰
دبویجې تصویب ........................................ ۷۳
شکل په افغانستان کې د بودیجې د تصویب مراحل ........................................ ۷۵
د بودیجې اجرأ ........................................ ۷۵
د بودیجې ابلاغ: ........................................ ۷۶
د طرحو او فعالیتونو مبادله او موافقت پاڼې: ........................................ ۷۷
تخصیص(اعتبار) ........................................ ۷۷
شکل د بودیجې اجرأیوي دوران ........................................ ۷۸
د بودیجې کنترول: ........................................ ۷۸
د بودیجې اداري کنترول: ........................................ ۷۸
قضایي کنترول: ........................................ ۷۹
د بودیجې پارلماني کنترول: ........................................ ۸۰
لنډیز ........................................ ۸٤
پوښتنې ........................................ ۸۷
**اووم څپرکی ........................................ ۸۸**
**د برنامې په اساس بودیجه جوړونه او ولایتي بودیجه ........................................ ۸۸**
د برنامې په اساس د بودیجې مفهوم اوماهیت ........................................ ۸۸
په افغانستان او نړۍ کې د برنامې په اساس د بودیجه جوړونې شالید ........................................ ۹۰
دعنعنوي بودیجې ستونزې ........................................ ۹۲
د هېواد او بودیجې د اهدافو او لومړیتوبونو ترمنځ د پیوند او ارتباط نشتوالی ........................................ ۹۲
د عادي او انکشافي بودیجې ترتیب ........................................ ۹۲
د بودیجې په تخصیص کې د شفافیت نشتوالی ........................................ ۹۳
د برنامې په اساس د بودیجې ګټه او له عنعنوي بودیجې سره د هغې مقایسه ........................................ ۹۳
د وزارتونو د اهدافو او لومړیتوبونو تر منځ پیاوړی او څرګند ارتباط او پیوند ایجادوي ........................................ ۹۳
دغه طریقې مختلفې بودیجې یو له بل سره یوځای کوي ........................................ ۹٤
د بودیجې په تخصیص پورې د اړوندې تصمیم نیونې پروسه په مؤثر ډول ممکنه کوي ........................................ ۹٤
د مالي منابعو اداره د وزارتونو په داخل کې پیاوړي کوي ........................................ ۹٤
د بودیجې د تصویب شفافتره پروسه ........................................ ۹٤
له خارجې بودیجې څخه د دولت اصلي بودیجې ته زیات مالي وجوه (پیسې) جلبوي ........................................ ۹٤
د برنامې په اساس بودیجې له تطبیق څخه مخکې اړین شرایط ........................................ ۹۵
د وزارت ستراتیژیک پلان ........................................ ۹۵

(c) ketabton.com: The Digital Library




منځ مهاله پلانګذاري........ ۹٦
د اجرأئیوي شاخصونو ډولونه ........ ۹٦
د برنامې په اساس د بودیجې جوړونې د اړونده اسنادو تر کیب او جوړښت ........ ۹۷
د برنامې په اساس په بودیجه پورې د اړوند سند شکل(بڼه)........ ۹۷
د برنامې په اساس په بودیجه پورې د اړوند سند عناصر........ ۹۷
د برنامې په اساس د بودیجې ګرافیکي جوړښت ........ ۱۰۲
د برنامې په اساس د بودیجې جوړونې عناصر ........ ۱۰٤
د اجرأتو سنجش ........ ۱۰٦
د بودیجې د تنظیم پروسه........ ۱۰۷
د بودیجې د ترتیب تقویم ........ ۱۰۹
د مالیې وزارت اقدامات ........ ۱۱۰
دبودیجې لومړۍ شمېره متحدالمال ........ ۱۱۰
د لومړیتوبونو تشخیص: ........ ۱۱۱
د مصرفي پلانونو د ارتباط ملاحظه کول ........ ۱۱۱
د بودیجې دویمه شمېره متحدالمال ........ ۱۱۱
د مالیې وزارت نور اقدامات........ ۱۱۲
د بودیجې منځ مهاله چوکاټ او بودیجوي سقفونه........ ۱۱۲
د برنامې په اساس د بودیجې مراحل ........ ۱۱۲
په بودیجوي واحدونو کې د برنامې په اساس د بودیجې تطبیق کوونکی ټیم (مربوطه وزارتونه) ........ ۱۱۲
د بودیجوي واحد لپاره د ستراتیژیک هدف تعین (مربوطه وزارتونه) ........ ۱۱۳
د برنامې د اساسي جوړښت طرحه او د اړوندې برنامې د اهدافو ټاکنه........ ۱۱٤
د برنامې اهداف........ ۱۱٤
برنامه ........ ۱۱٥
د هرې برنامې لپاره د مدیر ټاکل........ ۱۱٥
د هرې برنامې لپاره باید داخلي کاري ګروپ ایجاد او په کار وګمارل شي ........ ۱۱٦
د هرې برنامې لاندې د فرعي برنامو ایجاد او طرحه کول........ ۱۱٦
د فعالیتونو ثبت او پیژندل [ عادي فعالیتونه او انکشافي پروژې ........ ۱۱۹
د هرې برنامې لپاره د کړنلارو او اهدافو د شاخص تهیه [ فرعي برنامه ] ........ ۱۱۹
د محصولاتو یا کمي پایلو سنجش او ارزیابي........ ۱۲۰
کیفي تغیر یا ارزیابي........ ۱۲۰
په مؤثریت پورې اړوند معیارونه ........ ۱۲۱
په کړنلاره پورې د اړوندو اهدافو تعین........ ۱۲۱
د فعالیتونو د قیمت ګذارۍ مرحله ........ ۱۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



د برنامې په اساس د بودیجې د ارایې لپاره د قیمت گذارۍ روش ........ ۱۲۲
د قیمت گذارۍ سطحې ........ ۱۲۲
ابتدایي قیمت گذاري ........ ۱۲۳
د مبداء بودیجې (عادي بودیجې) د مصارفو د تعین مراحل ........ ۱۲٤
د مبدأ بودیجې (انکشافي بودیجې) د مصارفو د تعین مراحل ........ ۱۲٤
د نویو لومړیتوبونو په اساس قیمت گذاري ........ ۱۲۷
د بودیجې د ترتیب مرحله ........ ۱۲۹
د بودیجې تخصیصات او دمصارفو اجرأء ........ ۱۳۰
د حساباتو او مالي چارو د اداري د سیستم جدول ........ ۱۳۰
تخصیصات ........ ۱۳۰
د تخصیصاتو پروسیجر ........ ۱۳۱
د تخصیصاتو فورمې ........ ۱۳۱
د عادي بودیجې د تخصیصاتو دوران یا سایکل ........ ۱۳۱
د انکشافي بودیجې د تخصیصاتو دوران یا سایکل ........ ۱۳۱
ولایتي بودیجه جوړونه څه شی ده ؟ ........ ۱۳۳
د ولایتي بودیجه جوړونې پس منظر ........ ۱۳۳
د ولایتي بودیجه جوړونې اهداف ........ ۱۳٤
دولایتي بودیجه جوړونې کړنلاره ........ ۱۳٥
د ولایتي بودیجه جوړونې لاسته راوړنې ........ ۱۳٥
د ولایتي بودیجه جوړونې ستونزې او ننگونې ........ ۱۳٥
لنډیز ........ ۱۳۷
پوښتنې ........ ۱٤۰
**اتم څپرکی ........ ۱٤۱**
**د بودیجې حالات ........ ۱٤۱**
د بودیجې توازن ........ ۱٤۱
د بودیجې تفاضل یا مازاد ........ ۱٤۳
د بودیجې کسر ........ ۱٤٤
د اداري چارو له امله د بودیجې کسر ........ ۱٤٥
د اقتصادي وضعې تغیرات د بودیجې د کسر د علت په توگه ........ ۱٤٦
اقتصادي جوړښت د بودیجې د کسر د علت په توگه ........ ۱٤۹
لنډیز ........ ۱٥۱
پوښتنې ........ ۱٥۳
ماخذونه ........ ۱٥۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نهم څپرکی ........................................ ۱۵٤**
**د بوديجې قطعيه حساب ........................................ ۱۵٤**
د قطعيه حساب اهميت ........................................ ۱۵٤
د بوديجوي واحدونو مکلفيتونه : ........................................ ۱۵۵
د ماليې وزارت مکلفيت ........................................ ۱۵٦
د کنترول او تفتيش اداري مکلفيت ........................................ ۱۵۷
د تفتيش د اظهار نظر ډولونه ........................................ ۱۵۷
موافق نظر څرگندول (اظهار نظر ) ........................................ ۱۵۷
مشروط موافق اظهار نظر ........................................ ۱۵۷
په خاصوموضوعاتو باندې له ټينگار سره يو ځای موافق اظهار نظر ........................................ ۱۵۸
مخالف اظهار نظر ........................................ ۱۵۸
د مسؤوليت د رد اظهار نظر ........................................ ۱۵۸
د قطيعه حساب د ترتيب اړتيا ........................................ ۱۵۸
د قطعيه حساب د بازرسۍ اهميت ........................................ ۱۵۸
د باز رسۍ هدف او مرام ........................................ ۱۵۹
په افغانستان کې د دولت دقطعيه حساب تاريخچه ........................................ ۱۵۹
د قطعيه حساب د تهيه کولو مراجع ........................................ ۱٦۱
ماليې وزارت ........................................ ۱٦۱
د کنترول او تفتيش اداري دفتر ........................................ ۱٦۱
دقطعيه حساب اجزأوې ........................................ ۱٦۲
دمصارفو قطعيه : ........................................ ۱٦۲
شفافيت ........................................ ۱٦۳
د تفتيش روش يا طريقه ........................................ ۱٦۳
لنډيز ........................................ ۱٦۵
پوښتنې ........................................ ۱٦۷
مأخذونه ........................................ ۱٦۷
**لسم څپرکی ........................................ ۱٦۸**
**له مديريت او حسابدارۍ سره د بوديجې اړيکې ........................................ ۱٦۸**
بوديجه او دولتي مديريت ........................................ ۱٦۸
بوديجه او د مديريت پروسه ........................................ ۱٦۹
بوديجه اوبرنامه ريزي ........................................ ۱۷۰
بوديجه او دبرنامې برخې ........................................ ۱۷۰
بوديجه او اقتصادي برنامه جوړونه ........................................ ۱۷۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



بودیجه او سیاست جوړونه ........ ۱۷۳
بودیجه او سازماندهي ........ ۱۷٦
بودیجه او همغږي ........ ۱۷۷
بودیجه او کنټرول ........ ۱۷۸
بودیجه او حسابداري ........ ۱۷۹
په بودیجه جوړونه کې له مرستو څخه استفاده ........ ۱۸۱
لنډیز ........ ۱۸۲
پوښتنې ........ ۱۸٤
مأخذونه ........ ۱۸٤

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

د نورو مجوداتو په شان انسان هم لا محدوده غوښتنې لري او د دې لپاره چې خپل ژوند ته دوام ورکړي نو اړتیا لري چې خپلې نامحدوده ټولنیزې، اقتصادي، سیاسي روحي او معنوي غوښتنې پوره کړي. اوس که وکتل شي د دې ټولو اړتیاؤ د پوره کولو لپاره منابعو ته ضرورت دی او ټولنه د خپلو نامحدوده غوښتنو د رفع کولو لپاره د کمیابه منابعو سره مخ ده. د انساني ټولنې د عقل مطابق دنده دا ده چې د دغو محدودو منابعو څخه خپل اکثره غوښتنې پوره کړي او دا په اصل کې د بودیجې جوړونې لمړنی انځور دی.

بودیجه جوړونه په اصل کې د نامحدوده غوښتنو مقابل کې د منابعو د تخصیص پروسه ده، نو په همدې اساس دولت یوازېنۍ مرجع ده چې په طبیعت کې د دې کم پیدا کیدونکو منابعو څخه د ټولنې اکثره غوښتنې پوره کوي. د دولت بودیجه د دولت او بشري ټولنې د تکامل سره یو ځای د اکمال پوړونو ته رسېدلې او ډېرې پیچلې دندې لري. د بودیجې نننی پېچلی تخنیکي جوړښت د بودیجې د پخواني ډېر ساده شکل څخه رامنځ ته شوی دی. په اوس وخت کې د بودیجې هماغه پخوانی او ساده شکل په مختلف ډول د دولتي وسایلو په حیث په کار وړل کیږي یعنی دولت کولی شي، چې د بودیجې په وسیله مختلف سیاستونه په مخ بوځي، په بودیجه کې بدلون په مختلفو سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو بدلونونو پورې اړه لري. هغه ناخوالې، چې په تېرو دېرشو کالونو کې زموږ په هېواد کې رامنځ ته شوې او زموږ د هېواد ټولنیزه او سیاسي وضع باندې یې اغېز شیندلی په هماغه کچه یې په بودیجه باندې هم مستقیمه اغیزه کړې.

خوشبختانه چې اوس زموږ هیواد افغانستان دولت د بودیجې جوړونې له هغو نویو میتودونو او طریقو څخه استفاده کوي، چې ګاونډي هیوادونه یې هم کاروي.

په دغه کتاب کې موږ د بودیجې تیورۍ ته کتنه کړې، چې لس څپرکي لري. لمړي څپرکي کې د بودیجې مفهوم، ماهیت او د بودیجې تاریخي پس منظر تر څېړنې لاندې نیول شوی. دویم څپرکي کې د بودیجې په دندو بحث شوی، چې پکې د بودیجې عنعنوي او نوې دندې ذکر شوي دي ، په دریم څپرکي کې بیا د عوایدو پلان ګذاري او د بودیجې مصارفو بحث شوی ، په څلور څپرکي کې د بودیجې اصول تر بحث لاندې نیول شوي، چې ټول یوولس اصله دي. په پنځم څپرکي کې د بودیجې جوړونې ډولونه ذکر شوي په شپږم څپرکي کې د بودیجې مراحلو باندې بحث شوی ،چې له ترتیب څخه تر کنتروله پورې دي. په اووم څپرکي کې بیا د برنامې او ولایتي بودیجې په اساس بودیجه جوړونه، چې په افغانستان کې یوه نوې پدیده ده تر بحث

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاندې نیول شوې ده ، همدارنگه په اتم څپرکي کې د بودیجې حالاتو باندې بحث شوی، په نهم څپرکي کې د بودیجې قطعیه حساب په تشریحي ډول تر بحث لاندې نیول شوی او په لسم څپرکي کې بیا د مدیریت او حساب دارۍ سره د بودیجې اړیکې څېړل شوي. د هر څپرکي په پای کې، د مطالبو لنډیز، سوالونو او تمریناتو ته ځای ورکړل شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی

## د بودیجې مفهوم، ماهیت او تاریخي شالید

د بودیجې کلمه د لاتیني ژبې څخه، چې د بولگا (Bulga) په نامه معمول وه او د څرمنې د بکس معنا یې افاده کوله، اخیستل شوې ده.

وروسته نوموړې کلمه په فرانسوی ژبه کې د (Boudgette) په نامه استعمال شوه او پورتنۍ معنا یې افاده کوله؛ د وخت په تیرېدو سره نوموړې کلمه په انگلیسي ژبه کې هم د (Budget) په نامه معمول او مروجه شوه.

وروسته نوموړې کلمه له انگلیسي ژبې څخه نورو ژبو ته، چې د هغو له جملې څخه پښتو او پارسي ته هم وارده شوه او همدا د څرمنې د بکس معنا یې افاده کوله؛ د بودیجې اصطلاح د لومړي ځل لپاره په ۱۸۱۴ م کال کې په فرانسه کې په رسمي توگه د دولت د عوایدو او مصارفو لپاره په کار یوړول شوه او له هغې نېټې وروسته په تدریجي توگه په نورو هېوادونو کې هم دود شوه، چې نوموړې اصطلاح نن ورځ هم په زیاترو هېوادونو کې د بودیجې په نامه یادیږي (۱:۲).

## د بودیجې تعریفونه

د بودیجې په اړوند زیات تعریفونه وړاندې شوي دي، چې د هغو له جملې څخه مهم یې دلته ذکر شوي دي.

- ✓ بودیجه د عامو خلکو له نظره دعوایدو او مصارفو او یا د دولت د عوایدو او مصارفو څخه عبارت ده.
- ✓ بودیجه له یوې مالي طرحې څخه عبارت ده، په نوموړې طرحه کې د دولت پولي اړتیاوې او د هغه تمویلي سرچینې په کُلي ډول د یوه محدود وخت لپاره پېش بیني کیږي.
- ✓ بودیجه د کار او پروگرام(برنامې) له نظره د یو فرد، کورنۍ، سازمان یا یوې ټولنې مالي وضیعت د مالي ارقامو په توگه څرگندوي.
- ✓ بودیجه په یوه معینه دوره کې د دولت د دندو، کړنو او اهدافو څرگندوونکې هنداره ده.
- ✓ بودیجه یو روش دی، چې دغه پوښتنې ته ځواب وایي چې کوم کارونه، په کوم قیمت سره ترسره شي او نوموړي مبالغ له کوم ځای څخه تآمین شي.
- ✓ د کلاسیکانو د تعریف په اساس بودیجه له داسې سند څخه عبارت ده، چې په هغه کې د دولت عواید او مصارف د یوه معین وخت معمولاً یو کال لپاره تصویب او پېش بیني کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ✓ د یو بل تعریف په اساس په بودیجه کې په قانوني شکل په یوه مالي دوره کې د دولت د منظمو پلان شوو مصارفو په مقابل کې د منظمو پېش بیني شوو عوایدو قرار ورکول دي.
- ✓ د افغانستان د بودیجې مقرره هم بودیجه په لاندې توګه تعریفوي:

بودیجه د دولت له هغه قانوني سند څخه عبارت ده، چې په هغه کې عوابد او مصارف د یو معین وخت معمولاً یو کال لپاره ټاکل کیږي او په اقتصادي، ټولنیزو، دفاعي ساحاتو کې د ټولو فعالیتونو او انکشافاتو انعکاس کوونکې وي (۴:۴).

څرنګه چې و ویل شول، بودیجه د پېش بینۍ ماهیت لري او د پروګرامونو او کړنو په اړوند د هغه محتوا ته اشاره کیږي؛ نو له همدې امله بودیجه د راتلونکې لپاره یو برآورد او پېش بیني ګڼلی شو.

## د بودیجې ځانګړتیاوې

- ➢ بودیجه له یو پروګرام (برنامې) څخه عبارت ده، یعنې د لاندې ځانګړتیاؤ درلودونکې ده لکه.

امتداد، سرحد، محدودیتونه، امکانات، اهداف، وخت، د فعالیت او کار ډول.

- ➢ بودیجه په ماهیت کې خپله یو قانوني سند دی، ځکه د یوې قانون ګذارې مرجع (پارلمان) په واسطه تصویب کیږي.
- ➢ بودیجه په یو مشخص وخت کې د مالي کال په اساس (په اوسني وخت کې په افغانستان کې مالي کال د مرغومي د میاشتې په لومړۍ نېټه شروع او د لیندۍ د میاشتې په وروستۍ پای ته رسیږي.) په نظر کې نیول کیږي.
- ➢ بودیجه پېش بیني او راتلونکې ته کتنه ده، بناً د بودیجې ارقام برآورد شوي(اندازه شوي) او تخمیني (اټکلي) دي؛ یعنې په بودیجه کې د تخمین په اساس کسر او مازاد ممکن دی.
- ➢ بودیجه د دولت او یا سازمان عواید او مصارف پېش بیني کوي.
- ➢ بودیجه د دولت د کړنلارو څخه د ملاتړ لپاره، د دولت د مالي منابعو د استفادې په خاطر د دولت د یو ډول پلان څرګندویه ده.

## په نړۍ کې د بودیجې تاریخي سېر

بشر د ژوند په لومړیو پړاوونو کې ډله ییز ژوند غوره کړ، ځکه په غېرې ټولنیز ژوند کې د پرمختګ او انکشاف لارې او د ژوند کچه نا چیزه وه؛ بناً بشر د ټولنیز ژوند په فکر کې شو او لومړني او غېرې متمدن بشر ټولنیز ژوند کول پېل کړ.

په ټولنیز ډول د ژوند کولو په طریقه کې د ټولنې د افرادو ترمنځ دا مسأله ډېره ضروري وګڼل

(c) ketabton.com: The Digital Library


شوه او پام ورته واوښت، ترڅو دولت منځ ته راشي، ترڅو د هغوی د ژوند چارې او په ټولنه پورې اړوند چارې تنظیم کړي او د تیري په مقابل کې د هغوی دفاع وکړي او همدارنگه د هغوی رهبري په غاړه واخلي.

دولت د ټولنې د هئیت لوی ترین شکل دی، د دولت له شتون او موجودیت څخه موخه د ټولنې د مشترکو منافعو تأمین او تنظیم دی او عامه خدمات په بشپړ ډول د هغه په واسطه ترسره کیږي؛ دولت اداري تشکیلات لري، چې د هغوی په وسیله امنیت تأمین کیږي او د ټولنې د ژوند د ښه والي په موخه خدمات ترسره کوي.

د دولت تشکیلات او د هغه د ثبات، استقرار او اهدافو پرمختګ د یوه اندازه مصارفو ایجاب کوي، چې باید د هغه په واک کې ورکړل شي؛ د دولت د مصارفو د تأمین او د اهدافو د تحقق لپاره باید عواید موجود وي.

د تاریخ په اوږدو کې د عایداتي منابعو پلټل او د هغوی لپاره د مصارفو د جمع آورۍ طریقې د مختلفو اجتماعي ریژیمونو او حکومت په ماهیت او بالآخره د بودیجې په ترتیب او تحلیل پورې اړه لري.

د دولت بودیجه هغه وخت عملي ګڼلی شو، چې د ټولنې اکثریت اړتیاؤ او غوښتنو ته مثبت ځواب ووایي، د انکشاف او پرمختګ موانع له منځه یوسي او د پرمختګ او ترقۍ سبب شي.

د بودیجې د منځ ته راتلو په اړوند باید ووایو، چې د بودیجې پیل او اجرأ د ۱۲۱۵ هـ ل کال د مشروطه حکومت د رامنځ ته کېدلو سره یو ځای ؤ؛ د دولتي مصارفو د پلان تصویب په انګلستان کې په ۱۷۳۳ م کال کې پیل شو؛ د لومړي ځل لپاره د هغه هېواد په پارلمان کې څرګنده شوه، چې پارلمان نه یواځې مالیات چې د هغه هېواد عواید دي؛ تصویبوي، بلکې د مصارفو په اړوند به هم نظر ورکوي؛ بالآخره د ۱۸ امې پیړۍ په لومړیو کې د بودیجې د تصویب موضوع د انګلستان په هېواد کې دود شوه.

د بودیجې په اړوند د بشپړ روش پیل باید د ۱۹ امې پیړۍ منځ یعنې ۱۸٦۱ م کال وګڼو د بودیجې اجرأ څخه د نظارت قانون د لومړي ځل لپاره په انګلستان کې تصویب شو؛ په انګلستان او د هغه وخت نورو هېوادونو کې بودیجې له همدغه روش څخه پېروي کوله.

په فرانسه کې نوموړی جریان په هغه هېواد کې د لوی انقلاب له پیل سره، چې په ۱۷۸۹ م کال کې رامنځ ته شو پیل شو.

د امریکا په متحده ایالاتو کې وروسته د هغه هېواد د ازادۍ د اعلان څخه اساسي قانون د مالیاتو د وضع کولو حق د امریکا ملي کنګرې ته ورکړ؛ په فعلي ډول د بودیجې تصویب چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېواد ټول عوايد او مصارف په بر کې نيسي، د امريکا په هېواد کې عملي او تر اجرأ لاندې ونيول شو؛ مګر دغه چاره په مختلفو هېوادونو کې د نوموړو هېوادونو د ضعف او قدرت درجې او مشروطيت له اصولو سره تړلې ده او همدارنګه په اړونده هېوادو کې د پارلمان د حقوقو او واکونو سره تړاؤ لري.

انګريزانو د بوديجې جوړونې موضوع خپلو مستعمرو لکه: امريکا او کاناډا ته هم انتقال کړله او په همدې وخت کې له کوم روش څخه، چې په انګلستان کې استفاده کيدله، په هغه هېواد کې هم استفاده کيدله.

په ۱۹۴۹ م کال کې د ګڼ شمېر تغيراتو وروسته چې په امريکا کې رامنځ ته شول، سنتي (عنعنوي) بوديجې هم خپل شکل تغير کړ او خپل ځای يې د برنامې په اساس بوديجه جوړونې ته پرېښود؛ چې د بوديجې دغه روش وروسته په ګڼ شمېر هېوادونو کې پراختيا موندله.

## په افغانستان کې د بوديجې تاريخي سېر او تکامل

څرنګه چې د نورو مواردو په څېر مالي چارې هم د هېوادونو د سياسي، ټولنيزې، اقتصادي او طبيعي وضعې سره نېږدې اړيکې لري، همدا ډول په دغو برخو کې په يوه کې يې تغير په بله برخه کې د تغير لپاره انګيزه ايجابوي؛ د ذکر شوو ملاحظاتو او د ټولنې په اداري او اساسي نظام پورې د مالي مسايلو د تړلتيا په اساس د هېواد مالي تشکيلاتو هم مخکې له استقلال څخه تر ډېره حده استقلال نه درلود او په هغه پورې اړوند قوانين او مقررات هم مفيد نه وو.

په افغانستان کې د مالي سيستمونو د طرحې او تطبيق پېل د دولت د لومړنيو سيستمونو له تشکيل سره همزمانه او په همغږي ډول صورت نيولی دی؛ ولې د دې په اړوند مدلل اسناد شتون نه لري، چې دا ډول مالي چارې او په هغه پورې اړونده مالي سيستمونه د کوم دولتي سازمان په واسطه اداره کيدل او د هغه د کار طريقه څه ډول وه او څه نوم او عنوان يې درلوده؛ خو ځينې ټولنيزې او تاريخي څېړنې څرګندوي چې د غزنويانو په وخت کې داسې يوې ادارې شتون درلود، چې د دولت د عوايدو او مصارفو دنده يې په غاړه لرله.

د احمد شاه بابا په وخت کې هم د اعلی ديوان په نامه يوې مرجع د هېواد د مالي او اداري چارو په اړوند دنده ترسره کوله؛ چې د هغه مسؤل د ديوان بيګي لقب درلود د نوموړې سلسلې په تعقيب سره نوموړی دولتي لقب د وکيل الرعيا، آمين الملک او مستوفي الملک په نامه يادېده.

د امير شېرعلي خان د سلطنت په دوره کې هم د ماليې وزير مستوفي الملک په نامه يادېده؛ تر دې چې د امير عبدالرحمن خان د دورې په ورستيو کې يوه نسبتاً منظمه مالي اداره د مستوفي الملک په نامه په مرکز کې رامنځ ته شوه او نورې ادارې په ولاياتو، محلاتو او علاقه

(c) ketabton.com: The Digital Library



داریو کې د سر دفترداری تر نامه لاندې منځ ته راغلې او د مالي او حسابي چارو دنده ور په غاړه وه.

د هغه وخت مالي منابعو یوه برخه مالیاتو تشکیلوله؛ بالآخره په ۱۲۹۸ هـ ل کال کې یعنې مخکې د استقلال له حصول څخه د امیر امان الله خان په وخت کې د دولت حسابونو د روزنامچې د دفاترو په اساس صورت نیؤ، چې د سیاق او رقومو د اصولو په اساس ترتیب کیدل.(د سیاق اصول د طرز او سبک څخه او رقوم د اعدادو له هغه شکل څخه عبارت وو، چې د هغه په اساس د هر مالي کال له پای ته رسیدو څخه وروسته د دولت د مالي حسابو نو خلاصه جوړیدله.)

په فعلي او ماډرنه بڼه د بودیجې نظام هغه وخت قسماً شتون نه درلود، پدې معنا چې د دولت عوایډ په موجوده حسابونو کې د ماقبل کال د حسابونو په اساس تثبیت کیدل او د دولت مصارف پرته د دولت له پلان گزاری یا پیش بینی څخه ترسره کیدل. په ۱۲۹۹ هـ ل کال کې د سیاق او رقومو ځای دفتري اصولو ونیؤ، چې پنځه دفترونه یې لرل؛ د نوموړو حسابي اصولو په اساس د دولت ټول حسابونه په کالني ډول د هغه له اسنادو سره یو ځای په پلازمینه کې متمرکز کیدل؛ نوموړو اصولو ته ۱۳۰۳ هـ ش کال پورې دوام ورکړ او په ۱۳۰۳ هـ ش کال کې د شهریه اصولو په واسطه تعویض شول.

هغه تفاوت چې شهریه اصولو د دفترداری اصولو سره درلود دا ؤ چې په دفتري اصولو کې د دولت حسابونه په کالني ډول، خو په شهریه اصولو کې په میاشتني ډول پکې ترتیب کیدل؛ له همدې امله د شهریه اصولو په نامه یاد شول.

د بودیجې سیستم او د عوایډو او مصارفو پیش بیني د افغانستان په مالي نظام کې په ۱۲۹۹هـ ل کال کې رامنځ ته شو، خو په افغانستان کې د بودیجې د دغه لومړني نظام د رامنځ ته کیدو سره همدارنگه هڅه وشوه تر څو د هغه وخت د شاهي خزانې د دولت د بودیجې ترمنځ توپیر وشي؛ د بودیجې دغه سیستم د اغتشاش(گډوډی) په موده کې یعنې ۱۳۰۷ هـ ل - ۱۳۰۸هـ ل کالونو په منځ کې د سیاق او رقومو په واسطه تعویض شو او د گډوډی دورې ۹ نهه میاشتې دوام وموند، چې وروسته شهریه اصولو بېرته د نوموړو اصولو ځای ونیو او تر ۱۳۱۴ هـ ل کال پورې یې دوام وموند.

په ۱۳۱۵ هـ ش کال کې د یو ایټالیوي متخصص ماسیوژنیو مانخولي په مشوره د دولت په بودیجه او حسابونو کې لاندې تغیرات رامنځ ته شول:

a) لدې تاریخ وروسته هڅه وشوه، تر څو د بودیجې ترتیب په علمي ډول صورت ونیسي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



عايداتي (عادي) او انکشافي بوديجې ترمنځ توپير وشي.

b) د دولت د مصرفي حسابونو لپاره د مقايسې يا تخصيصاتو د کنترول دفاتر، د مصارفو د تمرکز لپاره دفترونه او د نقدي او جنسي حسابونو د راکړو، ورکړو لپاره انفرادي حسابونه طرح او ترتيب شول.

c) د حسابونو د تمرکز نظام چې د شهريه يا دفتري اصولو يا سيستم په اساس په جزوار ډول مرکز ته ليږل کيده او د مياشتېنيو وارداتي، د خزانې مصارفاتي او تحصيلي لوحو د لنډيز په ډول بدل شول او نوموړې لوحې د لاسته راتلو وړ تخصيصاتو او لاسته راتلو وړ باقيداريو او تېرو معاملاتو د پېشکۍ او قطعي تادياتو د مواردو د تفريق او توضيح لپاره بنسټ گزاري شوې او داسې وټاکل شوه، چې يوه برخه حسابونه په خپله په نماينده گۍ کې د لاس رسي او تفتيش لاندې ونيول شي.

d) د اسنادو ترتيب اجرأيوي څانگو ته وسپارل شو او د هغه کنترول او محاسبه د محاسبې په دواېرو باندې تعويض شوه؛ بالآخره د قطعي حساباتو د تطبيق په موخه، د نقدي او جنسي حسابونو اړين اساسات طرحه او په عمل کې هم تطبيق شول(۱۷۱:۲).

څرنگه چې د مانچولي سيستم نهايت ساده ؤ، نو له همدې امله يې د دوو کالونو څخه په لږه موده کې په ټول هېواد کې يې عموميت پېدا کړ؛ ولې له څو کالونو وروسته يعنې په لاندې کالونو کې هـ ل ۱۳۲۸-۱۳۳۲ هـ ش د مانچولي سيستم د موسيوکليمن فرانسوي په واسطه تر غور لاندې ونيول شو او د ځينو کمو تعديلاتو څخه وروسته د تآييد وړ وگرځيد.وروسته په ۱۳۳۳ هـ ش کال کې مضاعف سيستم نياز شاهي په واسطه چې يو ترکی متخصص ؤ وړاندې شو؛ اما نوموړی سيستم لا بشپړ تطبيق شوی نه ؤ، چې په ۱۳۳۸ هـ ل کال کې د دولت بوديجه په فعلي شکل د **P.E.S** امريکايۍ مؤسسې په واسطه طرحه او تطبيق شوه او تر نن ورځې پورې اجرأ او عملي کيږي.

د دولت بوديجه په واقعيت کې د دولت د عمومي فعاليتونو انعکاس کوونکې ده؛ نو په همدې اساس هر څومره چې په ملي عايد کې زياته ونډه ولري، په هماغه اندازه دمجموعي او فردي اقتصاد په وقايعو باندې زياته اغېزه لري.

د دولت بوديجه په يو هېواد کې اساساً د ملي عايد تابع ده او ملي عايد په خپل وار سره د مجموعي تقاضا د حجم تابع دی يا په پراخه مفهوم سره د عمومي او اقتصادي وضعې د تغيراتو او تحولاتو تابع ده؛ څرنگه چې عمومي اقتصادي اوضاع هميش د تغير په حال کې ده، له دې امله ملي عايد او د دولت بوديجه هم د عمومي اقتصادي اوضاع او شرايطو سره تغير کوي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظر شرایطو او وخت ته تغیر کوي(۱۷۲:۲).

## د بودیجې د شتون فلسفه

د اقتصاد د علم په تعریف کې دوه اساسي عناصر شتون لري:

۱. د بشر نه محدودې غوښتنې
۲. محدود طبیعي امکانات

انسانانو د تاریخ په اوږدو کې هڅه کړې ده، چې د عقل د قوې او د خپلې تجزیې او تحلیل په قدرت، د پېش بینۍ په توان او د عوایدو او مصارفو په تخمین او په پای کې د برنامې په جوړولو سره په حداقل امکاناتو سره حد اکثر مطلوبیت د ځان په برخه کړي؛ نو د دې په اساس د بودیجې لیکنې وجودي فلسفه دوه عوامل دي، لومړی د بشر نا محدودې غوښتنې او دوهم محدودې منابع او امکانات چې انسانان یې په واک کې لري. په لنډ ډول له هغو منابعو څخه حداکثر استفاده، چې د اقتصاد په اصطلاح لږ پیدا کیدونکې دي هغه هم په داسې ډول چې په حد اقل مصارفو سره حد اکثر کمیابه (لږې پیدا کیدونکې) منابع لاسته راوړلی شو د بودیجې اصلي وجودي فلسفې په نوم یادیږي (۴۴:۳).

## د دولت بودیجه

د دولت بودیجه د دولت او دولتي بنسټونو په واسطه د منابعو د کشف او د هغهوی څخه د استفادې په معنا ده. دولتونه اکثراً خپلې عایداتې منابع له خصوصي سکتور څخه د مالیاتو، فیس، محصول او اعانو (مرستو)په بڼه لاسته راوړي؛ د لاسته راوړل شوو منابعو څخه استفاده او د هغوی مصرف پدې موخه صورت نیسي، تر څو عامه مقاصد ترلاسه شي.

## بودیجه او په اقتصاد کې د دولت رول

په اقتصاد کې د دولت رول له پخوا وختونو څخه د اقتصاد پوهانو او متفکرینو د بحث موضوع وه او دا هم د اقتصاد پوهانو او نظر خاوندانو د پام وړ مباحث دي.

روښانه ده، چې هر دانشمند او متفکر د خپل ټولنیز مېل او سیاسي فلسفې سره متناسب په دې برخه کې ځانګړی نظر لري؛ پدې برخه کې کلاسیک اقتصاد پوهان او متفکرین په اقتصاد کې د دولت پر مداخلې باندې سره موافق نه وو، او آن تر دې چې دغه مداخله یې د اقتصادي عواملو د عادي او طبیعي کړنلارو مانع او د هغوی په مناسباتو کې د اخلال سبب ګڼلې ده.

هغوی د (بازار او آزاد اقتصاد) شرایطو او وضعیت غوښتونکي وو د کلاسیکانو او د هغوی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



طرفدارانو له ليد لوري څخه طبيعي قوانين په خپله د ټولنې اقتصاد متعادل کوي، خو د دولتونو دخالت د دغه طبيعي پروسو مانع کيږي. نن ورځ هم غېر دولتي اقتصاد او د آزاد بازار ميکانېزم ته په زياترو هېوادونو کې مېلان تر سترګو کيږي او نوموړی مېلان ورځ تر بلې زياتيږي؛ لکِن دغه تحول په هغو هېوادونو کې دومره آسان کار نه دی، چې مهمه برخه يې د دولت اقتصاد تشکيلوي؛ پدې اړه د هر هېواد د توان د اندازې د روښانتيا له لارو څخه د مقدار سنجش، د ملي مصرف او عايد په نسبت د دولت د بوديجې د ارقامو کموالی د نوموړي هدف د ترلاسه کولو په وخت کې وي.

په پای کې دا خبره، چې دولتونه په ټولو هېوادونو کې د ځانګړي سياسي او حقوقي او په فرد پورې منحصر ځای لرونکي دي په همدې مناسبت د ملي اقتصاد د مديريت مسؤليت هم له دولتونو سره دی؛ په دې لاره کې د دولت مهم ترينه وسيله بوديجه ده(۴۳:۱).

## د غېرې انتفاعي، محلي، دولتي بوديجه بندۍ او خصوصي بوديجه جوړونې ترمنځ توپيرونه

د بشري ټولنې د بدلون مسير ته په پام سره په لومړيو کې يوازې کورنۍ اقتصادي عامل ؤ، وروسته اقتصادي تصديګانې هم اضافه شوې د هغه په تعقيب واسطوي بنسټونه لکه: مالي بنسټونه او مختلف بازارونه اضافه شول په نهايت کې د دولت په منځ ته راتلو سره د ټولنو شکل ډېره بشپړتيا پيدا کړه او په پای کې مختلفو نړيوالو اړيکو اقتصادي اُلګو بشپړه کړه؛ په هر پړاؤ کې د بوديجې د تنظيم او تهيې وسعت او لمنه متفاوته وه په داسې ډول چې د هدف ټاکل، لمړيتوب بندي، تصميم نيونه د عملياتي برنامې ساده شکل درلود لکه يوه کورنۍ چې عمدتاً د هغه عوايد او لګښتونه پکې شامېلېدل؛ وروسته توليدي تصديګانو د عوايدو او مصارفو په تنظيم سربېره د مصرف کموالی او د ګټې زياتوالی هم د خپل کار په لومړيتوبونو کې شامل کړل او په نهايت کې دولتونو د عملياتو د حجم او ماهيت له نظره د مسايلو يوه پراخه محدوده په يوه پراخه لمن کې په پام کې نيولې ده؛ په داسې توګه چې د بوديجې په تهيه کې د عايد او مصرف په زياتوالي او ګټې په زياتوالي او مصارفو په کموالي سربېره نورې دندې چې په غاړه لري، هم بايد د دولت په بوديجه کې مراعت شي، په ځانګړي ډول هغه دندې او چارې چې خصوصي برخه د هغه د ترسره کولو توان نه لري (لکه د عمومي کاليو ايجاد يا سياسي او د قانون جوړونې چارې او يا هم د نظم يا انتظامي چارو تشکيل) او يا هم د دا ډول کاليو اقتصادي توليد ته په نه پاملرنې سره د دا ډول کاليو او خدماتو په توليد کې خصوصي برخه پانګې اچونې ته زړه نه ښه کوي د مختلفو بنسټونو بوديجه بندي يو له بل څخه په مختلفو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړخونو کې یو له بل څخه توپیر لري او دولتي بنسټونه په فدرالي، ایالتي او محلي سطحو کې یو له بل څخه توپیر لري (۴:۸).

غیر انتفاعي بنسټونه چې شمېر يې سلهاوو زرو ته رسیږي، له دولتي نهادونو سره هم شباهت (ورته والی) لري او هم ورڅخه توپیر لري. غیر انتفاعي بنسټونه له دولتي بنسټونو سره د عامه مقاصدو لپاره د خدماتو په تر سره کولو کې سره ورته وي خو غیر انتفاعي بنسټونه د مالیاتو د وضع کولو د قدرت څخه برخمن ندي. له همدې امله د غیر انتفاغي بودیجه بندۍ شرایط او طریقې د غیر مالیاتي عوایدو د په لاس راوړلو له اړتیاوو او تمرکز سره تعلق لري.

غیر انتفاعي بودیجه بندي، پراختیا، د ځواب ورکولو طرز، اقتصادي شرایطو او عوایدو تر کیب ته په پام سره نسبتاً ساده ده. څرنګه چې نوموړي بنسټونه کوچنې وي او د ټولنې یوه کوچنۍ برخه جوړوي. د یادونې وړ ده چې غیر انتفاعي بنسټونه لکه د حکومت په څېر په بودیجه پورې د اړوندو ډېرو قوانینو په پیروۍ باندې مجبور ندي او په اسانۍ سره کولای شي چې خپله بودیجه تغیر کړي نوموړي بنسټونه خپله بودیجه د وضیعت دتغیر په اساس تنظیموي. په مرکزي دولتونو کې بودیجه بندي د هغې د اندازې، د هغې د لویو کسراتو، د هغې د عوایدو او مصارفو د تر کیب او د هغې د تخنیکي والي په خاطر بې مثاله ده. نوموړې بودیجه بندي د بې مثاله توب، د لازمو شرایطو او مسؤولیتونو سره د تړاؤ په خاطر په بشپړ ډول تخنیکي ده، پداسې حال کې چې د محلي حکومتونو بودیجه بندي نسبت نورو حکومتي بودیجه بندیو ته لږه پېچلتیا لري او کوچنۍ ساحې په برکې نیسي پداسې حال کې چې د دولت بودیجې ټول شموله دي او د یو هېواد ټول قلمرو په برکې نیسي. په لنډه توګه د دولتي بودیجه جوړونې او خصوصي بودیجه جوړونې تر منځ توپیرونه په لاندې مسایلو کې خلاصه کیږي (۲: ۱۴)..

**۲۱ جدول: د دولتي او خصوصي بودیجې تر منځ توپیر**

| د پام وړ عامل | خصوصي برخه | دولتي برخه |
|---|---|---|
| د فعالیت ډول | عمدتاً اقتصادي | اقتصادي، فرهنګي، عمراني او اجتماعي |
| هدف (موخه) | حد اکثر ګټه او حداقل مصرف | د خدماتو وړاندې کول او کالیو رامنځته کول په خانګړي توګه عمومي کالی او د پراختیا ابجاد او د ټولنې د نظم ساتنه |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| د عمل وسعت او لمنه | محدود او مستقل | پراخه او د اوږد مهاله لنډمهاله او منځ مهاله برنامو تابع |
| سرچینې (منابع) | داسې پروګرامونه چې شخصي ګټه حد اکثر کړي | هغه برنامه چې عمومي ګټې په پام کې نیسي لکه د شخړو کموالی او رفا سطحې لوړوالی |

مثال: د کورنۍ او حکومت د بودیجې تر منځ توپیر

د داسې یوې کورنۍ مالي پلان چې ۵ غړي لري:

میاشتني معاش (د نورو عایداتي سرچینو په شمول) ۱۰۰۰۰ افغانۍ (نوموړی رقم د نوموړې کورنۍ بودیجوي سقف دی) .

میاشتني مصارف:

(۱) د کور کرایه ۳۰۰۰

(۲): د ګاز، برق، اوبوتلیفون او نور مصارف ۱۵۰۰

(۳) د دوه ماشومانو د مکتب فیس ۳۰۰

(۴) د ۵ نفرو د خوراک مصارف (۱۰۰۰ افغانۍ د یوه نفر) ۵۰۰۰ افغانۍ

(۵) د ماشومانو د مکتب دلباس مصارفو اوسط ۱۰۰۰

(٦) د مېلمنو مصارف ۱۰۰۰

(۷) د ټولنیزو چارو مصارف ۱۰۰۰

(۸) روغتیایي مصارف ۸۰۰

(۹) د ژمني او پسرلني لباس مصارف ۱۰۰۰

(۱۰) غیر مترقبه مصارف (تصادف او ناروغي) ۱۰۰۰

ټول میاشتني مصارف ۱۵٦۰۰

**پایله** ۱۵٦۰۰ افغانۍ د نومړې کورنۍ میاشتني کسر

اوس د دولت د بودیجې یوه بېلګه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د ۱۳۸۸ هـ ل کال او بودیجې د ارقامو په وړاندې کولو سره ارایه کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۲ جدول: د ۱۳۸۸ هـ ل کال د ملي بودیجې لنډیز

| **د ۱۳۸۸هـ ل کال د ملي بودیجې لنډیز** | | |
|---|---|---|
| | په میلیون امریکایي ډالرو | په میلیون افغانۍ |
| اصلي بودیجه | | |
| د تمویل مجموعه | ۲،۵۱۴ , ٦۹ | ۱۳۰،۷٦۳ , ۸۰ |
| د اخلي عواید | ۹۷۳ , ۰۸ | ۵۰،٦۰۰ , ۰۰ |
| له بهرینو مرستو څخه تمویل | ۱،۵۴۱ , ٦۱ | ۸۰،۱٦۳ , ۸۰ |
| د مصارفو مجموع | ۲،۹۴۲ , ۵۳ | ۱۵۳،۵۱۱ , ٦۳ |
| د عادي بودیجې مصارف | ۱،۸۰٦ , ۸۰ | ۹۳ ۹۵۳ , ۵۷ |
| د اصلي انکشافي بودیجې مصارف | ۱،۱۳۵ , ۷۳ | ۵۹،۰۵۸ , ۰٦ |
| د بودیجې مازاد / د بودیجې کسر | - ۴۲۷ , ۸۴ | - ۲۲،۴۷.۲ , ۸۳ |
| مازاد / د کادي بودیجې کسر | - ۱۹۵ , ۰۵ | - ۱۰،۱۴۲ , ۴۷ |
| مازاد / د انکشافي بودیجې کسر | - ۲۳۲ , ۸ | - ۱۲،۱.۵ , ۴۰ |

ماخذ: د ۱۳۸۸ کال بودیجه

څرنګه چې لیدل کیږي د دولت بودیجه په ۱۳۸۸ هـ ل کال کې هم کسر لري. او یوازینۍ پوښتنه دا ده چې څه ډول کولای شو، چې دغه کسر د دولت او کورنۍ له بودیجې څخه کم کړو او یا هم د امکان تر حده یې له منځه یوسو ؟ لومړی د کورنۍ په برخه کې بهتره دا ده چې مصارف او لویت بندي شي (مصارف کم شي یا د اوس وخت لپاره وځنډول شي ).

- د مېلمنو لپاره د مصارفو کموالی ۱۰۰۰
- په ټولنیزو چارو کې برخه نه اخیستل ۱۰۰۰
- د ارازانه توکو پیرودل ۱۰۰۰
- د ژوند له اسانتیاو څخه استفاده کول.
- د روغتیا په خاطر د وقایوي لارو څخه استفاده کول
- د مصارفو تر منځ د توازن رامنځته کول

(c) ketabton.com: The Digital Library



او که چیرې امکان و نلري، چې د نوموړې کورنۍ مصارف کموالی وکړي نو کورنۍ هڅه کوي تر څو په لاس کې د شته امکاناتو څخه په استفادې په پور لاس پورې کړي. د کورنۍ مالي پلان معمولاً د کورنۍ مشر تهیه کوي او د کورنۍ مشر هغه مسؤل شخص دی چې باید د کورنۍ د عوایدو او مصارفو تر منځ توازن رامنځته کړي تر څو د بودیجې له کسر څخه مخنیوی وشي او د کورنۍ غړي یواځې هغه وخت کولای شي چې پیسې مصرف کړی چې د کورنۍ له مشر څخه یې اجازه اخیستې وي. حکومتي بودیجه د کورنیو د بودیجو یو لوی ډول دی. څرنګه چې زیات شمېر کورنۍ حکومت جوړوي. بناً بودیجه چې د حکومت یو مالي پلان دی د بودیجې د کسر د ښکاره کیدو په وخت کې غیر ضروري مصارفو ته کموالی او یا یې له منځه وړي په هماغه مالي دوره کې اړتیاوې او لویت بندي کوي. د یادونې وړ ده چې دولت د خپلې بودیجې کسر له کور نیو څخه په جلا او توپیر لرونکو طریقو سره کموي اویا پوښي یې. لکه له داخلي منابعو او یا نورو خارجي هېوادونو څخه د پور لاسته راوړل او یا هم له نورو هېوادونو څخه د مرستو تر لاسه کول او یا هم د بانکنوټ نشر او یا هم د دولتي جایدادونو خرڅلاو له لارې (د یادونې وړ ده چې په راتلونکو بحثونو کې ددولت د بودیجې په اړوند او د بودیجې مختلف حالتونه په بشپړ ډول تشریح کوو.

## د بودیجه بندۍ ګټې

(۱): د عوایدو او مصارفو په اړوند او همدارنګه د فعالیتونو د حجم په اړوند معلومات وړاندې کوي او تر ټولو نیږدې او لږ مصرف لرونکې لارې د پروګرامونو د سرته رسولو او اهدافو ته د رسېدلو لپاره انتخابیږي.

(۲): بودیجه مرسته کوي تر څو په حداقل امکاناتو سره په اقتصاد کې تر زیاتې کچې مؤثریت رامنځته شي.

(۳): د خلکو تیښتې ته په پام سره، چې په اصل کې د دولت د حضور په اقتصاد کې د نه منلو په معنی دی، بودیجه په اقتصاد کې د دولت د دخالت له مهمو وسایلو څخه ده (دولت د بودیجې له لارې کولای شي چې له اقتصادي نو ساناتو سره مقابله وکړي، روکود او انفلاسیون کنترل کړي) ترڅو مختلف پروګرامونه په ټول هېواد کې همغږي کړي. یا په بل عبارت سره د دولت د مختلفو برنامو تر منځ بودیجه جوړونه په اقتصادي، فرهنګي، ټولنیزو او سیاسي چاروکې همغږي رامنځته کوي.

(۴): د دولت بودیجه اهدافو ته په رسیدلو کې مرسته کوي.

(۵): په دولت او اجرائي د ستګاؤ باندې د نظارت امکان برابر وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د برنامې جوړونې او بودیجې تر منځ اړیکې

برنامه جوړونه د هېواد امکاناتو او اړتیاؤ ته په پام سره داړتیاؤ د تأمین په برخه کې د اقتصادي او جتماعي فعالیتونو د ټولو لاربښوونو څخه عبارت ده.

برنامې (پروګرامونه) په عام ډول په دریو برخو ویشل شوي دي لنډ مهاله (د ۱ او ۲ کالو تر منځ )، منځ مهاله (د ۳ او ۷ کالونو تر منځ) او اوږد مهاله (د ۱۰ او ۲۵ کالونو تر منځ) اوږد مهاله برنامې ته لیرلید ویل کیږي او عمدتاً په اوږد مهاله اصولو، هیلو او ارزښتونو باندې متکي دی. منځ مهاله برنامو ته د پراختیا برنامې یا عمراني برنامې ویل کیږي. او لنډ مهاله برنامو ته معمولاً عملیاتي برنامې یا کلنۍ بودیجې ورته وایي. بودیجه جوړونه عمدتاً د لنډ مهاله برنامې یو ډول دی چې سربېره پردې چې یو مالي سند دی چې د دولت مالي فعالیتونه څرګندوي بلکه، د یوې ټولنې اقتصادي، ټولنیز، فرهنګي اړخونه هم څرنګندوي. نو پدې اساس په هغه کې سیاستونه، کړنلارې او د قیق اجرایوي معیارونه چې د هېواد اهدافو او منځ مهاله او اوږد مهاله برنامو د اجرا لپاره وي تهیه، تدوین او اجراء کیږي. او معمولاً دغه خط مشي، سیاستونه او معیارونه د کار پوها نو او اجرأیي کار کوونکو د عمل بنسټ ګرځي.

## د دولت د بودیجې څلورګونی رول

بودیجه په یوه معینه دوره کې یواځې د دولت عواید او مصارف ندي، بلکې ددولتونو د اقتصادي او ټولنیزو سیاستونو د پلي کولو له وسایلو څخه یوه وسیله هم ده. نو پدې اساس بودیجه پدې برخه کې څلور ډوله بنسټیز روله لري چې عبارت دي له (۳: ۱٦) :

### ۱. د عمومي محصولاتو او خدماتو تأمین

عمومي محصولات د خصوصي محصولاتو په مقابل کې قرار لري او عمومي محصولات او خدمات له هغو محصولاتو او خدماتو څخه عبارت دي چې طبیعتاً د ټولنې ټول غړي کولای شي، چې په مساویانه ډول له هغوی څخه استفاده وکړي د ټولنې د یوه غړي استفاده د بل غړي د استفادې مانع نه ګرځي، دا ډول محصولات او خدمات په بازار کې شتون نلري او د هغوی تأمین د دولت په غاړه دی او عرضه یې د دولت په واسطه تاکل کیږي او د هغوی مصارف د خلکو له مالیاتي عوایدو څخه تمویلیږي. د بېلګې په ډول دغه ډول محصولات او خدمات د پارکونو او سړکونو له جوړولو، روغتیا، امنیت او نورو څخه عبارت دي.

### ۲. د ټولنیز عدالت تأمین

ټولنیز عدالت په ساده تعبیر او د بودیجې له اهدافو سره منطبق عبارت دی له:

په وړیا توګه د هېواد په ټولو طبقو کې د ټولنې د ټولو خلکو لپاره د رفاهي او ښوونیز تأمین

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په هېواد کې د ودې او پر مختګ پروسه په مساويانه ډول رامنځته کړي. دولت کولی شي چې د ټولنې د افرادو تر منځ د عوايدو د بياځلې ويش، طبقاتي فاصلو له منځه وړلو او فقر او ثروت تر منځ د توپيرونو د کمولو لپاره له بوديجې څخه کار واخلي. مثلاً هغه افراد چې لوړ عايد لري په هغه باندې لوړ ماليات وضع کړي او په مقابل کې يې د بوديجې له لارې د هغو خلکو لپاره مصرف کړي چې ټيټ عايد لري. يعنې په اړونده دوره کې يې د هغو د بوديجې څخه د ټولنې په برخه کې د دولت تعهد ګڼلی شو. يعنې کولای شو چې دا تشخيص کړو چې د دولت په بوديجه کې له مصارفو څخه استفاده کوونکي د ټولنې کوم غړي دي، او د هغه تر څنګ بايد دا مشخص شي چې د مصرف د منابعو د تأمين بار د کومو اشخاصو او طبقاتو په غاړه دی. د ټولنيز عدالت د تأمين په بررسي کولو کې کولای شو چې له لاندې شاخصونو څخه استفاده وکړو:

- له رفاهي او ټولنيزو اعتباراتو څخه د محرومو سيمو او طبقاتو سهم
- د ټولنيزو بيمو پراخوالی
- د بيکارۍ او تقاعد صندوق
- سبسايدي ګانې
- د ټيټ عايد لرونکو طبقاتو لپاره د ارزان بيه کورونو جوړول
- وړيا زده کړې
- د مستقيمو او او غير مستقيمو مالياتو نسبت

### (۳) د اقتصادي انکشاف تأمين

اقتصادي وده او انکشاف په ټولو نظامونو او ايډيولوژۍ ګانو کې د دولت يو بنسټيز هدف تشکيلوي چې د برنامو او عمراني طرحو او زيربنايي پانګو اچونو اجراء او زيربناؤ د احداث او ايجاد لپاره هڅه کوي چې دغه زيربناوې د خصوصي سکتور د ودې لپاره وسيله ده.

### (۴) د اقتصادي ثبات تأمين

اقتصادي ثبات د مجموعي عرضې او تقاضا له توازن څخه عبارت دی. پدې اساس نوې بوديجه په ټولنه کې د اقتصادي او مالي سياست ګذارۍ له وسايلو څخه ګڼل کيږي چې دولتونه د انقباضي او انبساطي سياستونو په اجراء باندې قادر کوي او همدارنګه د ټولنې د افرادو د خريد په قدرت او استخدام باندې هم اغېزه لري. نو پدې اساس نه يواځې د دولت ټول عوايد او مصارف د اقتصادي نوساناتو په رفع کولو کې استفاده کيږي بلکې د بوديجې عوايد او مصارف د هېواد اقتصاد په مثبت بدلون کې هم مهم رول لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لنډيز:**

د بوديجې کليمې خپل بشپړ تاريخې سير طی کړی دی، داسې چې د بوديجې کلمه له لاتيني ژبې څخه د بو لګا په نوم فرانسوي ژبې ته وارده شوې ده چې د بوژټ اصطلاح افاده کوي وروسته نوموړې اصطلاح د (Budget) په نامه انګليسي ژبې ته وارده شوه. اما بايد يا دونه وکړو چې د بوديجې اصطلاح د لومړي ځل لپاره په ۱۸۱۴ م کال کې په رسمي توکه د فرانسې په هېواد کې د دولت د عوايدو او مصارفو لپاره پکار يووړل شوه. د بوديجې معمول ترين تعريف د کلا سيکانو له لوري وړاندې شوی دی چې عبارت دی له: بوديجه له يوسند څخه عبارت دی، چې په هغه کې د دولت عوايد او مصارف د يو معينې مودې معمولاً يوه کال لپاره تصويب او پيش بينې کيږي. د افغانستان د بوديجې مقرره هم بوديجه په لاندې ډول تعريفوي: بوديجه د دولت له هغه قانوني سند څخه عبارت ده چې په هغه کې ټول عوايد او مصارف د يو معين وخت معمولاً يو کال لپاره ټاکل کيږي او په اقتصادي اجتماعي، دفاعي، کلتوري ساحاتو کې ټول فعاليتونه او انکشافات منعکسوي. د دولت بوديجه ګڼ شمير ځانګړتياوې لري چې د هغه له جملې څخه مهمې ځانګړتياوې يې په لاندې ډول دي: بوديجه يوه برنامه ده، بوديجه د قانون جوړوونکې مرجع (پارلمان) په واسطه تصويبيږي، بوديجه د يو مالي کال لپاره ده او بوديجه يوه پيش بيني ده او بوديجه يو ډول پلان دی. د بوديجې د پيدايښت په اړوند بايد ووايو چې د بوديجې پيل او اجرأ د مشروطه حکومت له پيدايښت سره همزمان وه چې په ۱۲۱۵هـ ل ميلادي کال کې رامنځته شوه. د دولت له لوري د دولتي اداراتو د مصارفو د تصويب پلان په ۱۷۳۳ م کال کې په انګستان هېواد کې پيل شو او د لومړي ځل لپاره د هغه هېواد په پارلمان کې ځرګند شو. بالا اخره د ۱۸ مې پيړۍ په منځ کې د بوديجې د تصويب موضوع د انګلستان په هېواد کې دود شوه. په ۱۹۶۹ م کال کې په امريکا کې د ګڼ شمېر تحولاتو څخه وروسته بوديجې خپل دوديز (سنتي) روش تغير کړ او خپل ځای د برنامې په اساس بوديجه جوړونې ته پرېښود. چې وروسته د بوديجې دغه روش په ګڼ شمير هېوادونو کې پراختيا پيداکړه. په افغانستان کې د مالي سيستمونو د طرحې او تطبيق پيل د دولت د لومړنيو سيستمونو د تشکيل سره همزمان په همغږۍ کې صورت نيولی دی. د غزنويانو په دوره کې داسې اداري شتون درلود چې د دولت د دخل او خرڅ دنده يې په غاړه وه. د احمدشابابا په وخت کې هم د اعلی د يوان په نامه يوې مرجع د دربار مالي او اداري دنده په غاړه درلوده.

چې د هغه مسؤول د ديوان بيګي لقب درلود. د نوموړې سلسلې په تعقيب سره نوموړی دولتي ماموريت د وکيل الرعيا، امين الملک او مستوفي الملک په نامه يا ديده د امير شيرعلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان په وخت کې هم د مالیې وزیر د مستوفي الملک په نامه یا دیده، تردې چې د امیر عبدالرحمن خان د دورې په وروستیو کې یوه نسبتاً منظمه مالی اداره د مستوفي الملک په نامه په مرکز کې رامنځته شوه. بالاخره په ۱۲۹۸ کال کې یعنې مخکې د استقلال له حصول څخه د امان الله خان په وخت کې د دولت حسابونو د روزنامچې د دفا ترو په اساس صورت نیوه چې د سیاق او رقومود اصولو په اساس تر تیبېدل. نوموړو اصولو تر ۱۳۰۳ هـ ش کال پورې دوام وکړ او په ۱۳۰۳ هـ ل کال کې د شهر په اصولو په واسطه تعویض شول د افغانستان په مالي نظام کې د عوایدو او مصارفو پیشبیني او د بودیجې سیستم په ۱۲۹۹ هـ ل کې منځته راغی خو په افغانستان کې د بودیجې د دغه لومړي سیستم په منځته راتگ سره هڅه وشوه چې د دولت د بودیجې او شاهي خندان تر منځ یو توپیر منځته راشي. د بودیجې دغه سیستم د اغتشاش په دوره کې (۱۳۰۷ – ۱۳۰۸) د دویم ځل لپاره د سیاق او رقومو د اصولو په واسطه تعویض شوه او د اغتشا دورې ۹ میاشتې دوام وکړ چې وروسته شهر یه اصولو بېرته د دغه اصولو ځای ونیو او تر ۱۳۱۴ هـ ل کال پورې یې دوام وکړ. په ۱۳۱۵ هـ ل کال کې یو ایټالوي متخصص موسیوزینو مانچولي په مشوره د دولت په مالي حسابونو او بودیجه کې ځینې تغیرات رامنځته شول. دغه سیستم په دوو کلونو کې په ټول هېواد کې عمومیت پیداکړ. په ۱۳۲۸ – ۱۳۳۲ هـ ش کلونو کې د مانچولي سیستم د فرانسوي موسیو کلیمن فرانسوي په واسطه تر غور لاندې ونیول شو.

او د ځینو جریئ تعدیلاتو څخه وروسته بیا ځلي د تائید وړ و گر ځید. او وروسته په ۱۳۳۳ ش کې د نیازي شاهي په نامه د ترکي متحصص په واسطه مضاعف وړاندیز شو. خو نوموړي سیستم لا عمومیت نه و موندلی چې په ۱۳۳۸ هـ ش کال کې د دولت بودیجه په فعلي شکل د P. E. S. امریکایي مؤسسې په واسطه طرح او تطبیق شوه او تر نن ورځې پورې اجراء او عملي کیږي. په اقتصاد کې د دولت رول له پخوا زمانو څخه د اقتصاد پوهانو او دانشمندانو د بحث مفصله موضوع وه او دا هم د اقتصاد پوهانو او نظر خاوندانو د پام وړ مباحثو څخه ده. پدې منځ کې کلاسیک اقتصاد پوهانو په اقتصاد کې د دولت له مداخلې سره موافق نه وو. او حته دغه د خالت یې د اقتصادي عوامکود عادي او طبیعي کړنلارې لپاره خنډ او د هغه د مناسباتو د اخلال سبب گاڼه. هغوی د (بازار او آزاد اقتصاد) د شرایطو او وضیعت غوښتونکي وو. نن ورځ هم غیر دولتي اقتصاد او آزاد بازار کړنلارې ته میلان په زیاترو هېوادونو کې تر سترگو کیږي. نو موړی میلان ورځ تربلې زیاتیږي. لیکن دغه تحول په هغه هېوادونو کې چې یوه مهمه برخه یې دولتي اقتصاد دی ساده او آسانه ندی. او پایله دا چې دولت په ټولو هېوادونو کې د ځانگړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاسي او حقوقي او په فردپورې منحصر ځای ځانته لري. د بشري ټولنې د تحول سیر ته په پام سره لومړیو کې یواځې کورنۍ د اقتصادي عامل په حیث شتون درلود، وروسته اقتصادی تصدي ګانې هم ورزیاتې شوې او وروسته واسطوي بنسټونه لکه مالي بنسټونه او مختلف بازارونه هم ور اضافه شول ږ په نهایت کې د دولت په منځته راتګ سره بشري ټولنو زیات تکامل پیداکړ او وروسته مختلف نړیوال ارتباط اقتصادي الګو بشپړه کړله. څرنګه چې خصوصي او غیر انتفاعي بنسټونه له دولتي بنسټونو څخه توپیر لري او همدارنګه دولتي بنسټونه په فدرالي، ایالتي، او محلي سطحو کې یو له بل څخه توپیر لري. غیر انتفاعي بودیجه بندي ګانې د پراختیا، ځواب ویلو د طرز، اقتصادي شرایطو او عوایدو د ترکیب په اساس نسبتاً ساده وي. په دولتونو کې بودیجه بندي کاملاً تخنیکي ده. پداسې حال کې چې د محلي حکومتونو بودیجه بندي د اندازې، عوایدو د ترکیب، اقتصادي وضعې ته د ځواب ویلو په شرایطو، محدودو مسؤولیتونو، د کوچني نفوس تر کیب او کوچني قلمرو او همدارنګه پېچلتیا له نظره له دولتي بنودیجې څخه توپیر لری او کوچنۍ ده د دولتونو او ارګانونو بودیجه بندي د ګن شمېر ګټو لرونکې ده چې د هغه له جملې څخه مهمې ګټې یې په لاندې ډول دي: د عوایدو او مصارفو او فعالیتونو د حجم په اړوند معلومات وړاندې کوي، حد اکثر مؤثریت په اقتصاد کې رامنځته شي تیښتې ته په پام سره په اقتصاد کې د دولت نه قبولیت، بودیجه په اقتصاد کې د دولت د مداخلې له مهمو وسایلو څخه ده: ددولت بودیجه اهدافو ته په لاسرسي کې مرسته کوي، په دولت او اجرایئ دستګا باندې د نظارت امکان برابروي. د ګڼ شمېر ګټو تر څنګ بودیجه په یوه ټولنه کې څلور ډوله مهم رول لوبوي چې عبارت دی له: د عمومي محصولاتو او خدماتو تأ مین، د ټولنیز عدالت تأمین د اقتصادي انکشاف تأمین، او اقتصادي ثبات تأمین.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پوښتنې

(۱) د بودیجې مفهوم افاده کړئ ؟

(۲) بودیجه تعریف کړئ ؟

(۳) د افغانستان د بودیجې مقررې بودیجه څه ډول تعریف کړیده ؟

(۴) د دولت بودیجه کومې ځانګړتیاوې لري ؟ بیان یې کړئ !

(۵) بودیجې په نړۍ کې څه ډول سیر طی کړی دی ؟

(٦) د دولت د مالي سیستمونو د طرح او تطبیق پیل د کوم وخت سره همغږی او همزمانه و ؟ او په افغانستان کې د دولت بودیجې څه ډول تاریخی سیر طی کړی دی؟

(۷) په ۱۳۱۵ هـ ش کال کې ایټالوي متخصص د دولت په بودیجه او حساباتو په طرز کې کوم ډول تحولات او تغیرات منځته راوړل ؟

(۸) ولې باید دولتونه بودیجه ولری ؟

(۹) کلاسیک اقتصاد پوهان په اقتصاد کې دولت د مداخلې په اړوند څه نظر دولود ؟

(۱۰) د غیر انتفاعي، محلي، دولتي او حصوصي بنسټونو د بودیجې تر منځ څه توپیر شتون لري ؟

(۱۱) بودیجه بندي کومې ګټې لري ؟

(۱۲) بودیجه او برنامه یو له بل څخه څه توپیر لري؟

(۱۳) هغه رولونه چې بودیجه یې په ټولنه کې لوبوي کوم دي ؟ په لنډه توګه یې تشریح کړئ ؟

## مأخذونه


۱. ابراهیمي نژاد، دکتور مهدی، فرج وند، اسفندیار .(۱۳۸٦) .بودیجه از اتنظیم تا کنترول، چاپ مهر قم، تهران.

۲. انستیتیوت ختمات ملکی. (۱۳۹۲). رهنمود آموزشي

۳. سیاست مدیریت پولي، پروګرام ماستری پالیسي و اداره عامه. (۱۳۹۲). پوهنتون کابل، پوهنځی حقوق.

۴. حقایقی، عبدالله .(۱۳۸۱). سیاست بودیجه، انتشارات فروزش، تهران.

٦. فرهنگ مهر، حسین. (۱۳۸۱). زمینه بودیجث ریزی، مطبعه نیل، تهران.

۷. وزارت عدلیه. (۱۳۵۵). مقرره بودیجه افغانستان.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویم څپرکی

# د بودیجې دندې

د بودیجې بنسټيزه دنده د اده، چې د دولت فعالیتونه پداسې ډول ترتیب او تنظیم کړي چې د حکومت د پلان شوو تدابیرو يو مؤثر تطبيق او انتخاب ممکن کړي، او پدې سربېره د عمومي رفا تأمین چې د دولت بنسټيز هدف تشکیلوي د خصوصي اقتصاد اود دولتي اقتصاد فعالیتونه په مؤثر ډول د همغږي کولو په وسیله ورسره مرسته و کړي. پدې سربېره ماډرنې بودیجې ته د نورو دندو نسبت هم ورکول کیږي چې نوموړې دندې په دوو گروپونو باندې طبقه بندي کولی شو: لومړ گروپ دندې د بودیجې د تعاملي یا عنعنوي دندو په نامه یادیږي او دویم گروپ دندې د بودیجې د ماډرن دندو په نامه یادیږي

د بودیجې په تعاملي دندو کې سیاسې، حقوقي، مالي سیاست، او اقتصادي سیاست دندې شاملې دي. پداسې حال کې چه د بودیجې په ماډرن دندو کې د پلان گذارۍ دنده او د بودیجې تحلیلي دندې شاملې دي چه دلته له پور تنیو دندو څخه هره یوه تر بحث لاندې نیسو.

## د بودیجې عنعنوي دندې .

### د بودیجې سیاسي دندې

په هغو هیوادونو کې چه د یموکراسي نظام لري بودیجه یوه سیاسي دنده ترسره کوي پدې مانا چه حکومت يو سیاسي پروگرام طرحه کوي او د نوموړي پلان د تطبيق د تمام شد مصارف په بودیجه کې څرگندوي. له دې امله د دولت بودیجه د مختلفو اهدافو دداسې سلسله مراتبو د مقداري انعکاس په حیث په یقیني مفهوم سره ملاحظه کیدی شي چه د سیاسي تصامیمو د حامیلینو له لوري ټاکل کیږي. د بودیجې دغه طرحه وروسته د مشورې او اجازې د تثبیت په موخه مقننه قوې ته وړاندې کیږي او پدې ترتیب سره مقننه قوه د بودیجې د منځته راوړلو په برخه کې مسؤوله ده د بودیجې تصویب مخکې له بودیجوي دورې یا بودیجوي کال له پیل څخه (د افغانستان د ۱۳۵۳هـ ل کال د بودیجې د مقررې په اساس بودیجوي کال د هغه ما بعدي (د هغه نه وروسته) مالي کال څخه عبارت دی چه د هغه لپاره مالي او اړین بودیجوي تخمینات وړاندې کیږي) د لومړۍ سیاسي دندې یا اساسي سیاسي دندې په حیث یادیږي او د حکومت د مؤثر حقوقي طرزالعمل لپاره اساسات څرگندوي. د بودیجې د دویمي سیاسي دندې یا کنترول دندې په چوکاټ کې د حکومت یا اجرائیه قوې فعالیت د بودیجوي دورې په منځ کې اوله بودیجوي دورې څخه وروسته د اجراآتو د قانونیت او عددي حسابي صحت له نظره تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



بررسی او نظارت لاندې نیول کیږي .

### د بوديجې قانوني دندې (حقوقي دندې)

د بوديجې قانوني دندې له سياسي پيښو او په ځانګړي ډول حقوقي پيښو سره يو ځای وي د بوديجې لومړنۍ حقوقي دنده چه د بوديجې د اساسي حقوقي دندې په نامه هم ياديږي د حقوقي او قانوني اساس په واسطه ټاكل كيږي. پدې مانا چه يواځې د يو دقيق قانوني اساس د موجوديت په صورت كې بوديجه د قانوني اجرأاتو قدرت پيدا كولای شي. دويمه حقوقي دنده چه د حقوقي الزام د دندې په نامه هم ياديږي. د حكومت او اداري تابيعيت د هغواعدادو او دندو په واسطه څرګندوي چه په بوديجه كې ښودل شوي وي او د مقننه قوې په واسطه تثبيت شوي وي. د حكومت او اداري دغه په اعدادو او دندو باندې تثبيت شوی تابيعت په بوديجه كې قانوني خاصيت يا اجرائيوي مكلفيت لري، او همدارنګه حقوقي او عنعنوي نورمونه هم پكې شامیلیدی شي .

### د بوديجې د مالي سياست دندې

د حكومت د كار يو پروګرام يوازې هغه وخت عملي او تطبيقي اړخ د ځان لپاره غوره كولی شي چه د هغه د مصارفو د پوښښ لپاره كافي او مطابقت كوونكي عوايد شتون ولري .نو پدې اساس د مالي احتياج توافق او تطابق او د مطابقت كوونكو مالي وسايلو موجوديت د دولت د بوديجې د مالي سياست اساسي دنده تشكيلوي چې نوموړې دنده د مالي سياست د لومړۍ دندې يا د مالي سياست د تكافو كوونكې دندې په نامه ياديږي. د مالي سياست دويمه دنده لدې څخه عبارت ده تر څو اقتصادي معقوليت او مؤثريت رهنمايي، بوديجه تقويه او مرسته ورسره وكړي چه دغه دنده د مالي سياست د رهبري كوونكي اقتصادي او سازماني دندې په نامه ياديږي .

### د بوديجې اقتصادي سياست دندې

د نړۍ د اقتصادي بحران له وخت تر ۱۹۲۹ م كال پورې دا نظر د تائيد اوقبول وړ ؤ، چه د بوديجې دندې په سياسي، حقوقي او مالي سياست دندو باندې پای ته رسيږي، اما د نړۍ له اقتصادي بحران او د هغه د اقتصادي او اجتماعي پايلو څخه وروسته دا نظر زيات د تائيد وړ وګرځيد چه د بوديجې دندې په پورتنيو دندو باندې پای ته نه رسيږي بلكه د اقتصادي سياست دندې هم ترسره كوي .ددغه دندې په چوكاټ كې د بوديجې اقتصادي سياست هڅه كوي تر څو هغه اقتصادي اهميت او دولت د عمومي اقتصادي پروګرام د همغږي كولو د وسيلې په حيث له هغه څخه استفاده وشي. د دولت د بوديجې له لوري د دغه دندې ترسره كول د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بودیجې د اقتصادي سیاست د اولې یا بودیجې د ساختماني وظیفې په نامه یادیږي چه پدې ځای کې بودیجه د اقتصادي سیاست او کانژاکتوري سیاست (اقتصادي حالت سیاست) او اقتصادي ودې سیاست د اقتصادي معقولیت لپاره هم خدمت کوي چه د بودیجې دغه تنظیمي دنده د بودیجې داقتصادي سیاست د ثانوي دندې په نامه یادیږي.

## د بودیجې ماډرنې دندې

### د بودیجې د پلانګذارۍ دندې

د بودیجې دپلانګذارۍ مفهوم په خپل ذات کې ددې مانا افاده کوي چه عواید او مصارف په یوې راتلونکي دورې پورې اړه لري، اوپدې اساس د بودیجې په تهیه او ترتیب کې سیاسي ارادي جوړښت خپل ځان د معینو اهدافو له معرفي سره عیاروي. د هرې بودیجې د جوړښت په وخت کې باید لومړی د دې پوښتنې ځخه پیل شي چه کوم اهداف او څه ډول اهداف باید تامین شي. نو پدې اساس د اهدافو ټاکل د بودیجې د پلان ګذارۍ لومړی دنده تشکیلوي چه د پروګرام جوړونې دندې په نامه هم یادیږي. د بودیجې د پلان ګذارۍ دویمه دنده لدې ځخه عبارت ده تر څو مخکې د بودیجې له ترتیب ځخه توضیح شي چه په بودیجه کې ټاکل شوي اهداف څه ډول تامین کیدای شي .

### د بودیجې تحلیلي دندې

په پورتني ذکر شوي سیاسي کنترول سربیره یو بل ډول کنترول هم د بودیجې سیاست د نیول شوو تدابیرو د اقتصادیت، معقولیت او مؤثریت په وخت کې صورت نیسي، په عین حال کې باید د نیول شوو تدابیرو مطابقت او موافقیت هم له ټاکل شوو اهدافو سره تر بررسۍ لاندې ونیول شي، یا په بل عبارت باید ولیدل شي چه پیش بیني شوي وسایل تر کومې اندازې پورې د ټاکل شوو یا پلان شوو اهدافو لاسته راوړلو لپاره کافي بلل کیږي. یو بعدي تحلیل یا د دورې د پای ته رسیدو تحلیل (Ex-post analyses) د بودیجې سیاست تدابیر د یوې تجربې او دوامداره بررسۍ په ارتباط د بودیجې سیاست د تدابیرو تاثیرات د اجرأاتو اقتصادي معقولیت اواقتصادي او مالي سیاست کنترول دنده تضمینوي او دغه دنده د لومړنۍ تحلیلي دندې په نامه یادیږي. د وروستي (بعدي) کنترولي تحلیل په واسطه د اهدافو د تامین له نقطه نظره د بودیجې د جریان ځارنه باید د راتلونکو شرایطو په رعایت کولو سره بشپړه شي. چه دغه کار په راتلونکي کې د اقتصادي شرایطو او یو اټکلي تحلیل له لارې ممکن کیدای شي. د اټکلي تحلیل مفهوم لدې ځخه عبارت دی یا یوه مقایسه ده تر څو د راتلونکي متوقعه وضعې او راتلونکې تمه شوې وضعې تر منځ ترسره کړی شي، چه د بودیجې دغه تحلیلي ثانوي دنده یا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بودیجې اټکل کوونکې دنده د نوي تصمیم د اساساتو اندازه ممکنه کوي او د هغه پواسطه د راتلونکې پلانګذارۍ لپاره اساس تشکیلوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لنډيز

د بودیجې بنسټیزه دنده لدې څخه عبارت ده تر څو دولت فعالیتونه پداسې توګه تنظیم او ترتیب کړي چه د حکومت د پلان شوو تدابیرو یو مؤثر انتخاب او تطبیق امکان پذیر کړي او په هغه سربیره د عمومي رفا تامین چه د دولت اساسي هدف تشکیلوي د خصوصي اقتصاد او دولتي اقتصاد فعالیتونو ته د مؤثر ارتباط ورکولو له لارې رامنځته کړي. دغه د بودیجې لومړی ګروپ دندې د تعاملي یا عنعنوي دندو په نامه یادیږي او دویم ګروپ یې د بودیجې د ماډرن دندو په نامه یادیږي. د بودیجې تعاملي دندې سیاسي، حقوقي، مالي سیاست اواقتصادي سیاست دندې احتوا کوي .پداسې حال کې چه د بودیجې په ماډرن دندو کې د بودیجې د پلان ګذارۍ او تحلیلي ندې شامیلیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پوښتنې

۱ – د بودیجې اساسي دندې څه شی دي ؟
۲ – د بودیجې دندې په کومو برخو ویشل شوي دي ؟
۳ – د بودیجې سیاسي دندې څه بیانوي ؟
۴ – د بودیجې قانوني دندې کومې دندې په برکې لري ؟
۵ – د بودیجې سیاست دندې بیان کړئ .
٦ – د بودیجې د اقتصادي سیاست دندې کله تر پاملرنې لاندې ونیول شوې او کومې دندې رانغاړي ؟
۷ – د بودیجې مدرن دندې کومې دي ؟
۸ – د بودیجې د پلان ګذارۍ مفهوم بیان کړئ ؟
۹ – د بودیجې تحلیلي دندې په لنډ ډول بیان کړئ.

## مأخذونه

۱. حقایقی. عبدالله. (۱۳۸۲). سیاست بودیجه، مطبعه بهیر، کابل
۲. فرجوند، اسفندیار. (۱۳۸۵). فراگرد تنظیم تا کنترول بودیجه، انتشارات فروزش، تهران

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریم څپرکی

# د بودیجې د عوایدو او مصارفو پلان جوړونه

د بودیجې د عوایدو او مصارفو پلان ګذاري د یوې راتلونکي دورې لپاره وي چه د هغه په واسطه د دولت فعالیتونه داسې تنظیم او رهبري کیږي چه د هغه په واسطه دولت په یو مملکت کې په یو معین وخت کې د ملی رفا په تامین کې حتی الامکان لوی ترینه ونډه ادأ کړای شي. د عوایدو او مصارفو پلان ګذاري باید د واقعیتونو سره یوځای وي ځرنګه چه بودیجه یوه طرحه، فعالیت، برنامه او هدف دی نو په بودیجه کې هر ډول تیروتنه د هیواد په بودیجوي او اقتصادي چارو کې د ستونزې او خلل د رامنځته کیدو سبب کیدای شي. له همدې امله بودیجه جوړونه او د عوایدو او مصارفو پیش بیني یوه فني او سیاسي چاره ده. په پورتنیو مسایلو کې د سیاسونو د خالت کیدای شي چې د عوایدو او مصارفو پیش بیني له واقعیتونو څخه لیرې کړي (۲: ۲۸۲) .

د عوایدو او مصارفو پلانګذاري چه د بودیجې د طرحې لپاره د امکان تر حده د قیقه، اړینه او معقوله چاره پیژندل کیږي، نو له همدې امله د بودیجې د عواید او مصارفو د پیش بینۍ لپاره د هیواد د اقتصادي او ټولنیزې وضعې سره ګڼ شمیر متناسب روشونه او طریقې شتون لري. نوموړي روشونه په لاندې ډول صورت نیسي.

## مصارف او د بودیجې د مصارفو پلان ګذاري

مصارف (لګښتونه) له هغې کچې پیسو څخه عبارت دي چه د دولت یا سازمان د برنامو اجراء ته د رسیدو په موخه او اقتصادي، ټولنیزو، سیاسي او نورو اهدافو لپاره ددولت او سازمانونو په بودیجه کې تصویب کیږي .

د بودیجې د مصارفو پلان ګذاري د یوې راتلونکې بودیجوي دورې د مصارفو له پیش بینۍ څخه عبارت ده. د بودیجې د مصارفو پلان ګذاري نظر د بودیجې د عوایدو پلانګذاري ته په اطمیناني او دقیقه توګه صورت نیولی شي، ځکه دغه د مصارفو پلانګذاري نظر عوایدو ته د حکومت د کار د پروګرام د یو تصویر په حیث د خلکو او اقتصادي انکشاف په طرز العمل کې د کم تابیعت لرونکي ده. او یوائې د بودیجې د مصارفو یوه کوچنۍ برخه لکه په راتلونکي کې د غیر مترقبه پیښو له امله د زیانونو د له منځه وړلو لپاره د دولت مرستې د راتلونکي وضعې د انکشاف تابع دي نوموړي مصارف (H.Timm) د مشروطو مصارفو په نوم یادوي. د بیلګې په ډول په راتلونکې بودیجوي دوره کې د زلزلو د واقع کیدلو، سیلابونو راوتلو، وچکالیو او داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورو پیښو په اثر د خلکو او اقتصاد لپاره زیانونه اړوي چه ددغه ډول مصارفو پوښښ او جبران د بودیجې د پلانګذارۍ پر وخت هیڅ په پام کې نه نیول کیږي. د مصارفو وړاندیز د منفردو اداري مقاماتو له لوري صورت نیسي او دمالي دوایرو مقامات د بودیجې د ترتیب پر وخت د مجموعي وړاندیز شوو مصارفو د کمولو او همغږي کولو دندې هم په غاړه لري .

د منفردو دوایرو له لوري دمصارفو د کمولو مسأله طبعاً هغه وخت د بحث وړ یا اړینه ګڼلی کیږي چه ددغه مجموعي وړاندیز شوو مصارفو د تمویل لپاره کافي او مطابقت کوونکي مالي وسایل شتون ونلري یا په بل عبارت سره مجموعي پیش بیني شوي عواید نظر مجموعي وړاندیز شوو مصارفو ته لږ وي. د عمل په ساحه کې دغه چاره په ځانګړي ډول په مخ پر ودې هیوادونو کې یو دوامداره حالت تشکیلوي.

ځکه په دغه هیوادونو کې هغه مصارفاتي پروګرامونه چه دولت یې باید تر لاس لاندې ونیسي ډیر زیات وي او په پایله کې ددولت دندې ډیرې درندې وي، پداسې حال کې چه د پورتنیو پروژو دتمویل لپاره د دولت په لاس کې کافي تمویلي وسایل شتون نلري .نو پدې اساس پدې حالت کې دولت مجبور دی تر څو په لاس کې شته عوایدو مطابق مصارفاتي پروګرامونه عملي کړي او د مصارفو مازاد راکم کړي. هر کله چه د بودیجې د پلان د دورې په جریان کې له پلان څخه وتلي مصارف یعنې هغه مصارف چه په پلان کې نه وي پیش بیني شوي (د غیر مترقبه پیښو لپاره لګښتونه) راڅرګند شي او د هغوی سرته رسول هم اړین وګڼل شي، پدې صورت کې ددغه ډول مصارفو د پوښښ لپاره یو بعدي وروستی بودیجوي پلان ترتیبیږي.

**د مصارفو طبقه بندي**

دمصارفو طبقه بندي په بودیجه کې د طبقه بندۍ له پخوانیو طبقه بندیو څخه ده دمصارفو طبقه بندي له دې امله مهمه ده چه په مصارفو باندې دقیق نظارت ممکن کیږي او د دولت دمامورینو د میل او غوښتنو څخه چې د مصارفو په اړه یې لري مخنیوی کیږي.

د مصارفو طبقه بندي د هغه خدماتو او محصولاتو په چوکاټ کې چه خریداري کیږي او تشریح اوتوجیه کیږي د دولت له عملیاتو څخه عبارت ده په همدې اساس دغه طبقه بندي د دولت مالي چارو په اداره کې د حسابدارۍ په اړخونو باندې ټینګار دی. خو په یو دولتي واحد کې د عملیاتو د اندازه ګیرۍ، څرنګوالی او اجرأ په برخه کې مرسته نکوي. په بودیجه کې د مصارفو طبقه بندي بیانوي چه دولت کومې خریدارۍ ترسره کوي. ددولت مصارف عموماً په لاندې ابعادو (اړخونو) کې طبقه بندي کیږي (۱: ۱۹) .

(c) ketabton.com: The Digital Library


١ - دسازماني واحدونو په اساس طبيقه بندي .
٢ – د مصارفو د فصلونو په اساس طبقه بندي .
٣ – د مصارفو موادو په اساس طبقه بندي .
۴ – د دندو يا برنامو په اساس طبقه بندي .

١: **د سازماني واحدونو په اساس طبقه بندي:** پدغه ډول طبقه بندۍ کې مصارف د هر يو دولتي سازمان په اساس چې د تصويب شوو برنامو وړانديز کوونکي او اجرأ کوونکي وي پيش بيني کيږي. په هر هيواد کې معمولاً د دولت اصلي دندې او عمليات د فرعي دندو او عملياتو په اساس ويشل شوي دي او د هغوی دهريوه داجرأ مسؤليت يو يا څو دولتي سازمانونو ته سپارل شوي وي، په دې اساس د دولت کُلي مقاصدو او اهدافو ته رسيدل ددولتي سازمانونو اهدافو او مقاصدو ته د رسيدو له لارې تحقق مومي. د مالي کنترول او درست مالي مديريت پلي کول د سازمانونو په اساس د مصارفو د طبقه بندۍ غوښتنه کوي څکه ددولتي دستګاؤ په سازماني تشکيلاتو کې د مسؤليتونو اصلي کرښې، واکونه او دندې تفکيک او ټاکل کيږي. پدې توګه د هر سازمان مسؤليت تل مشخص او معين وي. د هر واحد مصارف د بيلګې په ډول تقسيم بندي کولای شو لکه وزارتونو، مستقلو اداراتو، دولتي شرکتونو او نورو باندې .

**٢ – د مصارفو د فصلونو په اساس طبقه بندي:** د مصارفو دغه طبقه بندي د هغو مصارفو او مالي دورو په اساس ده چې له معينو مصارفو څخه ګټه اخلي. د مصارفو د فصلونو اصلي ډلې معمولاً عبارت دي له:

**جاري مصارف:**

جاري مصارف، جاري، عادي او تکراري اړخ لري او د هغو محصولاتو او خدماتود تر لاسه کولو په مقابل کې تر سره کيږي چې د دولتي سازمانونو د جاري دندو او عملياتو لپاره او همدارنګه د هغوی د اموالو د خونديتوب پخاطر اړين وي. معمولاً له دغو مصارفو څخه حاصله ګټه هغه جاري مالي کال ته متوجه ده چې په هغه کې مصارف صورت نيسي نه وروستيو کلونو ته چه دا ډول مصارف عموماً د کار ګرانو مصارف او اداري مصارف دي.

**سر مايوي (پانګه ايز) مصارف :**

سرمايوي مصارف هغه مصارف دي چې د هغوی ترسره کول د ثابتو شتمنيو او اموالو د زياتوالي سبب کيږي لکه: د ساختمان اخيستل يا جوړول، د ځمکې اخيستل، دماشين الاتو اخيستل په څنباک د مصرف کيدونکو توکو خريداري، په عمومي او خصوصي برخو کې د پورونو ورکړه او پانګه اچونه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**انتقالي پرداختونه (ورکړې) :**

انتقالي پرداختونه هغه مصارف دي چې دولتي سازمانونه له هغوی څخه کوم محصول او یا خدمت نه ترلاسه کوي، لکه د پور داصل او فرع بیا ورکړه، خصوصي برخې ته بلاعوضه مرستې، دمخکیني کال د پورونو ورکړې .

۳ – **د موادو په اساس د مصارفو طبقه بندي:** په دغه طبقه بندۍ کې چه دهغه اصلي هدف د سازماني واحدونو په سطحه د مصارفو کنترول او دولتي حسابدارۍ د سیستم او بودیجه ریزۍ(بودیجه جوړونې) سیستم ترمنځ د مستقیم ارتباط رامنځته کول دي. په هر فصل، برنامه یا دولتي سازمانونو پورې اړوند مصارف د مصارفو د ډول په اساس گروپ بندي کیږي. پداسې ترتیب سره چه متجانس او ورته مصارف په واحده طبقه کې ځای نیسي، لکه: د معاشاتو مصارف تجهیزاتو مصارف او ساختمانونو د ایجاد د مصارف په دغه طبقه بندۍ کې مشخص کیږي چه هر دولتي سازمان هغه دندو او خدماتو ته په پام سره چې دوی تر سره کړي دي کوم اجناس او خدمات لاسته راوړي او څه ډول مصارف دخپلو برنامو د اجرأ په موخه تأدیه کوي. دغه طبقه بندي په دولتي حسابدارۍ کې داسې یو سیستم ایجادوي چې په ترسره شوو مصارفو پورې اړوند حسابونه د مالی مقرراتو د کنترول وړ او ساتل شوو حسابدارۍ د اصولو مطابق دي او په دغه طبقه بندۍ کې زیاتره له کوډونو څخه استفاده کیږي.

**۴ – د دندو یا برنامو په اساس طبقه بندي :**

پدې طبقه بندۍ کې د دولتي سازمانونو او دولت مصارف د هغوی اصلي اهدافو او مقاصدو ته په پام د دندو، برنامو طرحو او مختلفو فعالیتونو په توگه پیش بیني کیږي، د هر مصرف له انسجام څخه اصلي هدف اوموخه پرته د هر مصرف د ډول او ماهیت په نظر کې نیولو څخه په پام کې نیول کیږي. دولت یا دولتي سازمانونه مشخصوي چې خپلو اهدافو او ټاکل شوو دندو ته د رسیدو لپاره کوم عملیات او کومه اندازه مصارف ترسره کړو.

**په افغانستان کې د مصارفو طبقه بندي**

د افغانستان د دولت په بودیجه کې مصارف په پنځو لویو فصلونو او هر لوی فصل په څو کوچنیو فصلونو ویشل شوی دی چې عبارت دي له (۱: ۲۲)

۱. **باب ۲۱د مزد معاش مصارف چه پدغه باب کې لاندې فصلونه شامیلیږي:** نغدي مزد او معاش، غیر نقدي مزد او معاش، پیشکي مزد او معاش، نغدي ټولنیز منفعتونه غیر نغدي ټولنیز منفعتونه، د معاشاتو برگشت(بیرته گرځیدنه) .

۲. **باب ۲۲ له اجناسو او خدماتو څخه استفاده چې لاندې فصلونه پکې شامیلیږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



سفریه، اړیکې قراردادي، حفظ ومراقبت ترمیمات، عام المنفعه، روغنیات، هغه لوازم او سامان چې له ۵۰۰۰۰ افغانۍ څخه لږ ارزښت لري، پیشکي تادیات او نور مصارف .

۳. **باب ۲۳د ټکټاني باب دی.**

۴. **باب ۲٤ ټولنیزې مرستې چې لاندې فصلونه پکې شامل دي:**

سبسایډي ګانې، د عملیاتي بهرنیو هیوادونو سره مرستې، غیر منقول خارجي دولتونو ته مرستې، نورو عملیاتي مؤسساتو ته مرستې، نورو غیر منقولو مؤسساتو ته مرستې غیر نقدي ټولنیز تامینات د ټولنیزو مرستو ګټې او مخکې ګرنټۍ ګانې .

۵. **باب۲۵ د شتمنیو لاسته راوړنه** چې پدغه باب کې لاندې فصلونه شامل دي ساختمانونه اوتعمیرات، ماشین الات، او تجهیزات، بیه لرونکي شیان او ځمکه .

## عواید او د بودیجې د عوایدو پلان ګذاري

په دولتي حسابدارۍ کې عواید په لاندې ترتیب سره تعریف شوي دي:

عواید په یوه مالي دوره کې د ټولو ترلاسه شوؤ او لاسته راتلو وړ ټولو مالی منابعو او پیسو د اندازې څخه عبارت دي چه په معین وخت کې د شتمنیو د زیاتوالي یا مستقل حساب د مازاد سبب کیږي. د عوایدو لوړوالی یواځې د یو مخکیني تخمین یا مخکیني سنجش په واسطه تثبیت کیږي او د مخکینی تخمین یا سنجش تقریباً د دولت په ټولو عایداتي منابعو کې (پرته له هغو عوایدو چه په یوه دوره کې ثابت وي لکه ددولتي ملکیتونو د کرایې له لارې قراردادي عواید له دولتي ځمکو څخه، د دولتي پورونو د قسطونو له لارې عواید او نور .) تر ډېره حده د مالیه ورکوونکو د طرزالعمل او راتلونکي اقتصادي اوضاع شرایطو او تحولاتو تابع دی. د بیلګې په ډول کله چه په یوه راتلونکي بودیجوي دوره کې د اقتصادي رونق حالت منځته راشي پدې صورت کې د افرادو او مؤسساتو د ګټې امکانات زیاتیږي او په پایله کې د دولت عواید هم نظر پلان شوو عوایدو ته زیاتوالی کوي چې پدې وخت کې دولت په عوایدو او مؤسساتو ډیر مالیات له افرادو او مؤسساتو څخه تر لاسه کوي څرنګه چه دولت خپل یوه برخه عواید د تشبثاتي فعالیتونو یعنې دولتي او په مختلطو تصدۍ ګانو کې د دولتي اشترا کاتو له لارې په لاس راوړي ددې په اساس د اقتصادي رونق (غوړیدا) په حالت کې له نوموړې منبع څخه د عوایدو د لوړیدو امکانات هم زیاتیږي. د پورتني حالت برعکس که چیرې په یوه راتلونکې بودیجوي دوره کې اقتصادي کساد د اقتصادي بحران له یو حالت سره موجود وي پدې صورت کې د مالیاتي عوایدو او تشبثاتي عوایدو د کموالي امکانات هم زیاتیږي. پدې اساس د پورتنیو مشخصو مثالونو څخه داسې پایله اخیستلی شو چه ددولت عواید د راتلونکي اقتصادي وضعې پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زيات تړاو لري له همدې امله د دولت د عوايدو پيش بيني په دقيقه توګه ډېره ستونزمنه او حتی نا ممکنه ده .

د عوايدو په پيش بينۍ کې ګڼ شمير عوامل مؤثر وي مګر د هغوی دقيقه پيش بيني به ستونزمنه وي ځکه د مختلفو هيوادونو عوايد يو شان او له يوې منبع څخه نه دي، ځينې په مالياتو ټينګار کوي، ځينې په ګمرکي عوايدو او ځينې نور د شيانو او خدماتو په صدور او يوه ډله هيوادونه د فني خدماتو د صدور له امله په منابعو او ځينې نور د ملي ذخايرو لکه ګاز نفت طلا او نورو په خرڅلاو باندې ټينګار کوي. اما په کلي ډول د يو هيواد د اکتسابي عوايدو ثبات کولی شي چه اقتصادي ثبات، منابعو مطلوب تخصيص او د عوايدو د بيا ويش تعديل او پانګې بهتر جوړښت له ځانه سره ولري. د عوايدو د پلان ګذارۍ لپاره ګڼ شمير طريقې دعملي کيدو وړ دي چه په لاندې ډول د هغوی له ډلې څخه يې ځينوته اشاره شوې (۲: ۲۸۲) .

**۱ - د ماقبل اخر کال طريقه:**

ددغه روش په اساس بايد پيش بيني شوي عوايد دقيقاً د ماقبل آخر کال له قطعي عوايدو سره برابروي د بيلګې په ډول د ۱۳۹۳هـ ل کال عوايد بايد د ۱۳۹۱ هـ ل کال د قطعي عوايدو سره برابروي. دغه روش د عوايدو په پيش بينۍ کې معمول روش دی او هغه وخت مؤثر دی چه د هيواد اقتصاد د ثابت جريان لرونکی وي د نومورې روش عمده ګټې پدې کې دي چه: د مخکې کال عوايد په قطعي ډول لاسته راغلي دي بله دا چه اجرائيه قوه نشي کولی چه د خپل ميل او سياست په اساس د عوايدو ارقام په خپل زړه يا خوښه پيش بيني کړي. همدا رنګه د عوايدو پيش بيني د مبالغې په اساس چه په قطعي ډول تر لاسه شوي وي کولی شي چه د بوديجې د تعادل د ساتلو لپاره تضمين و اوسي نومورې روش ستونزې او عيبونه پدې کې دي چه د نومورې روش دقت زيات ندی ځکه د ۱۳۹۳هـ ل او ماقبل آخر کال ترمنځ يوکال په نظر کې نه نيول کيږي. پداسې حال کې چه کيدای شي ۱۳۹۲ هـ ل کال يو څه دقيق تر وي. بله دا چه د رکود اوانفلاسيون په شرايطو کې به سخت انحرافات ولري. پدې سربيره د عوايدو په پيش بينۍ کې د اجرائيي مديرانو او کادرونو له تجربې او صلاحيت څخه ګټه نه اخيستل کيږي او نور هغه عوامل چه د عوايدو په پيش بينۍ کې مؤثر دي هم په پام کې نه نيول کيږي .

**۲. د متوسط حد (نمونه ګيرۍ) روش**

د متوسط حد په دغه روش کې د هر ډول عوايدو زياتوالی يا کموالی په درې کلنو يا پنځو کلنو په دورو کې په لاس راوړي اود هغه په اساس د راتلونکي کال عوايد پيش بيني کوي د نمونه ګيرۍ په روش کې، د انتخابي نمونو عوايد له يو روش څخه محاسبه او له هغه څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترلاسه شوي پایلې له نورو ورته مواردو سره عمومیت ورکول کیږي. د عوایدو د براورد دغه روش هغه وخت په کار وړل کیږي چه له ټاکل شوو نمونو څخه ترلاسه شوو پایلو ته له ورته مواردو سره عمومیت ورکړل شي.

**د مستقیمې پیش بینۍ روش د ((کار پیژندنې تخمین ))**

په دې روش کې کار پوهان په دقیقو مطالعاتو او څیړنو سره داخلي اوبهرني عوامل او موجوده اقتصادي وضعې احوال اواقتصادي میلانونو پیش بیني، دتیرو کلونو لاسته راغلي عواید به هغه تجربه او تخصص سره پیش بنيي کولی شي چه دوی یې لري .دغه روش په هغو برخو کې کارول کیږي چه عواید مشخصه پروسه او جریان ونلري، لکه د نفتي عوایدو براورد چه په ځانګړي ډول هغه وخت چه د هغوی قیمت مهمترینه مسئله ده او معمولاً په نړیوالو بازارونو کې د ګڼ شمیر عواملو لکه د نفتو نړیوالې عرضې او تقاضا او په بازار باندې حاکمو سیاسي او رواني عواملو تر تاثیر لاندې راځي. یا د ځمکنیو زیاتیدنو یا حاصلاتو د عوارضو(مالیا تو)، له هیواد څخه دوتلو لپاره د تقاضا زیاتوالی ته په پام سره د عوایدو د اندازې زیاتوالی او دهیواد د اقتصادي اوضاع او احوالو او نورو په اړوند د راتلونکي کال لپاره پیش بیني کوي .

**۴. له تطبیقي مطالعاتو څخه تر لاسه شوې تجربوي پایلې**

پدې روش کې کار پوهان او بودیجه جوړوونکي د هیواد د اقتصادي عمومي وضعې په مطالعې دبازار د وضعې څیړنې، عوایدو د ایجاد د عواملو پیژندنه او نورو په واسطه د عوایدو پیش بیني کوي په ځانګړي توګه هغه وخت دغه روش زیات په کار وړل کیږي چه دولت د نویو عایداتي منابعو په لټه کې وي .

**۵. د اقتصادسنجوونکو(اقتصادي وضعیت سنجوونکو) ماډلونو په اساس برآورد**

پدې روش کې د هیواد عواید په مختلفو برخو ویشل کیږي او د اقتصاد سنجۍ د مډلونو په اساس داسې موډل طرحه کیږي چه د هغه په اساس هغه برخې عواید د براورد وړ وي. هر څومره که اقتصادي موډولونه دقیق طرحه شي له هغو څخه ترلاسه شوې پایلې به واقعیتونو ته نیږدې وي .هغه هیوادونه چه سیاسي ثبات لري او پولي مالي او ارزي سیاستونه او نور اقتصادي متحولین یې درست عمل کوي د اقتصاد سنجۍ موډلونه هم پراخه د کارونې ځایونه لري. نوموړی روش احصایې اطلاعاتو او د قوانینو ثبات ته ډیره اړتیا لري. په افغانستان او هغه ته ورته هیوادونو کې د معلوماتو او احصایې د ضعف اواقتصاد سنجۍ د موډلونو د قوانینو د بې ثباتۍ له امله زیات نه کارول کیږي .

**د عوایدو طبقه بندي**

(c) ketabton.com: The Digital Library


په اکثره هیوادونو کې عواید د مستقلو حسابونو په اساس او د هر حساب په داخل کې د عوایدو د اصلي منبع په اساس ویشل کیږي، پدې برخه کې د لا ښه پوهیدو لپاره په افغانستان کې د عوایدو طبقه بندي مطالعه کوو .

**په افغانستان کې دعوایدو طبقه بندي**

د افغانستان په دولت کې عواید په ۵ بابونو اوهر باب په څو کوچنیو فصلونو تقسیم بندي شوی چه عبارت دي له :

۱ - باب ۱۱ مالیات چه لاندې فصلونه لري ثابت مالیات، په عایداتو باندې مالیات، په شتمنیو باندې مالیات، په فروشاتو مالیات، په داخلي محصولاتو باندې مالیات دولتی مالیات، په نورو عوایدومالیات، جریمې مجازات او ګمرکي محصول.

۲ –باب۱۳ غیرمالیاتي عواید چه لاندې فصلونه پکې شامل دي

د ثابتو شتمنیو له درکه عواید، د اجناسو او خدماتو عرضه، اداري فیس، حق الامتیازونو، متفرقه او دځمکو اوتعمیراتو د خرڅلاو عواید .

۳-باب۱۷ ټولنیزې ونډې چې د دولتي کارکوونکو د تقاعد ونډې پکې شاملې دي، د شرکتونو د کارکوونکو د تقاعد ونډې پکې شاملې دي.

۴ –باب ۱۸هغه پورونه چه لاندې برخې پکې شاملې دي

د بهرنیو هیوادونو پورونه، د نړیوالو ادارو پورونه .

۵ –باب۱۹ مرستې چې لاندې فصلونه پکې شامل دي. د بهرنیو هیوادونو مرستې، د پانګې اچونې (غیر منقولې) مرستې، د نړیوالو مؤسساتو جاري مرستې، د نړیوالو مؤ سساتو غیر منقولې مرستې، د نورو دولتي اداراتو جاري مرستې او دنورو دولتي اداراتو غیرې منقولې مرستې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لنډیز**

د بودیجې د عوایدو او مصارفو پلانګذاري د یوې راتلونکې بودیجوي دورې لپاره وي چې د هغه په واسطه د دولت فعالیتونه داسې رهبري کیږي چې د هغه په واسطه دولت په یو معین وخت کې په یو هیواد کې د عامه رفاه په تأمین کې د امکان تر کچې د یوې دقیقې بودیجوي طرحې لپاره اړینه او معقوله ګڼل کیږي له همدې امله د بودیجې د عوایدو او مصارفو د پیش بینۍ لپاره د هیوادونو د اقتصادي او ټولنیزې وضعې سره متناسب ګڼ شمیر طریقې شتون لري.

د بودیجې د مصارفو وړاند وینه د یوې راتلونکې بودیجوي دورې د مصارفو د وړاندوینې څخه عبارت ده. د بودیحې د مصارفو پلان ګذاري نظر د بودیجې د عوایدو پلانګذارۍ ته په اطمینان او دقیقه توګه صورت نیولی شي ځکه د مصارفو دغه پلان ګذاري د حکومت د کار د پروګرام د یو تصویر په حیث نظر عوایدو ته د اقتصادي پرمختګ او خلکو د طرز العمل لړه تابع ده او یوازې د مصارفو یوه کمه برخه د راتلونکې وضعې د انکشاف تابع ده، د مصارفو پلان ګذاري په بودیجه کې د پخوانیو طبقه بندیو له جملې څخه ده .

د مصارفو طبقه بندي د شیانو او خدماتو د خریدارۍ په چوکاټ کې د دولت له عملیاتو او د هغې له ښودلو او تشریح څخ عبارت ده. په همدې اساس پدې طبقه بندۍ کې د دولت د مالي چارو په اداره کې د حصابدارۍ په اړخونو باندې ټینګار کیږي خو په یوه دولتي واحد کې د عملیاتو د اندازه کولو څرنګوالي او اجرأ په برخه کې مرسته نه کوي. په بودیجه کې د مصارفو طبقه بندي بیانوي چې دولت کومې پیروودنې تر سره کړې دي. د دولت مصارف عموماً په لاندې اړخونو کې طبقه بندي کیږي.

**١. د سازماني واحدونو په اساس طبقه بندي:**

پدې ډلبندۍ کې مصارف د هر دولتي سازمان په اساس چې هغه د تصویب شوو برنامو وړاندیز کوونکي او اجرأ کوونکي وي، پیش بیني کیږي.

**٢. د مصارفو د فصلونو په اساس ډلبندي:**

دغه ډلبندي د هغه مالي دورې او مصارفو د ماهیت په اساس ده چې له معینو مصارفو څخه ګټه اخلي. معمولاً د مصارفو د فصلونو اصلي ګروپونه عبارت دي له:

جاري مصارف، انتقالي پرداختونو او پانګه ایز مصارف.

**د مصارفو د موادو په اساس ډلبندي:**

پدې ډلبندۍ کې چې اصلي موخه یې د سازماني واحدونو په کچه د مصارفو کنترول او د دولتي حسابدارۍ د سیستم او بودیجه جوړونې سیستم تر منځ د مستقیم ارتباط رامنځ ته کول

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي.

**۴ – د دندو یا برنامو په اساس طبقه بندي :**

د مصارفو په دغه طبقه بندۍ کې ددولت او ولایتي سازمانونو مصارف دهغه اصلي مقاصدو او اهدافو ته په پام سره د ندو، طرحو او مختلفو فعالیتونو په توگه پیش بیني کیږي. د افغانستان د دولت په بودیجه کې مصارف په ۵ پنځو لویو فصلونو او هر فصل په ځو کوچنیو فصلونو باندې ویشل شوی دی. چه هغه عبارت دي له: ۲۱ باب د مزد او معاش مصارف، ۲۲ باب له اجناسو او خدماتو څخه استفاده ۲۳ باب ټکټانه او هغه گټه چه په ټکټانه کې شامیلیږي عواید په مالي دوره کې د ټولو هغو لاسته راغلو او لاسته راتلو وړ مالی منابعو او وجوهاتو(پیسو) څخه عبارت دي چه په معین وخت کې د شتمنیو د زیاتوالي یا مستقل حساب د مازاد سبب شي. د عوایدو لوړوالی یواځې د یو قبلي سنجش یا تخمین پواسطه تثبیت کیږي او دغه قبلي تخمین یا سنجش تقریباً د دولت د ټولو عایداتي منابعو په اړه (پرته له هغو عوایدو چه په یوه دوره کې ثابت وي لکه د ټولو عایداتي منابعو له لارې د کرایي له درکه او د دولتي زراعتي ځمکو د اجارې له درکه د قراردادي عوایدو لاسته راتلل، د دولتي قرضونو د قسطونو دترلاسه کولو له لارې عواید او نور ... )په زیاته پیمانه د مالیه ورکوونکو د طرزالعمل او راتلونکې اقتصادي اوضاع تابع دي. دعوایدو د پلان گذارۍ لپاره گڼ شمیر طریقې د عمل وړ دي چه په لاندې توگه ځینو ته یې اشاره کیږي: دماقبل اخر کال روش، د متوسط حد (نمونه گیرۍ) روش، د مستقیمې پیش بینۍ (د کارپیژندنې تخمني) روش، له تطبیقي مطالعاتو څخه لاسته راغلي تجربشوې پایلې، د اقتصاد سنجۍ ماډولونو په اساس براورد په اکثرو هیوادونو کې عواید د مستقلو حسابونو په اساس او د هر حساب په داخل کې د عوایدو د اصلي منبع په اساس ویشل کیږي. د افغانستان په دولت کې عواید په پنځو لویو اقتصادي برخو (باب) او هر باب په ځو کوچنیو فصلونو ویشل کیږي چه عبارت دي له ۱۱ باب مالیات، ۱۳ باب غیر مالیاتي عواید، ۱۷ باب ټولنیزې ونډې ۱۸ باب پورونه، ۱۹ باب مرستې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پوښتنې

۱ – د بودیجې د عوایدو اومصارفو پلانگذاري ولې صورت نیسي ؟

۲ – مصارف څه شی دي ؟

۳ – د بودیجې د مصارفو پلان گذاري تعریف کړئ .

۴ – مشروط مصارف تعریف کړئ ؟

۵ – د مصارفو طبقه بندي څه شی ده ؟

٦ – د دولت مصارف په کومو ابعادو ویشل شوي دي ؟

۷ – د مصارفو د فصلونو اصلي گروپونه کوم دي ؟

۸ – د افغانستان په دولت کې د مصارفو طبقه بندي په کومو برخو صورت نیسي ؟

۹ – عاید تعریف کړئ ؟

۱۰ - دعوایدو د پلان گذارۍ لپاره کومې طریقې شتون لري ؟

۱۲ – د اقتصاد سنجۍ د موډلونو په اساس د براورد روش څرگند کړی .

۱۳ – په افغانستان کې د عوایدو طبقه بندي په کومو برخو صورت نیسي ؟

## مأخذونه


۱. انستیتیوت خدمات ملکي. (۱۳۸۹). رهنمود آموزشي، کابل

۲. موسوی، جبیب و آقاخانی علیرضا. (۱۳۸۴). اصول تنظیم و کنترول بودیجه دولتی، نشر نور علم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم څپرکی

# د بودیجې اصول

هر علم د اصولو اواساساتو له یوې سلسې څخه تشکیل شوی دی. څرګنده ده چه انساني او ټولنیز علوم د طبیعي علومو د اصولو په شان استحکام او ټینګښت نلري په اصطلاح د ناموفقه علومو څخه حسابیږي. له همدې امله ددغو علومو په عامو اصولو کې تل استثنائات لیدل کیږي .د دولت په واسطه د بودیجې د لایحې په تهیه تنظیم او پیشنهاد (وړاندې) او همدارنګه د نماینده ګانو په واسطه د هغې په تصویب باندې اصول مرتب دي او معمولاً په هغو کتابونو او رسالو کې چه د بودیجې په اړوند لیکل شوي دي د بودیجې د اصولو په اړوند پکې جلا بحث ځانګړی شوی دی. له دغو اصولو څخه موخه د هغو قواعدو او تشریفاتو رعایت کولو لزوم دی تر څو تنظیمي بودیجه د دولت د عوایدو او مصارفو د پیژندلو او کنترول په موخه مفیده او قاطع وسیله وي. ددغو اصولو شتون فلسفه د حیف او میل څخه د مخنیوي او دپارلمان دمالي کنترول او نظارت په موخه ده. څرنګه چه د بودیجې پلان د اقتصادي او سیاسي پلانګذاریو له یوې عددي خلاصې یا لنډیز څخه عبارت دی نو ددې پر بنا په بودیجه کې مورد نظر پروګرامونه هغه وخت په یو معقول شکل طرح او تطبیق کیدی شي چه د یو سلسله اصولو مطابق ترتیب شوي وي. هغو اصولو ته چه د مالي سیاست د انکشاف په جریان کې د بودیجې لپاره انکشاف ورکړل شوی دی د هغوی رعایت د امکان تر حده اړین ګڼل کیږي. په بودیجه پورې اړوند اصول په لاندې ډول دي:

## د کلني والي اصل

څرنګه چه وویل شول، بودیجه د دولت مالي برنامه (پروګرام) دی. په هره برنامه کې باید مشخص شي چه کوم کار په کوم مصرف سره او کوم وخت ترسره شي، د یوې دورې لپاره هره برنامه په یوه معین وخت کې تنظیمیږي که چیرې د برنامې د اجرأ کولو د مصارفو پیش بیني او د هغوی د تامین لپاره اړین منابع او همدارنګه د هغه کنترول او ارزیابي په عمل کې امکان نلري.

بودیجه چه د برنامو یو ډول دی، د دولت د عوایدو او مصارفو کلنۍ پیش بیني ده، یعنې د دولت دخل او خرڅ (عواید او لګښتونه)د یو کال لپاره پیش بیني او دټول کال لپاره یو ځل په پارلمان کې تصویب کیږي. له فني نظره د عوایدو پیش بینۍ تر هغه حده چه له حقیقت سره نیږدې وي چې د یو کال په اوږدو کې په اسانۍ سره ترسره کیدای شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



اقلیمي تغیر د بزګرانو د عواید وضع، د توریزم او هوټلونو په شان د صنایعو او حرفو خاوندانو لپاره فصلي تغیر او ددې په شان نور خپله بشپړه دوره په یو کال کې طی کوي .د هر هیواد د عوایدو او مصارفو زیات ډولونه له اقلیمي شرایطو څخه اغیزمن دي. هغه لنډ ترینه زماني فاصله چه په هغې کې طبیعت یوه بشپړه دوره طی کوي یو کال ده او له یو کال څخه د کمو زماني دورو مقایسه مطلوبه او معقوله پایله نه منعکسوي، د بیلګې په ډول هغه مالیات چه له خلکو څخه اخیستل کیږي د کال په اوږدو کې ددغو تغیراتو مجموعه په برکې نیسي د مصارفو له نظره هم ددولتي اجرأئیي دستګاؤ د برنامو کلنی والی شاید د دولتي عوایدو د پیش بینۍ په تابیعت منل شوی وی. دعمومي مصارفو کنترول د پارلمان له واکونو څخه دی. او ددغه کنترول په تطبیق سره منطقي ده چه دوخت عامل هم مراعات شي تر څو په معین وخت کې دولتي عواید د هغه له جملې مالیات ترلاسه او تنظیمي بودیجې په اساس مصرف شي. له همدې امله د بودیجې د قانون د اجرا لپاره، مناسب ترین زماني واحد یوکال مشخص شوی دی، ځکه د بیلګې په ډول که چیرې د هرو دریو میاشتو لپاره یوځل د بودیجي تصویب اوتنظیم اړین وي نو ټول وخت به پارلمان د بودیجې په بحث باندې مصروف (بوخت) وي .او دولت هم باید په هرو دریو میاشتو کې یو ځل د بودیجې لایحه وړاندې کړي. پدې صورت کې به د دولت لپاره د متوازنې بودیجې د تنظیم امکان شتون ونلري، ځکه د کال په مختلفو فصلونو کې د دولت عواید او مصارف متوازن نه وي. ددولت د دخل او خرڅ پیش بیني له یو کال څخه د زیات وخت لپاره هم د پیش بینۍ دقت کموي .پورتنیو مراتبو ته په پام سره د عمومي د خل او خرڅ د تصویب او تنظیم لپاره منل شوی وخت یوکال دی(۱: ۱۱۵) .

ددې سره، سره د بودیجې د کلني والي په اصل کې لاندې استثنات هم شتون لري چه په لاندې ډول دي: په هغه مواردو کې چه دولت د سیاسي اقتصادي، مالي اونورو بحرانونو له امله ونشي کولی چه بودیجه په وخت سره تهیه او تنظیم کړي نو پارلمان د امکاناتو د برابریدو تر وخته د ۲/۱۲ او یا ۱۲ / ۱ یعنی یوه میاشتني او دوه میاشتني اونور شکلونو سره بودیجې تصویبوي. یومیاشتنۍ بودیجه د راتلونکي کال لپاره یوه پیشنهادي بودیجه نده .بلکه د ۱۲ / ۱ په اساس تصویب شوې بودیجه د جاري کال لپاره ده چه د عملي کیدو وړ ګرځي. ددغه ډول بودیجې وړاندې کول او تصویب یا ددولت د ناتوانۍ علت د کلنیو بودیجو په وړاندې کولو کې دسیاسي ټولیز، اقتصادي او مالي بحران موجودیت دی. (۲: ۸۰)

## د بودیجې د وحدت اصل

د وحدت د اصل په اساس د دولت د ټولو برنامو، فعالیتونو او طرحو بودیجه او همدارنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول عواید اومصارف او په پایله کې د ټولو دولتي واحدونو بودیجه باید په یو ځای کې ولیکل شي او د رسیدګۍ اوتصویب لپاره باید وړاندې شي. په هغه صورت کې چه د بودیجې د وحدت اصل رعایت نشي په پایله کې به هر سازمان او دستګاه جلا، جلا بودیجه ولري اویا دولت د مختلفو کارونو څخه د هر یوه لپاره جلا او په متفاوتو وختونو کې بودیجه تهیه کړي، د مختلفو دولتي برخو دعملیاتو ترمنځ به منطقي، زماني اومکاني نیږدوالی او همغږي له منځه لاړه شي.

اوله بله طرفه که چیرې بودیجه پارلمان ته په مختلفو برخو او متفاوتو وختونو کې وړاندې شي نو دهیواد بودیجې ته د لاسرسي او د هغې د تجزیي او تحلیل امکان پارلمان ته په لاس نه ورځي په هغه سربیره تکراري، تیت او پرک کارونه د پارلمان د وخت د ضایع کیدو سبب کیږي نو په ټولنه کې توصیه کیږي چه یواځې یوځل واحده بودیجه په یوه مجموعه کې تصویب شي پداسې توګه چه د دولت ټولې کړنې ولري نودولت باید د ټولو هغو د ستګاوو بودیجه چه په یوډول د دولت له خزانې څخه په مستقیمه توګه استفاده کوي او یا د دولتي کړنو یوه برخه په غاړه لري په یوه مجموعه کې تدوین او یو ځل د تصویب لپاره پارلمان ته وړاندې کړي (۲: ۸۱).

**د بودیجې د وحدت اصل یو سلسله ګټې لري چه مهمې یې په لاندې ډول دي**

**لومړی:** د بودیجې د وحدت د اصل د تطبیق په صورت کې بودیجه په اسانۍ سره تشخیص کیدی شي چه آیا بودیجه متوازنه ده او که نه او که چیرې ګڼ شمیر بودیجې ترتیب شي او د غه بودیجې په ځانګړي ډول د وخت له مخې توپیر ولري او د مالي کال په مختلفو وختونو کې ترتیب شي، پدې صورت کې دانه معلومیږي چه ایا په پورته بودیجه کې دعوایدو او مصارفو ترمنځ یو توازن شتون لري که نه ؟

**دویم:** د واحدې بودیجې په صورت کې مقننه قوه په سهولت سره درک کولی شي چه ایا د دولت بودیجه او په ځانګړي ډول د مصارفو لوړول اود هغوی د تمویل طرزالعمل د ټولنې دمالي او اقتصادي استطاعت (توان) سره همغږي اومطابقت لري که نه ؟

**دریم:** دواحدې بودیجې په صورت کې په اسانۍ سره تشخیص کیدای شي چه کوم مصارف اجباري، کوم اختیاري او کوم ډول مصارف زاید(زیاتیدونکي) مصارف دي .

## د بودیجې دتعادل اصل

د نوموړي اصل په اساس اړینه ده، چه له اوله د بودیجې ټول مصارف د عوایدو په واسطه تر سره شي. د بودیجې توازن دشکلي اصل له نقطې نظره غوښتنه کوي، تر څو ټول مصارف د پلان شوو عوایدو په واسطه تر پوښښ لاندې راشي. په دې اساس د نوموړي اصل په اساس

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیڅ ډول مصارف تر هغه وخته سرته نشي رسیدی چه مخکې له مخکې د هغوی تمویلي مدارک څر ګند شوي نه وي. نوموړی اصل د مالي احتیاج د پوښښ د ډول په اړوندڅه نه ذکر کوي، اما اصولاً د مصارفو تمویل د پورونو اخیستلو په واسطه هم مجاز ګڼل شوی دی، په یو ماډرن اقتصاد کې د بودیجې دغه توازن اصل هغه وخت معقول ګڼل کیږي چه د پیش بیني شوو عوایدو په تمویل کې منظم عواید (هغه پلان شوي عواید چې منظمې منابع ولري لکه مالیاتي عواید تشبثاتي عواید د محصول اوسهمیو د لارې عواید) غیر منظم عواید (هغه عواید چه پلان شوي نه وي یا هغه عواید چه منظمې سرچینې ونلري لکه د پورونو لاسته راوړل) شامل دي. دغه اصل دکلاسیکانو له لیدلوري څخه اغیزمن دی چه د هغوی به اند ښه دولت هغه دی، چه حداقل مصارف ولري او په اقتصادی چارو کې مداخله ونکړي او په پایله کې له اقتصادي وسایلو لکه د بودیجې د کسر سیاست څخه استفاده د منلو وړ نده او متعادله بودیجه یو اصل په توګه غوښتل کیږي. نن ورځ ډیره نادره ده چه یو دولت دې متعادلې بودیجې اجرا کړي معمولاً دولتونه د حسابدارۍ له نظره د بودیجې د کسر په شرایطو کې دعوایدو او مصارفو د توازن ساتل له مرکزي بانک څخه دولتي پورونه منظوروي او په عمومي ډول د اقتصادي رشد د رامنځته کولو لپاره د بودیجې د کسر له سیاست څخه استفاده کوي (۲: ۸۳۹) .

## د بودیجې د جامعیت اصل

د بودیجې د جامعیت له اصل څخه موخه چه د بودیجې له مهم ترینو اصولو څخه ده د بودیجې په اجرأ او تنظیم کې د دولت له صراحت او دقت څخه ده د بودیجې د جامعیت اصل یو په بل پورې اړوند او په عین حال کې یو له بل څخه جلا مفهومونه بیانوي .

۱ – پدې اصل کې توصیه کیږي، چه د دولت ټول عواید اومصارف په شکل او هره توګه چه دي، چه په هغه کې د دستګاؤ، وزارتخانو دولتي شرکتونو په دولت پورې تړلیو انتفاعي مؤسساتو او ټولو هغه دستګاؤ جاري او انکشافي بودیجه چه په یونه یو ډول د دولت له بودیجې ګټه اخلي باید د بودیجې په سند کې راټول او د هیواد پارلمان ته وړاندې شي .

۲ – په بودیجه کې منظورشوي ارقام باید په ناخالص ډول پرته لدې چه عواید له مصارفو څخه تفریق شي د بودیجې په سند کې درج شي (۲: ۸۵).

## د بودیجې د تفصیل یا شاملیت اصل

ددغه اصل په اساس باید دولت بودیجه په مشرحه توګه او دهغې له جزیاتو سره تهیه، تنظیم او پارلمان ته وړاندې کړي، پداسې توګه چه بودیجه د مجموعي او کُلي ارقامو له وړاندې کولو څخه ځان وساتي. ددغه اصل د موجودیت له دلایلو څخه یو هم د بودیجې د عام نظارت

(c) ketabton.com: The Digital Library



او کنترول مسئله ده. که چیرې د تفصیل اصل نه وي د عام نظارت بنسټیزه چاره د یو هیواد په مخارجو باندې تحقق نه مومي. نوموړی اصل دولت اړ باسي تر څو مقننې قوې ته د بودیجې په پیشنهاد او تدوین کې عواید په مشرح ډول طبقه بندي کړي او د اجرأئیي بنسټونو مصارف په تفصیل سره او د برنامو او مصارفو د فصلونو په چوکاټ کې تفکیک او مشخص کړي .دا اصل ددې سبب کیږي چه د هیواد د پارلمان او محاسباتو د دیوان نظارت په دقیق ډول تحقق ومومي. او همدارنگه اړینه ده تر څو بودیجه نه یواځې دا چه د اعدادو او ارقامو په چوکاټ کې وي بلکه باید د مفصلو او مستندو راپورونو په چوکاټ کې مطرح شي (۱: ۱۲۱ ).

## د بودیجې د تخصیص اصل

د بودیجې د تخصیص اصل هغه وسایل چه په بودیجه کې ځای پر ځای کیږي د عادي او زماني نظره په بودیجه کې یې په مشخصو اهدافو پورې مربوطوي. یا په بل عبارت باید د بودیجې وسایل په یو معین وخت کې په کار واچول شي. د پورتني اصل مطابق د تخصیص په اصل کې د بودیجې کیفي تخصیص، کمي تخصیص او د بودیجې د وسایلو زماني تخصیص شاملیږي. د کیفي تخصیص د اصل په اساس هغه وسایل چه په بودیجه کې د معینو اهدافو لپاره تعین شوي وي، یواځې د هماغه اهدافو د تحقق لپاره د مصرف وړ بلل کیږي. ددغه اصل په واسطه مقننه قوه د اجرائیه قوې د تصمیم نیونې حدود په فوق العاده ډول محدودوي، که چیرې په استثنأیي ډول دا مجاز وګڼل شي چه په بودیجه کې پیش بیني شوي وسایل د اړتیا پر وخت د نورو اهدافو لپاره هم مصرف شي پدې صورت کې باید په دقیق ډول ذکر شي چه نوموړي اهداف په کومو اقلامو کې شاملیدی شي. د کمیتې تخصیص د اصل په اساس مصارف یواځې په هغه اندازه مجاز ګڼل کیږي چه په بودیجه کې د هر هدف لپاره ټاکل شوي دي. په همدې اساس له پلان څخه زیات مصارف مجاز نه ګڼل کیږي اما د هغه برعکس په بودیجه کې د پلان شوو مصارفو څخه د لږو مصارفو اجرأ کول یواځې هغه وخت مجاز ګڼل کیږي، چه نظر تخنیکي د لایلو موجودیت ته او یا د مصارفو نورو منع کوونکو دلایلو په اساس په بشپړه او پیش بنیي شوې اندازې سره اجرأ نشي. مثلاً کله چه د هوا د خرابوالي له امله تعمیراتي فعالیتونه وځنډیږي او په پایله کې د دولت ساختماني مصارف تطبیق او عملي نشي، چه پدې صورت کې د دولت د مصارفو تطبیق کول قصدي ندي، بلکې د یو تخنیکي مشکل په اساس دي. ددې لپاره چه د اجرأئیه قوې د تصمیم نیونې لپاره یو څه پراخه حدود برابر شي. کولی شي چه داسې سلنې وټاکي چه د هغه په اساس اجرائیه قوه دا صلاحیت ولري، چه مصارف د ټاکل شوي سلنې په حدودو کې کم یا زیات کړي. د بیلګې په ډول د پروژې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجموعي مصارفو څخه د یوې معینې سلنې تغیر د اجرائیه قوې په صلاحیت کې ورکړل شي تر څو د اړتیا پر وخت له هغه څخه استفاده وکړي. د زماني تخصیص اصل غوښتنه داده تر څو مصارف په هغه وخت کې ترسره کړل شي چه د بودیجې په پلان کې تصویب او تعین شوي دي. که چیرې په استثنأیي ډول دا امکان پیش بیني شوی وي چې تر څو معین وسایل په یوه وروستۍ دوره کې هم صورت ونیولی شي پدې صورت کې اړینه ده چه بودیجه کې باید د هغه د انتقال دلیل هم واضح شي. څرنگه چه یادونه وشوه چه د بودیجې د تخصیص اصل د مقننه قوې په واسطه د بودیجې د ټاکل شوو عوایدو او مصارفو په اړوند د اجرائیه قوې صلاحیت په ډیره زیاته توگه محدود کړی دی او د هغه په واسطه د حکومت لپاره د اقتصادي حالت (کانژاکتوري) ضد مالي طرزالعمل ستونزمنوي چه دغه د نوموړي اصل یوه عمده نیمگړتیا ده. د بودیجې د تخصیص درې اصول چه پورته ذکر شول همدارنگه د افغانستان د ۱۳۵۳هـ ش کال د بودیجې په مقرره کې هم په نظر کې نیول شوي دي. داسې چه پدې مقرره کې ذکر کیږي چه تخصیص له هغه معینو وجوهو(پیسو د مقدار) څخه عبارت دی چه د هغه د مصرف صلاحیت د ذیصلاح مقاماتو له لوري د یو خاص کار او موخې لپاره په یو مالي دوره کې د یو اداري واحد لپاره منظور شوی وي. په پورتني مطلب کې درې واړه تخصیصونه شامل دي. پدې مانا چې له معینو وجوهو څخه موخه کمي تخصیص، د خاص منظورتخصیص له کیفي تخصیص څخه عبارت دی او دیوې مالي دورې په موده کې تخصیص له زماني تخصیص څخه استازیتوب کوي ددې لپاره چه د تخصیص د اصل دا نیمگړتیا چه د کانژاکتوري ضد سیاست لپاره خنډ گرځي له منځه یوړل شي نن ورځ تقاضا کیږي تر څو د بودیجې د تخصیص اصل د ماډرن مالي سیاست د تقاضا مطابق عیار شي او په یوه زیاته انعطاف پذیرۍ سره مجهز شي .

## د راپور ورکولو اصل

د نوموړي اصل په اساس باید اجرأئیه قوه او مقننه قوه د یو اطلاعاتي سیستم په واسطه له ښکته پورته په دوامداره او منظم ډول د بودیجې په تړاؤ کافي او جامع معلومات لاسته راوړي، چه په هغه ځای کې په بودیجه کې د تعین شوو اعدادو ارقامو کې د تغیراتو په تړاؤ لومړني معلومات زیات اهمیت لري هره اداره باید خپل مالي او د کار راپورونه په منظم او دوامداره ډول لوړې اداري ته وړاندې کړي، چه د اداري د تجاربو دغه راپورونه د حکومت د پروگرام په تړاؤ د تصمیم گیرۍ په عملیه کې هم شامیلیږي. پدې ډول راپورونو کې باید یواځې تغیرات څرگند نشي، بلکې هغه قانع کوونکي دلایل چه ددغه تغیراتو سبب شوي او همدارنگه له نویو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندیزونو سره د نویو تصامیمو دنیولو دلایل هم باید پکې شامل وي. په همدې اساس د یو اطلاعاتي سیستم د یادگیرنې او خبرتیا په اساس د دولت د اداري لپاره اړینه ده تر څو د مختلفو تاثیراتو په اړه معلومات تر لاسه کړي تر څو د حکومت د کار په پروگرام او انفرادي پروگرامونو باندې بد تاثیر ونکړي او پر وخت سره یې ارزیابي کړی شي .

## د بودیجې د صلاحیت اصل

ددې لپاره چه اجرائیه قوه یا حکومت په بودیجه کې ټاکل شوو او پیش بیني شوو اهدافو ته رسیده گي وکړی شي اړینه ده، چه د لازمو صلاحیتونو لرونکی هم وي یا په بل عبارت د بودیجې د پلان د تطبیق لپاره باید هغه ته دا اړین صلاحیتونه انتقال شي. د مقننې قوې د تاثیراتو او کنترول په اړه باید ووایو چه د بودیجې د جوړښت او ترتیب په وخت کې د مقننه قوې رول د اجرأئیه قوې په نسبت په مراتبو کم دی داسې چه د بودیجې د پلانگذارۍ په پیل کې د تصمیم گیرۍ حدود تر یوې اندازې زیات وي او تر پارلماني مشورې پورې د تصمیم نیونې دا حدود ډیر کمیږي. څرنگه چه د مصارفو عمده برخه د قانوني او قراردادي مکلفیتونو په اساس لا اقل لنډ مهال له نقطې نظره ټاکل کیږي ددې پر بنیاد داسې شرایطو لاندې د اجرأئیه قوې د تصمیم نیونې ساحه په زیاته اندازه سره محدودیږي چه دا په خپل ذات کې د کافي تصامیمو د نیولو د اصل (پرنسیپ) د محدودیت مانا لري، ددې پر بنا یواځې یوه اوږد مهاله پلان گذاري کولی شي چه د تصمیم نیونې محدودې ساحې ته د بودیجې جوړونې په عملیه کې پراختیا ورکړي .

## د بودیجې اجرائیوي اصل

د بودیجې طرحه او ترتیب له اوږدې مودې را پدې خوا د اجرأئیه قوې په صلاحیتونو پورې تړاؤ لري کیدای شي چه د بودیجې طرحې ته اصولاً د مقننې قوې په واسطه تغیر ورکړل شي .

اما څرنگه چه تجارب څرگندوي چه د بودیجې د محتویاتو عمده برخه چه د حکومت له لوري ترتیب کیږي او د تصویب په موخه ذیصلاح مقاماتو ته وړاندې کیږي، پرته له اساسي تغیر څخه تصویب او قانوني څواک ترلاسه کوي چه پدې ارتباط د بودیجې له یو اجرأئیي اصل څخه خبرې کیږي. د بودیجې د اجرأئیي اصل په اساس د بودیجې تشکیل باید په موازي توگه د حکومت د کار په غاړه وي پدې بودیجه کې د اجرأئیه قوې د اهدافو معرفي او پلان شوو اهدافو ته رسیدل له عددي نقطه نظره درج کیږي. د بودیجې د تنظیم پروخت د اجرائیه قوې او اداري اغیزې زیات اهمیت لري اما د بودیجې منظوري ماهیتاً د مقننه قوې دنده ده د بودیجې اجرأ باید په هیڅ صورت د مقننه قوې د سیاسي اغیزو د ساحې د محدودیت په لور

(c) ketabton.com: The Digital Library



رهنمايي نشي، ولې دا په مقننه قوه پورې اړه لري چې په کومه اندازه اغیزه د حکومت په پروګرام او د هغه په تطبیق باندې واردولی شي. د بودیجې اجرأئیي اصل همدارنګه یو دا نظر هم لري چه اجرأئیه قوه د خپل دغه صلاحیت تر څنګ د مقننه قوې په مقابل کې یو ثابت او معین مسؤولیت هم لري .څرنګه چه د مقننه قوې په واسطه د مصارفو په منظورۍ کې دا طرزالعمل شامیلیږي چه وسایل د پیش بیني شوي پلان مطابق او بودیجې د کلاسیکو اصولو په اساس په اقتصادي توګه په کار واچول شي، پدې اساس اجرائیه قوه دا مسؤولیت لري تر څو ټول هغه تدابیر په نظر کې ونیسي چه په معقوله توګه د بودیجې د اجرأ لپاره اړین ګڼل کیږي.

## د بودیجې د علنیت(څرګندوالي) اصل

ددې اصل پر اساس اړینه ده تر څو د بودیجې ټول محتویات او مراحل د جمعې اطلاعاتو د وسایلو او نورو ممکنه وسایلو له لارې عامو خلکو ته څرګند شي چې د اصولي پرنسیپ له نظره هر فرد د مالي وجوهاتو(د پیسو د مقدار) او مالي سیاستمدارانو د طرزالعمل څخه کافي معلومات ترلاسه کړی شي. د بودیجې د علنیت اصل په اساس همدارنګه د عمل په ساحه کې د خلکو په مالیاتي ذهنیت او مالیاتي اخلاقو باندې مثبت اغیز هم واردولی شي، پدې مانا کله چه خلک مخکې ددولت د مالي سیاست د پایلو له مشاهدې څخه خبر شي، چه دولت له دوی څخه کوم مالیات اخلي هغه په کومو ځایونو کې مصرفوي نو د دې لیوالتیا د مالیاتو ورکړې ته زیاتیږي په ځانګړي ډول دا موضوع په مخ پر ودې هیوادونو کې ډیر اهمیت لري ځکه پدې هیوادونو کې مالیاتي ذهنیت د پر مخ تللو هیوادونوپه پرنسبت ډیر ټیټ دی. له همدې امله ده چه په مخ پر ودې هیوادونو کې له مالیې څخه تیښته ډیره زیاته ده او دغه چاره د دولت د مالیاتي عوایدو د کموالي سبب کیږي. د علنیت(څرګندوالي) له دغه اصل څخه استثنأ یواځې هغه وخت ده چه ددې ډول معلوماتو پټ ساتل د دولت په ګټه وي چه ښه بیلګه یې د نظامي چارو مصارفو پټ ساتل دي چه په هر هیواد کې لږ یا ډیر معمول دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لنډیز

هر علم د یوې برخې اصولو او بنسټونو څخه تشکیل شوی دی، څرګنده ده چه د ټولنیزو او انساني علومو د اصولو استحکام او قطیعت د ټولنیزو علومو په اندازه ندی او ټولنیز او انساني علوم په اصطلاح د ناموفقه علومو څخه شمیرل کیږي. ددغه اصولو وجودي فلسفه له صیف و میل څخه د مخنیوي او پارلمان د مالي کنترول اونظارت د شتون په موخه ده هغه اصول چه د مالي سیاست د انکشاف په جریان کې د بودیجې لپاره انکشاف ورکړي شوی د هغه رعایت دامکان تر حده د بودیجې د مختلفو دندو بشپړه اجرا تنظیمولای شي. د بودیجې دغه اصول په لاندې ډول دي .

د بودیجې د کلني والی اصل بیانوي چه بودیجه باید د یو کلنې مالي دورې لپاره پیښ بیني شي تر څو حقیقت ته نیږدې وي. بودیجه چه د برنامې یو ډول دي، ددولت د عوایدو او مصارفو یو کلنه پیش بیني ده .یعنې د دولت دخل او خرڅ د یو کال لپاره پیش بنیي او د ټول کال لپاره یواځې یو ځل په پارلمان کې تصویب کیږي. نو د بودیجې د قانون د اجرا لپاره مناسب ترین زماني واحد یو کال مشخص شوی دی. د بودیجې د وحدت د اصل پر اساس ددولت ټولې برنامې فعالیتونه له طرحې او همدارنګه ټول عواید او مصارف او په پایله کې د ټولو دولتي واحدونو بودیجه باید په یو ځای کې ولیکل شي او د لاسرسي او تصویب لپاره وړاندې شي .دبودیجې د تعدل د اصل پر اساس باید د بودیجې ټول مصارف د عوایدو په واسطه ترسره کیدای تر څو یې چه مخکې تمویلي منابع نه وي څرګند شوي. د یادونې وړ ده چه نن ورځ ډیره نادره ده چه یو دولت د یو متعادله بودیجه اجرا کړي معمولاً دولتونه د عوایدو او مصارفو د توازن د حفظ د حسابدارۍ له نظره په هغه شرایطو کې چه له کسر سره مخامخ وي له مرکزي بانک څخه د دولتی قرضه (پور) منظوري او عمدتاً د اقتصادي ودې لپاره د بودیجې د کسر له سیاست څخه استفاده کوي .

د بودیجې د جامعیت له اصل څخه موخه چه د بودیجې له مهمو اصولو څخه دی. د بودیجې په تنظیم او اجرا کې د دولت دقت او صراحت دی. د بودیجې د شاملیت اصل پر اساس باید دولت بودیجه په مشرحه توګه او د هغه د جزیاتو سره تهیه، تنظیم او پارلمان ته وړاندیز کړي. پداسې توګه چه په بودیجه کې د کلي یا مجموعي ارقامو له وړاندې کولو څخه صرف نظر وکړي ددغه اصل د موجودیت یو دلیل د بودیجې د همګاني نظارت او کنترول موضوع ده. د بودیجې د تخصیص اصل هغه وسایل چه په بودیجه کې ځای پر ځای کیږي د مادي او زماني نظره په بودیجه کې د مشخصو اهدافو لپاره اړوند کوي یا په بل عبارت د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بودیجې وسایل باید په یو معین وخت کې په کار واچول شي. د پورتني نقطه نظر په اساس د بودیجې د تخصیص په اصل کې کیفي تخصیص درې اصول چه پورته ذکر شول همدارنگه د افغانستان د ۱۳۵۳ کال د بودیجې په مقرره کې هم په پام کې نیول شوي دي. ددې لپاره چه اجرائیه قوه یا حکومت په بودیجه کې ټاکل شوو او پیش بیني شوو اهدافو ته ورسیږي باید اړین صلاحیتونه هم ولري یا په بل عبارت سره د بودیجې د پلان د تطبیق لپاره باید دغه اړین صلاحیتونه اجرایه قوې ته انتقال شي چه د بودیجې د صلاحیت اصل بیانوي. د بودیجې د علنیت اصل په اساس باید د بودیجې ټول محتویات او مراحل د جمعي اطلاعاتو د وسایلو او یا نورو ممکنه وسایلو له لارې په عامه اطلاع ورسول شي د علنیت او دغه اصل څخه استثنا صرف هغه وخت شتون لري چه ددغه معلوماتو پټ ساتل د دولت په گټه وي چه بڼه بیلگه یې د نظامي مصارفو معلومات پټ ساتل دي چه په هر هیواد کې لږ یا ډیر معمول دي(۵۸).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پوښتنې

١. د بودیجې پلانګذاري څه شی ده؟
٢. د بودیجې اصول څه شی بیانوي؟
٣. د بودیجې د کلني والي اصل موخه په لنډ ډول بیان کړئ؟
٤. ولې بودیجه باید د کلني والي اصل څخه پیروي وکړي؟
٥. آیا د بودیجې د کلني والي په اصل کې استثناء شتون لري؟
٦. د بو دیجې د وحدت اصل کومې ګټې لري؟
٧. د بودیجې د تعادل اصل څه بیانوي؟ او آیا د نن ورځې په مدرن اقتصاد کې له دغه اصل څخه پیروي کېدی شي او کنه؟
٨. د بودیجې اصل کوم مفاهیم بیانوي؟
٩. په بودیجه کې د تفصیل اصل، نه مراعات کول کومې ستونزې را منځته کوي؟
١٠. تخصیص په کومو ډولونو وېشل شویدی، لنډ یې تشریح کړئ.
١١. د افغانستان د ١٣٥٣کال د بو دیجې مقررې د تخصیص اصل څرنګه بیان کړی دی؟
١٢. ولې باید بودیجه د علنیت د اصل پیروي وکړي؟

## مأخذونه


١. ابراهیمي نژاد، د کتر مهدی و فرجوند، اسفندیار. (١٣٩١). اصول تهیه و تنظیم کنترول بودیجه، سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انسانی دانشگاهها (سمت)، تهران.
٢. موسوی، حبیب و اقاخانی، علیرضا. (١٣٨۴). اصول تنظیم و کنترول بودیجه دولتی، سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انسانی دانشگاهها (سمت )، تهران.
٣. عزیزی، غلام رضا. (١٣٩٠). فراگرد کنترول و تنظیم بودیجه دولتی بر اساس نظام امار های مالی دولت، تهران.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم څپرکی

## د بود یجې جوړونې ډولونه

هغه بدلونونه، چې په دې وروستیو کلونوکې په هېواد کې د بودیجې جوړونې په برخه کې را منځ ته شویدي، د دې سبب شویدي، چې د بودیجې د تهیې، تنظیم او کنترول په برخه کې د پام وړ پرمختگونه هم ولیدل شي او پکار یوړل شي، معمولاً د بودیجې ترتیب په لاندې شکلونو سره صورت نیسي.

١. **زیاتېدونکي بودیجه:** د تېر کال په عین فصل او باب سره یوه اندازه زیاتوالی کوي.

٢. **د صفر په اساس بودیجه:** له صفر څخه پیل کیږي.

٣. **د برنامې یا اجراأتو په اساس بودیجه:** بودیجه په برنامو سره تخصیص کیږي.

٤. **ولایتي بودیجه:** د اړونده وزارت خانو له لارې د منابعو تخصیص، د ولایاتو په اساس صورت نیسي.

٥. **زیاتېدونکې بودیجه:** کله چې د تېر کال په بودیجه باندې، په مجموعي مصارفو یا یو معین کود کې یو مقدار ور زیات شي، د زیاتېدونکې بودیجې په نامه یادیږي. زیاتېدونکې بودیجه په تصمیم نیونه کې د کمو تغیراتو له طریقې سره مطابقت یا برابر والی لري، د نوموړې طریقې په اساس، د نوې تصمیم نیونې لپاره هغه تصمیمونو ته مراجعه کیږي، چې مخکې په دې اړه نیول شویدي او موجوده غوښتنو ته په پام سره په هغه کې جزیي تغیرات رامنځ ته کیږي. زیاتېدونکې بودیجه جوړونه په کلنۍ بودیجه کې د ستونزو او سردردۍ څخه د مخنیوي لپاره رامنځ ته شویده، په دې ترتیب سره هرکال د لومړیو څخه د بودیجې جوړونې لپاره پیچلي کارلپاره اقدام صورت نه نیسي؛ بلکې بودیجه جوړوونکي د تېرکال د بودیجې په منلو، خپل پام د زیاتوالي تغیراتو ته اړوي. په دې روش کې چې د (عملیاتو د سطحې د ساتنې) په روش یا په لنډ ډول (د سطحې ساتنې روش) په نوم یادیږي، د تېر کال بودیجه د جاري مصارفو لپاره د پایې په حیث فرض او کلنی زیاتوالی د هغه لپاره په پام کې نیول کیږي؛ دغه زیاتوالی د قیمتونو د تغیر په پروسه کې، د موجوده عملیاتو د حجم په تغیر، د دولت له لوري د نویو دندو منل او دا ډول عواملو پورې تړاو لري. د بودیجوي کال لپاره د انفلاسیون، شیانو او خدماتو د قیمتونو د تعین څخه تر لاسه شوي تغیرات براورد او د کمي او کیفي عملیاتو پراخوالی په هغه باندې ور زیاتیږي او ځینې وختونه دستگاه ته نوی کار یا دنده سپارل کیږي، چې په وروستي کال کې ټولې بودیجې ته لاسرسی پیدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي.د سطحې ساتل په واقعیت کې د قیمتونو د زیاتوالي یا کموالي د تطبیق په برخه کې د هغه مقداري کمیت د ساتلو او د هغه په قیمت کې د تغیر په معنا دی، یعنې په حقیقت کې د انفلاسیون او رکود علایم داسې را څرګندیږي؛ د بیلګې په توګه، که چېرې په یوه میاشت کې د موټر دسون توکو اندازه liters ۱۰۰ لیتره او یا په کال کې liters ۱۲۰۰ وي؛ که چېرې لیتر په ۵۰ افغانۍ وي، په کال ۱۳۹۵هـ ل کې د عملیاتو د سطحې د ساتلو مصرف په هره میاشت کې له ۱۸۰۰۰ افغانیو سره برابر دی. په لاندې ډول یې محاسبه کوو:

په ۱۳۹۰ هـ ل کال کې ۱۲۰۰ × ۵۰ = ٦۰۰۰۰

په ۱۳۹۱هـ ل کال کې ۱۲۰۰ × ٦٥ = ۷۸۰۰۰

۷۸۰۰۰ − ٦۰۰۰۰ = ۱۸۰۰۰

دغه روش د مصارفو د تخمین یو معمول کلاسیک او نا مناسب روش دی، څرنګه چې په دې روش کې موجوده مصارف په اسانۍ سره بررسي کیږي او د اړتیاؤ او قیمت ګذارۍ یا براورد د نوې ارزیابۍ غو ښتنه کوي(د پوهنې وزارت د بودیجې لویه برخه زیاتېدونکې بودیجه ده او مالیې وزارت دې ډول بودیجې ته ترجیح ورکوي) دا روش همدارنګه له پورته څخه ښکته یو میتود دی، چې په هغه کې تصمیم نیوونکي له خپل صلاحیت څخه استفاده کوي، چې په دې صورت کې د بودیجې د یو لوی مقدار تخصیص یوه ارګان یا یو لوري ته ممکن کیږي. دا روش د تېر کال په ارقامو پورې تړلی دی، په دې روش کې د تېرکال د مصارفو د تاثیراتو ارزیابي تعدیل کیږي. دا روش دا اجازه نه ورکوي، ترڅو غیر ضروري پروژې یا ارقام چې له تېرو څخه په جریان کې وي حذف کړي او د بودیجې د پام وړ مقدار پس انداز شي. په عین شکل کې په دې روش کې نوي اقلام، هغه که ډېر اړین هم وي په آسانۍ سره نه شي شاملېدای، ځکه د هغوی داخلېدل د بودیجې په موجوده سیستم کې د اوږد وخت او بیروکراتیکې پروسې غوښتنه کوي. زیاتېدونکې بودیجه یواځې د مصارفو په اړوند معلومات وړاندې کوي او د هغوی د پایلو په اړوند هېڅ معلومات نه وړاندې کوي.

## د صفر په اساس بودیجه

د صفر په اساس بودیجې مفکوره د لومړي ځل لپاره د (R.E Hilton) په واسطه منځ ته راغله او د امریکا په متحده ایالاتو کې په ۱۹٦۳ م کال د زراعت په وزارت کې د بودیجې جوړونې او برنامې طرحه کولو د سیستمplanning programming and budgeting (System) په حیث معرفي شوه. د امریکا فدرالي حکومت دا ډول بودیجه په ۱۹۷۷م او د ۱۹۷۷م د

(c) ketabton.com: The Digital Library



قانون په حیث پیاده کړه. د نوموړي بودیجې جوړونې د تصمیم نیونې پروخت د برنامو د هر فعالیت د مشخصولو اوبیانولو غوښتونکی دی. د بودیجې تخصیص د مصارفو یا ګټې د ملحوظاتو یا پایلې په اساس صورت نیسي. د بودیجې تخصیص شوی مقدار په یو تېرشوي فعالیت په نظرکې نیول کیږي، یا په بل عبارت هر فعالیت، هر کال له صفر څخه پیل کیږي. د بیلګې په ډول په لومړي قدم کې باید د هرې برنامې فعالیتونه د تصمیم ګیری د برخې د مدیر په واسطه توجیه (وښودل) شي او په ترتیب سره د لومړیتوبونو سره ارتباط ورکول کیږي، ترڅو د پام وړ اهداف لاس ته راشي. موجوده منابعو ته د لومړیتوبونو په اساس په نورو بدیلو فعالیتونو سره لارښوونه کیږي، ترڅو له هغه څخه اعظمي پایلې ترلاسه شي او د منابعو ددویم ځلي تخصیص لپاره موقع برابره کړي. دا ډول د بودیجې جوړونې له ټولو اشکالو څخه په بهتر ډول بودیجې ته په ډېر مؤثر ډول له ارزیابۍ سره ربط ورکوي، د دې لپاره د دویم ځلي تحلیل غوښتونکی هر لومړیتوب د نیول شوو تصامیمو مفصله توجیه(ښودنه) او بررسي ده. په زیاتېدونکې بودیجه جوړونه کې د براوردونو (اندازه کولو) کال د مخکیني کال ارقام دي. د وروستي کال د بودیجې په تنظیم کې د سلنې زیاتوالي لپاره اقدام کیږي، نوموړی کار له پوره دقت څخه برخمن نه دی؛  ځکه په راتلونکې کې د تېرې اوضاع ته عمومیت ورکول د پیش بینۍ لپاره درست شاخص نه دی. دهغو افرادو دنده چې نوې بودیجه جوړوي یایې برابروي دا دی چې کوم اقلام باید له بودیجې څخه حذف کړو او کوم فعالیتونه او د هغه په اساس کوم اقلام باید اضافه کړو؟ دا کار د دې باعث کیږي چې مدیریت د کار د ځانګړي ډول د ادامې یا درولو لپاره خاص پام وکړي(په ځانګړي ډول هغه وخت چې د محیطي تغیراتو یا هغو تغیراتو په سبب چې د سازمان په اهدافو کې را منځ ته شوی وي ګټور وي هغه قلم (واحد) د فعالیت نور مطرح نه دی) د صفر په اساس په بودیجه جوړونه کې، چې د زیاتېدونکي بودیجې مقابل ټکی دی، د بودیجې تعدیل د متمرکز بودیجوي کال او جاري کال پر تفاوت باندې متمر کز دی، ځکه د سرته رسیدلو مصارفو او کارونو په اړه معلومات په راتلونکي کال کې د برنامې د تغیر د اندازې د بررسۍ لپاره پکار نه وړل کیږي. د صفر په اساس بودیجه جوړونه ( Zero Based Budgeting) هڅه کوي چې نوموړې نیمګړتیا له منځه یوسي. په دې بودیجه جوړونه کې د هر فعالیت نوی فعالیت د صفر په اساس دی او د هر فعالیت لپاره داسې دلیل باید شتون ولري، چې آیا اړینه ده او که نه؟ د صفر په اساس بودیجه کې مصارف د دې پرځای چې د جاري سطحې په اساس محاسبه شي له صفر څخه پیل کیږي. په داسې بودیجوي طریقې سره د هر پولي واحد د مصرف لپاره باید یو منطقي دلیل شتون ولري. د صفر په اساس په بودیجه جوړونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې به د بودیجې تحلیلوونکي طبعاً د سرته رسېدلو کارونو او مصارفو په اړه د تېرو معلوماتو غوښتنه کوي؛ اما لزوماً دغه معلومات د هغه کار اساس نه دی او هغه په دې ځای کې له پامه غورځوي. پیترفیر د صفر په اساس بودیجې جوړونې په نوم کتاب لیکونکی او پدې برخه کې د جالبې مقالې په ۱۹۷۳ م کال کې د Harvard Business review په نوم مجله کې د صفر په اساس بودیجه جوړونه داسې تعریف کړیده((یوه عملیاتي برنامه او بودیجوي پروسه ده، چې هر مدیر اړباسي، چې په بشپړه مشروع او په بادلیله طریقه خپله بودیجه د صفر په اساس څرګنده کړي او د دغه چارې د اثبات مسئول واوسي، چې ولې باید هر مبلغ په مصرف ورسوي)) پدې اساس د صفر په اساس بودیجه لومړی د فعالیتونو ګټه او مصارفو هدف ته په کتو سره ارزیابي کوي؛ په دویم قدم کې نورو فعالیتونو ته په پام د هغې لومړیتوب مشخص کوي؛ او په دریم قدم کې هغه فعالیتونه حذف کوي، چې د هغوی څخه ترلاسه کېدونکې ګټه د هغوی له مصارفو څخه لږه وي. د صفر په اساس بودیجه جوړونه نسبت عنعنوي بودیجې جوړونې ته لاندې ګټې لري.

١. دا بودیجه د دې په اړوند چې آیا فعالیتونه باید ادامه پیداکړي او که متوقف شي، زیاته څرګنده ده.
٢. د ټولو هغو کسانو ګډ کار چې له بودیجې سره ارتباط لري مجاز ګڼي.
٣. څرنګه چې د مختلفو ټاکنو څخه هر یو یې په کمي توګه محاسبه کیږي، د مقایسې لپاره اړین معیارونه شتون لري؛ په پایله کې د هغوی ارزیابي روښانه او له ابهام څخه خالي ده.
٤. هغه فعالیتونه چې ټیټ لومړیتوب لري د زړه د ډاډ په خاطر له منځه وړل کیږي (٢٥٥:١).

**د صفر په اساس بودیجه جوړونې نیمګړتیاوې په دې ډول دي:**

لومړی دا چې د بودیجې جوړونې انتظام د دومره زیات دفتري کار غوښتنه کوي، چې د وخت په چوکاټ کې د بودیجه جوړونې د نظامونو انساني ظرفیت په بشپړه توګه ممکن نه وي، دویم دا چې الزاماً دا چاره هغه برنامې، چې په ټیټو لمړیتوبونو سره به کمې مالي منابع تر لاسه کړي، یا به په کلي ډول قطع شي، هېڅکله درسته نه ده، ځکه نوموړی لیدلوری د هغه عمومي او بنسټیزو سیاستونو د واقعیتونو په لحاظ، چې بودیجه له هغه څخه سرچینه اخلي له شکست سره مخامخ کیږي، دریم داچې دا ډول بودیجه جوړونه زیات وخت او مصرف ته اړتیا لري. په هرحال د صفر په اساس بودیجه جوړونه د دولتي بنسټونو د آرمانونو په فن باندې شهرت لري(١٣٦:٢).

البته د یادونې وړده چې که څه هم د صفر په اساس بودیجه حوړونه په بهتره توګه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوديجې د لومړيتوبونو د تعين او د بنسټونو موثريت د پورته تللو باعث کيږي، د دې باعث کيږي چې زيات دفتري کارونه تر سره شي او احتمالاً د مديرانو او افرادو روحيه ضعيفه کړي؛ په همدې دليل ده چې په اوسني وخت کې نسبت له بوديجه جوړونې څخه مخکې کلونو نه استفاده کيږي. په دې وروستيو کې په افغانستان کې ولايتي بوديجه او د برنامې په اساس بوديحه هم تر تطبيق لاندې نيول شويده، چې په دې وروستيو فصلونو کې د دې دوه ډوله بوديجې په اړه بحث کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لنډیز**

کله چې د تېرکال په بودیجه باندې په یو مشخص کود یا مجموعی مصارفو باندې یو مقدار ور زیات شي، د زیا تېدونکي بودیجې په نامه یادیږي. زیاتېدونکي بودیجه د دې لپاره رامنځ ته شویده، چې د کلنۍ بودیجې د سترې کوونکو او ستونزو څخه د ډک کار مخنیوی شوی وي. د بودیجوي کال لپاره انفلاسیون او د قیمتونو د تعدیل څخه لاسته راغلو تغیراتو د براورد او د کمي او کیفي عملیاتو پراختیا په هغه باندې ور اضافه کیږي او ځینې وخت نوي دنده یا کار هغه دستګاه ته سپارل کیږي، چې په بعدي کال کې ټولې بودیجې ته لاسرسی لري. نوموړی روش د تېرکال په ارقامو پورې تړلی دی، په دې روش کې د تېرکال د تاثیراتو د بررسۍ ارزیابي تعدیل کیږي. د صفر په اساس د بودیجې مفکوره د لومړي ځل لپاره د (R .E. Hilton) په واسطه منځ ته رغله او د امریکا په متحده ایالاتو کې په ۱۹۶۳ کال کې د هغه هیواد د ذراعت په وزارت کې د برنامې د طرح او بودیجه جوړونې د یو نوي سیستم ( Planning programming and budgeting system) په حیث معرفي شو. د بودیجې تخصیص د مصارفو یا ګټې د ملحوظاتو او یا پایلې په اساس صورت نیسي. د بودیجې تخصیص شوی مقدار یو تېر شوي فعالیت په پام کې نه نیول کیږي، یا په بل عبارت سره هر فعالیت له هېڅ یا صفر څخه په هر کال کې پیل کیږي. دا ډول بودیجه د بودیجه جوړونې له ټولو اشکالو څخه په بهتره شکل په ډېره موثره توګه بودیجې ته له ارزیابۍ سره ارتباط ور کوي. د دې په خاطر چې هر لومړیتوب د نیول شوو تصامیمو د بررسۍ او په مفصل ډول څرګندول د دویم ځلې تحلیل غوښتونکی دی. د صفر په اساس په بودیجه جوړونه کې چې د زیاتېدونکي بودیجې په مقابل کې قرار لري، د بودیجې تعدیل د جاري کال او بودیجوي کال په تفاووت باندې متمرکز دی نو بناًء د مصارفو او تیرو فعالیتونو په اړه معلومات په راتلونکي کال کې د برنامې د تغیر د اندازې د بررسي کولو لپاره په کار نه وړل کیږي، البته د یادونې وړ ده چې د صفر په اساس بودیجه جوړونه کې زیات دفتري کارونه تر سره شي او احتمالاً د افرادو او مدیرانو روحیه کمزوري کوي. په همدې دلیل ده چې د صفر په اساس له بودیجه جوړونې څخه د تېرو کالونو په نسبت اوس لږه استفاده کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پوښتنې

۱. د بودیجې جوړونې لپاره کوم رروشونه شتون لري؟
۲. زیاتېدونکي بودیجه تعریف کړئ.
۳. د سطح ساتل په زیاتېدونکي بودیجه کې څه افاده کوي؟
٤. د زیاتېدونکي بودیجې جوړونې روش څه ډول یو میتود دی او کومې طریقې تعقیبوي؟
٥. د زیاتېدونکي بودیجه جوړونې ګټې او تاوانونه ستاسې له لیدلوري څخه کوم دی؟
٦. د صفر په اساس د بودیجې مفکوره د لومړي ځل لپاره چېرې او څه ډول معرفي شوه؟
۷. د صفر په اساس بودیجه جوړونې روش د بودیجه جوړونې کوم ډول روش دی؟
۸. د صفر په اساس د بودیجه جوړونې ګټې او زیانونه بیان کړئ.

## مأخذونه

۱. ابراهیمی، دکتر مهدی و فرجوند، ا سفندیا (۱۳۹۱). اصول تهیه و تنظیم کنترول بودیجه، سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انسانی دانشگاهها (سمت). تهران.
۲. امیرخانی، طبیه و دکتر آذر، عادل. (۱۳۹۱). بودیجه ریزی عمومی نهاد های بودیجه ریزی و بودیجه محلی.


(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپږم څپرکی

## د بودیجې مراحل

د بودیجې مراحل د بودیجې د دوران په نامه هم یادیږي، په هغو هېوادونو کې چې د دولت د درې ګونو قواؤ (اجرأئیه، مقننه او قضایه) په اساس جوړوي، د بودیجې جوړونې پروسه یا دبودیجې سایکل(دوران) له څلورو مرحلو څخه جوړ شوی وي، چې دا مراحل عبارت دي له: د بودیجې ترتیب، د بودیجې تصویب، د بودیجې اجرأ او د بودیحې کنترول.

شکل (۷–۱): **د بودیجې مراحل**




د بودیجې څلورګونې مراحل په هر هېواد کې د اقتصادي او ټولنیز نظام په څنګ کې شتون لري، اما د شکل او محتویاتو له مخې طبعاً له یو هېواد تر بل هېواد پورې تفاوت لري، چې اوس په لنډه توګه د هرې مرحلې څخه بحث صورت نیسي.

### د بودیجې ترتیب:

د بودیجې ترتیب د بودیجې لومړۍ مرحله ده او د بودیجې د پروسې تر ټولوفني برخه تشکیلوي، چې په تهیه، ارزیابی او د بودیجوي اطلاعاتو طبقه بندی او دهغې وړاندې کولو پورې اړوند معلومات او د مربوطه قوانینو او مقرراتو رعایت پکې شامل دی، چې د بودیجې دا ترتیب له یوه لوري په راتلونکي کې د عوایدو د انکشاف د تخمین په اساس بنسټ ګذاري شوی او له بل لوري د دولت د راتلونکو مصارفو په حدودوکې د مالي سیاستمدارانو نظر شامل شوی دی. د ټولو هېوادونو په قوانینو کې د بودیجې د تهیې او ترتیب دنده عموماً د اجرأئیه قوې یا د دولت دنده ده، د افغانستان د اساسي قانون څلورم فصل ۷۵ ماده څلورم بند کې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د حکومت د صلاحیتونو په اړوند داسې راغلي دي " د بودیجې ترتیب د دولت د مالي وضعې تنظیم او د عامه شتمنیو ساتنه او د بودیجې د ترتیب او تقاضا د طرزالعمل صلاحیت د مالي چارو او عامه مصارفو د اداري قانون د ۲۹ مادې د لومړي بند

(c) ketabton.com: The Digital Library



مطابق د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د ماليې وزارت له دندو څخه دی" اړین د ستورالعملونه او ضمیمې د ماليې وزارت د بودیجې د عمومي ریاست له لارې تهیه او د کال په نیمایي کې اجرائیوي ارګانونو ته لیږدول کیږي. د بودیجې د هغې برخې اجرأیوي دستورالعملونو او لارو په تعقیب اړوند وزارت د هغه په اړه تصمیم نیسي، همدارنګه اجرایوي ارګانونه د محلي ارګانونو یعنې ولایاتو د عادي اوا نکشافي بودیجې په تهیه او تنظیم لاس پورې کوي. د بودیجې ترتیب په داسې ډول صورت نیسي، چې د مالي احتیاج تثبیت په عمومي توګه د ټیټو مقاماتو له لوري د لوړو مقاماتو په لوري صورت نیسي. د وزارتي پرنسیب په اساس د بودیجې په ترتیب کې چې په اکثره هېوادونو کې د هغه له جملې په افغانستان کې هم معمول دی، د وزارتخانو یا مستقلو موئسستاتو د اړینو مصارفو اندازه د ټیټو ذیصلاح مقاماتو له لوري ټاکل کیږي او د هغه په تعقیب د مصارفو دغه وړاندیز د اصلاحاتو په موخه لوړو مقاماتو ته سپارل کیږي. د وزارت خانو او مستقلو مؤسساتو ټول وړاندیزونه البته د مصارفو په اړوند ماليې وزارت ته لیږل کیږي. باید یادونه وکړو چې د بودیجې په اړوند تصمیم په مالي توان پورې اړه لري، چې دغه مالي توان له یو هېودا څخه تر بل هېواد پورې تو پیر لري. څرنګه چې په عمومي توګه د راتلونکو مصارفو په اړه د وزارتخانو وړاندیزونه په معمولي توګه نظر پیش بیني شویو عوایدوته زیات وي؛ پدې اساس د دې لپاره چې د بودیجې د توازن اصل برقرار شوی وي، د ماليې وزیر د وزارتخانو په وړاندیزونو کې کموالی را ولي.څرنګه چې د مصارفو د کموالي په صورت کې د سیاسي شخړو او کش مکشونو امکان پیداکیږي، نو د دې لپاره چې د دا ډول پېښنو څخه مخنیوی شوی وي، نو د ماليې وزیر دغه تنقیص(کموالی) په ټولو وزارتخانو باندې په خطي شکل د یوې فیصدۍ په اساس واردوي وروسته د ماليې وزیر نوموړې طرحه کابینې ته وړاندې کوي، تر څو د هغې په اړه خپل نظر څرګند او بالأخره مقننه قوې ته یې وړاندې کوي. د هغه نفوذ په علت چې مقننه قوه یې د بودیجې په عملیه باندې لري اړینه ده ترڅو دلویو پروژو لپاره ګڼ امکانات انتخاب او وړاندیز کړي، تر څو د دغو ګڼو امکاناتو د مقایسې په واسطه او د هغوی څخه د بهترین او مساعد امکان انتخاب نظر د هېواد اقتصادي او مالي شرایطو ته پدې اړه معقول تصمیم نیول شوی وي، په د ې معنا چې تر لاسه شوي مجموعي مصارف کېدای شي، چې نظر د راتلونکي بودیجوي کال حقیقي او واقعي مصارفو ته کم یا زیات وي. په هغه صورت کې چې براورد شوي مصارف نظر د راتلونکي بودیجوي کال واقعي او حقیقي مصارفو ته زیات وي، په دې صورت کې دغه زیات مصارف د راتلونکي بودیجوي کال په جریان کې د قانوني لوایحو او مقرراتو په واسطه چې دا لوایح او مقررات د یوه هېواد څخه بل هېواد ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



شکل او محتویاتو په لحاظ تو پیر لري، نورو مصرفي اقلامو ته انتقاليږي او له هغه څخه ګټه اخیستل کیږي، ترڅو په دې ترتیب سره له یوه اړخه د بودیجې مصرفي اقلام تمویلیږي او له بله اړخه په یوه بودیجوي دوره کې د دولت د مالي وسایلو له راکد پاتې کېدلو څخه مخنیوی کیږي، په هغه صورت کې چې براورده شوي مصارف د پورتني حالت برعکس له حقیقي مصارفو څخه لږ وي، په دې صورت کې یوه سلسله مالي ستونزې رامنځ ته کیږي. دغه ډول براورد چې مصارف پکې له حقیقي مصارفو څخه لږوي، د دوه ډوله عواملو په اساس را منځ ته کیږي، چې لومړی ډول یې اشتباهي جنبه لري، چې په دې کې په راتلونکي مالي کال کې د مصارفو د انکشاف نادرست تخمین، د موجوده مصارفو په اړوند د مؤثقو احصایوي ارقامو نشتوالی او بلأخره د مصارفو د پیش بیني کوونکو عدم لیاقت او نور شامېلېدی شي. نظر واقعي مصارفو ته په قصدي توګه د مصارفو د ټیټ براورد(اندازه کول) کولو علت دا دی چې، تر څو مقننه قوې ته وړاندې شوې پروژې په اسانۍ سره د پارلمان لخوا و منل شي، دا ډول براورد په ځانګړي ډول هغه وخت موثر او ځانته عملي جنبه غوره کولای شي، چې نا کافي وسایل په لاس کې وي، چې په دې صورت کې د پروژې د تمام شد مصارف لږ معلومیږي او د هغه د قبولۍ امکان زیاتیږي. څرنګه چې په دې طریقې سره د پروژې د مالي احتیاجاتو لویې برخې ته ځواب ویل کیږي او د دې پربنا پروژه نا تکمیل پاتې کیږي او د هغه پاتې برخه د وروستۍ اضافي تقاضا په واسطه بشپړیږي. وروسته له پورتنیو توضیحاتو څخه د بودیجې د مصارفو په اړوند اوس لیدل کیږي، چې د بودیجې په بل طرف یعنې د بودیجې د عوایدو په براورد کې کومې ستونزې رامنځ ته کېدای شي. د بودیجې د عوایدو براورد نسبت د بودیجې د مصارفو براورد ته زیاتې ستونزې لري، په دې معنی چې د دولت عواید د راتلونکو اقتصادي او مالي شرایطو تابع وي، نو په همدې اساس د هغه دقیقه او درسته پیش بیني امکان نه لري، مثلاً د دولت هغه عواید چې دولت یې د غیر مستقیمو مالیاتو له لارې لاس ته راوړي؛  په دې پورې اړه لري، چې په راتلونکې کومه اندازه شیان وارد او صادریږي، چې دولت له هغه څخه صادراتي او وارداتي ګمرکي محصول تر لاسه کوي او یا په کومه اندازه داخلی شیان چې د خرڅلاؤ په دوران کې د مالیاتو تابع دي مستهلکین خریداري کوي، چې د هغوی تخمین د دولت په مجموعي عوایدو کې طبعاً نظر واقعي عوایدو ته توپیرونه نبیي.د مستقیمو مالیاتو په صورت کې یوازې د هغوی یوه برخه دقیقه تثبیت کېدلی شي، مثلاً په ځمکو مالیات، د ازادو کارونو په عایداتو مالیات، په مفادو مالیات، په مؤسساتو مالیات، د منقولو دارایګانو په مفادو مالیات(مثلاً د بیه لرونکو پاڼو او اسهامو په ګټه یا مفادو مالیات) او نورپه لاس راځي او د بازار د شرایطو او راتلونکې اقتصادي

(c) ketabton.com: The Digital Library


وضعې تابع دي او د هغوی د قیق تثبیت نا ممکن دی، د پورتنیو ستونزو په اساس د عوایدو براورد یواځې په تخمین باندې استوار کېدی شي.د بودیجې د عوایدو په براورد کې معمولاً له هغو طریقو څخه استفاده کیږي، چې مخکې په شپږم فصل کې په مفصل ډول ذکر شوي (۲۳:۱).

## دبویجې تصویب

د زیاتره هېوادونو اساسي قوانینو ته په پام د بودیجې تصویب د زیاتره هېوادونو د مقننه قوې له دندو او صلاحیتونو څخه دی. په هغه هېوادونو کې چې د ځینو استثنأیي پېښو په اساس د مقننه قوې دنده په موقته توګه د اجرأئیه قوې رئیس ته انتقال شوې وي؛ د مقننه قوې په وکالت بودیجه تصوییبږي. لیدل کیږي چې داجرأئیه قوې یا بل ذیصلاح مقام په وسیله د بودیجې تصویب په یوه سیاسي او موقته وضع کې نیول کیږي او نن ورځ د نړۍ په زیاتره هېوادونو کې د بودیجې د تصویب اساسي او دایمي مرجع مقننه قوه ده.په دیمو کراتیکو هېوادونو کې مقننه قوه له یوه یا دوو مجلسونو څخه ترکیب شوې وي. په یو مجلسي سیستم کې د تصویب وحدت حکم فرما وي او واحد مجلس بودیجه تصوییوي، په دوه مجلسي سیستم د بودیجې د تصویب صلاحیت نظر هېوادونو ته توپیر کوي، مثلاً په انګلستان کې د بودیجې د تصویب صلاحیت د نماینده ګانو یا عوامو مجلس پورې اړه لري، په داسې حال کې چې د شمالي امریکا په هېوادونو کې د بودیجې په تصویب کې د سنا مجلس زیات صلاحیت لري. په فرانسه کې د هغه یو ترکیبي یا مختلط شکل موجود دی، په دې معنی چې د بودیجې تصویب د نماینده ګانو په مجلس پورې اړه لري، اما د سنا مجلس هم په لږ یا زیاته اندازه په مالي مسایلو کې مداخله کوي او په بودیجه باندې تاثیر واردوي.د مقننه قوې دقیقه مشوره او مباحثه د بودیجې په اړوند په عمومي توګه هغه وخت صورت نیسي چې مخکې له هغه څخه د مالي امورو کمیسیون، چې په مالي موضوعاتو باندې دپوهو خلکوڅخه جوړ وي، بودیجه یې بررسي کړې وي او د هغې په اړه یې نظر ورکړی وي، څرنګه چې د دغې مالي چارې په کمیسیون کې معمولاً د مقننه قوې داسې غړي غړیتوب لري، چې تر ډېره حده په مالي موضاعاتو پوهیږي، نو د دې په بناء د اړتیا په صورت کې د بحث وړ موضوعات د هغو مقاماتو سره یو ځای تر بررسۍ لاندې نیسي، چې نوموړی پلان یې طرحه کړی وي، ځکه نوموړی کمیسیون په دې موضوعاتو پوهیږي او پکې داخل وي او له بله اړخه موضوعات په دقیق ډول بررسي کوي، د دې پربناء د دغه کمیسیون نظریات او وړاندیزونه د مقننه قوې تصا میم تر ډېره حده تر تاثیر لاندې راولي ؛ په د ې معنی چې د کمیسیون نظریه دمقننه قوې په تصمیم کې مهم او

(c) ketabton.com: The Digital Library




ټاکونکی رول لري. په وروستي پړاو کې د مقننه قوې په واسطه بودیجه تثبیت کیږي او په دې ترتیب سره بودیجه قانوني قدرت ترلاسه کوي. که چېرې د بودیجوي دورې په منځ کې اضافي مصارفو ته اړتیا پېښه شي؛ په دې صورت کې دغه اضافي مصارف د پورونو د اخیستلو له لارې تمویل کېدای شي، چې د هغوی طی مراتب هم د بودیجې په شان د مقننه قوې د مشورې او نظر تابع وي. په افغانستان کې د بودیجې تصویب داسې دی، چې د حکومت د استازي(مالیې وزیر) له لوري څخه پارلمان په علني جلسه کې د بودیجې د لایحې له وړاندې کولو وروسته د بودیجې لایحه د پارلمان د بودیجې کمیسیون ته د رسېدلو لپاره ارجاع کیږي. د بودیجې ټول موارد په نوموړي کمیسیون کې تر بررسۍ لاندې نیول کیږي، وروسته له اړینو تعدیلاتو او تغیراتو څخه بودیجه رایو ته اېښودل کیږي.د ولسي جرګې له تائید او تصویب وروسته د پارلماني چارو وزارت په واسطه حکومت ته لیږل کیږي او د جمهور رئیس په واسطه تو شیح کیږي او دنورو قوانینو په شان د اجراء قابلیت مومي. د هېواد د اساسي قانون د ۹۰ مادې د دریم بند مطابق د دولتي بودیجې تصویب او د پور د اخیستلو یا ورکړې اجازه د هېواد د ملي شورا له دندو څخه ده. همدارنګه د اساسي قانون په ۹۸ ماده کې د بودیجې په تړاو داسې بیان شویدی: (۲) " د دولت بودیجه او د حکومت انکشافي برنامې(پروګرامونه) د مشرانو جرګې له لارې د هغه د مشورتي نظریې سره یوځای ولسي جرګې ته وړاندې کیږي د ولسي جرګې تصمیم مشرانو جرګې ته د بودیجې د وړاندې کولو پرته، وروسته د جمهور رئیس له تو شیح څخه نافذ شمېرل کیږي که چېرې د ځینو عواملو په اساس د بودیجې تصویب مخکې د مالي کال له پیل څخه صورت ونه نیسي، د نوې بودیجې تر تصویب پورې د تېر کال بودیجه تطبیق کیږي. ولسي جرګه نه شي کولی چې د بودیجې تصویب تر یوې میاشتې زیات او د پور اخیستلو اجازه چې په بودیجه کې شامل نه وي له ۱۵ ورځو څخه زیات و ځنډوي، که چېرې ولسي جرګه پدې وخت کې د پور د اخیستلو یا ورکړې په تړاو د وړاندیزونو په اړه تصمیم ونه نیسي، وړاندیز تصویب شمېرل کیږي"

(c) ketabton.com: The Digital Library



### شکل په افغانستان کې د بودیجې د تصویب مراحل




## د بودیجې اجرا

وروسته له تصویب څخه بودیجه قانوني حیثیت پیداکوي او د اجرا وړ ګڼل کیږي. د بودیجې اجرا د بودیجې په پروسه کې اساسي مرحله ده او د دولت د توان او عدم توان او په ځانګړې ډول اجرأئیه قوې او اقتصادي، ټولنیز او سیاسي اهدافو او هیلو په تحقق کې مهم رول لري. د بودیجې د اجرأ څخه موخه عمومي مقاصدو او اهدافو ته د رسیدو په منظور د عوایدو په اصولو پورې د بودیجې اړوند مراحل او د هغې نور تامین کوونکې منابع او دهغې مصرف دی. عموماً اجرائیه قوه د بودیجې د تطبیق مسئولیت په غاړه لري، چې د هغه په رأس کې جمهور رئیس یا لومړی وزیر ځای لري. د بودیجې په اجرأ کې دولت دوې مهمې او بنستیزې دندې لري، په دې معنی چې له یوه اړخه دمقننه قوې د تصمیم د سرته رسولو او له بله اړخه دا دنده لري ترڅو د بودیجې په اجرأ کې اقتصادي او د سپما پرنسیپونه مراعات کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپما د اسلام له نظره د بشري طرزالعمل (کړنلارې) له عمومي بنسټونو څخه ده، چې باید د ژوند په ټولو چارو کې هغه که فردي معاملات وي یا ټولنیز او یا هم دولتي چارې وي، باید په جدي ډول رعایت شي.سپما دا مفهوم افاده کوي چې انسان باید د هر ډول معاملې په اړه داسې یو روش غوره کړي چې دافراط او تفریط او یا هم اصراف او امساک تر منځ قرار ولري، ځکه دواړه پورتني حالتونه د اسلام له نظره مردود ګڼل شویدي. اسراف په عمومي توګه دا مانا افاده کوي، چې انسان خپل په لاس کې شته وسایل په غیر ضروري او بېهوده لارو کې او پرته له غور او فکر څخه په بې باکه ډول مصرف کړي. د اصراف او امساک فلسفه د اسلام له نظره داده چې اصراف انسان د نفس د حق له آزادۍ یعنې د بدني او حیاتي اړتیاؤ له پوره کولو څخه لیرې ساتي او له بله اړخه یې له خپلو هم نوعو سره له مرستې یا معنوي فضایلو څخه محروموي. څرنګه چې لومړۍ دنده یوه حقوقي دنده ده نو پدې اساس د دویمې دندې په اړه داسې ویلی شو، چې د اقتصادیت او سپما پرنسیب د بودیجې په اجرأ کې هغه وخت رعایت کېدای شي، چې د خصوصي اقتصاد تخنیکي، اقتصادي، سازماني او رهبري کوونکي پرابلمونه د دولت په مالي اقتصاد باندې تطبیق شي، تر څو د هغه په واسطه د زیات مؤثریت شرایط اماده شي. د بودیجې د قانون له ابلاغ څخه وروسته، د بودیجې د اجرا مقدمات د دولت او اجرایوي ارګانونو په وسیله برابرېږي. دغه اقدامات عبارت دي له(۲۵:۱) .

۱. د بودیجې ابلاغ
۲. د طرحو او فعالیتونو مبادله او موافقت پاڼې
۳. د اعتبار تخصیص

**د بودیجې ابلاغ:**

د بودیجې لایحه د پارلمان له تصویب څخه وروسته ځانته قانوني بڼه غوره کوي، د تطبیق په موخه جمهور رئیس یې اجرأئیه قوې ته ابلاغوي. ابلاغ هغه چاره ده چې د ټولو قوانینو په اړوند تر سره کیږي، په دې معنی چې هر قانون د هغه له جملې څخه د بودیجې قانون وروسته له تصویب څخه دولت ته ابلاغ کیږي دولت د هرې وزارتخانې او اجرأیوي دستګاه اعتبارات ابلاغوي تر هغه وخته پورې چې قانون د دولت له لارې اجرأیي ارګانونو ته ابلاغ نه شي، د اجرأ وړ نه دی. نو د قانون په اساس د هر ارګان بودیجه د جاري او انکشافي اعتباراتو په تفکیک سره د برنامو په چوکاټ کې د عمراني او انکشافي اعتباراتو په اساس د هرې برنامې په تفکیک سره ابلاغیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د طرحو او فعالیتونو مبادله او موافقت پاڼې:**

د هغو دستګاؤ د اعتباراتو ابلاغ چې د هېواد په ملي بودیجه کې تصویب شوي دي، یواځې پولي ارقام د برنامو یا د مصارفو د فصل او یا ردیفونو په چوکاټ کې څرګندوي. موافقت پاڼې هغه مالي سند دی، چې په هغه کې اجرأیوي ارګانونه تعهد کوي چې په هغه کې د موجودو عملیاتو شرحه به رعایت کوي هره دستګاه د موافقت پاڼو د مالي مفادو په رعایت او اجرأ باندې مکلفه ده، داسې چې:

الف: جاري اعتبارات دهرې برنامې د مصوب اعتبار له حد او مصوبو مصارفو له موادو څخه تجاوز ونه کړي.

ب: د هرې پروژې عمراني او انکشافي اعتبارات، په هغو کې د تصویب شوو اعتباراتو له حد څخه تجاوز ونه کړي او د مصرف ورکړه د هرې طرحې د مصرف د موادو د اعتباراتو په حد کې وي.

ج: بل هر ډول مالي تعهد د موافقت پاڼې په متن کې مبادله شوی وي.

د برنامو فني عملیاتي کنترول د اجرائیوي ارګانونو په غاړه دی، لیکن د بودیجې ریاست کولی شي، چې د برنامو او پروژو د عمراني او انکشافي عملیاتو څخه نظارتي لیدنې وکړي او د اعتبار د تخصیص عامل په وسیله نطارت او کنترول وکړي.

## تخصیص(اعتبار)

د هېواد په ملي بودیجه کې پیش بیني شوي عواید د کال په اوږدو کې په تدریج سره وصول او مصارف هم وخت، فصل او نورو عواملو ته په پام سره په ۱۲میاشتو کې تأدیه کیږي. په پروژوار ډول یا په مشخصو زماني دورو کې(درې میاشتې، څلور میاشتې، شپږ میاشتې) د کلنۍ منظورې شوې بودیجې د اعتباراتو له مبالغو څخه د استفادې تجویز له تخصیص څخه عبارت دی.د هر هېواد د بودیجې زماني دوره معمولاً یو کال ده او دعوایدو او مصارفو پیش بیني د یو کال لپاره صورت نیسي، خو دغه لاسته راوړنې او ورکړې په مساوي توګه نه ویشل کیږي. د کال په مختلفو میاشتو کې د کلنۍ منظورې شوې بودیجې معادل عواید او مصارف وصول(تر لاسه کیږي) او په مصرف نه رسیږي، بلکه دغه وصولي(لاسته راوړنې) او ورکړې د موضوع له نظره تفاوت لري، یعنې باورلري چې تخصیص د نظارت او کنترول له وسایلو څخه دی او د هغه شتون اړین او د عوایدو او مصارفو ترمنځ د تعادل لپاره تخصیص ته اړتیا ده. په افغانستان کې تخصیص په ربعوار شکل صادریږي، چې په دې اساس هره مالي دوره(یوکال) په څلورو ربعو ویشل کیږي.

## شکل د بودیجې اجرأیوي دوران




## د بودیجې کنټرول:

ټول هغه اهداف چې دولت یې تعقیبوي، د مالي نقطې نظره د دولت په بودیجه کې انعکاس کوي. د بودیجې عمومي اهداف چې سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او نور اهداف پکې شامل دي، هغه وخت لاسته راتلای شي، چې بودیجه په پیش بیني شوي بڼه او په درست ډول تطبیق شوې وي. د بودیجې په اجرأ کې مهم او اساسي عامل له دقیق کنټرول او نظارت څخه عبارت دی. د کنټرول د سازمانونو له نظره اداري کنټرول، پارلماني کنټرول او قضأیي کنټرول د تفکیک وړ دی(۱:۲۷).

## د بودیجې اداري کنټرول:

اداري کنټرول یو مقدماتي کنټرول دی او د بودیجې د اجرا په منځ کې صورت نیسي. دا ډول کنټرول د چارو د مسئولینو تصمیمونه د مصارفو د اجراء پر وخت نظارت کوي. د وزارتخانو یا مستقلو اداراتو په داخل کې کنټرولوونکي سازمانونه معمولاً د مالیې په وزارت پورې اړه لري، چې د دولت ټول مصارف مخکې له پرداخت څخه په اداري ډول کنټرولیږي، یا اداري کنټرول

(c) ketabton.com: The Digital Library



ور څخه صورت نیسي. د دې عمده او اساسي دلیل چې ولې کنترولوونکي سازمانونه یا دوایر په وزارتخانو او مستقلو موئسساتو کې د مالیې وزارت تر اغېز لاندې دي، دا دی چې که چېرې کنترولوونکي سازمانونه په هغو وزارتخانو او مستقلو دوایرو پورې مربوط وای، چې په هغه کې کار کوي، نو کنترول به په واقعي ډول نه تر سره کېدی، ځکه په هغه صورت کې کنترولوونکي دوایر د اداري سلسله مراتبو له نگاه څخه د اړوندو وزارتخانو تابع وي، نو په دې صورت کې به دوی مجبور وي چې د لوړو مقاماتو د اوامرو او سلسله مراتبو پیروي وکړي، چې په دې صورت کې طبعاً په درست ډول کنترول امکان نه لري، په داسې حال کې چې د کنترولوونکو دوایرو تړاو د مالیې په وزارت پورې چې آمر یې د مالیې وزیر دی او په دې صورت کې د هغو وزارتخانو او مستقلو دوایرو په اطاعت مکلف نه دي چې دوی په هغوی کې کار کوي. نو په دې توگه کولای شي چې یو درست او سم کنترول تر سره کړي.دا ډول تشکیلات په افغانستان کې هم شتون لري، په دې معنی چې په وزارت خانو او مستقلو دوایرو کې ټولې کنترولوونکې څانگې د مالیې وزارت تابع دي. اداري کنترول لاندې ساحې احتوا کوي(رانغاړي).

۱. **د کسې(نغدې) کنترول او حسابي کنترول**:په دې صورت کې حسابي اوعددي صحت(درستوالی)تر کنترول لاندې نیول کیږي، ترڅو په اعدادو کې له غلطیو او جعل کاریو څخه مخنیوی وشي.

۲. **قانوني کنترول**:په دې صورت کې د اداري طرزالعمل مطابقت د هېواد د قوانینو او دساتیرو سره تر کنترول لاندې نیول کیږي، ترڅو د هغه په واسطه و پوهېږو چې آیا حواله جات د قانوني مقرراتو مطابق اجرأ شوي دي او که نه؟

۳. **د حواله جاتو کنترول**: په دې ځای کې لیدل کیږي، چې آیا حواله شوي مبلغ د هماغه فصل او مادې له تخصیص یا اعتبار سره مربوط دی او که نه؟ پدې سربېره د حواله جاتو په کنترول کې لیدل کیږي، چې آیا حواله شوی مبلغ خو به له هغو حدودو څخه تجاوز نه کوي؛ کوم چې په بودیجه کې ټاکل شویدي .

٤. **د مصارفو د پرداخت کنترول**: دا د مصارفو په اجراء کې د اداري کنترول وروستۍ مرحله تشکیلوي.

**قضایي کنترول:**

دا ډول کنترول معمولاً په هر هېواد کې توپیر لري او د یو ځانگړي ارگان په واسطه صورت نیسي. زموږ په هېواد کې د مالیې وزارت د ټولو وزارتونو، کمیسیونونو، مؤسساتو، دولتي شرکتونو او نورو دستگاؤ چې په یو ډول نه یو ډول د هېواد له بودیجې څخه استفاده کوي، په داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډول چې قانون ټاکلي وي رسیدګې کوي. د مالیې وزارت اړوند مدارک او اسناد د قانون مطابق جمع آوري کوي او د کالنۍ بودیجې راپور د خپلو نظریاتو سره یوځای پارلمان ته سپاري.د مالیې وزارت په حقیقت کې د محاسبې ځانګه ده او د وجوهاتو په اداره کې رول نه لري او دغه حسابات د دولت د حساباتو له لوري، چې په افغانستان بانک کې موجود دي صورت نیسي. کله چې د بودیجې جوړونې اصلاحات د برنامې په اساس معرفي شول، د مالیې وزارت له هغه وزارتونو څخه غوښتنه وکړه، چې د برنامې په اساس بودیجې جوړونې اصلاحاتو په پروسه کې شامل نه وو، تر څو د خپلو اجرأتو راپور د برنامې او اجرأتو د شاخص په اساس وړاندې کړي، چې دا خپله د مالیې وزارت په واسطه یو ډول نظارت دی. وزارتونه مکلف دي، چې دخپلې عادي او انکشافي بودیجې را پور په ربعوار ډول مالیې وزارت ته تسلیم کړي او عمده لاسته راوړنې او د اطلاعاتو انکشافات د مالیې وزارت په لاسرسي کې ورکړي.

**د بودیجې پارلماني کنترول:**

ځرنګه چې مقننه قوه د بودیجې په تصویب سره د بودیجې د عوایدو او مصارفو حدود ټاکي، پدې اساس د مالي کال په پای کې د اجرائیه قوې د طرزالعمل یا عملیاتو پایلې د عوایدو او مصارفو د پلان د عملي کولو له نظره عملي کوي. د وخت او زمان له مخې د اداري او پارلماني کنترول ترمنځ تو پیر دادی، چې اداري کنترول د بودیجې د اجراء د جریان په منځ کې او پارلماني کنترول د بودیجوي کال په پای کې صورت نیسي. څرګنده ده چې قانونګذار خپل ځان د منظورې شوې بودیجې په نظارت او کنترول باندې مکلف ګڼي. دغه کنترول د بودیجې د اجراء په جریان او مالي کال له پای ته رسیدو وروسته ترسره کوي. د ملت استازي حق لري چې د دولتي د ستګاؤ د چارو په اداره او د دولت د پرداختنونو د ځرانګوالي او د بیت المال له وجوهاتو(فنډ) څخه په استفادې په دایمي توګه نظارت وکړي، او د قوانینو او مقرراتو څخه د سرغړونې د کشف په صورت کې له دولتي مسئولینو څخه پوښتنه وکړي یایې استیضاح کړي.پارلماني کنترول د مالي کال په پای کې د رسیدګۍ او بودیجې د تفریق لایحې له لارې پلی کړي. په دې ترتیب سره په بودیجه باندې نظارت په داخلي او خارجي ډولونو باندې هم وېشلی شو، چې داخلي نظارت د قضایي او اداري نظارت په واسطه پلی کیږي او بهرنی نظارت د پارلمان په واسطه د جلا راپور او نورو مواردو له لارې پلی کېدی شي.

**د مؤثرې بودیجې جوړونې اصول او د بودیجې د ترتیب خلاصه**

د مالي منابعو تخصیص د دولت د ستراتیژیکو لومړیتوبونو، د هغه له جملې څخه د افغانستان د ملي انکشاف ستراتیژي منځ مهاله مالي چوکاټ او خلکو د غوښتنو په نظر کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیولو سره صورت نیسي.

**د بودیجې د تخصیصاتو د اولویت بندۍ معیارونه**

* د حکومت پالیسي
* مخکې د افغانستان د ملي انکشاف ستراتیژي(A N D S) او فعلاً د لومړیتوب(اولویت) لرونکي برنامې پروګرامونه
* د وزارتونو انکشافي پلانونه
* د بودیجې سقف(نصاب)
* په تېرو کلونو کې د وزارتونو مصرفي ظرفیت
* د هېوادونو/تمویلوونکو مؤسساتو لومړیتوبونه
* نړیوالې معاهدې او موافقت پاڼې
* د داخلي عوایدو اندازه

**په بودیجه کې د مالیې وزارت رول**

* د مالیې وزارت د کال په جریان کې د بودیجې په مختلفو مراحلو باندې کارکوي.
* د بودیجوي سقفونو(نصابونو یا اندازو) تعین او د بودیجې اولویت بندي له داخلي او خارجي منابعو څخه د بودیجې د تمویلي منابعو تدارک .
* د بودیجې د مسودې تدوین او کابینې او پارلمان ته د هغه وړاندې کول.
* د ټولو اجرأیوي ارګانونو په استازیتوب د پارلمان په غونډو کې اشتراک.
* د تأدیاتو او مصارفو کنترول او د بودیجې راپور ورکونه.
* د مالي او بودیجوي فعالیتونو د بهتر والي په خاطر د لازمو اصلاحاتو معرفي ا وتطبیق.

**په بودیجه کې د نورو وزارتونو رول**

* د (۱) یو شمېر متحدالمال د مالیې وزارت بودیجوي واحدونو ته او د وزارتونو د کار پیل.
* خپله د وزارت د ستراتیژۍ لومړیتوب لرونکو برنامو او ولایتي اړتیاوو په پام کې نیولو سره د بودیجوي وړاندیزونو اولویت بندي.
* د پروژې د اسنادو تر تیب او د پروژو د تمویل په موخه له مالیې وزارت سره د اړیکو ټینګول.
* د بودیجې په استماعیه غونډوکې اشتراک.
* د بودیجې د مصرف تطبیق او راپور ورکونه.
* بودیجوي واحدونو ته د مالیې وزارت د دویمې شمېرې متحدالمال له لیږدولو ورسته د وړاندیز

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوو پروژو د اړتیاوو مشرح تر تیب.

**د بودیجې د تدوین مراحل**

* اړونده وزارتونه او ادارات باید د مالیې وزارت د لاربښوونې مطابق د خپل راتلونکي کال عادي او انکشافي بودیجې ترتیب کړي او د مراحلو بشپړولو لپاره یې مالیې وزارت ته ولیږي.
* د مالیې وزارت د بودیجې متحدالمال وزارتونو او اداراتو ته لیږي.
* انکشافي پروژې د تائید لپاره اقتصاد وزارت ته لیږي.
* د وزارتونو او ارگانونو بودیجه د بودیجې د کمېټې(چې هرکال په مالیې وزارت کې د بودیجې د ترتیب لپاره د مالیې وزارت تر ریاست لاندې ایجادیږي) وړاندیز کوي.
* په هېواد کې د مالي منابعو په چوکاټ کې د مالیې وزارت د بودیجې ریاست، د ټولو وزارتونو بودیجه توحید کوي.
* نوموړې بودیجه د کابینې له لوري تائید او ٤٥ ورځې مخکې د مالي کال له پیل څخه پارلمان ته لیږل کیږي.
* د پارلمان په واسطه د بودیجې تر تصویب وروسته جمهور رئیس د بودیجې د منظورۍ فرمان صادروي او بودیجه د فرمان مطابق په مصرف رسوي.

**د یوې ښې بودیجې توجیه کوونکي(څرگندوونکي) معیارونه**

* د اقتصادي وضعې په ښه والي او دعامو وگړو په رفاه کې اغېزمنه وي او د خلکو لومړیتوبونه په پام کې نیول شوي وي.
* د مالي منابعو متعادل اختصاص(ځانگړي کول) د ولایتونو په منځ کې صورت ونیسي او دخلکو رسمونو او عنعناتو ته باید درناوی وشي.
* مخکې د پروژې له انتخاب څخه باید د پروژې په اړوند مفصل معلومات او دهغې د گټې او زیان په اړه تحلیل تر سره شي.
* د کاري بودیجې ترتیب د دقیقو ارقامو او تشکیلاتو په اساس صورت ونیسي.
* د هر ارگان په وړاندیز شوې بودیجه کې زیاتوالی باید د اجرأتو او دهغې د تطبیقي ظرفیت په اساس صورت ونیسي.

**په بودیجه کې د تکمیلي تغیراتو او اصلاحاتو راوستل**

* د کال په نیمایي کې د بودیجې د مخارجو ارزیابي
* بودیجه غالباً د یو مالي کال لپاره تدوین کیږي، مگر په افغانستان کې د وزارتونو په واسطه د بودیجې د غیر دقیق تخمین په اساس هغه د ٦ میاشتو په تېرېدو سره په ځانگړي ډول د

(c) ketabton.com: The Digital Library



عادي بودیجې په برخه کې له کسر سره مخامخ کیږي، نو بناً وزارتونه د مالیې له وزارت څخه د اضافي بودیجې غوښتنه کوي. د مالیې وزارت د مالي منابعو شتون ته په پام سره د ځینو وزارتونو لپاره اضافي وجوه(فنډ) برابروي. څرنګه چې یو شمېر وزارتونه د خپلې انکشافي بودیجې د مصرف توان نه لري، بناً هغوی د خپلې انکشافي بودیجې یوه برخه راتلونکي کال ته انتقالوي.

**متممه یا اضافي بودیجه:** که چېرې د مالي کال په جریان کې له مرسته کوونکو هېوادونو یا مؤسساتو څخه مالي وسایل تر لاسه شي، د تېرکال د نیمګړتیاوو انکشافي پرژو د بشپړولو لپاره پارلمان ته د تصویب په موخه وړاندیز کوي او یا داچې له دغو لاسته راغلو پیسو څخه نوي انکشافي پروژې احداث کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لنډيز

د بودیجې مراحل د بودیجې د دوران په نامه هم یادیږي، چې په هغه هېوادونو کې چې دولت يې د درې ګونو قواوو(اجرایه، مقننهوقضایه) په اساس استوار وي د بودیجې جوړونې پروسه یا د بودیجې دوران د څلورو مراحلو څخه تشکیل شوی دی، چې دغه مرحلې عبارت دي له: د بودیجې ترتیب، دبودیجې تصویب، د بودیجې اجراء او دبودیجې کنترول. د بودیجې ترتیب د بودیجې لومړۍ مرحله او دبودیجې د پروسې فني برخه تشکیلوي، چې تهیه، ارزیابي او د بودیجوي اطلاعاتو طبقه بندي او د هغه وړاندیز او اړوندو قوانینو او مقرراتو رعایت پورې اړوندې ټولې عملیې پکې شاملې دي.د ټولو هېوادونو په قوانینو کې د بودیجې د تهیې او ترتیب دنده د اجرایه قوې یا حکومت له دندو څخه ګڼل کیږي. د مالي چارې ادارې او عامه مصارفو د قانون ۲۹ مادې لومړي بند مطابق د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د مالیې وزارت دنده ده. د بودیجې ترتیب داسې صورت نیسي چې د مالي اختیاج تثبیت په عمومي ډول د ټیټو مقاماتو له لوري پورته لوري ته صورت نیسي. د بودیجې ترتیب داسې صورت نیسي، چې اړونده وزارتونه خپل مجموعي مصارف د خپلو موجوده مصارفو او په راتلونکي بودیجو ي کال کې د هغه د پراختیا د امکاناتو په اساس تخمین او براورد کوي. د بودیجې په دغه براورد کې طبعاً دوه امکانه موجود کېدلی شي. په دې معنی چې براوردشوي مجموعي مصارف کېدی شي چې د راتلونکي بودیجوي کال حقیقي او واقعي مصارفو ته کم یا زیات شي. د بو دیجې په بل اړخ یعنې د بودیجې د عوایدو په براورد کې کوم ډول ستونزې را منځ ته کېدی شي؟ د بودیجې د عوایدو براورد نظر د بودیجې د مصارفو براود ته زیاتې ستونزې لري، په دې معنی چې د دولت عواید د راتلونکي اقتصادي او مالي شرایطو تابع وي او د دې په اساس د هغه دقیقه وړاندوینه امکان نه لري. د پورتنیو ستونزو د موجودیت په اساس د عوایدو براورد یواځې په تخمین باندې استوار دی. د زیاتره هېوادونو اساسي قوانینو ته په پام د بودیجې تصویب د زیاتره هېوادونو د مقننه قوې له صلاحیتونو څخه دی. په هغه ممالکو کې چې د ځینو استثنایي پېښو په اساس د مقننه قوې دندې په موقته توګه د اجرایه قوې رائیس ته انتقال شي، اجرایه قوه د مقننه قوې په وکالت بودیجه تصویبوي. لیدل کیږي چې په یوه موقته او سیاسي اوضاع کې د بودیجې تصویب د اجرایه قوې یابل ذیصلاح ارګان له لوري صورت نیسي او نن ورځ د نړۍ په زیاتره هېوادونو کې د بودیجې د تصویب اساسي او دایمي مرجع مقننه قوه ده. په افغانستان کې د بودیجې دتصویب صلاحیت د ولسي جرګې په غاړه دی. وروسته له تصویب څخه بودیجه قانوني حیثیت پیداکوي او داجرا وړ ګڼل کیږي. د بودیجې اجرا د بودیجې په پروسه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


اساسي مرحله ده. عموماً د بودیجې د تطبیق مسئولیت د اجرایه قوې په غاړه دی، چې د هغه په رأس کې جمهور رائیس یا لومړی وزیر ځای لري. د بودیجې اجرأ دوې مهمې دندې لري، په دې معنی چې له یو لوري د مقننه قوې د تصمیم د سرته رسولو مسئولیت لري او له بله اړخه دا دنده لري، تر څو د بودیجې په اجرأ کې اقتصادي او سپما پرانسیبونه هم تطبیق کړي. د بودیجې لایحه د پارلمان په واسطه له تصویب څخه وروسته ځانته قانوني بڼه غوره کوي. د تطبیق په خاطر جمهور رائیس اجرایه قوي ته ابلاغ کوي. موافقت پاڼه هغه مالي سند دی، چې په هغه کې اجرایي ارګانونه دا تعهد کوي، چې په هغه کې د موجوده عملیاتو شرح به رعایت کوي. په پروژه وار یا مشخصو زماني دورو کې(درې میاشتینی، څلور میاشتینی، شپږ میاشتینی) د کلنۍ منظورې شوي بودیجې داعتباراتو له مبالغو د استفادې تجویز له تخصیص څخه عبارت دی. تخصیص د کنترول او نظارت د وسایلو څخه دی او د هغه شتون اړین دی او د عوایدو او مصارفو ترمنځ د تعادل د ایجاد لپاره تخصیص ته اړتیاده. په افغانستان کې تخصیص په ربعوار ډول صادریږي، چې په دې اساس هره مالي دوره(یوکال) په څلورو ربعو ویشل کیږي او په انکشافي بودیجه کې هرې پروژې ته تخصیص په جلا ډول صادریږي. د بودیجې په اجرا کې مهم او اساسي عامل د د قیق کنترول او نظارت څخه عبارت دی. د کنترول د سازمانونو له نظره درې ډوله کنترول شتون لري، چې له اداري کنترول، قضایي کنترول او پارلماني کنترول څخه عبارت دی. اداري کنترول یو مقدماتي کنترول دی او د بودیجې د اجرا په منځ کې صورت نیسي. دا ډول کنترول زیاتره د چارو د مسئولینو تصمیمونه د مصارفو د اجرا پر وخت کنترولوي. په وزارتخانو یا مستقلو اداراتو کې کترولوونکي ارګانونه معمولاً په مالیې وزارت پورې اړه لري، چې د دولت ټول مصارف مخکې له پرداخت څخه په اداري ډول کنترولوي یا یې تر اداري کنترول لاندې نیسي. دا ډول اداري تشکیلات په افغانستان کې هم شتون لري، په دې معنی چې په وزارتخانو او مستقلو دوایرو کې ټولې کنترولوونکي څانګې د مالیې د وزارت تابع دي. معمولاً دا ډول کنترول په هر هېواد کې تو پیر لري او د یو ځانګړي ارګان په اسطه صورت نیسي. زموږ په هېواد کې د مالیې وزارت د ټولو وزارتونو، کمیسیونونو مؤسساتو، دولتي شرکتونو او د نورو دستګاوو چې په یو ډول له ډولونو څخه د هېواد له مجموعي بودیجې څخه استفاده کوي، حسابونو ته پداسې توګه چې قانون مقرر کړي وي، رسیده ګي کوي. د مالیې وزارت اړوند اسناد او مدارک یو ځای پارلمان ته سپاري. څرنګه چې مقننه قوه د بودیجې په تصویب سره د بودیجې د عوایدو او مصارفو حدودو ټاکي نو د دې پر بناء د مالي کال په پای کې د اجرایه قوې د طرزالعمل یا مالي عملیاتو پایلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عوایدو او مصارفو دپلان د عملی کولو له نظره سنجش کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پوښتنې

۱. د بودیجې مراحل څه شی دي، او کوم مراحل پکې شامل دي؟
۲. په افغانستان کې د بودیجې تر تیب څه ډول صورت نیسي؟
۳. د مالي چارو د ادارې او عامه مصارفو قانون د بودیجې د ترتیب په اړه څه بیانوي؟
۴. د بودیجې د ترتیب په وخت کې د عوایدو او مصارفو د تخمین په برخه کې څو امکانه شتون لري؟
۵. د هېواد اساسي قانو د بودیجې په اړه څه بیانوي؟
٦. د بودیجې تصویب د کومې قوې له صلاحیتونو څخه دی؟
۷. د بودیجې د ترتیب سلسله په افغانستان کې څه ډول ده؟
۸. د بودیجې اجرا کومې دندې لري؟
۹. د بودیجې اجرا کوم مراحل طی کوي؟
۱۰. د بودیجې ابلاغ څه ډول صورت نیسي؟
۱۱. موافقت پاڼه تعریف کړئ؟
۱۲. تخصیص یعنې څه؟
۱۳. د بودیجې د کنترول کوم ډولونه پېژنئ؟
۱٤. اداري کنترول کوم ساحات په بر کې نیسي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اووم څپرکی

## د برنامې په اساس بودیجه جوړونه او ولایتي بودیجه

د برنامې په اساس بودیجه جوړونه د برنامو له مجموعې او یو له بل سره د ورته او مرتبطو خدماتو څخه عبارت ده، چې مطلوبې پایلې ته درسیدو په موخه د بودیجوي واحدونو په واسطه اجرأ کیږي او ولایتي بودیجه وروسته د ولایتي مقاماتو د مشورې او محلي اړتیاوو له ارزیابۍ څخه په ملي او ولایتي سطحه د وزارتونو په سکتوري ستراتیژۍ کې د ملي انکشاف د ستراتیژۍ د انکشاف په پام کې نیولو سره د اړوندو ولایاتونو په اساس د وزارتخانو له لارې د منابعو له تخصیص څخه عبارت ده، چې هره یوه په خپل وار سره معرفي کوو.

### د برنامې په اساس د بودیجې مفهوم اوماهیت

د برنامې په اساس بودیجه هغه بودیجه ده، چې په هغې کې اعتبارات د دندو د شمیر، برنامو او د بودیجې د اجرأ په مالي کال کې د دولتي سازمانونو د فعالیتونو په اساس چې باید د خپلو اهدافو لپاره یې ترسره کړي، پیش بیني شویده. په بل عبارت، دبرنامې په اساس په بودیجه جوړونه کې دا مشخص کیږي، چې دولت او دولتي دستګاوې د بودیجې د اجرأ په کال کې لومړۍ کوم تصویب شوي مقاصد، اهداف او دندې لري، دویم نوموړو اهدافو او مقاصدو ته د رسیدو لپاره باید کوم فعالیتونه، برنامې او عملیات په کومه اندازه اعتباراتو سره ترسره کړي.
د برنامې په اساس په بودیجه کې هم د معمولي بودیجې په څېر د اعتباراتو د طبقه بندۍ څخه د فصلونو او مصارفو د موادو څخه استفاده کیږي، پدې تو پیر سره چې په معمولي بودیجه کې د هر دولتي سازمان مجموعي اعتبارات په مختلفو فصلونو او مصارفاتي موادو کې پیشبیني کیږي؛ په داسې حال کې چې د برنامې په اساس په بودیجه کې د هرې برنامې فعالیتونو او طرحو اعتبارات د فصلونو او مصارفاتي موادو په چوکاټ کې پیشبیني کیږي.

(٤٠. aspx-barnameh bloga.com/post-htt://omid)

- د برنامې په اساس بودیجه د دولت د بودیجوي برنامې د وړاندې کولو، ترتیب او پلانګذارۍ یوه نوې وسیله ده(٣:٥).
- همدارنګه نور تعریفونه چې په دې ریفورم سره ورکړل شوي دي:
- د طبقه بندۍ یو ډول چې قصد لري د برنامو د سرته رسیدو څخه د مصارفو د موادو او پکاروړل شوو عواملو او له هغه څخه د ترلاسه شوو پایلو ترمنځ د ارتباط د برقرارۍ څرګندونه وکړي، چې په بودیجودوي کال کې د دولت تصویب شوو اهدافو ته د رسیدلو لپاره د دولتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخو د فعاليتونو د نهايي محصول په صورت کې کومه اندازه کالي او خدمات توليد يا وړاندې شوي دي(۱۲:۳).

د برنامې په اساس بوديجه جوړونه د افغانستان د بوديجې د پلانگذارۍ، ترتيب او وړاندې کولو لپاره وسايل دي، پداسې طريقه چې د بوديجوي منابعو او د پاليسۍ د پايلو ترمنځ چې دولت هغه ته د رسيدلو غوښتونکی دی، څرگند پيوند ښکاره کړي. بوديجه جوړونه يوه کارۍ پروسه ده، چې د بوديجې د مالي عادي بوديجې ابعاد د هغه ستراتيژيکو او عملياتي اهدافو په چوکاټ کې چې د وزارت يا بوديجوي ادارې په واسطه بيان شوي وي او د افغانستان د مالي انکشاف د ستراتيژۍ د پايلو په چوکاټ کې هم مشخص شوي وي، قرار ور کوي. د افغانستان دولت هڅه کوي تر څو څرگنده کړي چې:

- کوم شيان په واقعيت کې د دغو وجوهاتو په واسطه برابريږي؟
- آيا د دولت مصارف د سترا تيژيکو اهدافو سره چې دافغانستان د ملي انکشاف د ستراتيژۍ په چوکاټ کې ټاکل شويدي مطابقت لري او که نه؟

يو له هغو لارو څخه چې کولی شي، نوموړی کار په تيوريکي ډول تر سره کړي، دا دی چې کمي او کيفي پايلې چې ټاکل شويدي د بوديجې د مصرف د اقلامو له لارې په لاس راځي، له هغه سره وسنجول شي. هر څو که د دې احتمال زيات دی، چې دا ډول روش د وزارتونو / بوديجوي واحدونو ترمنځ ستونزې منځ ته راوړي او تر اوسه پورې هم د عادي او انکشافي بوديجې د ادغام او د افغانستان د مالي انکشاف ستراتيژۍ له غوښتنو سره د مصارفو د مطابقت ستونزه نه ده حل شوې؛ که چېرې اړينه وي، چې دغه پوښتنو ته په مؤثر ډول ځواب ورکړل شي او مربوطه وزارتونه او بوديجوي واحدونه د بوديجې جوړونې له پروسې سره په متفاوت شکل برخورد وکړي؛ وزارتونه بايد معلومات داسې وړاندې کړي، چې مصرفي پلانونو ته بايد د پاليسۍ له اهدافو سره په همغږۍ، عيني او جوړښتيزه توگه پيوند ورکړي، تر څو پاليسي جوړونکي او تصميم نيوونکي وکولی شي، چې په دې موضوع باندې تمرکز وکړي، چې دولت به د دغو وجوهاتو په مصرف سره څه شی ترلاسه کړي. د برنامې په اساس بوديجه جوړونه د نوموړو اړتياوو د پوره کولو لپاره يوه ازمايل شوې کړنلاره ده او دولت د هغو گټو په دليل چې د برنامې په اساس بوديجه جوړونه به يې په مخکې ولري، د عنعنوي بوديجې جوړونې د تغير په پروسه کې د برنامې په اساس بوديجې جوړونې ته اقدام کوي. د برنامې په اساس بوديجه جوړونه يوه کاري پروسه ده، چې د هغې په واسطه د حکومت فعاليتونه د برنامو په داخل کې تنظيميږي(هغه فعاليتونه او خدمات چې ورته او ارتباط لرونکي موخې ولري) د برنامې په اساس

(c) ketabton.com: The Digital Library



بودیجه جوړونه د یو تو پیر لرونکي جوړښت تابع وي او په څلورو بنسټیزو طریقو کې د دودیزې بودیجې جوړونې څخه توپیر لري.

- بودیجه د بودیجې د بنسټ د فردي عملیاتي برنامو په اساس(لومړني تعلیمات، د ناروغۍ څخه مخنیوي، د سړکونو حفظ و مراقبت) تر تیبیږي نه د مجموعي او مصرفي اړتیاوو په اساس.
- د بودیجې جوړونې پروسه د خدماتي مصارفو تخمین له هغو معلوماتو سره مدغم کوي، چې وړاندیز شوي مصارف توجیه او تو ضیح کوي
- د بودیجې ارقام د بودیجې د دورې په جریان کې(وروسته له هغه، په هغه صورت کې چې مربوط وي) د دغه برنامې څخه د متوقعه اهدافو، مقاصدو او لاسته راوړنو له تشریح سره یو ځای وي.
- بودیجه د داسې ضوابطو لرونکې ده، چې له هغې سره په مقایسه کې د کمي او کیفي پایلو په عرصه کې اجرأت بررسي کیږي، نوموړې پروسه زیاتره د اجرأتو د سنجش په نامه یادیږي. د برنامې په اساس بودیجه جوړونې کُلي هدف د وزارتونو او بودیجوي واحدونو لپاره دا دی، چې هغوی څرگنده کړي، چې د هغوی د بودیجې مصرف وزارتونو/بودیجوي اهدافو له خپلو اهدافو او مقاصدو او دهغوی له لارې د افغانستان د ملي انکشاف د ستراتیژۍ د پایلو له چوکاټ سره مطابقت لري. سربېره پردې په بودیجې په اساس، بودیجه جوړونې په اساس وزارتونه او بودیجودوي واحدونه په داسې موقف کې قرار نیسي، چې کولای شي د هر هدف دلاسته راوړلو لپاره بدیلې ستراتیژیگانې د هغوی د لاسته راوړلو لپاره احتمالي متنوبې طریقې د گټې اومصرف د تعین لپاره تشخیص کړي.

## په افغانستان او نړۍ کې د برنامې په اساس د بودیجه جوړونې شالید

د برنامې په اساس د بودیجې جوړونې مفهوم او مفکورې ته د لومړي ځل لپاره په خصوصي برخه کې انکشاف ورکړل شوی دی او د هغو کمپنیو په واسطه معرفي شوی دی، چې د گټې لاسته راوړلو غوښتونکې وې او غوښتل یې چې خپلو مصارفو ته له هغو پایلو سره تړاؤ ورکړي، چې هغوی یې د فعالیتونو د انجام له لارې د هغوی د لاسته راوړلو غوښتونکي وو او د خپلو پانگه اچونو مفیدیت او مؤثریت بررسي او ارزیابي کړي. په دولتي برخه کې د برنامې په اساس بودیجه جوړونه د لومړي ځل لپاره په ۱۹۶۰کال کې د امریکا متحده ایالاتو په دفاع وزارت کې تطبیق شوه. نن ورځ د برنامې پر بنسټ د بودیجې شکل د شمالي اتلانتیک(ناټو) د ټولو غړو هېوادونو د اړتیاوو او مخکې شرطونو څخه ده.د ۱۹۸۰ م کلونو په وروستیو او د ۱۹۹۰ م کالونو

(c) ketabton.com: The Digital Library


په لومړیو کې عین مفهوم د اقتصادي انکشاف او همکارۍ د زیاتره غړو هېوادونو او همدارنګه د یوشمېر مخ پرودې هېوادونو په حکومتي بودیجو کې د نړۍ په سراسر کې معرفي شو او د استفادې وړ وګرځېد. یو شمېر هغه هېوادونه چې د برنامې په اساس بودیجه یې تر ټولو زیاته په بریالیتوب سره تطبیق کړه، عبارت دي له: د امریکا متحده ایالات، استرالیا، کاناډا، نیوزیلانډ، برتانیا، هالنډ، فرانسه، جاپان، سویډن او فنلانډ او همدارنګه لړ پرمختللو لکه بولویا، بوسینا او هرزاګونیا، کمبودیا، ګانا، کوریه، منګولیا، تانزانیه او یوګندا دي، ولې په ډېرى دغو هېوادونو کې د برنامې په اساس بودیجه تر مختلفو نومونو او عنوانونو لاندې تطبیق شویده، لکه د کمي او کیفي پایلو په اساس بودیجه جوړونه، د فعالیتونو په اساس بودیجه جوړونه، د پایلو په اساس بودیجه جوړونه، د کړنلارې په اساس بودیجه جوړونه، خو د نوم په پام کې نیولو پرته د دغو ټولو بنو اساسي مفهوم یودى. په ۱۳۸۵ م کال کې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د برنامې په اساس بودیجه جوړونه معرفي کړه، تر څو خپلو ستراتیژیکو اهدافو او د پالیسۍ لومړیتوبونو ته د بودیجې سره ارتباط ورکړي او د وزارتونو عادي او انکشافي بودیجې سره مدغمې کړي. په لومړیو کې د برنامې په اساس بودیجه جوړونه د ۱۳۸٦ م کال د بودیجې د تهیې لپاره دریو ازمایښتي وزارتونو ته معرفي شوه(معارف وزارت، عامې روغتیا وزارت، او د کلیو او پراختیا وزارت) د ۱۳۸۷ هـ ل کال د بودیجې د تهیې لپاره د برنامې په اساس بودیجه جوړونه شپږو نورو ازمایښتي وزارتونو ته معرفي شوه(د کرنې وزارت، د اوبو او انرژۍ وزارت، د فواید عامه وزارت، مالیې وزارت) د مثبتو نظریاتو د لاسته راوړلو وروسته د برنامې په اساس بودیجه جوړونې ازمایښتي پروسه (۸) نورو وزارتونو او مربوطه بودیجوي واحدونو(سوداګرۍ وزارت، د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت، دفاع وزارت، د لوړو زده کړو وزارت، د کار ټولنیزو چارو شهداء او معلولینو وزارت، ترانسپورت وزارت، د ښارجوړونې چارې وزارت او د ملي ارګانونو مستقل ریاست ته) د ۱۳۸۸ هـ ل د بودیجې د تهیې لپاره او ۱۳۸۹هـ ل کال د بودیجې د تهیې لپاره(٤) زیربط وزارتونو/بودیجوي واحدونو(اقتصادوزارت، د ښځو چارو وزارت، د جمهور رئیس دفتر او د اداري اصلاحاتو او ملکي خدماتو مستقل کمیسیون) ته معرفي شوه. د ۱۳۸۹ هـ ل کال په جریان کې د برنامې په اساس بودیجه جوړونه د ۳۵ پاتې بودیجوي واحدونو لپاره د هـ ل ۱۳۹۰کال د بودیجې د تهیې لپاره معرفي شوه. ټولو ٥٤ بودیجوي واحدونو د خپل ۱۳۹۰ هـ ل کال د بودیجې وړاندیز د برنامې په اساس تهیه کړ. دغه وړاندیزونه د مالیې وزرات ته ولیږل شول او د بودیجې د استماعیه غونډې لپاره یې اساسات رامنځ ته کړل. ټولو بودیجوي واحدونو د برنامې په اساس بودیجې خپل پرېزېنټېشنونه د ۱۳۹۰ هـ ل کال د استماعیه غونډو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په جریان کې وړاندې کړل او یو مختصر راپوریې د هغې د برنامې په اساس له جدولونو سره یو ځای د بشپړوونکو معلوماتو په حیث د ۱۳۹۰ هـ ل کال ملي بودیجې په چوکاټ کې وړاندې کړ. همدارنګه د ماليې وزارت د نویو حساباتو یو داسې جدول تطبیق کړ، چې د برنامې په اساس د مصارفو د پلټنې لپاره د کارګذارۍ جوړښت اصلاح کوي. د برنامې په اساس بودیجې د ۱۳۹۰هـ ل کال د بودیجې د تهیې لپاره د ټولو مربوطه وزارتونو او بودیجوي واحدونو لپاره او ۱۳۹۰ هـ ل کال لپاره د مربطه وزارتونو او بودیجوي واحدونو په واسطه د بودیجې د واحد وړاندیز د وړاندې کولو زمینه په فارمټ کې برابره کړه او د بودیجې کمېټې په واسطه تصمیم ګیرۍ لپاره پر پالیسۍ یې یو متمرکزه طریقه رامنځ ته کړه. د غه چاره د دې سبب شویده، چې د بو دجې د مصرف د پروسې لپاره د خدماتو په عرصه کې ښه اجرأت صورت ونیسي(۱۲:۳).

## دعنعنوي بودیجې ستونزې

ځرنګه چې د افغانستان حکومت د تېرو څو کلونو په لړ کې، د هېواد پرمختګ په لید لورو او اهدافو باندې کار کړی دی او یو جامع سند یې، چې د افغانستان د ملي انکشاف ستراتیژۍ څخه عبارت دی، تهیه کړی دی او ځرنګه چې د بودیجې دغه موجوده جوړښت یعنې عنعنوي بودیجه د ځینو ستونزو په اساس لکه د هېواد او بودیجې د اهدافو او لومړیتوبونو ترمنځ د پیوند او ارتباط نشتوالی، په جلا ډول د عادي او انکشافي بودیجې تر تیب او د بودیجې په تخصیص کې د شفافیت نشتوالی، چې لاندې په تفصیل سره تشریح کیږي، د دغې سترتیژۍ له ځرګند تطبیق سره مرسته نه کوي، فعلي ریفورم یعنې د برنامې په اساس بودیجه وړاندیز او په بودیجوي واحدونو کې د تطبیق وړ وګرځېده.

### د هېواد او بودیجې د اهدافو او لومړیتوبونو ترمنځ د پیوند او ارتباط نشتوالی

له اداري کودونو او اقتصادي طبقه بندۍ څخه د قیقه استفاده یواځې په معاشاتو، اجناسو، خدماتو او شتمنیو پورې اړوند مصارف ځرګندوي دا یواځې د (بودیجوي منابعو مقدار) ګڼل کیږي او د دغو مالي منابعو د مصرف نهایي پایلې یعنې کمي او کیفي پایلې او په ټولنه کې تغیرات نه ځرګندوي(یا په بله وینا د برنامو سهم دافغانستان د ملي انکشاف ستراتیژي د اهدافو په لاسته راوړلو او لومړیتوبونو کې نه دی وا ضح شوی او یا نه توپیریږي)

### د عادي او انکشافي بودیجې ترتیب

په اوس وخت کې وزارتونه دوه ډوله جلا بودیجې لري، چې د هرې یوې په اړه په جلا ډول راپور ورکوي؛ یو د هغو څخه عادي بودیجه یا هغه شمېر مصارف دي، چې د ملي بودیجې په واسطه پرداخت کیږي او انکشافي بودیجه یا هغه مصارف دي، چې د هېوادونو/ مختلفو مرسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوونکو هېوادونو په واسطه تمويل کيږي، په داسې حال کې چې دغه دواړه ډوله بوديجې ورته مصارف لري، چې د ورته فعاليتونو د سرته رسولو لپاره مرسته کيږي، خو د بوديجې د دغه دوو جوړښتونو ترمنځ انسجام او همغږي شتون نه لري. د بوديجې جوړونې دغه طريقې د وزارتونو توانايي محدوده کړيده او هغوی ته اجازه نه ورکوي، تر څو د خپلو مصارفو مجموعي اغېزې معلومې کړي. څرنگه چې معمولاً په حفظ او مراقبت پورې د اړوندو مصارفو اغېزې او يا په عمومي توگه د انکشافي او پانگه اچونې د پروژو عادي مصرف په پام کې نه دی نيول شوی او هېڅوک نه پوهيږي، چې د يوې مشخصې برنامې او يا د هغو خدماتو بشپړ لگښت چې اړوند وزارت يې خلکو ته عرضه کوي، په کومه اندازه دی په داسې حال کې چې اړتياده ترڅو د دولت اهدافو ته د رسيدو په موخه نوې لارې ولټول شي او يا د راتلونکو منابعو د اړتياوو لپاره دقيقه پلانگذاري وکړي، چې دا تر ډېره حده په خارجې بوديجه باندې متکي ده، که څه هم د هغې د قيق مقدار معلوم نه دی، خو د کمي پايلو د لاسته راوړلو په برخه کې مرسته کوي.

**د بوديجې په تخصيص کې د شفافيت نشتوالی**

په تېرو وختونو کې د وزارتونو مصارف د اقتصادي طبقه بندۍ د کودونو مطابق تقسيم بندي کېدل، پداسې حال کې چې دغه کار د مصارفو د څرگندولو لپاره مؤثر دی، خو د دې په اړه چې ولې دغه مصارفو صورت نيولی دی، هېڅ معلومات نه راکوي. دا مهم او بنسټيز معلومات چې په يو سند کې وښودل شي، چې وزارتونو څه ډول د افغانستان د ملي انکشاف د ستراتيژۍ اهدافو ته لاسرسی پيدا کوي شتون نه لري. دغه شفافيت د خلکو او پارلمان د تفاهم او حمايت لاسته راوړلو په برخه کې اړين دی؛ پدې سربېره د اقتصادي کټگوريو په اساس د بوديجې جوړونې سيستم د يوکال لپاره د بوديجې موقتي چوکاټ را منځ ته کوي، خو د برنامو د پلانگذارۍ او د هغې د تطبيق لپاره د بوديجې د ارتباط په برخه کې مرسته نه کوي. او همدارنگه په وروسته کالونو کې د تطبيق په اړوند د ذيصلاح مقاماتو سره مرسته نه کوي.

**د برنامې په اساس د بوديجې گټه او له عنعنوي بوديجې سره د هغې مقايسه**

هغه گټې چې د برنامې په اساس يې بوديجه لري او حکومت ته دا امکان ورکوي، تر څو د موجوده مالي منابعو په مؤثره او اغېزمنه توگه مصرف وکړی شي او د هغوی په واسطه تطبيق شي، په لاندې ډول دي:

**د وزارتونو د اهدافو او لومړيتوبونو تر منځ پياوړی او څرگند ارتباط او پيوند ايجادوي**

وزارتونو ته امکان ورکوي، تر څو هغه نوي خدمات عرضه کړي، چې د افغانستان د ملي انکشاف ستراتيژۍ او د وزاراتونو د سترتيژۍ د مورد نظر د پايلو د لاسته راوړلوپاره وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دغه طريقې مختلفې بوديجې يو له بل سره يوځای کوي**

په خدماتو پورې د اړوندو ټولو مصارفو يو جامع او کلي تصوير په لاس راکوي، په ځانګړي ډول د هغو خدماتو د مصارفو په اړه چې د هغوی د تمويل په پام کې نيولو پرته د وزارتونو په واسطه د عادي او انکشافي بوديجې له لارې صورت نيسي.

**د بوديجې په تخصيص پورې د اړوندې تصميم نيونې پروسه په مؤثر ډول ممکنه کوي**

دا کار له حکومت سره مرسته کوي، ترڅو خپلې مالي منابع تر هرڅه زيات د مهمو او لومړيتوب لرونکو ستراتيژيکو اهدافو ترلاسه کولو لپاره په مؤثر ډول تخصيص کړي او د زياتو معلوماتو د تهيې له لارې چې د هغه په اساس حکومت وکولای شي، چې د دې په اړوند تصميم ونيسي، چې په کوم ځای کې د کمو بوديجوي منابعو څخه استفاده وکړي.

**د مالي منابعو اداره د وزارتونو په داخل کې پياوړي کوي**

له بوديجوي واحدونو سره مرسته کوي، ترڅو اړوند مديران او کار کوونکي د کمي او خدماتي پايلو د حصول په مقابل کې، چې خلکو ته يې عرضه کوي خپل ځان مسئول او حساب ورکوونکی وګڼي.

**د بوديجې د تصويب شفافتره پروسه**

د عامه خلکو سره مرسته کوي، چې د دولت بوديجه په اسانۍ سره درک کړي او معلومات په داسې ډول وړاندې کړي، چې د عامه پوهاوي ځواک لوړ بوځي. دغه کار خلکو او پارلمان ته په لاندې مواردو کې زيات معلومات وړاندې کوي:

د هغو خدماتو د ډولونو په اړه معلومات چې د حکومت په واسطه خلکو ته عرضه کيږي، د دغو خدماتو د عرضې په برخه کې د کړنلارې په اړه معلومات، د دغو خدماتو د عرضې د مصرف په اړه معلومات او د دغې موضوع معلومول او بررسي کول، چې آيا د غه خدمات د خلکو د اړتياوو د تامين بهترينه لاره ده او که نه، په دې صورت کې به بوديجه شفافه وي، که چېرې خلک د بوديجې اوراق درک نه شي کړای او د بوديجې اوراق په پيچلي او تخنيکي ډول خانه پوري شوي وي، نو بوديجه شفافه نه ده.

**له خارجي بوديجې څخه د دولت اصلي بوديجې ته زيات مالي وجوه (پيسې) جلبوي**

د بوديجې د تخصيص مورد نظر اهدافو او پايلو په اړه او همدارنګه د هېواد له لومړيتوبونو سره د هغې د ارتباط په اړه زيات معلومات په لاس را کوي.بايد په دې برخه کې د ډونرانو اعتماد جلب کړي، چې د افغانستان حکومت د کاري صلاحيت لرونکی دی او کولای شي چې دغه مرستې د ماليې وزارت له لارې مصرف کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د برنامې په اساس بودیجې له تطبیق څخه مخکې اړین شرایط

د برنامې په اساس بودیجه د بودیجې جوړونې او بودیجې د اجرأ د پلانګذارۍ یو مدغم شوی سیستم دی. همدارنګه کولای شو چې دغه سیستم په تدریجي ډول د برنامې په اساس د بودیجې جوړونې د مجموعي ګټو په درک سره او د هغې د ټولو اجزاوو په پام کې نیولو سره په همغږي ډول تطبیق کړو، چې هغه اجزاوې عبارت دي له:

- متداوله، متمرکزه او نسبتاً مفصله ملي ستراتیژي، چې له حمایت څخه برخمنه وي(د افغانستان د ملي انکشاف سترا تیژي)
- دوزارت ستراتیژي چې د ملي اهدافو د حصول په برخه کې د وزارتونو د برنامو د سهم(ونډې) څرانګوالی څرګندوي.
- د منابعو د ارزیابۍ لپاره منځمهاله بودیجوي چوکاټ او د ملي ستراتیژۍ د لوړترین (تر ټولو لوړ) لومړیتوب لرونکو اهدافو د حصول په موخه وزارتونو او سکتورونو ته د دغو منابعو تخصیص.
- د برنامې په اساس د بودیجې پروسه، هغه پروسه ده چې منابع د برنامو او هغو فرعي برنامو او فعالیتونو لپاره ځانګړې شوي وي او هغه اجرأیوي شاخصونه چې د هغې په وسیله کولای شو، چې د مشخصې برنامې په لوري پرمختګ ورکړو او مالي اهداف محاسبه کړی شو.
- د محاسبې سیستم او یا دحساباتو هغه جدول چې د هغې په واسطه کولای شو چې د بودیجې تخصیصات او مصارف په سیستماتیک ډول ثبت او مالي اهداف محاسبه کړی شو.
- د محاسبې سیستم او یا دحساباتو هغه جدول چې د هغه په واسطه کولای شو، چې د بودیجې تخصیصات او مصارف په سیستماتیک ډول ثبت او راپور یې په اغېزمنه توګه دو لتي مقاماتو او د برنامو مدیرانو ته ارایه کړو.
- د خود کاره مالي اداري سیستم(Automated) چې د هغه په واسطه زیاته اندازه معلومات په موثر ډول تنظیمولای شو.(آفمیس).
- د د اخلي تفتیش او کنترول سیستم، چې د ټاکل شوو اهدافو یا مقاصدو لپاره د منابعو د تخصیص او د هغوی د مؤثر مصرف څخه اطمینان را کوي.

### د وزارت ستراتیژیک پلان

له داسې یو پلان څخه عبارت دی چې د اهدافو، مقاصدو او مجموعي فعالیتونو او د هغه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



متوقعه پایلو لیدلوری د یو معین وخت، معمولاً ۵ او یا ۱۰ کالونو لپاره وړاندې کوي. ستراتیژیکه پلانگذاري له هغې پروسې څخه عبارت ده، چې د هغې په واسطه پلانونه انکشاف کوي. ځینې وخت پلان د کاري پلان یا(Business Plan) په نامه یادیږي. چې دا اسناد اکثره وخت بودیجې ته د درخواست لپاره د اداراتو د موجوده دلایلو په حیث تر استفادې لاندې نیول کیږي. په افغانستان کې د ستراتیژیکو پلانونو بنسټیز هدف د افغانستان د اسلامي جمهوري انکشاف د ستراتیژۍ(د افغانستان د ملي انکشاف ستراتیژي) سره د وزارتونو د برنامو د مطابقت څرانگوالی دی.

**منځ مهاله پلانگذاري**

منځ مهاله پلان معمولاً د ۵–۲ کلونو اضافي بودیجې سره د جاري راتلونکي کال له بودیجې څخه عبارت دی، منځمهاله پلان د بودیجې د تصمیم نیوونکو لپاره د تصامیمو، د تصامیمو د نیولو لپاره د مالي مفاهیمو په برخه کې یو بهتر لیدلوری ارایه کوي. د بودیجې تصامیم په راتلونکو مصارفو باندې تاثیر کوي. د منځ مهاله بودیجې جوړونې عمده عنصر او د برنامې په اساس بودیجه جوړونې اساسي برخه، چې په زیاتره هېوادونو کې له بریاؤ سره یو ځای ده، د مصارفو له منځمهاله چوکاټ څخه عبارت ده.

**د اجرائیوي شاخصونو ډولونه**

څلورډوله اجرائیوي شاخصونه شتون لري چې عبارت دي له:

۱. د مصارفو شاخص، د بیلگې په ډول له پیسو(وجوه یا د بودیجې منابع) او یا خلکو څخه(د دولت کارمندان او کارکوونکي) چې په کار گمارل کیږي عبارت دی او په افغانستان کې د ۲۱ ,۲۲, ۲۵ کوډونو په حیث پیژندل کیږي.

۲. د کمي پایلو شاخص(چې ځینې وختونه د کار د حجم د شاخص په نامه هم یادیږي)د دولت د ادارې د پلان شوي کار اندازه مشخصوي. د بیلگې په توگه د هغه کاري حجم اهداف چې په راتلونکي کې په کوم شمېر سره ماشومان په مکتب کې شامليږي او یا داچې څو کیلومتره سرک به جوړ شي، وړاندې کوي. دا شاخصونه همدارنگه کولای شي، چې په دې موضوع باندې د تمرکز په برخه کې چې د افرادو توقع(تمه) د دې برنامې له تکمیل څخه څه ده مرسته وکړي.

۳. د اغېزمنتوب شاخصونه: د کمي پایلو د شاخصونو او مصرفي شاخصونو له ترکیب څخه عبارت دي، مثمر شاخصونه مکتب ته د هر شاگرد د تگ او هر کیلومتر سړک له مصرف څخه عبارت دي، چې د دې ارزیابۍ په برخه کې مرسته کوي، چې آیا د دغه خدماتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندې کول اقتصادي دي او که نه؟ مثمر شاخصونه بهتره شاخصونه دي، ځکه د دولت د دندو په بهتره توګه د سرته رسولو څرنګوالی څرګندوي.

٤. د مؤثریت شاخصونه(ځینې وخت د پایلو یا د کیفي پایلو د شاخصونو په نوم هم یادیږي) پدې شاخص کې هڅه کیږي، ترڅو د دولت د فعالیتونو اغېزه په هېواد کې څرګنده کړي. د مؤثریت په شاخصونو کې هڅه شوي ده، ترڅو دغه موضوع بیان کړي، چې د دولت د ستراتیژیکو اهدافو کوم مقدار ترلاسه شوی دی او آیا برنامې د اهدافو د حصول لپاره په مخ ځي؟

## د برنامې په اساس د بودیجې جوړونې د اړونده اسنادو تر کیب او جوړښت

د بودیجوي واحدونو لپاره د برنامې په اساس بودیجې پورې اړوندو اسنادو له تهیه کولو څخه موخه دا ده، تر څو وکولای شو، چې خپلې بودیجې په هره برنامه پورې د ځانګړو شوو منابعو او د هغوی د پایلو په ارتباط چې د دغو منابعو له مصرف څخه باید ترلاسه شي، د برنامې په شکل وړاندې کړي.د برنامې په اساس بودیجه جوړونه وزارتونو، حکومت، پارلمان او خلکو ته امکان برابروي، ترڅو د برنامو کړنلاره په ټولنه کې د منفعت د را منځته کولو له نظره او یا لدې نګاه نه چې آیا دغه برنامې(د پیسو د مصرف ارزښت) لري او که نه سنجش او ارزیابي کړي.

## د برنامې په اساس په بودیجه پورې د اړوند سند شکل(بڼه)

د برنامې په اساس بودیجه پورې اړوند سند اساساً له دوه ؤ برخو څخه جوړ شوی دی:

- تشریحي یا غیر مالي تو جیه:د حکومت برنامې او هغه خدمات چې د هغه د تطبیق له امله خلکو ته وړاندې کیږي په ۳,۲,۱ برخو کې، په لاندې توګه توضیحات ارایه شوي دي.
- غیر مالي توجیه: د برنامې او د حکومت خدمات په ٤ بخشونو کې تو ضیح شوي دي.
- د برنامې په اساس د بودیجې جوړښت په څلورو سطحو کې تعریف شوی دی.

١. د برنامې جوړښت: وزارت ← برنامې ← فرعي برنامې ← فعالیتونه

٢. اهداف:ستراتیژیک اهداف ← د برنامو اهداف ← عملیاتي اهداف

٣. اجرائیوي شاخصونه :کیفي پایلې ← کمي پایلې

٤. مصارف:د مصارفو خلاصه ← د مصارفو خلاصه او د استهلاکي اقلامو مصارف

د برنامې په اساس بودیجه پورې په اړوندو اسنادو کې لاندې عناصر او برخې ځای په ځای شویدي.

## د برنامې په اساس په بودیجه پورې د اړوند سند عناصر

د برنامې په اساس په بودیجه پورې اړوند اسناد چې د برنامې په اساس بودیجه جوړونې

(c) ketabton.com: The Digital Library


تشکيلوونکو او جوړوونکو برخو په حيث لاندې سوالونو ته د ځواب ورکولو په موخه تر استفادې لاندې نيول کيږي، طراحي شويدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱،۸ جدول: د بودیجې د سند عناصر

**د متشکله عناصرو هر یوه مفصل او مشخص تعریف په لاندې ډول دی:**

- **ستراتیژیک هدف:** ستراتیژیک هدف د یو وزارت او د هغه د برنامو د اساسي هدف له

| پوښتنه | د ځواب په حیث د برنامې په اساس د بودیجې عناصر یا برخې |
|---|---|
| ستاسې د سازمان یا ادارې له شتون څخه موخه څه ده؟ | ستراتیژیک اهداف معمولاً د وزارت په ستراتیژیک پلان کې موجود وي، بودیجوي واحدونه کوم مورد نظر کار غواړي، چې د هېواد په گټه یې په اوږد مهال کې تر سره کړي؟ |
| سازمان یا اداره کومو پایلو ته د رسیدو په موخه فعالیت کوي؟ | برنامې او یا د برنامې هدف(اهداف) د مشخصو کیفي پایلې او یا هغه خدمات او منفعت بیانوي، چې وزارتونه یې د خپلې ستراتیژۍ د پلان مطابق عرضه کوي |
| د برنامو له تطبیق څخه د پایلو د حصول مسئولیت د کوم شخص په غاړه دی؟ | د برنامې مدیر د ادارې د کارمندانو، مصارف او پایلو د حصول مسئولیت د اړوندې برنامې په چوکاټ کې لري؟ |
| مطلوبې پایلې ته د رسیدو په موخه ستاسې سازمان یا اداره کوم کارونه تر سره کوي | فرعي برنامې او کاري یا په کارونو پورې اړوند اهداف او پالیسۍ په لومړیتوبونو پورې اړوندې برخې د وزارت د خپلو کاري پلانونو پورې اړوند چې څه کارونه او کوم خدمات وړاندې کړي او د دې مطابق پالیسۍ گانو لومړیتوب |
| په کومه طریقه سره د هغه کارونو پایلې ارزیابي کوئ، چې تاسې یې ترسره کوئ؟ | د کړنلارې ارزیابي او په کړنلاره پورې اړوند اهداف د بودیجودوي واحدونو له فعالیت څخه متو او مورد نظر پایلې |
| د نوموړو کارونو د ترسره کولو مصرف(لگښت) څومره دی؟ | لنډ مهاله یا کاري اهدافو ته د رسیدو اړتیا وړ منابع د عادي او انکشافي بودیجې په وجوهو او خارجي وجوهو کې شاملېږي |

مختصر بیان څخه عبارت دی(د وزارت/ ادارې د موجودیت هدف باید عام او مختصر وي یعنې له خلکو سره مرسته وکړي، ترڅو وپوهیږي چې له یو وزارت څخه کومې هیلې درلودلی شي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



- باید یو وزارت/اداري د دایمي هڅو انعکاس کوونکې وي(د یو وزارت د خدماتو عرضه باید په راتلونکې کې دوام ومومي)
- د وزارت له خدماتو څخه استفاده کوونکي تشخیص شي(څوک د وزارت له خدماتو څخه ګټه اخلي؟خلک او که نور دولتي بنسټونه).
- د دولت له لومړیتوبو سره جوړ راشي.
- ستراتیژیک هدف د وزارت په فعالیتونو باندې داسې تمرکز وکړي، چې دافغانستان د ملي انکشاف د ستراتیژۍ اهداف تحقق پیداکړي.
- خلکو ته د حکومت د خدماتو د عرضې څخه د دولت د غوښتنو مطابق د اطمینان حاصلول.
- باید په کافي اندازه جامع وي، ترڅو د وزارت د خدماتو د عرضې ټولې برخې احتوا کړای شي

**د برنامې هدف:** د یوې اداري اوږدمهاله کاري اهداف تشکیلوي.

(دغه هدف له هغه راتلونکي یا حال لیدلوري څخه عبارت دی، چې وزارت غواړي چې د برنامې د تطبیق له لارې هغه ته تحقق ورکړي)

**ځانګړتیاوې:** جامع، د زماني مودې څخه پرته دوامداره، اکثره وخت تحقق نه مومي.

**برنامه:**د خدماتو د عرضې له یو مرتبط ګروپ څخه عبارت دی، چې مشترک اهداف او پالیسۍ تعقیبوي(۱۸:۷).

**کاري یا منځ مهاله هدف:** د برنامې هر هدف په داسې منځ مهاله یا کاري اهدافو وېشل شوی دی، چې د یوې فرعي برنامې په واسطه بنودل کیږي. کاري اهداف له هغو منځ مهاله اهدافو څخه دي، چې د حکومت د پالیسي له لومړیتوبونو سره ارتباط لري.دغه اهداف څرګندوي، چې مورد نظر بودیجوي واحدونه په نږدې راتلونکي کې کوم کارونه غواړي، چې تر سره یې کړي او له همدې امله باید دهغه فعالیتونو د کمي ارقامو څرګندونه وکړي، چې په لنډ مهال کې په واقعي توګه د لاسته راوړلو وړ وي. کاري اهداف یا منځ مهاله اهداف معمولاً په لنډ مهال کې د حکومت د پالیسیو لومړیتوبونه منعکس کوي او څرګندوي چې ولې یوه برنامه تمویل ته اړتیا لري.

**فرعي برنامې**

فرعي برنامې کولی شو چې د ټولو فعالیتونو په حیث (د عادي او انکشافي بودیجې او جاري فعالیتونو په شمول) د عین کاري هدف یا لومړیتوب لرونکي پالیسۍ لاندې تعریف کړو. په ساده جمله کې ویلی شو چې فرعي برنامې بایدپه بودیجوي واحد کې د داخلو پالیسیو د لومړیتوبونو او اهدافو په اساس ایجاد او طرح ریزي شي.همدارنګه فرعي برنامه کېدی شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د هغو د فعالیتونو د ګروپ په حیث معرفي شي، چې د اداري د تشکیلاتي جوړښت په ټيټه سطحه د وزارت په داخل کې منطقه وي.فعالیتونه له هغو کارونو څخه عبارت دي، چې د بودیجوي واحد په واسطه د یوې فرعي برنامې په چوکاټ کې د تطبیق وړ وګرځي. فعالیتونه کېدی شي چې په جاري کارونو یا فعالیتونو پورې مربوط وي او همدارنګه کېدی شي چې په انکشافي پروژه کې شامل وي.فعالیتونه د داسې یو تعمیر د بلاکونو په حیث دي چې له هغوی څخه یوه برنامه جوړیږي. په دې برخه کې فعالیتونه د برنامې او عنعنوي بودیجې د مرتبط کوونکو په حیث په کار وړل کیږي(عادي او انکشافي پروژې) پداسې ډول چې د پارلمان په واسطه منل کیږي.

**کیفي پایلې یا تغیرات:** کیفي پایلې یا تغیرات د برنامې په سطحه سنجش او ارزیابي کیږي. د بودیجوي واحد داخل ته د هرې برنامې لپاره مشخصو پایلو یا تغیراتو ته انکشاف ورکول کیږي.کیفي پایله یا تغیر هغه اغېزې مشخصې او ارزیابي کوي، چې په ټولنه باندې مشخصه برنامه ولرلی شي او یا هغه ګټه ده چې بو دجوي واحد یې د برنامې له لارې د ټولنې لپاره را منځ ته کوي. په کیفي پایلو یا تغیراتو باندې مربوط معیار لاندې سوالونو ته ځواب ورکوي.

- د نوموړو خدماتو له عرضې څخه خلکوته کوم شیان په لاس راوړو؟
- د ټولنې وګړي څه ډول له دغو خدماتو څخه مستفید شویدي؟
- د برنامې هر یو هدف کېدای شي، چې یوه یا زیاتې کاري پایلې/کیفي پایلې ولري.
- کاري پایله/کیفي پایله څرګندوي، چې برنامه تر کومو حدودو پورې مورد نظر ستونزو ته رسیده ګي کولای شي.
- کاري پایله/کیفي پایلې د وزارت له کار څخه هغه لاسته راغلي ګټې وړاندې کوي، چې د برنامو د تطبیق له لارې لاس ته راځي.
- د پایلو اندازه او یا د حاصله ګټو مقدار څرګندوي.

**د کاري پایلې یا کیفي پایلې لپاره اصول او لارښود**

- د اندازه ګیرۍ وړ وي.
- مشخص وي، د مقایسې وړ او زماني وخت سره جوړ راشي.
- د امکان په صورت کې د نورو هېوادونو سره هم د مقایسې وړ وي.
- استفاده کوونکی مشخص شي.
- د کیفي پایلو شمېر حداقل وي، باید د وزارت د ستراتیژیکو اهدافو له تحقق سره مرسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي.

- د اطلاعاتو جمع آوري باید دمصارفو له نقطې نظره امکان ولري.

**حاصل یا کمي پایلې**

کمي پایلې د فرعي برنامې په سطحه یا حتی د فعالیت په سطحه د سنجش او ارزیابۍ وړ دي.د فرعي برنامې په حیث، د برنامې په اساس بودیجه جوړونه د خدماتو له مستقیمو پایلو سره زیاته رابطه لري. اساساً د بودیجوي واحدونو مستقیمې پایلې د سنجش او ارزیابۍ لاندې نیسي. دغه پایلې د هغو کارونو حجم تر مطالعې لاندې نیسي، چې د بودیجې واحدونو په واسطه تر سره شوي دي.

په کمي پایلو پورې اړوند معیارونه لاندې سوالونو ته ځواب وایي:

- کوم کار عملي صورت نیولی دی؟
- څه ډول خدمات خلکو ته عرضه شویدي؟

فعالیتونه: له هغو کارونو څخه عبارت دي، چې اړونده وزارتونه هغوی د یوې فرعي برنامې لاندې تر سره کوي. وروسته له هغه چې برنامه او فرعي برنامه وټاکل شي، باید فعالیتونه مشخص شي. فعالیتونه په دوو برخو وېشل شویدي:

- د عادي بودیجې فعالیت.
- د انکشافي بودیجې/پروژې فعالیت.
- یوه فرعي برنامه یواځې یو عادي فعالیت درلودلی شي.
- یوه فرعي برنامه یو یاڅو فرعي برنامې لري.

## د برنامې په اساس د بودیجې گرافیکي جوړښت

۱: وزارت

۲: ستراتیژیک هدف

۱: برنامې ۲: د برنامې هدف

۳: کیفي پایلې یا تغیرات

٤: د مصارفو لنډیز یا خلاصه

۱: فرعي برنامې

۲: کاري یا منځ مهاله هدف

۳:کمي پایلې

٤: د مصارفو لنډیز

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱: فعالیتونه


**۲.** په مختلفو مصارفاتي اقلامو پورې اړوند مصارف

دغه ګرافیکه توضیح په دې مانا ده، چې هر وزارت د برنامو داسې یوه مجموعه لري، چې په هغه کې نومورې هره برنامه په فرعي برخو باندې وېشل شویده او هره فرعي برنامه ځانته ځانګړي فعالیتونه لري.په عین شکل ستراتیژیک هدف د وېشل شوي برنامې په ډېرو مشخصو(مشخص ترو) اهدافو باندې چې په جمعي توګه او په ټوله کې د سترتیژیکو اهدفو له حصول سره مرسته کوي، همدارنګه د برنامې هر هدف د کاري یا لنډ مهاله کاري اهدافو لرونکی وي، چې په مشخصه توګه او په ټوله کې د برنامې هدف ته د رسیدو په موخه طرحه شوې ده(۹:۸).

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱,۸شکل د برنامې په اساس د بودیجې د ترتیب او ارایه کولو پروسه**




## د برنامې په اساس د بودیجې جوړونې عناصر

لاندې جدول په بودیجه کې د شاملو عناصرو یو اجمالي جدول ارایه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲،۸ جدول: د بودیجې جوړونې عناصر**

| د بودیجې جوړونې عناصر | تفصیل |
|---|---|
| تشریحي برخه | د حکومت اهداف، د سکتوري وزارتي او د افغانستان د ملي انکشاف ستراتیژي د پایلو چوکاټ، ستراتیژیک وزارتي اهداف، د وزارت خانې/بودیجوي واحد او د افغانستان د ملي انکشاف ستراتیژۍ د اهدافو ترمنځ ارتباطي برنامه او عملیاتي اهداف هغه مشخص توضیحات چې وزارت څه غواړي چې په اوږدمهال کې(برنامه) او په متوسط مهال(فرعي برنامه) په لاس راوړي. |
| د برنامې جوړښت | برنامه د هغه مرتبطو فعالیتونو مجموعه ده، چې د مشترک هدف په رابطه د وزارت خانې په محدوده کې صورت نیسي.فرعي برنامه د مشابې عادي او انکشافي بودیجې د پالیسۍ د هدف لاندې فعالیتونو گروپ دی.<br>فرعي برنامه اساساً هغه فعالیت بیانوي، چې وزارت خانه/بودیجودوي واحد یې ترسره کوي. هغه کاري فعالیتونه چې وزارتخانې یې د یوې فرعي برنامې په چوکاټ کې تر سره کوي.فعالیتونه په دوه ډوله را څرگندیږي، عادي او انکشافي |
| مالي پلان | منځ مهاله مالي پلان د حکومت د اهدافو او مقاصدو د تعقیب په منظور د څوکلنو مالي مصارفو تشخیص. بودیجودوي سقفونه د نوموړو مقاصدو او اهدافو د تعقیب په موخه د موجوده منابعو تشخیص.<br>کلنۍ پېش بیني گانې= د بودیجودوي واحدونو او وزارت خانو د مفصل مصرفي پلان مشخص کول |
| د اجرأتو راپور | د لاسته راغلي محصول په مشخصولو کې د اهدافو او مقاصدو په څېړنه کې د اجرأتو شاخصونه، پآیلې او لاسته راوړنې محصول/لومړی محصول او د راتلونکي کال لپاره اهداف ددې په باره کې د اطمنان حاصلولو په موخه چې فعالیتونه د |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| | اهدافو په لاسته راوړلو کې مرسته کوي، د برنامو او محصولاتو ترمنځ د ارتباط منځ ته راوړل |

## د اجرأتو سنجش

د برنامې په اساس د بودیجې جوړونې نهایي مفهوم د اړوندو اجرأتو بررسي کول دي، د حکومت اجرأت په لومړیو کې په هر وګړي پورې تړاؤ نیسي، ځکه چې دا تمه شتون لري، چې ټول منابع په مناسبه او مؤثره توګه د عامه خدماتو په برابرولو کې چې د هغې لوړه سطحه د لاسرسي وړ وي استفاده کیږي.وزارتخانې او بودیجوي واحدونه په خپل وارسره مسئولیت لري، تر څو دبرنامو له اقتصادیت او همدارنګه د خپلو نوموړو اهدافو د لاسته راوړلو څخه اطمنان ترلاسه کړي. د ټولو اړخونو د اړتیاوو درفع کولو په صورت کې د ځینو داسې میتودولوژیګانو شتون اړین ګڼل کیږي، چې وکولای شي چې د حکومت د اجرأتو لپاره د یوې سیستماتیکې او عیني ارزیابۍ اساس تشکیل کړي. په افغانستان کې د برنامې په اساس د بودیجې جوړونې څخه اساسي هدف له مصرف سره د پالیسۍ د لاسته راوړنو ترمنځ ارتباط ورکول دي. د دې پربنا د برنامو او فرعي برنامو د ایجاد ترڅنګ د پالیسیو د اهدافو په برخه کې د پیشرفت د بررسۍ لپاره د جامع او اندازې وړ شاخصونو شتون هم اړین دی. د اجرأتو دڅوډوله ابتدایي شاخصونه شتون لري:

- د منابعو شاخصونه: د هغو منابعو اندازه چې د یو خدمت د برابرولو/یا یو فعالیت د عرضې لپاره استفاده کیږي، تر شعار لاندې راځي.
- د محصول شاخصونه هغه څه چې د فعالیتونو په واسطه د خدماتو په برابرولو کې اجرأ کیږي، تر شعار لاندې راځي.
- د پایلو یا مثمریت شاخصونه د هغو خدماتو د لاسرسي سره ارتباط لري، چې د انکشافي، عیني او مخصوصو تغیراتو په پایله کې لاس ته راځي.
- د مؤثریت شاخصونه: د منابعو څخه د استفادې، د سطحې او لاسته راغلو محصولاتو تر منځ ارتباط بررسي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳.۸ جدول د اجرأتو شاخصونه**

| د شاخص ډول | نومورې شاخص څه شی اندازه کوي | بېلګه |
|---|---|---|
| منابع | د پکار وړل شوو منابعو کمیت | د اړتیا وړمنابع او د اړتیا وړ کارمندان، استفاده شوي مواد، مصرف شوي پیسي |
| محصول | د تهیه شوي خدمت کیفیت | د روزل شوو معلمینو شمېر، د درسي خونو شمېر، د هغو افرادو شمېر چې فعالیت یې کړی دی |
| د مثمریت پایله | هغه درجه چې په هغې کې خدمات لاس ته راوړل کیږي | د استخدام په سطحه د فیصدی تغیر، د فیصدی تغیر د جرایمو په اندازه کې، په مکتب کې د شمولیت شمېر |
| مؤثریت | د في واحد محصول مصرف | د یو لېتر اوبو مصرف، چې یوې کورنۍ ته عرضه کیږي |

## د بودیجې د تنظیم پروسه

د غه برخه د وزارت خانو/بودیجوي واحدونو د بودیجې انکشاف ورکولو لپاره مهال وېش توضیح کوي.

۲٫۸ شکل د سالمې بودیجې دتنظیم پروسه



(c) ketabton.com: The Digital Library



پورتنی شکل د هغې بودیجې د دوران یو د یاګراماتیک شکل څرګندوي، چې په افغانستان کې ترتیب کیږي. دغه د یاګرام څلور عمده مرحلې څرګندوي:

- د بودیجې د ترتیب څخه مخکې د افغانستان د ملي انکشاف د ستراتژۍ د پایلو د چوکاټ په اساس د بودیجې پلانګذاري او دهغو لارښوونو مطابق د بودیجې ترتیب او تصمیم ګیري، چې د مالیې وزارت له لوري طرح شویده.
- د بودیجې اجرأ د هغو وجوهاتو تادیه چې د تصمیم نیونې په پړاو کې منظورشویدي.
- د اجرأتو ارزیابي د اصلي لاسته راوړنو سره د بودیجې د توضیح شوو اهدافو مقایسه، چې نوموړې مقایسه هغه پیشرفت څرګندوي چې د پلان شوو پایلو او محصولاتو په برخه کې یې صورت نیولی وي. له دې ځایه لیدل کیږي، چې د برنامې په اساس بودیجه د افغانستان د ملي انکشاف د سترا تیژۍ د پایلو په چوکاټ کې پیل او پای ته رسیږي. لاندې پراګرافونه د بودیجې د هرې مرحلې اړین اقدامات توضیح کوي.
- د مالیې وزارت هر کال د بودیجې د ستراتیژۍ په تنظیم سره د بودیجې دوران د افغانستان د ملي انکشاف د ستراتیژۍ د لومړیتوبونو په رڼا کې پیل کوي، وروسته دغه ستراتیژي په لوړو حکومتي سطحو کې تر بحث لاندې نیول کیږي او کله چې نوموړې ستراتیژي تصویب شوه، د مالیې وزارت داسې مهال وېش صادروي، چې د بودیجې د ترتیب پروسه پکې شامله وي او ټولو ذیدخل اړخونو ته یې، چې وزارتخانې، بودیجوي واحدونه او ادارات پکې شامل دي توضیح کوي. د هغوی سره یو ځای د تادیاتو لپاره د موجوده منابعو د سطحو د تشخیص لپاره د منځ مهاله پلان د نهایي کولو پروسه په جریان کې وي.
- وروسته له وزارتخانو او بودیجوي واحدونو څخه غوښتل کیږي، تر څو خپلې برنامې، د برنامو تشریحات او د خپلو محصولاتو شاخصونه د هغو خدماتو سره په تړاو کې تر تیب کړي چې د افغانستان د ملي انکشاف ستراتیژۍ کې د اړوندو وزارتونو د پایلو په چوکاټ کې وي. نوموړي وړاندیزونه د بودیجوي متحدالمالونو له لارې په لاس راځي. له وزارتخانو څخه غواړي تر څو یواځې د خپلو هغه وړاندیزونو مختصره شرحه مالیې وزارت ته وړاندې کړي، چې د برنامو او فرعي برنامو په اساس طبقه بندي شوي وي. د مالیې وزرات د بودیجې د لومړی شمېر متحدالمال وړاندیز په اساس د بودیجې هغه منځ مهاله چوکاټ، چې ټاکل شویدی چې د لاسرسي وړ منابعو څخه تمویل شي، چې په دې اساس د بودیجې د سقف مسوده تر تیبیږي.
- د بودیجې دویمه شمېره متحدالمال د هغو وزارتونو د برنامو او فرعي برنامو د مفصلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تشریحاتو سره یو ځای د مفصلو تخمیناتو ارایه کول غواړي، چې په امتحاني مرحلو کې قرار لري. نوموړي تخمینات باید د بودیجوي سقف په چوکاټ کې ترتیب شي. بودیجوي سقف د مالیې وزرات په واسطه د هغه تخمین شوي مبلغ له اعظمي حد څخه عبارت دی، چې په راتلونکي کې د یو بودیجوي واحد لپاره تخصیص کیږي.

- کله چې فرعي برنامو فعالیتونه په مکمل ډول توضیح او قیمت گذاري شي، مالیې وزارت ته لیږل کیږي، چې وروسته د بودیجې په سند کې وړاندي کیږي، بودیجه د مالیې وزارت په واسطه د مقننه قوې له لوري له کتنې څخه وروسته د پارلمان په واسطه تصویب کیږي. په دې پړاو کې وزارتخانې د بودیجې تخصیص اخیستلو ته اماده کیږي او د بودیجې د اجرأ مرحلې ته داخلیږي.
- کله چې مالي کال پیل شي، وزارتخانې باید دافغانستان د دولت پروسېجرونه د مصارفو د ثبت او مصرف په موخه تعیب کړي. په هره ربع کې وزارتخانې/ بودیجوي واحدونه د تخصیص تقاضا کوي، چې دوی په دې قادر وي، چې د خپلې بودیجې په محدوده کې خپلې بودیجې عادي او انکشافي اهدافو ته د لاسرسي لپاره مصرف کړي. د ټولو هغو مصارفو په باره کې معلومات چې صورت نیسي، د ټاکل شوو فارمټونو په چوکاټ کې مالیې وزارت ته لیږل کیږي او د افغانستان د مالي معلوماتو د سیستم ثبت آفمیس کیږي. په لومړي قدم کې د نوموړې اداري مسئولیت د مصارفو کنترول او د مصارفاتي اقلامو، بودیجې او یا یوې برنامې له مصارفو سره د هغه مقایسه کول دي او مالیې وزارت د تخصیص کړنلارې تعقیبوي، ترڅو ادارات له منظورې شوې بودیجې څخه زیات مصرف ونه کړي.
- کله چې وزارتخانې او بودیجوي واحدونه وجوه مصرفوي، نو نه یواځې باید د مصرف مؤثریت نظارت شي، بلکې د هرې وزرا تخانې او بودیجوي واحد هغه مصارف چې سرته یې رسوي، ولیدل شي چې د هغې ادارې اهداف په واقعي توگه براورد شوي او که نه؟ پدې اساس د مالي کال په پای کې هغه اهدافو ته د مثمر لاسرسي د تشخیص لپاره د هرې وزارتخانې او بودیجوي واحد مصرف او اجرأت چې د بودیجې د ترتیب په مرحله کې تعین کیږي نظارت وکړي او همدارنگه هغه تاثیرات هم نظارت کړي، چې مصرف یې په اهدافو، محصولاتو او د برنامو په پایلو او د افغانستان د ملي انکشاف په سترتیژۍ باندې واردیږي .

## د بودیجې د ترتیب تقویم

د بودیجې د دوران یوه مهمه او عمده برخه د بودیجې هماغه ترتیب دی، چې په دې مرحله

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې په ټوله مالي دوره کې د بودیجې د مدیریت په موخه یو کاري چوکاټ ترتیبیږي. د بودیجې د اسانتیا او کنترو ل په موخه د مالیې وزارت د بودیجې دترتیب مهال وېش هر کال نشر کوي، اما د برنامې په اساس په بودیجه جوړونه کې د بودیجې ترتیب اساساً له مخکینیو کالونو څخه سریعتر چې عنعنوي بودیجه پکې استفاده کېدله پیل کیږي.

## د مالیې وزارت اقدامات

د مالیې وزارت د بودیجې د ترتیب او نظارت پروسه د هغې په ټولو مراحلو کې حمایت کوي(همدارنګه د اقتصاد وزارت د انکشافي پروژو د بررسي په برخه کې پدې پروسه کې داخل دي) د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د اساسي قانون مطابق د مالیې وزارت د بودیجې د ترتیب انسجام او پارلمان ته د منظورۍ دوړاندې کولو په برخه کې په نظارت کولو باندې مسئول دی. پدې اساس مالیې وزارت د بودیجې په مختلفو مراحلو کې د هغې تر نهایي کولو پورې مرکزي رول لري. د مالیې په وزارت کې لاندې فعالیتونه شامل دي:

- د بودیجې د لومړۍ شمېرې متحدالمال صدور.
- د بودیجې په لومړۍ شمېره متحدالمال پورې اړوندو وړاندیزونو لنډیز او جمع آوري.
- د بودیجې د شرحې د مودې په حیث د بودیجې د منځ مهاله چوکاټ طرح او تدوین .
- اداراتو ته د بودیجوي سقفونو لیږل.
- د بودیجې د ترتیب په اړه د ښوونیزو پروګرامونو برابرول (د برنامې په اساس دبو د جې لپاره) البته د هغو وزارتخانو او بودیجوي واحدونو لپاره چې برنامې په اساس بودیجه جوړونې په پروسه کې قرارلري.
- د بودیجې دویمه شمېره متحدالمال
- د اقتصاد وزارت سره د همکارۍ، دبودیجوي سقفونو ټاکل
- د بودیجې دویمه شمېره متحدالمال پورې اړوندو ځوابونو جمع اوري
- د وزارتخانو او بودیجوي واحدونو سره د بودیجې د نهایي وړاندیزونو په اړوند بحث او خبرې اترې. د ملي بودیجې د نهایي مسودې تدوین او انکشاف
- پارلمان ته د یوې منسجمې بودیجې (دولت بودیجه) وړاندې کول

**دبودیجې لومړۍ شمېره متحدالمال**

د بودیجې لومړۍ شمېره متحدالمال په لاندې برخو کې لومړني اړین مراحل ارایه کوي:

- په ځو کلن چو کاټ کې د افغانستان د ملي انکشاف ستراتیژۍ سره د وزارتخانو او بودیجوي واحدونو د بودیجې طرحې ته مطابقت ورکول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د پروژو وړاندیزونه، هغه محصولات چې باید د افغانستان د ملي انکشاف د ستراتیژۍ له چوکاټ سره مطابقت ولري.
- د عادي او انکشافي بودیجې د مصارفو تقریبي تخمینات.

**د لومړیتوبونو تشخیص:**

د غو اهدافو ته د رسیدو لپاره وزارتخانې او ادارات باید خپل لومړیتوبونه د درېو راتلو نکو کالونو لپاره د متحدالمال د غوښتنې مطابق او د نویو فعالیتونو د طرحې او انکشاف په واسطه چې هره عادي او انکشافي بودیجه کې شاملیږي، د وزرات د خدماتو د سطحې د زیاتوالي په موخه تشخیص کیږي؛ هر څو که پدې مرحله کې یواځې د مصرف مشخصو ارقامو اړتیا ده، اما لومړیتوبونه باید په خپل وار سره په واضحه او دقیقه توګه مشخص شي، ترڅو د وزارتونو/بودیجوي واحدونو او د افغانستان د ملي انکشاف د ستراتیژۍ په چوکاټ کې د اجرأ وړ عناصرو پالیسي ګانې او مسئولیتونه منعکس کړي.دغه موضوعات هم باید په واضحه او دقیقه توګه سنجش شي، بالاخره دغه پروسه په ورستۍ مرحله کې په برنامو او فرعي برنامو کې استفاده کیږي.

**د مصرفي پلانونو د ارتباط ملاحظه کول**

د وزارتخانو لپاره په دغه متحدالمال کې دویم مکلفیت د افغانستان د ملي انکشاف ستراتیژۍ سره د هغه د مصرفي پلانونو ارتباط او برنامې په اساس بودیجه جوړونې په ذریعه د اهدافو لاسته راوړل دي. ټینګار کیږي چې وزارتونه او بودیجوي واحدونه مکلف نه دي ترڅو د غه اسناد په دغه مرحله کې نهایي کړي، بلکه دوی باید د بودیجې د لومړۍ شمېره متحدالمال څخه د بودیجې د ترتیب پروخت د بعدي مفصلو کارونو، اړینو بیا کتنو د پیل لپاره د هدف د ټکي په حیث استفاده کړي.

**د بودیجې دویمه شمېره متحدالمال**

د دغه متحدالمال جزیات ممکن کال په کال تغیر وکړي، نو پدې اساس استفاده کوونکي باید د هغه له محتوا څخه د بشپړې اشنایۍ په خاطر د دغه لارښود له وروستۍ نسخې څخه استفاده وکړي. اړوندې وزارتخانې او بودیجوي واحدونه باید د بودیجې ۲ شمېره متحدالمال ته نسبت د بودیجې لومړۍ شمېرې متحدالمال ته یو څه مفصل ځواب ورکړي.د بودیجې دویمه شمېره متحدالمال سند له وزارت خانو او بودیجودوي واحدونو څخه غواړي، ترڅو خپلې مفصلې بودیجې د یوه سلسله هغه پارامترونو په چوکاټ کې ترتیب کړي، چې په نوموړي سند کې ذکر شوي دي. وزارت خانې مکلفې دي، تر څو د خپلو برنامو او فرعي برنامو تشریحات نهایي کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د خپلو عادي او انکشافي بودیجو فعالیتونه طبقه بندي او اولویت بندي کړي. د نوموړو فعالیتونو مفصله قیمت گذاري دغه تشریحاتو ته تقویت ورکوي او دغه قیمت گذاري د بودیجې د نهایي وړاندیز مالي عنصر تشکیلوي. پدې سربېره وزارتونه اړتیا لري، ترڅو د هرې پروژې مفصلو اسنادو ته انکشاف ورکړي او د بودیجې په وړاندیز کې یې شامل کړي.

**د مالیې وزارت نور اقدامات**

د بودیجې د دوه ۆ متحدلمالونو او سقفونو صدور د بودیجې په دوران کې د مالیې وزارت له مهمو اقداماتو څخه دي، که څه هم د مالیې وزارت د ترتیب، اجرأ او مراحلو د ارزیابۍ په وخت کې د بودیجې د تنظیم د مراحلو په طې کولو کې زیات سهم اخلي؛ دا ډول اقدامات هغه وخت تر سره کیږي، چې د مثال په ډول د بودیجې په استماعیه کې د کړنلارو د کنترول او تخصیص له لارې د بودیجې د اجرأ پر وخت او د کال په پای کې د بودیجې د پایلو د متن د نهایي کولو پر وخت دغه دخالتونه د بودیجې په جزیاتو پورې اړه لري. همدا ډول د وزارتونو او بودیجوي واحدونو په واسطه تهیه کیږي او د مالي مدیریت په کړنلارو پورې تړاو لري؛ نه د بودیجې د زېربناگانو په ایجاد پورې.

**د بودیجې منځ مهاله چوکاټ او بودیجوي سقفونه**

د بودیجې د لومړۍ شمېرې متحدالمال ته په ځواب کې د وزارتونو او بودیجوي واحدونو په واسطه د اولویت بندي شوو پلانونو له تسلیمۍ څخه وروسته د مالیې وزارت او اقتصاد وزارت په مشترک ډول اولویت بندي شوي وړاندیزونه بررسي کوي، وروسته د مالیې وزارت له ډونرانو سره غونډې دایروي او د نه تکمیل شوو پروژو لېست وړاندې کوي.

او د دغو پروژو د تمویل لپاره د ډونرانو ملاتړ جلبوي. همدارنگه هغه وړاندیزونه چې وزارتونه او بودیجوي واحدونه یې ترتیبوي او د عادي بودیجې له لارې تمویل کیږي، هم په جزیاتو سره څېړل کیږي.

## د برنامې په اساس د بودیجې مراحل

د برنامې په اساس د بودیجې تهیه کول څومرحلې لري، چې ټول وزارتونه او بودیجوي واحدونه باید هغه عملي کړي، دغه مراحل په لاندې ډول تشریح کیږي:

**په بودیجوي واحدونو کې د برنامې په اساس د بودیجې تطبیق کوونکی ټیم (مربوطه وزارتونه)**

د برنامې په اساس د بودیجې د طرحه او جوړولو په پروسه کې لومړی قدم د اړوند وزارت په چوکاټ کې د بودیجې د تطبیق کوونکي ټیم له تأسیس څخه عبارت دی؛ دغه ټیم به د برنامې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اساس د بودیجې د تهیې او تطبیق او د عادي او انکشافي بودیجو د ادغام مسئولیت په غاړه ولري. دغه تطبیق کوونکی ټیم عمومي رائیسانو، یعنې د مالي پلان او پالیسۍ د اداراتو رائیسانو او همدارنګه د نظارت او ارزیابۍ د برخې مدیر او د اړتیا په صورت کې د بشري منابعو اړوند مدیر او همدارنګه هغو اداراتو څخه چې وکولای شي، چې د برنامې په اساس په بودیجه پورې اړوند جوړښت کې د برنامو د مدیرانو په جهت کې انتخاب شي او ارتباطي اشخاص د افغانستان د ملي انکشاف د ستراتیژۍ څخه وي. د دغه ټیم غړي باید خپلې منظمې غونډې دایرې کړي او خپل فعالیتونه له نږدې څخه د مالیې وزارت سره په ځانګړي ډول د بودیجې د ادغام او ریفورم له واحد سره همغږي کړي. دا د یادونې وړ ده، چې باید بودیجوي او انکشافي کارکوونکي د بودیجې په ترتیب کې د یو ټیم په شان برخه ولري. ۱۳۸۷ هـ ل کال تجربې څرګندوي، چې د دغه ټیم په بریالیتوب کې به د معین په واسطه رهبریت ډېر حساس وي. نوموړی ټیم باید یو له بل سره منطمې لیدنې ولري او په خپلو ټولو فعالیتونو کې د مالیې وزارت د بودیجې ریاست او په ځانګړي ډول د ادغام او ریفورم واحد په جریان کې واچوي.

**د بودیجوي واحد لپاره د ستراتیژیک هدف تعین (مربوطه وزارتونه)**

د برنامې په اساس بودیجې تطبیق کوونکی ټیم باید په لومړي قدم کې د خپل اړوند بودیجوي واحد پراخه ستراتیژیک هدف وټاکي. ستراتیژیک هدف مشخصوي، چې ولې بودیجوي واحد موجود دی او دغه بودیجوي واحد کوم اهداف تعقیبوي؛ دغه هدف همدارنګه دا مشخصوي، چې دغه بودیجوي واحد په اوږد مهال کې د افغانستان لپاره کوم کارونه غواړي چې ترسره یې کړي؛ یعنې د ټولنې لپاره کوم مورد نظر تغیرات غواړي، چې رامنځ ته یې کړي. ستراتیژیک هدف باید د حکومت د لومړیتوبونو او سکتوري ستراتیژیو سره جوړ راشي، په عین وخت کې دغه ستراتیژیک هدف په کافي اندازه پراخه او هر اړخیز وي، ترڅو د اړوند بودیجوي واحد ټول فعالیتونه او د مسئولیت ساحې را ونغاړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**٤,٨ جدول دستراتیژیکو اهدافو مثالونه**

| وزارت | ستراتیژیک هدف |
|---|---|
| دچارو اداره او د وزیرانو د شورا دارالانشأ | د قانون د حاکمیت د تامین او ښې حکومتوالۍ ته د رسیدو لپاره د افغانستان د اساسي قانون په ٦٤، ٧٥ مادو کې د مندرجو صلاحیتونو په تعمیل کې د اړینو اسانتیاوو د ایجاد په موخه جمهوري ریاست مقام ته د تخصصي او باکیفیته خدماتو عرضه |
| زراعت (کرهڼه) | د داسې زرعتي تولیداتو له دوامداره زیاتوالي څخه اطمنان حاصلول، چې وکولی شي، تر څو د داخلي او خارجي بازارونو اړتیاوې تأمین کړي |

**د برنامې د اساسي جوړښت طرحه او د اړوندې برنامې د اهدافو ټاکنه**

د ستراتیژیک هدف د تعریف او تعین څخه وروسته بعدي گام د برنامې جوړښت، طرحه او داړوندې برنامې د اهدافو ټاکل دي.

**د برنامې اهداف**

ستراتیژیک هدف د برنامې په داسې مشخصو اهدافو باندې وېشل کیږي، چې په جمعي توگه ستراتیژیک هدف ته د رسیدو لپاره مرسته وکړي، د برنامې هدف د بودیجوي واحد له څو مسئولیتونو څخه یو تعریف او تعینوي؛ همدارنگه د برنامې هدف څرگندوي، چې وزارت په راتلونکې کې څه غواړي چې ترسره یې کړي او کومه گټه ټولنې ته عرضه کوي. له همدې امله په برنامو پورې اړوند اهداف د ستراتیژیک هدف لپاره مشخص ترې برخې گڼل کیږي؛ په طبیعي توگه په برنامه پورې اړوند اهداف باید په عین وخت کې د اوږدمهاله ستراتیژیکو اهدافو او د افغانستان د ملي انکشاف د ستراتیژیکو لومړیتوبونو او یا د سکتوري ستراتیژۍ له لومړیتوبونو سره مطابقت او همغږي ولري. دبرنامې هدف ته د رسېدلو له لارې بودیجوي واحد خپلو ستراتیژیکو اهدافو ته د رسیدو لپاره یو قدم نږدې کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۵،۸جدول د برنامې د اهدافو بېلګه**

| وزارت | برنامهٍ | د برنامې هدف |
|---|---|---|
| اداره امور او د وزيرانو د شورا دارالانشأ | د دولت د فعاليتونو تحليل او همغږي | د دولتي اداراتو او وزارتونو د وړانديزونو او پالیسۍ ګانو تحليل او همغږي، چې د تائيد په موخه د جمهوري رياست مقام او وزيرانو شورې ته وړاندې کيږي او همدارنګه د مډرن مديريتي روشونو او وزارتونو او مستقلو اداراتو په سطحه پالیسۍ ګانو کې د اشاعې او همغږۍ له لارې د ښې حکومتوالۍ توسعه. د افغانستان د اسلامي جمهوريت د وزيرانو شورى د مجالسو تسهيل /تدوير، د فرمانونو، احکامو له تطبيق څخه نظارت، د وزيرانو شورى او انسجام مصوبات، دلويو ملي پروژو څخه نظارت |
| معارف | لومړنۍ زده کړې | د دولتي مکاتبو د هغه زده کوونکو لپاره چې د ۷ تر ۱۲ کالونو عمر لري، د پراخه او هراړخيزو، ښوونيزو او روزنيزو برنامو وړاندې کول |

**برنامه**

برنامه د خدماتو د عرضې له يو مرتبط ګروپ څخه عبارت ده، چې اهداف او مشترکه پاليسي تعقيبوي، او يا د يو وزارت يا بوديجوي واحد د خدماتو د عرضې له عمده ساحاتو څخه عبارت ده .

**۸ - ٦ جدول: د بوديجوي واحد د برنامو مثالونه .**

| وزارت | برنامې |
|---|---|
| د وزيرانو شورا دارالنشاء او چارو اداره | د دولت د فعاليتونو تحليل او همغږي |
| مصارف | ابتدايي تعليمات<br>ثانوي تعليمات<br>حرفه يي تعليمات<br>د معلمينو تربيت او روزنه |

**د هرې برنامې لپاره د مدير ټاکل**

حساب ورکونه بايد د هرې برنامې لپاره واضح مديريتي مسؤوليت ولري. پدې ترتيب د هرې برنامې لپاره بايد يونفر د مدير په حيث تعين او وګمارل شي. د برنامې مدير هغه شخص دی، چې د برنامې په چوکاټ کې د بشري منابعو، مصارفو او پايلو د حصول د اداره کولو مسؤوليت په غاړه لري. يو برنامه يواځې يو مدير درلودلی شي. له همدې امله ده چې دې مسئلې ته ترجيح

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکول کیږي، چې د برنامې جوړښت باید په پراخه تو گه د مؤسسې یا بنسټ د ادارې او تشکیلاتي جوړښت سره مطابقت ولري. له همدې امله د یوې ادارې رئیس کولای شي چې د هماغه مورد نظر ادارې په چوکاټ کې د اړوندې برنامې مدیر واوسي.

**د هرې برنامې لپاره باید داخلي کاري گروپ ایجاد او په کار وگمارل شي**

تطبیق کوونکي ټیم کولای شي، چې داخلي گروپونه انتخاب کړي؛ تر څو د هغه ریاست د برنامې د مدیر په غاړه وي او هغه خلک چې په مشخصه برنامه پورې د اړوندو پالیسي گانو سره اشنايي ولري او تر جیح هغو کسانو ته ورکول کیږي، چې د افغانستان د ملي انکشاف د ستراتیژي په سکتوري ستراتیژي باندې د هماغه برنامې اړوند کار کوي، د انکشافي بودیجې کار کوونکي چې په هماغه برنامه باندې کار کوي.

په اړونده برنامه کې خپل تخنیکي اشخاص او د عادي بودیجې کارکوونکي د دغه داخلي کاري گروپونو غړیتوب لرلای شي.

داخلي کاري گروپونه له کاري نظره د وزارت د فرعي برنامو، فعالیتونو د کړنلارو او قیمت گذارۍ شاخصونو او مشخصې برنامې د مصرف د ټاکلو په انکشاف او تهیه کې دخیل او په کار بوخت وي.

**د هرې برنامې لاندې د فرعي برنامو ایجاد او طرحه کول**

**او د کاري او منځ مهاله اهدافو ټاکل او د هغوی په اړه د توضیحاتو وړاندې کول**

هره برنامه باید په کوچنیو فرعي برنامو باندې وویشل شي. د فرعي برنامو مجموعه باید د یوې برنامې په چوکاټ کې په جمعي توگه د مشترک هدف د حصول په برخه کې مرسته وکړي.

**فرعي برنامې**

فرعي برنامې باید یو له بل سره د اړوندو فعالیتونود گروپ په حیث داسې ایجاد شي، چې د برنامې په چوکاټ کې د پالیسۍ عین هدف یا د لومړیتوب لرونکي هدف لرونکی وي. له بله اړخه یوه فرعي برنامه کیدای شي چې د اړونده وزارت د ټیټ اداري او تشکیلاتي جوړښت سره مطابقت ولري .

**کاري اهداف**

د هرې فرعي برنامې لپاره باید بودیجوي واحد معلومات په دوو جلا برخو، یعنې کاري یا منځ مهاله مشخصو اهدافو او هرې برنامې لپاره د فرعي برنامې د تشریح او توضیح سره تهیه او په لاس کې ورکوي. کاري اهداف باید د برنامې او فرعي برنامې ترمنځ ارتباط رامنځته کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاري یا منځ مهاله اهداف دهغو مشخص ترو لنډ مهاله او منځ مهاله اهدافو څخه عبارت دي، چې د برنامې اوږدمهاله هدف ته د رسیدو لپاره د قدمونو په حیث استفاده کیږي .

کاري یا منځ مهاله اهداف د حکومت په پالیسۍ پورې اړوند مشخص اهداف منعکس کوي، چې حکومت تر هرې برنامې لاندې د کومو کارونو ترسره کول غواړي؛ کاري یا منځ مهاله اهداف دا موضوع روښانه کوي، چې په موجوده منابعو سره په لنډ مهال کې کوم کارونه ترسره کولی شي. د کاري اهدافو د تعین پر وخت لومړنی کار باید د وزارت په ستراتیژیک پلان باندې نظر اچول وي. د کاري یا منځ مهاله هدف له بیان څخه هدف دادی تر څو د مالیې وزارت، حکومت او بالاخره پارلمان تشویق او ترغیب کړي چې ولې باید برنامه د تمویل لپاره انتخاب شي.

**۸. ۷. جدول: د فرعي برنامې مثالونه :**

| وزارت | برنامه | فرعي برنامه |
|---|---|---|
| د وزیرانو شورى دارالانشا او چارو اداره | د دولت د فعالیتونو تحلیل او همغږي | - د حکومت د برنامې انسجام او نظارت.<br>- د دولت د پالیسي ګانو تحلیل او همغږي .<br>- اداري |
| معارف | ابتدایي تعلیمات | - د پالیسي چوکاټ (د وزارت د مرکز مصرف، د ملکي ریاست او فرعي برنامو د تطبیق کوونکو کارکوونکو د معاشاتو په ګډون) .<br>- د منظمو متوسطه تعلیماتو عرضه<br>- د نویو مکاتبو تاسیس<br>- د نجونو لپاره د ځانګړو پروګرامونو دایرول . |

یوه برنامه معمولاً د څو فرعي برنامو څخه تشکیل شوې ده او یوه برنامه باید له (۲-۴) څخه زیاتې فرعي برنامې ونلري؛ مګر په ځینو حالاتو کې په ځانګړي ډول په کوچنیو مؤسساتو کې او یا د برنامې په اساس د بودیجې د معرفۍ په لومړیو کلونو کې یوه برنامه کیدای شي، چې یوازې یوه فرعي برنامه ولري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۸. ۸. جدول: په مجموع کې د برنامې بیلګې او د اړوندو اهدافو جوړښت .**

| د برنامې جوړښت | وزارت | برنامه | فرعي برنامې |
|---|---|---|---|
| | د وزیرانود شورا دارالانشا او د چارو اداره | د دولت د فعالیتونو تحلیل او همغږي | د حکومت د برنامې انسجام او نظارت |
| په هغه پوړي اړوند اهداف | **ستراتیژیک هدف** | **د برنامې هدف** | **منځ مهاله یا کاري هدف** |
| | د قانون حاکمیت او ښې حکومتولۍ ته د رسیدولو لپاره د افغانستان اساسي قانون د (٦۴، ۷۵) مادو کې د مندرجو صلاحیتونو په تعمیل د لازمو سهولتونو دایجاد په موخه د جمهوري ریاست مقام ته د تخصصي او باکیفیته خدماتو عرضه کول. | د وزارتونو او دولتي اداراتو د پالیسي ګانو او وړاندیزونو تحلیل او همغږي چې د تائید لپاره جمهوري ریاست او وزیرانو شورى ته وړاندې کیږي. او همدارنګه د وزارتونو او مستقلو اداراتو په سطح په اړوندو پالیسیو کې د مډرن مدیریتي روشونو د ترویج او خواصو له لارې د ښې حکومتولۍ پراختیا.<br>د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د وزیرانو عالي شورى د مجالسو تدویر د فرامینو او احکامو د تطبیق څخه نظارت، د انسجام او وزیرانو شورى مصوبات، د لویو ملي پروژو څخه نظارت د حمایوي خدماتو وړاندې کول لکه مالي خدمات اداري خدمات، د چارو عمومي ادارې د ریاست د نورو اصلي برنامو لپاره د بشري منابعو تهیه او تدارک د دغه ادارې د ستراتیژیک هدف د تحقق او برنامو د بهتر تطبیق په موخه د جمهوري ریاست مقام معاونینو او مشاورینو لپاره. | د وزیرانو شورا او عمده اقتصادي او اجتماعي پروژه د فرامینو احکامو او مصوباتو له تطبیق څخه نظارت. همدارنګه د لویو ملي پروژو انسجام او نظارت او د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د وزیرانو عالي شورى د مجالسو تسهیل . |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| د برنامې جوړښت | وزارت | برنامه | فرعي برنامې |
|---|---|---|---|
| | مصارف | ابتدايي تعليمات | د نجونو لپاره ځانګړي برنامې |
| په هغه پورې اړوند اهداف | ستراتيژيک هدف | د برنامې هدف | منځ مهاله يا کاري هدف |
| | لدې ځخه اطمينان حاصلول چې په افغانستان کې د مکاتبو زده کوونکو د خپلې پوهې او مسلکي مهارتونو سطح لوړه کړيده، تر څو وکولی شي چې خپل استعدادونه لوړ کړي او لدې لارې خپلې ټولنې ته خدمت وکړي. | (۷- ۱۲) کلنو ماشومانو لپاره د مساوي لاسرسي وړ او باکيفيته ښوونيز برنامو تامين . | په ابتدايي ښوونځيو کې د نجونو د اندازې ٪۵۰زياتوالی تر ۱۳۹۶ کال پورې. |

**د فعاليتونو ثبت او پيژندل [ عادي فعاليتونه او انکشافي پروژې**

**د هرې فرعي برنامې لاندې**

فرعي برنامې په خپل وار سره په فعاليتونو باندې ويشل شوي دي، چې فعاليت کيدی شي يوه عادي بوديجه وي يا انکشافي پروژه او يا د انکشافي پروژې اجزا وي.

**د هرې برنامې لپاره د کړنلارو او اهدافو د شاخص تهيه [ فرعي برنامه ]**

د برنامې په اساس بوديجې پورې د اړوندې تشريحي توجيه يا غير مالي سند د طرحې او ترتيب وروستۍ مرحله دهرې فرعي برنامې لپاره په کړنلارو پورې اړوندو معلوماتو له تهيه کولو ځخه عبارت ده. پدغه معلوماتو کې لاندې مواد شامل دي .

- ❖ په کړنلاره پورې د اړوند شاخص تعريف او تعين .
- ❖ په کړنلاره پورې د اړوند اهدافو شمير .

(c) ketabton.com: The Digital Library



❖ د کړنلارې د شاخصونو انتخاب .

په عمومي توګه درې ډوله شاخصونه د کړنلارې لپاره وړاندیز کیږي .

۱. د کمي پایلو ارزیابي (د بودیجوي واحد د فعالیتونو مستقیم کمیت یا پایله ).

۲. د پایلې یا کیفي تغیر ارزیابي (د برنامې یا خدماتو نهایي اغیزې یا ګټې) .

۳. د مؤثریت سنجش او ارزیابي (د محصول في واحد مصرف یا کمي پایله ).

## د محصولاتو یا کمي پایلو سنجش او ارزیابي

د کمي پایلې یا ګټې سنجش او ارزیابي توضیح کوي، چې کوم مشخص کارونه ترسره شوي دي او یا کوم خدمات د خلکو لپاره عرضه شوي دي؛ هغوی باید د یوې فرعي برنامې د منځ مهاله مشخص هدف سره ارتباط ولري. د محصول معیار یا د مستقیمې پایلې کمي پایله یا هغه واحدونه چې د یو فعالیت د سرته رسولو په پایله کې د یوې فرعي برنامې په چوکاټ کې یو فعالیت څرګندوي. بودیجوي واحدونه باید په ډله ییزه توګه د فرعي برنامې په سطحه په محصول یا کمي نتایجو پورې اړوندو معلوماتو راپور وړاندې کړي.

### د کمي پایلو بیلګې

معارف: د هغو شاګردانو شمېر چې په مکتب کې یې نوم لیکنه شوې ده .

روغتیا: د مورد نظر ګروپونو لپاره هیڅ ډول د ملاریا واکسین تطبیق او توزیع شوی ندی .

زراعت: د جلا ګټګوریو په واسطه د ورکړل شویو سبسایډي ګانو شمیر د اوبو لګولو له نوي سیستم څخه استفاده او د بزګرانو لپاره د هغو ښوونیزو برنامو شمیر چې په مورد نظر کال کې په لاره اچول شوې دي.

## کیفي تغیر یا ارزیابي

د پایلې یا کیفي تغیر معیارونه هغه حد څرګندوي، چې هغه ته د برنامې ستراتیژیک اهداف رسیدلي دي (په هغه مورد نظر سطحو کې چې بودیجوي منابع هغه ته ځانګړې شوي دي) هغوی همدارنګه د برنامې مؤثریت او اغیزې سنجش او معلوموي په بل عبارت، په کیفي تغیراتو یا پایلو پورې اړوند معیار معلوموي چې مورد نظر برنامې تر کومه حده پورې مطلوبه ګټه (پلان شوې ګټه) د ټولنې لپاره رامنځته کوي. په کیفي تغیراتو یا پایلو پورې اړوند معیارپه برخه کې لاندې مثالونه وړاندې کولی شو .

❖ د معارف په برخه کې: د هغو ماشومانو مشارکت (د سن په اساس) چې د ابتدایي تعلیماتو په برخه کې په زده کړه بوخت دي او د ښوونځیو د هغو شاګردانو اندازه او سهم چې د سواد زده کړې مربوط معیارونو ته رسیدل غواړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



❖ د صحت یا روغتیا په برخه کې: د هغو مړینو په اندازه کې کموالی چې د درملنې د مخنیوي وړ ناروغیو له امله رامنځته کیږي (د بیلګې په ډول قلبي ناروغۍ، د سږو سرطان او نور) په هلکانو(ماشومانو) پورې د اړوندو ناروغیو له امله په مړینو کې کموالی د ایچ. ای. وي / ایډز ناروغیو د ډولونو په پېښو کې .

**په مؤثریت پورې اړوند معیارونه**

په مؤثریت پورې اړوند معیارونه په عمومي توګه د في واحد محصول د قیمت په شکل افاده کیږي؛ پداسې حال کې چې په مؤثریت پورې اړوند معمول معیارونه په مالي منابعو یعنې في واحد قیمت متمرکز وي، په ځینو مواردو کې د محصولاتو یا في واحد محصول کې بهبود هم د مؤثریت د تغیراتو او بهبود سبب کیدای شي. په مؤثریت پورې اړوند معیارونه د محصولاتو سره نیږدې اړیکه لري او باید په یوه سطحه تر سنجش او ارزیابۍ لاندې ونیول شي.

له همدې امله د محصولاتو په څیر په مؤثریت پورې اړوند معیارونه د خوښې وړ حالت کې د فعالیتونو په سطحه یا له هغه پرته په جمعي توګه د فرعي برنامې په سطحه تثبیت او پیژندل کیږي. په مؤثریت پورې اړوند معیارونه په لاندې ډول ارایه کیږي د معارف په برخه کې :

د یو نفر شاګرد منځنی مصرف چې په مکتب کې یې نوم لیکنه شویده، د یو درسي ساعت د منځني مصرف اندازه .

د روغتیا په برخه کې: د یو توزیع شوي واکسین د قیمت منځنی حد هغه کتلوي معافیت چې د خلکو مورد نظر ګروپ ته ورکړل شوی وي .

**په کړنلاره پورې د اړوندو اهدافو تعین**

په کړنلارو پورې اړوند اهداف له هغو پایلو څخه عبارت دي، چې تمه کیږي له تخصیص شوو مالي منابعو څخه په لاس راشي. هغوی باید د محصول یا کمي پایلې د توافق وړ سطحې او یا تغیرات یا کیفي پایلې چې باید د راتلونکو دریو کلونو په ترڅ کې د برنامې او فرعي برنامې سره مطابقت کې په لاس راځي منعکس کړي په کړنلاره پورې اړوند اهداف باید د کړنلارې د واقعي او ستونزمونو سطحو ترمنځ موازنه څرګنده کړي. وروسته له هغه چې بودیجه د کابینې په واسطه منظوره او د توافق وړ وګرځیده په کړنلاره پورې اړوند اهداف باید ددې په خاطر چې څرګنده کړي، چې کوم کارونه د تخصیص شوو مالي منابعو په مصرف سره د سرته رسیدو وړ دي د تعدیل وړ ګرځي. په کړنلاره پورې اړوند اهداف باید د افغانستان د ملي انکشاف په ستراتیژۍ کې او یا هغه زماني چوکاټ چې تصمیم نیوونکو او نورو ته ددې امکان برابروي، تر څو کړنلاره په عیني او هر اړخیزه توګه بررسي کړي، تعین کړي (٦: ٢٦).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د فعالیتونو د قیمت ګذارۍ مرحله

قیمت ګذاري یعنې څه ؟ قیمت ګذاري د یو فعالیت یا پروژې د ټولو مصرفي اقلامو د مستقیمو او غیرې مستقیمو خبرو له مجموعې عبارت دی .

قیمت ګذاري د مالي تعهداتو له یو تقریبي تخمین څخه عبارت ده، چې باید واقعي مصارفو ته ډیر نیږدې وي او یا هم د هغه لړ لومړیتوبونو یو ګمان چې په راتلونکې کې باید ترسره شي؛ خو قیمتونه یې تر اوسه پورې دقیق معلوم نه وي. تخمیني قیمت باید کلي تشریحات په بر کې ولري، د کلي داستان بیانوونکي وي چې دا څه ډول جنس وي چې باید تدارک شي، د هغه قیمت څومره وي، په څومره اندازه تخمین شوې اندازه دقیقه وي .

او څه وخت به دغه جنس خریداري شي، جوړ شي، قرار داد شي او نور …

او دغه ټول معلومات د مقابل لوري لپاره د لیدو وړ وي یا له ورکړل شوو معلوماتو څخه استفاده پدغه قیمت ګذارۍ کې تخمیني وي.

## د برنامې په اساس د بودیجې د ارایې لپاره د قیمت ګذارۍ روش

دغه روش د مالیې وزارت په واسطه ایجاد شوی دی، تر څو له وزارتونو سره د ۱۳۸۸ هـ ل کال لپاره د برنامې په اساس د بودیجې په وړاندې کولو کې مرسته وکړي؛ پدې روش کې د قیمت ګذارۍ معلومات او اکسل صفحې ځای شوي دي، کولی شو چې د بودیجې د ارایې په فورمونو کې د برنامو په اساس هغوی داخل کړو.

(چې د برنامې په اساس بودیجوي دویمه شمیره متحدالمال یوه برخه ده) دغه روش او د اکسل صفحې چې په هغه کې ځای شوي دي، پدې مانا ندي چې دوباره د مالیې وزارت ته وړاندې شي؛ بلکې د هغو وزارتونو په داخل کې دي چې د محاسباتي چارو په موخه په امتحاني مرحله کې دي. له دغه روش څخه استفاده او د هغه د اکسل صفحات یواځې په اختیاري شکل یا د اړتیا مطابق دي او وزارتونو که چیرې د خپلې بودیجې لپاره مخکې بل روش جوړ کړی وي کولای شي چې له هماغه روش څخه استفاده وکړي (۴: ۱۴۲).

## د قیمت ګذارۍ سطحې

اړینه ده تر څو د قیمت ګذارۍ د دوو سطحو ترمنځ توپیر ته قایل شو .

I. ابتدایي قیمت ګذاري (مبدأ)

II. د نویو لومړیتوبونو په اساس قیمت ګذاري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ابتدایي قیمت ګذاري**

ابتدایي مصارف د خدماتو د فعلي سطحې لپاره د اړین مقدار پیسو د ځرنګوالي محاسبه (د کمي یا پایلو فعلي سطحه) او یا په بل عبارت د فعلي فعالیتونو سطحه (د چارو فعلي سطحه چې وزارتونه یې په حاضر حال کې لري) ده .

ابتدایي مصارف د هغو پیسو د مقدار د ځرنګوالي ارایه کوونکي دي، چې وزارت یې د راتلونکي کال لپاره په هغه صورت کې چې په وروستي کال کې د خپلو فعالیتونو د تداوم غوښتوونکي وي پرته د نویو دندو زیاتوالي او یا د کمي پایلو د اهدافو زیاتوالي ځخه وي .

د ۱۳۸۸ هـ ش کال لپاره د عمومي تعلیماتو د ابتدایي قیمت ګذارۍ بیلګه: که فرض کړو چې د خدماتو سطحه تغذیه نکړي. د بیلګې په ډول په مکاتبو کې د عینې زده کوونکو شمیر داسې چې ټول په ۱۳۸۷ هـ ش کال کې (۱۵۰۰۰۰۰) وي. پدې صورت کې د هغه رقم ځرنګوالی چې مونږ هغه ته په ۱۳۸۸ هـ ش کال کې اړتیا لرو. په هغه صورت کې چې د فعالیتونو کمي پایلو او کاري حجم عین سطحه وساتو (په ۱۳۸۸ هـ ش کال کې ۱۵۰۰۰۰۰ په شمیر زده کوونکي) په لاندې ډول محاسبه کوو .

❖ عادي بودیجه (د منظمو درسونو د ارایه کولو فرعي برنامه، د مکتبونو د چارو فعالیت).

❖ لومړی د ۱۳۸۸ هـ ش کال د تخمین شوې بودیجې اجراء د کاري بودیجې په برخه کې د (۱۵۲۰۰۰۰۰۰) افغانۍ په پام کې ونیسئ. په هغه صورت کې وزارت د بیلګې په ډول د (۵۰۰۰۰۰۰) په مبلغ سره د وسایلو خریداري ولري، نو کولای شو چې نوموړی رقم په قیمت ګذارۍ کې وضع کړو (ځکه یو وزارت هر کال وسایط خریداري کوي) پدې ترتیب سره د بودیجې مجموعه (۵۱۵۰۰۰۰۰۰) افغانۍ کیږي. فرضاً که چیرې د انفلاسیون نرخ په ۱۳۸۸ هـ ش کال کې د ۱۳۸۷ کال په مقایسه ۱۰٪ سلنه زیاتوالی ولري، نو د عادي بودیجې مجموعه (چې د ۱۰٪ سلنه انفلاسیون له امله زیاتوالی کوي) په ۱۳۸۸ هـ ش کال کې ۵٦٦٥۰۰۰۰۰ افغانۍ ده .

انکشافي بودیجه (د نویو ښوونځیو فرعي برنامه، د ۱۰۰۰۰ نویو درسي ټولګیو د جوړولو فعالیت) په هغه اندازه پروژه باندې مشتمل دی چې د ۱۳۸۸ هـ ش کال مهال ویش په اساس ادامه پیدا کولی شي. د بیلګې په ډول یواځې څو کلنې پروژې پکې شامیلیږي. د ۱۰۰۰۰ نویو درسي ټولګیو جوړول چې د هغوی کار له ۱۳۸٦ هـ ل کال څخه پیل او تر ۱۳۸۸ هـ ل کال پورې ادامه پیدا کوي او ددغې پروژې مصرف د تړل شوو قراردادونو مطابق ۲۵۰۰۰۰۰۰۰ افغانۍ کیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



❖ د ابتدايي بوديجې مجموعه د (۱۳۸۸ کال لپاره فرضاً که چیرې د خدماتو سطحه تغیر ونکړي د بیلګې په ډول عین تعداد زده کوونکي څرنګه چې په ۱۳۸۷ کال کې ۱۵۰۰۰۰۰ وي) دعمومي تعلیماتو د برنامې په برخه کې به ۸۱۶۵۰۰۰۰۰ افغانۍ وي .

نوټ: د اضافي خدماتو د تمویل لپاره لازمې منابع د یوې پروژې یا فعالیت له ابتدايي مصارفو څخه ندي بلکې باید د نویو لومړیتوبونو لاندې مشخص او توضیح شي (۳: ۴۷).

**د مبداء بوديجې (عادي بوديجې) د مصارفو د تعین مراحل**

لومړی ګام: د جاري کال عادي بوديجه چې د پارلمان په واسطه تصویب شویده په پام کې ونیسئ.

دویم ګام: په بوديجه کې هر ډول دایمي تغیرات چې د کال په جریان کې یې د مالیې وزارت سره توافق کړی وي (خصوصاً د کال د نیمايي بررسي) اضافه کړئ .

دریم ګام: د موجوده خدماتو په سطحه د پلان شوو مصارفو کموالی چې د جاري کال د برابرو شوو خدماتو له سطحې څخه ټیټ وي .

څلورم ګام: هغه عادي بوديجه چې د کال په جریان کې د انکشافي پروژو د تطبیق په پایله کې رامنځته کیږي (د حفظ او مراقبت مصارف) په پام کې ونیسئ .

پنځم ګام: د جاري کال (۲۵) کود مصارف منفي کړئ (د دفتري ماشین الات نقلیه وسایط، ځمکه او ساختمانونه ).

شپږم ګام: د راتلونکي کال لپاره په مصارفو کې د هر ډول څرنګندو تغیراتو د منعکس کولو په موخه د بوديجې تعدیل (په معاشاتو او نورو کې زیاتوالی ).

**د مبدأ بوديجې (انکشافي بوديجې) د مصارفو د تعین مراحل**

لومړی ګام: پلان شوې انکشافي بوديجه باید د بوديجې د سند مطابق په پام کې ونیول شي .

دویم ګام: د پروژې په پلان شوې بوديجه کې د اړتیا په صورت کې زیاتوالی [مثلاً د انفلاسیون نرخ ] ترڅو اداره وکولای شي چې د دغې پروژې لپاره ټاکل شوی هدف لاسته راوړي .

نوټ: هغه د جریان په حالت کې پروژې، چې د هغې ټوله بوديجه تعهد شوې ده او یا عملاً هغه قرارداد امضاء شوی دی، د هغه په بوديجه باندې د انفلاسیون نرخ اغیزه نکوي ؛ خو په هغه صورت کې چې د پروژې ټول مبالغ تعهد نشي باید مخکې له زیاتوالی څخه د ډونر او مالیې وزارت موافقه واخیستل شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریم گام :په هغو پلان شوو انکشافي مصارفو کې کموالی چې په راتلونکي کال کې د هغه ادامه توقف کوي.

لومړی پوښتنه: الف لاندې عادي بودیجه د ۱۳۸۸ هـ ل مالي کال په پیل کې د مالیې وزارت او یو بل وزارت ترمنځ موافقت شوی ؤ. (ټول ارقام په میلیون افغانۍ).

| اقتصادي کوډونه | ۲۱ | ۲۲ | ۲۵ |
|---|---|---|---|
| د بودیجې تخصیص | ۱۰۴.۲۱ | ۷۵.۲۴ | ۳۳.۷ |

د ۱۳۸۸ هـ ل کال په جریان کې په بودیجه کې یو شمیر تغیرات په لاندې ډول وارد شوي دي :

الف: د اړونده ادارې په تشکیل کې یو دایمي زیاتولی په توافق رسیدلی، چې دا د کال په اوومه میاشت کې د اجرأ وړ ده. د پاتې کال لپاره مصرف (۰ – ۲۰۰۰۰۰) افغانۍ تخمین شوی ؤ .

ب: یو برقي ټکان د کال په دویمه میاشت کې د یو شمیر کمپیوټرونو او الکترونیکي ماشین الاتو د تخریب سبب شو. د دغو خدماتو د ترمیم په موخه د مالیې وزارت د ترمیم او تبدیلۍ لپاره اضطراري (بیړنۍ) وجوه په لاندې ډول تخصیص کړل.

۲۲ کوډ ۲۵۰۰۰۰ او ۲۵ کوډ ۷۵۰۰۰۰

ت: د ادارې درې تنه کار کوونکي د مالي کال په پای کې (۰) تقاعد کوي او کوم بل کس او د هغه معاشات او پاتې حقوق ۲۵۰۰۰۰ افغانۍ کیږي .

ث: دولت موافقه کړې ده، چې د ملکي خدماتو د کار کوونکو معاشاتو ته زیاتوالی ورکړي چې دغه موضوع د کال په څلورمه ربع کې د اجرأ وړ گرځي د مالي کال لپاره مصارف (۰. ۹.۳) میلیون افغانۍ دي .

ج: د دارایۍ د کسب لپاره بودیجه لکه کمپیوتر، تجهیزات او وسایط ۹۳.۱۵ افغانۍ ده. د جاري برنامې باقي مانده وجود دفترونو د ترمیم او تجهیز لپاره ده، چې د ۲ میلیون افغانۍ د مالي کال لپاره او (۰ او ۵.۱) میلیون افغانۍ د یو کال لپاره اټکل شوي دي. د مبدأ بودیجې مجموعه د وزارت یا دریو ۲۲، ۲۱، ۲۵ اقتصادي کوډونو کې نومورې ادارې لپاره د ۱ کال (۱۳۸۹) لپاره سنجش کړئ ؟

**دویمه پوښتنه:** د کال په جریان کې د مالیې وزارت د معاشاتو رتبو د سیستم د تطبیق په موخه د (۱۰۰۰۰۰) افغانیو باندې موافقه کوي اما په راتلونکي کال کې له ۵ دفترونو څخه یوه اداره تړي اما د حفظ او مراقبت بودیجه د ۴ دفترونو لپاره دوه چنده کیږي. همدارنگه د ملکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدماتو د کارکوونکو په معاشاتو کې ۱۰ سلنه زیاتوالی د پارلمان په واسطه منظوریږي. د قیمت گذارۍ د مراحلو په پام کې نیولو سره د راتلونکي کال مبدأ بودیجه ترتیب کړئ ؟

**دریمه پوښتنه:** د کال په جریان کې د مالیې وزارت موافقه کوي، تر څو په همغه کال کې د تعمیراتو د حفظ او مراقبت مصارفو ته ۵۰ سلنه زیاتوالی ورکړي او له بله اړخه ډونرانو موافقه کړیده، تر څو د ۵۰۰۰۰ افغانیو په ارزښت د یو تعیمر د حفظ او مراقبت مصارف د خارجي بودیجې له لارې تمویل کړي پدې سربیره په تیرو کلونو کې د حفظ او مراقبت مصارف د ۲۰۰۰۰ افغانیو په اندازه نه تمویل شوي پاتې دي، دولت تصمیم نیولی ترڅو د ٦۰۰۰۰ په مبلغ افغانۍ د کارکوونکو د اضافه کارۍ لپاره ورکړي، د بودیجې د قیمت گذارۍ د مراحلو په پام کې نیولو سره د راتلونکي کال مبداء بودیجه ترتیب کړئ ؟

**څلورم پوښتنه:** په هغه صورت کې چې مبدأ بودیجه پرته له تغیر څخه باقي پاتې شي او د شتمنۍ خریداري هم په عین سطحه باقي پاتې شي د ۱۳۹۵، ۱۳۹۱، او ۱۳۹۲ هـ ل کال بودیجه به څومره وي .

۲۱ کوډ: ۴۴۰۰۰۰ - ۲۲ کوډ: ۳۲۰۰۰۰ - ۲۵ کوډ: ۰

| | ۱۳۸۹ مبدا قیمت | ۱۳۹۰ | ۱۳۹۱ | ۱۳۹۲ |
|---|---|---|---|---|
| مزد او معاش (۲۱کوډ) | | | | |
| اجناس او خدمات (۲۲ کوډ) د انفلاسیون په پام کې نیولو سره | | | | |
| د شتمنیو لاسته راوړل (۲۵ کوډ) د انفلاسیون په پام کې نیول سره | | | | |
| مجموعي قیمت | | | | |

پنځمه پوښتنه: د مالیې وزارت د انفلاسیون نرخ د لومړي دویم او دریم کلونو لپاره د انفلاسیون نرخ په لاندې توگه پیش بیني کړی دی :

| | |
|---|---|
| ۱ کال | ۱.۱ |
| ۲ کال | ۲.۱ |
| ۳ کال | ۳.۱ |

د لاندې معلوماتو څخه په استفادې داسې فرض کیږي، چې نور تغیرات اړین نه وي، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نومړي هر کال لپاره مبدأ بودیجه ترتیب کړئ ؟

| کوډ | مبداء | ۱ کال | | ۲ کال | | ۳ کال | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | د انفلاسیون نرخ | بودیجه | د انفلاسیون نرخ | بودیجه | د انفلاسیون نرخ | بودیجه |
| ۲۱ | ۹٦.۱۱۹ | | | | | | |
| ۲۲ | ۷۵.۲۴ | | | | | | |
| ۲۵ | ۵.۱ | | | | | | |
| مجموعه | ۲۱.۱٦۴ | | | | | | |

**د نویو لومړیتوبونو په اساس قیمت گذاري**

د نویو لومړیتوبو په اساس قیمت گذاري د هغو پیسو د مقدار د محاسبه کولو څرنگوالي څخه عبارت ده، چې وزارتونه د کمي پایلو د زیاتوالي په موخه یا په بل عبارت د اجرأ په خاطر د خپلو فعالیتونو یا د کار د سطحې لوړوالي لپاره هغې ته اړتیا لري. پدې کې کیدای شي چې کاملاً نوي فعالیتونه یا دندې او یا د موجوده فعالیتونو تمدید شامل وي. اما دا د نویو کارونو په حیث گڼل کیږي او د نویو منابعو غوښتنه کوي. لاندې اساسي مرحلې هم د اصلي بودیجې (عادي او انکشافي) او هم د خارجي بودیجې لپاره مطابقت کوي او همدارنگه د افغانستان د ملي انکشاف ستراتیژۍ د سکتور د قیمت گذارۍ لپاره هم تر استفادې لاندې نیول کیږي. یواځې هغه فرعي برنامې او فعالیتونو چې د دولت د اصلي بودیجې څخه تمویل کیږي او د مالیې وزارت له لوري تنظیمیږي؛ د بودیجې د وړاندیز یوه برخه کیدای شي تشکیل کړي. کله چې یوه برنامه په فعالیتونو باندې وویشل شي، د هر فعالیت د قیمت گذارۍ لپاره ابتدایي پړاوونه په لاندې ډول دي .

**د ۱۳۸۸ هـ ل کال د بودیجې قیمت گذاري**

لومړی مرحله: د دې تشخیص او پیژندل چې کوم شیان مخکې ترسره شوي دي د بیلگې په ډول کمي پایلې یا وړاندیز شوي خدمات .

- د کمي پایلو مثال (مستقیم مصارف) سړکونه، واکسیناسیون، د اوبو سیستمونه او د فاضلاتو تخلیه، روزل شوي معلمین او د روزل شوو افرادو شمیر .

(c) ketabton.com: The Digital Library



❖ د پالیسۍ او پلان ګذارۍ د ارایه شوو خدماتو مثال، تدارک او مالي چارې.

دویمه مرحله: د دغو کمي پایلو او خدماتو په هر في واحد قیمت کې د مستقیم قیمت پیدا کول. مستقیم قیمتونه له هغو قیمتونو څخه عبارت دي چې کولای شو، هغه په یوه کمي (مقداري) پایله یا یو فعالیت باندې مشخص کړو.

او په مستقیمه توګه یې په اسانۍ سره له اړوندو فعالیتونو سره په ډیر دقت سره تعین کړو. دغه قیمتونه د مقداري پایلو د تغیر په تناسب تغیر کوي.

❖ مثال د في کیلو متر سړک د جوړولو د قیمت د مستقیمو کمي پایلو قیمتونه، دیو واکسین د تطبیق قیمت، د کلیو د في سیستم فاضلو اوبو قیمت، د هر معلم لپاره د زده کړې ورانډې کولو قیمت د هر ورکشاف د دایرولو قیمت (لومړی د جمعه آوري شوو معلوماتو اوسط قیمت ارزیابي کوو وروسته کولی شو د هغو په پام کې نیولو سره په مختلفو حالاتو کې ددویم لپاره قیمت تعینوو) .

مثال د قیمت د پیدا کول ارایه شوي خدمات.

۱ – د خدماتو د تامین لپاره مزد او معاشات .

۲ – هغه اړین اجناس او خدمات.

۳ – پانګه یا اضافي دارایي.

په هغو مجموعي مصارفو کې د پخوانیو موجوده معلوماتو څخه في واحد مستقیم مصارف چې د ځینو پایلو په برابرولو کې شامل وي اخیستل شوي دي .

د بیلګې په ډول په لاندې جدول کې په یوه کلي کې د اوبو رسولو او د روغتیا د خدماتو یوه بیلګه څرګندوي .

**۸. ۹ جدول: د قیمت ګذارۍ بیلګه .**

| فعالیت | د کلیو شمیر | في واحد مصرف | مجموع |
|---|---|---|---|
| د څا کیندل | ۱ | ۲۰۰۰ | ۲۰۰۰ |
| بیت الخلا | ۳ | ۷ | ۲۱۰ |
| د چاپیریالي روغتیا تعلیمات | ۵ | ۱۷۵ | ۸۷۵ |
| ښوونیزه برنامه | ۱ | ۲۵ | ۲۵ |
| مجموع | | | ۳۱۱۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دریمه مرحله:**

ددغو مقداري پایلو غیر مستقیم قیمت او خدمات مصرف گذاري کړئ .

د دغو مقداري پایلو غیر مستقیم قیمت او خدمات مصرف گذاري کړئ. غیر مستقیم قیمت هغو مصارفو ته ویل کیږي، چې مستقیماً یو یې کمي پایلې یا فعالیت ته حساب ورکوونکي نه وي، دا د ثابتو مصارفو له جملې څخه دي او د کمي پایلې د تغیر په نتیجه کې تغیر نکوي .

په یوه مشخص فعالیت کې د هر کارمند ۱۰۰ سلنه وخت چې د وزارت په واسطه اجرأ کیږي، ټاکل کیږي له همدې امله د فعالیتونو د تعین په وخت کې باید یو فعالیت په داسې توگه تشریح کړئ، چې ټول هغه کارکوونکي چې په یو واحد / اداري ریاست کې کار کوي په یوه فعالیت کې وټاکل شي. پدې صورت کې یو مالي کارکوونکی په هر فعالیت کې د لگول شوي مصرف مجموعه په هغه فعالیت کې د یو کارگر د مصرف شوي معاش سره په جمع کولو سره تشخیصوي. که چیرې د مصرف د واحد د محاسبه کولو لپاره اساس کال ۱۳۸۷ هـ ش وي (که چیرې د مخارجو واحد په ۱۳۸۷ هـ ش کال کې د موجوده معلوماتو په اساس محاسبه شي) نو وزارتونه د ۱۳۸۸ هـ ل کال لپاره د متوقعه انفلاسیون اندازه د ۱۳۸۷ هـ ل کال په مقایسه (چې باید د مالیې وزارت په واسطه د مصرف کذاری په جلا رهنمود (لاربنود) کې تهیه شي) واردوي او ددغو دوو رقمونو په ضربولو سره د ۱۳۸۸ هـ ل کال في واحد مصارف محاسبه کوي (د کال في واحد مصارف د ۱۳۸۷ هـ ل کال پولي انفلاسیون اندازه .)

## د بودیجې د ترتیب مرحله

د بودیجې د ترتیب مرحله چې د اړوندو حسابونو د جدول او بودیجې د ادغام په کوډ کې د مستقیمو او غیر مستقیمو مصارفو مطابقت په برکې نیسي، د بودیجې د ادغام په برخه کې په خپلو اړوندو فرعي برنامو کې د بودیجې فعالیتونه کیدای شي یو ځای کړي. فرعي برنامې په برنامو او برنامې به د وزارت په بودیجه کې یو له بل سره یو ځای شي. دغه کار په ۲ شمیره متحدالمال بیلگه کې د هر فعالیت په تړاو د مفصلو معلوماتو په داخلیدلو سره تکمیلیږي. او د یو ځای شوو مصارفو څخه لومړی په یوه فرعي برنامه بیا د برنامې او وروسته د وزارت په اساس اطمینان (ډاډ) ورکوي. (۲) شمیره متحدالمال بیلگه، د برنامې په اساس بودیجې د مفصل وړاندیز د ترتیب لپاره له کاري پلان سره یوځای د مالیې وزارت په واسطه توزیع کیږي. د پام وړ وخت او انرژي ساتل کیږي د اکسل له فورمو څخه په استفادې سره د قیمت گذارۍ په اُولگو کې د معلوماتو د وړاندې کولو په موخه او همدارنگه د قیمت او بودیجې د تفصیلي پاڼې او بالآخره برنامې په اساس بودیجې د تفصیلي پاڼې ترمنځ ارتباط رامنځته کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بودیجې تخصیصات او دمصارفو اجرأء

څرنگه چې ذکر شول د برنامې په اساس د بودیجې تخصیصات له یوه اړخه د وزارتونو د بودیجې او د افغانستان د ملي انکشاف ستراتیژۍ او ستراتیژي گانو او له بله اړخه د اجرأئیوي اهدافو ترمنځ د ارتباط له تامین څخه عبارت دي، که څه هم چې بودیجه یوه مؤثره وسیله ده، خو د دې اړتیا ده چې په ډیر دقت سره تطبیق شي، حتی که چیرې د دقیقې بودیجې د ایجاد لپاره زیاته هڅه هم وشي، دغه بودیجې د یو علمي عمل په ډول پرته لدې چې مصرف لاندې برخه د برنامې په اساس د بودیجې د تطبیق او هغو مصارفو د څیړنې په برخه کې چې د افغانستان د مالیې وزارت له لوري د برنامې په اساس طرحه شوي دي مهم قبلې شرایط تشریح کوي:

**د حساباتو او مالي چارو د ادارې د سیستم جدول**

بودیجه د بودیجې د تطبیق لپاره داسې یو سیستم له لوري ملاتړ ته اړتیا لري، چې د جوړښت او تفصیلي سطحې لرونکی وي؛ چې د بودیجې د تفصیلاتو له سطحې سره مطابقت ولري او دغه سیستم باید په ټولو وزارتونو او ولایاتو کې پراخوالی موندلی وي دغه سیستم په افغانستان کې د AFMIS یا د افغانستان د مالي چارو د ادارې د سیستم په نامه یادیږي.

د AFMIS په شان د مالي او معلوماتي چارو ادارې سیستم اساساً د ابتدایي معلوماتو د لاسته راوړلو په موخه د حساب ورکونې اصلي سیستم دی. د افغانستان د مالي او معلوماتي چارو اداره په ۱۳۸٦ هـ ل کال کې تازه رامنځته شوه او د نویو او ادغام شوو حساباتو د لاسته راوړلو په داسې جوړښت باندې تطبیق شوه چې د برنامې او برنامې په اساس د بودیجې په امتحاني مرحله کې د نویو وزارتونو د برنامې د جوښت لپاره کوډونو په برکې نیوونکې ده .

**تخصیصات**

د برنامې په اساس بودیجې په پروسه کې ټول شامل وزارتونه اړ وي، ترڅو په ټولو هغو ولایاتو کې چې نوموړي فعالیتونه ترسره کیږي د ربع وارو تخصیصاتو ترتیب د برنامو، فرعي برنامو او فعالیتونو په اساس تطبیق کړي .

د هرې برنامې لپاره بودیجه مشخصه کیږي او B۲۷ فورم په جلا توگه د هرې برنامې لپاره خانه پُري کیږي، د B۲۰ فورم د B۲۷ فورم د ضمیمې په شکل استفاده کیږي، د B۲۰ وجوه باید د خزانو ریاست لپاره په B۲۷ فورم کې د تصویب شوي مقدار سره مساوي وي تر څو هغه قبول کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### د تخصیصاتو پروسیجر

د هغه پروسیجرونو او قواعدو له مجموعې څخه عبارت دی چې ادارو ته د بودیجې د اجراء توان ورکوي .


### د تخصیصاتو فورمې

هغه فورمې دي چې د عادي او انکشافي بودیجو د تخصیصاتو په موخه استفاده کیږي.

**د ۸. ۱۰. جدول: د عادي او انکشافي بودیجې د تخصیصاتو فورمې**

| عادي بودیجه | انکشافي بودیجه |
|---|---|
| ب ۱۰ فورمه | ب ۲۷ فورمه |
| ب ۲۰ فورمه | ب PCS فورمه |
| ب ۲۳ فورمه | |
| ب ۲۷ فورمه | |

### د عادي بودیجې د تخصیصاتو دوران یا سایکل





### د انکشافي بودیجې د تخصیصاتو دوران یا سایکل

۸. ۴. شکل: د انکشافي بودیجې د تخصیصاتو سایکل

(c) ketabton.com: The Digital Library






## د ۲۰. ۷. په عموم کې په دولتي سازمانونو کې د برنامې په اساس د بودیجې د پلي کولو ستونزې

❖ د منابعو د تخصیص وړاندیزونه په دوامداره توګه د غیر واقعي او موجوده منابعو په عوض د بودیجې پرته د قانوني فرامینو په اساس صورت نیسي .

❖ د اجرأتو د سنجش نه مشخصوالی، پرته له وخته تعین او ارایه کیږي او د هغه په برخه کې ستونزې پارلمان، حکومت او خلکو ته رامنځته کوي.

❖ د پالیسۍ لومړیتوبونه په درست ډول ندي تثبیت شوي، یعنې د بودیجې واحدونه او مالیې وزارت په درست ډول نه پوهیږي، چې د بودیجوي واحدونو کومې برنامې په لومړیتوب کې ځای لري او څه ډول د حکومت د اقتصادي او اجتماعي انکشاف له ستراتیژۍ او په تړوله کې د پالیسۍ اهداف د افغانستان د ملي انکشاف له ستراتیژۍ سره مطابقت کوي.

❖ د پالیسۍ د لومړیتوبونو ترمنځ ارتباط او همدارنګه د منابعو له تخصیص سره اړونده تصامیم واضح او څرګند ندي .

❖ پدې برخه کې د مالي شفافیت نشتوالی، یعني د حکومت د برنامې، کړنلارو، ستراتیژي ګانو او لومړیتوبونو د بودیجې په تهیه او انکشاف پورې اړوندو چارو په باره کې د خلکو او پارلمان د لړو بحثونو دایرول د تخنیکي کار کوونکو کموالی په ځانګړې ډول د بودیجې د ترتیب او

(c) ketabton.com: The Digital Library



تحلیل په برخه کې .

- د کافي ظرفیت نشتوالی .
- د اړوندو اداراتو د لوړ رتبه اراکینو له لارې د سیاسي ملاتړ نشتوالی.
- د ریاستونو او بودیجوي واحدونو ترمنځ ضعیفه همغږي .
- د فورمو د توضیحي برخې د تکمیل په برخه کې ستونزې او کمپیوټر ته د مالي اداراتو د کار کونکو نه لاسرسی.
- بې ثباته او په بهرنیو مرستو متکي اقتصاد.
- د ستراتیژیک پلان عدم تطبیق، د پلان ریاست د همغږی نشتوالی .
- د اداراتو په تصمیم نیونو او پلان جوړولو کې د ډونرانو د دخالت له امله د څو سیستمي مدیریت شتون او د بودیجې د استماع په خت کې د بودیجې کمیټې له لوري د تعدیلاتو د تحلیل تجزیې او ارزیابی نشتوالی .

## ولایتي بودیجه جوړونه څه شی ده ؟

ولایتي بودیجه جوړونه د مربوطه وزارتونو پواسطه د منابعو د تخصیص څخه عبارت ده، چې د ملي انکشاف د ستراتیژی په نظر کې نیولو سره د ولایت په اساس د وزارتونو په سکتوري ستراتیژی کې وروسته د ولایتي مقاماتو د مشورې او د محلي اړتیاوو د ارزیابی څخه په ملي او ولایتي سطحه انعکاس مومي.

## د ولایتي بودیجه جوړونې پس منظر

په ۱۳۸۵ هـ ل کال کې د مالیې وزارت تصمیم ونیوه، تر څو د ۱۳۸٦ هـ ل کال بودیجې د ترتیب په موخه امتحاني پروژه د بودیجې د ترتیب پیاوړي کولو، مرکزي حکومت او ولایتي اداراتو د خدماتو د وړاندې کولو د برخې د اجرأ او راپور ورکولو د پیاوړي کولو په موخه تطبیق کړي. د غه امتحاني پروژه د ۱۳۸۵ هـ ل کال د اسد په میاشت کې پیل شوه او د بودیجې لومړی متحدالمال یې د ۱۳۸۵هـ ل کال د عقرب په میاشت کې په امتحاني مرحله کې شاملو ولایاتو ته ولیږله د افغانستان حکومت د ولایتي بودیجې جوړونې سیستم د ۱۳۸٦ هـ ل کال په بودیجه کې په تدریجي توګه په دریو وزارتونو (معارف، زراعت او کلیو پراختیا) او دریو ولایتونو (بلخ، کندهار، پنجشیر) کې تطبیق کړه، په ولایاتو کې د دغې برنامې له تطبیق څخه هدف دادی تر څو ولایتي مقامات پدې واتوانیږي، چې د بودیجې د کنترول لاندې ساحې ترتیب، اجرأ او د بررسی لاندې ونیسي.

وزارتونه یواځې د محلاتو د انکشاف د پروژو د اړتیاوو رفع کولو په خاطر له ولایتي مقاماتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او مرسته کوونکو هیوادونو او مؤسساتو سره اړینې مشورې ترسره کوي.

د ۱۳۸۷ هـ ل کال په ولایتي بودیجه جوړونه کې ۷ نور ولایتونه (فاریاب، بدخشان، هرات، عزني، بامیان، لوګر، او ننګرهار) او څلور وزارتحانې مالیه، اوبو او انرژۍ، او ټولګټو) هم شامل شول .

ولایتي بودیجه جوړنې په پروسه کې اړوندو وزارتونو د خپلو بودیجوي سقفونو د معیارونو په پام کې نیولوسره د ولایاتو په تفکیک سره وویشل او د هر ولایت بودیجوي سهمیه یې ولایتي دفاترو ته ولیږله، وروسته ولایتي دفترونه خپله سکتوري بودیجه د خپلو اړوندو پروژو په تفکیک سره تنظیموي او د اړینو مسودو د اخیستلو په موخه یې د ولایتي انکشاف کمیټې ته لیږي. وروسته ولایتي دفاتر خپله ولایتي بودیجه د ولایتي انکشاف د کمیټې له وړاندیزونو سره یو ځای دوباره یې خپل مربوطه وزارت ته استوي. اړوند وزارتونه له تجدید نظر او په ولایتي بودیجه کې له اړینو تغیراتو راوستلو وروسته، د هغې نهایي مسوده د مراحلو بشپړولو په خاطر مالیې وزارت ته لیږي (۹: ۱٦) .

## د ولایتي بودیجه جوړونې اهداف

بودیجه جوړونه د یو شمیر لاندې اهدافو دتامین په موخه په لاره اچول شویده :

۱ – له دې څخه ډاډ حاصلول چې ولایات د بودیجې په ترتیب کې په مهمو عناصرو بدل شوي دي او د ولایاتو انکشافي اړتیاوې په بودیجه کې په ښه شکل منعکسې کیږي .

۲ – له دې څخه ډاډ ترلاسه کول، چې د خدماتو په وړاندې کولو کې د اسانتیاوو برابرولو په موخه د مالي منابعو تخصیص په عادلانه توګه صورت نیسي .

۳ – له دې څخه ډاډ حاصلول، چې د لاسرسي وړ مالي منابع د ولایاتو لپاره په مؤثره ډول د استفادې وړ ګرځي او د کال په جریان کې د تخصیصاتو انتقال د مالي چارو او عامه مصارفو اداري د قانون او مالي چارو او عامه مصارفو د تنظیم د مقررې تابع وي .

۴ – د پالیسي ګانو په ترتیب او نظارت کې د حکومت او کابینې سره د مرستې په موخه د ولایاتو په اساس د حکومت د خدماتو د کیفیت د اندازې تعین، او سر بیره پردې دغه چاره کولی شي، چې په ولایاتو کې د حکومت شتون ثابت کړي او دامنیت ثبات بهتر شي .

۵ – د بودیجې د ترتیب اجزا او راپورونو ورکولو په پروسه کې د ولایتي انکشاف کمیټو په شاملولو سره هڅوی ته د زیات صلاحیت ورکول .

٦ – له دې څخه ډاډ تر لاسه کول، چې د محلي انکشاف مسایل د پام وړ ګرځی او د افغانستان د ملي انکشاف د ستراتیژۍ سره ارتباط ورکول کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٧ – د فقر له منځه وړلو د منځمهاله او اوږدمهاله اهدافو او همدارنګه د پرمختګ شاخصونو او منځمهاله اهدافو سره د ولایتي بوديجې جوړونې تړاو ورکول.

## دولایتي بوديجه جوړونې کړنلاره

١ – وزارتونه د خپلو بوديجو تعین شوی سقف په ولایاتو باندې ویشي .

٢ – د وزارتخانو اړونده ریاستونه د بوديجې د سقف له پیدا کولو وروسته هغه بررسي کوي او خپله بوديجه ترتیبوي .

٣ – وروسته د ولایتي ریاستونو په واسطه ترتیب شوی سقف د ولایتي انکشاف کمیټې ته د تصویب په موخه لیږي.

٤ – باالاخره د ولایتي بوديجې وړاندیز اړوندو وزارتخانو ته ځي او د وزارتونو په واسطه ارزیابي او بررسي کیږي او له توحید وروسته مالیې وزارت ته ځي .

## د ولایتي بوديجه جوړونې لاسته راوړنې

د دې حقیقت په شتون کې چې د بوديجې د ترتیب په جریان کې ډیرې ستونزې شتون لري، د دغې امتحاني پروژې لومړنۍ پایلې هڅوونکې دي :

١ – اړونده وزارتونه د دې توان لري، تر څو ملي بوديجوي تخصیصات د ولایاتو او برنامې په اساس یو له بل څخه جلا کړي .

٢ – ټول وزارتونه مخکې د ولایتي تخصیصاتو له ترکیب څخه مستقیماً د خپلو ولایتي ادارو سره مشورې ترسره کوي. (١٤٢)

٣ – ټولې ولایتي ادارې خپل بوديجوي وړاندیزونه خپلو اړوندو وزارتونو ته استوي.

٤ – د ټولو وزارتونو ولایتي بوديجې د منظورۍ په موخه د ولایتي انکشاف شورا ګانو ته وړاندې کیږي .

٥ – د ولایتي انکشاف شورا ګانې خپل نظریات پدې برخه کې ارایه کوي چې د دوی لیوالتیا د ولایتي بوديجه جوړونې د پروسې په پراختیا کې څرګندوي .

## د ولایتي بوديجه جوړونې ستونزې او ننګونې

الف: د ترلاسه شوو تجربو څخه د ولایتي انکشاف د پلانونو د ترتیب له امتحاني مرحلې څخه د ولایتي بوديجې جوړونې لپاره اساسي شرط ګڼل کیږي .

په دریو ولایاتو کې د تطبیق وړ پلانونه د ستراتیژیک دید د نه شتون په صورت کې د امتحاني مرحلو درلودنکي دي او د افغانستان د ملي انکشاف له ستراتیژۍ سره یې مطابقت نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



درولود .

ب: مخکې له دې چې بودیجه جوړونه په بریا سره عملي شي، د برنامې په اساس بودیجه جوړونې او د بودیجې د ادغام په برخه کې باید زیات پرمختتګ رامنځته شی .

اړونده وزارتونه باید د برنامو څخه د نظارت په موخه ولایتي ثانګه پرانیزي او د اړینو برنامو تطبیق د وزارتونو د ولایتي ریاستونو د جوړښت د مکمل تغیر غوښتنه کوي.

ج: د ظرفیت لوړوالي پورې اړوند مسایل باید د ولایاتو په محلي ریاستونو او ولایتي دفترونو کې د پام وړ وګرځي (۹: ۱۸).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لنډیز

د برنامې په اساس بودیجه جوړونه د افغانستان د بودیجې د پلانګذارۍ ترتیب او ارایه کولو وسیله ده، پداسې ډول چې د بودیجې منابعو او د پالیسۍ د پایلو ترمنځ څرګند تړاؤ وښیي چې دولت د هغه غوښتونکي دی .

د برنامې په اساس بودیجه جوړونه یوه کاري پروسه ده، چې د هغه په ذریعه د حکومت فعالیتونه د برنامې په داخل کې تنظیم کیږي. د برنامې په اساس بودیجه جوړونه کلي هدف د وزارتونو او بودیجوي واحدونو لپاره دادی، چې دوی دا څرګنده کړي چې د هغوی د بودیجې مصرف د وزارت / بودیجوي واحد له اهدافو او مقاصدو سره مطابقت لري او کنه او د هغه له لارې د افغانستان د ملي انکشاف د ستراتیژۍ له چوکاټ سره مطابقت لري او که نه. د برنامې په اساس د بودیجه جوړونې مفهوم او مفکورې ته د لومړي ځل لپاره په خصوصي برخه کې انکشاف ورکړل شوی دی او د هغه کمپني ګانو په واسطه معرفي شوي ده چې د هغوی هدف د ګټې لاسته راوړل ؤ.

او د لومړي ځل لپاره په ۱۹٦۰ م کال کې د امریکا متحده ایالاتو په دفاع وزارت کې تطبیق شوه. په ۱۳۸۵ هـ کال کې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د برنامې په اساس بودیجه جوړونه معرفي کړه، تر څو د خپلې پالیسۍ ستراتیژیک اهداف او لومړیتوبونه د خپلې کلنۍ بودیجې سره مرتبط کړي او د وزارتونو عادي او انکشافي بودیجه مدغمه کړي. د افغانستان په دولت کې په دودیزه بڼه وزارتونه او بودیجوي واحدونه د بودیجې جوړونې له پروسې څخه د مصرفي اقلامو پواسطه د بودیجې مصرف لازم بولي .

په اوس وخت کې د وزارتونو مصارف د کودونو په اساس (۲۱ مزد او معاشات، ۲۲ اجناس او خدمات، ۲۵ د شتمنیو لاسته راوړنه) په کټګوریو ویشل شویدي. هر یو له دغه کودونو څخه په فرعي کودونو ویشل شوي دي چې د مصارفو د ډول په اړوند زیات جزیات وړاندې کوي (۱۴۴).

په افغانستان کې د بودیجې پروسه یوه سلسله کمزوري ټکي لري، دغه محدودیتونه په لاندې ډول دي: د افغانستان د ملي انکشاف ستراتیژي سره ارتباط، د بودیجې او هیواد د اهدافو او لومړیتوبونو ترمنځ د ارتباط او پیوند نشتوالی، د عادي او انکشافي بودیجې جلا ترتیب او د بودیجې په تخصیص کې د واضحو او مشخصو اهدافو، مقاصدو او پالیسي ګانو سلسله مراتب تعقیبوي. پروسه د دولت په مجموعي اهدافو سره پیل کیږي د منځ مهاله مالي پلانګذارۍ پروسه، د ادارې ستراتیژیک اهداف، برنامې فرعي برنامې، د پروژو د دواړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



فعالیتونو عادي او انکشافي ادغام هغه کلیدي عناصر چې د برنامې په اساس بودیجه جوړونه کې ورته اړتیا ده عبارت دي له: د بودیجې د تصویب لپاره د اساس په حیث د برنامو ټاکل، برنامو ته د مستقیمو برخو څخه د جهت ورکولو تغیر، د تخصیص د یو سیستم د اسانتیا لپاره اصول د اهدافو د معلومولو په خاطر د وزارتخانو په فعالیت اچول او د خپلو لاسته راوړنو په موخه د فعالیتونو او منابعو تطبیق، د هغه په مشروع تعهداتو کې مساویانه قرار ورکول (ټاکل) او په یوه ردیف کې د شفافیت او حساب ورکونې راوستل. ضمناً هغه مهم اسناد چې د یوې برنامې د جوړښت د ترتیب لپاره مهم دي د لومړیتوب لرونکو برنامو یا د افغانستان د ملي انکشاف ستراتیژۍ(ANDS)څخه عبارت دي، د وزارت ستراتیژیک پلانونه او د پلانګذاري او نور کاري اسناد (۱۴۵).

ملي متداوله ستراتیژي، د اړوند وزارت ستراتیژي، منځ مهاله چوکاټ د محاسبې سیستم او یا د حساباتو جدول. خود کاره مالي اداري سیستم یا (AFMIS) د کنترول او تفتیش سیستم هغه داخلي اجزاوې دي، چې د برنامې په اساس د بودیجې د تطبیق لپاره اړیني دي. د برنامې په اساس بودیجه جوړونه ډیرې ګټې او ښیګڼې لري او حکومت ته دا امکان ورکوي، تر څو موجوده مالي منابع د خپل ځان لپاره مؤثرې مصرف کړي. دغه ګټې عبارت دي له: د برنامې جوړونې بهبود او د عملیاتو کنترول، د بودیجې د براورد او تصویب تجدید نظر، له خلکو سره د دولت د اړیکو ښه والی، د برنامې اساس بودیجه د عملیاتو په اجرأ باندې نظارت او دولتي سازمانونو د فعالیتونو همغږي کول آسانه کوي. د برنامې په اساس بودیجه د دولتي دستګاوو د مصارفو په براورد کولو کې د عدم تمرکز یو ډول سیستم رامنځته کوي. د وزارتونو د اهدافو او لومړیتوبونو ترمنځ پیاوړي او واضح پیوند دا ډول مختلفې بودیجې سره یوځای او توحید کوي د مالي منابعو اداره د وزارت په داخل کې پیاوړي کوي، د بودیجې د تصویب ډیره شفافه پروسه د خارجي بودیجې څخه زیاته اندازه مالي وجو د داخلي بودیجې لوري ته جلب کوي. افغانستان د برنامې په اساس په بودیجه جوړونې پورې د اړوندو مشکلاتو سره د مخامخ کیدو په صورت کې د مقابلې پر وخت یواځې او په فرد پورې منحصر ندي، زیاتره هغه هیوادونو چې د برنامې په اساس یا پایلو په اساس د بودیجې د جوړونې د تطبیق په کار یې پیل کړي، له ورته ستونزو سره مخامخ شوی وي. د برنامې په اساس د بودیجې تطبیق یو اوږد مهاله تعهد دی او عموماً د برنامې په اساس بودیجه جوړونې د پشپړو اوصولو او ښیګڼو تحقق څو کاله وخت په برکې نیسي (۱۴۶).

همدارنګه د بودیجې جوړونې یو بل ډول یعنې ولایتي بودیجه جوړونه د ولایاتو په واسطه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



منابعو په تخصیص باندې اطلاق کیږي، چې د اقتصادي، اجتماعي، سیاسي او ولایاتو جغرافیایي لومړیتوبونو د وضعیت د بیانولو یوه ډیره مهمه وسیله ده .

په اکثره حالاتو کې ولایتي بودیجه جوړونې کړنلارې د هیواد په داخل کې د کلیو او سیمې د کرهنې د انکشاف په برخه کې وي. د ولایتي بودیجې جوړونې ستونزې د استراتیژیک دید په پام کې نه نیولو د امتحاني مرحلې څخه عبارت دي او د افغانستان د ملي انکشاف له ستراتیژي سره مطابقت نلري. برنامه د وزارتونو د ولایتي ریاستونو د جوړښت د بشپړ تغیر غوښتنه کوي .

د ولایتونو په محلي ریاستونو او ولایتي دفاترو کې د ظرفیت په لوړوالي پورې اړونده مسایل د پام وړ گرځي. د گڼ شمیر ستونزه سره، سره د بودیجې د ترتیب په جریان کې د دغه پروژې لومړنۍ پایلې د تشویق وړ دي (۱۴۷).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پوښتنې

۱ – د برنامې په اساس بودیجه تعریف کړئ .

۲ – په افغانستان کې د برنامې په اساس د بودیجې لنډه تاریخچې تشریح کړئ .

۳ – د عنعنوي بودیجې د ستونزو نومونه واخلئ .

۴ – د برنامې په اساس د بودیجې له تطبیق څخه مخکې د کومو شرایطو شتون اړین دی؟

۵ – د برنامې په اساس د بودیجې جوړښت په کومو څلورو سطحو تعریف شویدی؟

٦ – فرعي برنامه څه شی ده ؟

۷ – د برنامې په اساس بودیجه جوړونې عناصر کوم دي ؟

۸ – د برنامې په اساس د اجرأتو د شاخصونو نومونه واخلئ .

۹ – د برنامې په اساس د بودیجې د ترتیب مراحل کوم دي ؟

۱۰ – قیمت گذاري یعنې څه ؟

۱۱ ـ د قیمت گذاریو کوم ډولونه شتون لري ؟

۱۲ – ولایتي بودیجه جوړونه څه ډول بودیجه جوړونه ده ؟

۱۳ – د ولایتي بودیجې له ترتیب څخه هدف څه شی دی ؟

۱۴ – دولایتي بودیجې د تطبیق لپاره کومې ستونزې شتون لري ؟ (۱۴۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اتم څپرکی

# د بودیجې حالات

د پرنسیپ په پام کې نیولو سره باید بودیجه د توازن په حالت کې وي، یعنې مخکې د بودیجوي دورې له پیل څخه باید د بودیجې د ټولو مصارفو لپاره تمویلي منابع شتون ولري؛ په عمل کې د اقتصادي شرایطو د تغیر له امله اکثره وخت په بودیجه کې کسر او مازاد هم رامنځته کیږي، چې اوس لومړی د عواملو او بیا وروسته د بودیجې د دری ګونو حالاتو د اغیزو په باره کې بحث کیږي.

## د بودیجې توازن

څرنګه چې اقتصادي تاریخ څرګند وي، د نړۍ تقریباً ټول لوی انفلاسیونونه او همدارنګه هغه بې مخینی انفلاسیون چې د تیرو ۲۳ کلونو په تیریدو (۱۳۸۱ – ۱۳۵۸) هـ ل کالونوکې افغانستان ورسره مخامخ ؤ د دولتونو د فوق العاده مالي اړتیاوو د پوره کولو په موخه د پیسو د زیات نشر له امله منځته راغلي دي. یو انفلاسیون هغه وخت موجود یدلی شي، چې په اقتصاد کې تادیاتي وسایل د ملي اقتصاد له پولي احتیاج څخه تر حده زیات ډیروالی وکړي او د هغوی په مقابل کې د امتعې او شیانو په سطحه کې مطابقت کوونکی زیاتوالی رامنځته نشي یا په لنډ عبارت سره یو انفلاسیون هغه وخت منځته راځی، چې په اقتصاد کې مجموعي تقاضا د پیسو د مقدار په زیاتوالي سره د مجموعي عرضې څخه زیاته وي. هغه مهمې ناوړه اغیزې چې انفلاسیون یې په اقتصاد باندې واردوي د قیمتونو له لوړوالي، پیسو د ارزښت له کموالي، د پوروړو (دائینینو) له متضرر کیدو، د ثابت عاید لرونکو د زیانمن کیدلو، د صادراتو له کموالي څخه په هغه صورت کې چې د خارجي اسعارو د تبادلې نرخ لږ تر لږه د قیمتونو په تناسب لوړ نش او د وارداتو له زیاتوالي څخه عبارت دي.

خارجي اجناس د هغه هیواد لپاره، چې په هغه کې انفلاسیون وجود ولري ارزانه تمامیږي. په هغه صورت کې چې د خارجي اسعارو د تبادلې نرخ د قیمتونو د لوړوالي څخه لږ پورته ولاړ شي. دغه د صادراتو کموالی او دوارداتو زیاتوالی په خپل وار سره په اقتصاد باندې نورې اغیزې واردوي، پدې مانا چې د صادراتو د کموالي په سبب تصدۍ ګانې اړې کیږي، ترڅو خپل تولیدات په هماغه سطحه محدود کړي او یا دا چې په کُلي ډول یې متوقف کړي، چې پدې صورت کې مجموعي تولیدات د هیواد په داخل کې کموالی کوي؛ پدې سر بیره د صادراتو کموالی او د وارداتو زیاتوالی د پورته ذکر شوو شرایطو لاندې هیواد د اسعاري ستونزو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او تادیاتو بیلانس د کسر له ستونزې سره مخامخ کوي. څرنگه چې د مخ پر ودې هیوادونو له اهدافو څخه یو هم د تادیاتو د بیلانس د دوامداره کسر له منځه وړل دي یا د صادراتو له زیاتوالي او د وارداتو له کموالي څخه عبارت دی پدې اساس د قیمتونو لوړوالی په یو هیواد کې د اقتصادي سیاست د دغه عمده هدف په ضد تاثیر کوي. د اوږد مهاله قراردادونو تړلو ته د میل نشتوالی، د مادي ارزښتونو په لوري تیښته د پانگه اچونو کموالی او په پایله کې د کتلوي بیکاریو رامنځته کیدل د انفلاسیون د نورو اغیزو له جملې څخه دي. د قیمتونو لوړوالی نه یواځې په خصوصي اقتصاد باندې منفي تاثیرات لري، بلکې همدارنگه د دولت په بودیجه باندې هم تاثیر واردوي. پدې مانا چې د دولت د بودیجې حقیقي او واقعي خرید قدرت هم ښکته راولي (په هغه صورت کې چې د دولت عوایدو د قیمتونو په تناسب لوړوالی نه وي کړی )پدې اساس دغه ډول اغیزو ته په پام سره او په ځانگړي ډول د نړیوال انفلاسیون اغیزې دغه نظریه تر ډیره تائیدوي.

چې د بودیجې د توازن داصل رعایت د یو سالم سیاست او پیسو د ارزښت استقرار لپاره چې د اقتصادي سیاست او مرکزي بانک سیاست له مهمو اهدافو څخه دی، یو مهم شرط تشکیلوي. له همدې امله ده چې نن ورځ هم له حد څخه د زیاتو پیسو مخنیوی چې د انفلاسیوني تمایلاتو سبب کیږي تقریباً په ټولو ازاد بازار لرونکو هیوادونو کې د بانکونو د قرضې ورکړه د بانکي یا نورو قوانینو په واسطه تعین کیږي. تر څو لدې لارې له اړتیا څخه د زیاتو پیسو په جریان کې له لویدلو څخه مخنیوی وشي که چیرې دولت بیا هم وغواړي تر څو شیانو او خدماتو ته خپله تقاضا زیاته کړي او په عین حال کې له زیاتیدونکي انفلاسیون څخه مخنیوی وشی پدې صورت کې دغه هدف هغه وخت ترلاسه کیدای شي، چې دولت د خپلې اړتیا وړ پیسې د مالیاتو زیاتولو له لارې او یا هم د خصوصي سکتور څخه د پور اخیستلو له لارې ترلاسه کړي، چې پدې صورت کې له یوې خوا په اقتصاد کې د خرید قدرت ندی زیات شوی؛ بلکې یواځې له خصوصي سکتور څخه د دولت سکتور ته د خرید قدرت زیاتوالی ور انتقال شوی دی. هغه وسایل چې دولت یې د خصوصي سکتور څخه د قرضې په بڼه ترلاسه کوي، د هغه انفلاسیوني اغیزې د هغه د استعمال په طرز پورې اړه لري البته د خصوصي سکتور په ساحه کې پدې مانا چې هغه پولي وسایل چې دولت یې د قرضې په ډول له خصوصي اقتصاد څخه ترلاسه کوي که چېرې دغه وسایل په اقتصادي دروان کې شامل شي د هغه ډول قرضونو په نسبت لږ انفلاسیوني اغیزې لري چې د راکدو پیسو له لارې تر لاسه شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه کله چې د ولت راکد او ذخيره شوي پولي وسايل د قرضې په ډول ترلاسه کړي پدې صورت کې هم اضافي تقاضا په اقتصاد کې رامنځته کيږي او په پايله کې انفلاسيوني تاثيرات واردوي. ددې دليل دادی چې په پورتني صورت کې په اقتصاد کې د پيسو مجموعي مقدار ثابت پاتې کيږي، خو د راکدو پيسو په جريان کې اچول د پيسو د دوران سرعت لوړ بيايي، چې دغه د پيسو د دوران سرعت لوړتيا هم د انفلاسيوني اغيزو لامل کيږي. د پورتنيو تجربو په اساس ؤ، چې د بوديجې د توازن اساس د بوديجې د کلاسيکو بنسټونو څخه د يو بنسټ په حيث د شلمې پيړۍ تر لومړيو پورې په جدي ډول رعايت شي اما په ٢٠ پيړۍ کې او په ځانګړي ډول وروسته له دويم نړيوال جنګ څخه د بوديجې د توازن اساس متزلزل شو ځکه د جنګ له امله د رامنځته شوو زيانونو د له منځه وړلو لپاره د هغه هيوادونو بوديجې د کسر سره مخامخ شوي چې په جنګ کې شامل وو .

له لومړۍ نړيوالې جګړې څخه وروسته هڅه وشوه، تر څو د دريم ځل لپاره د بوديجې د توازن اصل ته مراجعه وشي .اما د نړۍ اقتصادي بحران او د هغه وروستۍ پايلې ددې سبب شوې، تر څو جان مينار کينز) J.M.Keynes) د دولت لپاره کسري بوديجه وړاندې کړي، تر څو پدې وسيله دولت وکولای شي د مرستو، ارزانه پورونو او مالياتي معافيتونو او مالياتي تخفيفونو د ورکړې له لارې يا د دولتي پانګه اچونو د پراختيا له لارې پانګه اچونې وهڅوي او پدې ترتيب سره د اقتصادي بحران پر ضد مجادله وکړي په ننني اقتصاد کې د بوديجې له کسر اجتناب (پرهيز) نشي کيدای او د مختلفو عواملو له امله رامنځته کيږي. چې په راتلونکي بحث کې ذکر کيږي .

## د بوديجې تفاضل يا مازاد

په بوديجه کې مازاد هغه وخت رامنځته کيږي، چې په يوه بوديجوي دوره کې عوايد د يوه لامل له امله د مصارفو څخه زيات شي. په بوديجه کې مازاد عموماً په دوو طريقو سره منځته راځي :

الف – د مصارفو د کموالي په واسطه او د موجوده عوايدو ثابت ساتل په ځانګړي ډول د مالياتي عوايدو ثابت ساتل ځکه د بازار اقتصاد لرونکو هيوادونو کې د دولت د عوايدو زياته برخه له مالياتو څخه په لاس راځي .

ب – د عوايدو لوړول او موجوده مصارفو ثابت ساتل له عملي نقطې نظره معمولاً لومړۍ طريقې ته ترجيح ورکول کيږي، ځکه د مالياتو لوړول قانوني او تخنيکي ستونزې رامنځته کوي او د کافي وخت غوښتنه کوي؛ تر څو هغه ماليه چې اندازه يې لوړه شوې ده، مالياتي انواع چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوړ شوي دي، د اقتصاد د مالیه ورکونې قدرت او ظرفیت او بالاخره هغه اغیزې چې د پورتنیو تدابیرو په پایله کې په اقتصاد باندې وارديږي تر غور او څیړنې لاندې ونیول شي پداسې حال کې چې د مصارفو ښکته بیول پورتنۍ ستونزې نلري .اوس هغه پوښتنه چې د دغې موضوع په اړوند رامنځته کیږي لدې څخه عبارت ده، چې په بودیجه کې مازاد د کومې موخې لپاره رامنځته کیږي ؟ د دې سوال په ځواب کې باید وویل شي، چې د بودیجې د مازاد رامنځته کولو اساسي هدف دادی تر څو د دولت د مصارفو د کموالي له لارې د اقتصاړتقاضا محدوده شي او د قیمتونو له لوړوالي څخه مخنیوی وشي. پدې اساس د بودیجې د مازاد دغه شکل پداسې یو اقتصادي حالت کې رامنځته کیږي، چې د اقتصادي رونق حالت شتون ولري او قیمتونه د لوړوالی لوري ته ځي په ځانګړي ډول سخت انفلاسیوني حالت کې دولت هڅه کوي، ترڅو مالي وسایل قسماً د مصارفو په بڼه په کار وا نه چوي، بلکې دغه وسایل په راکد ډول پرته له استفادې څخه وساتي، ترڅو پدې ترتیب د پیسو جریان په اقتصاد کې کم کړي او په پایله کې د شیانو لپاره زیاته تقاضا محدوده کړي. پدې صورت کې د بودیجې مازاد د اقتصادي حالت او قیمتونو د استقرار د یوې وسیلې په حیث استفاده کیږي .

## د بودیجې کسر

د بودیجې د کسر په واسطه دولت د یو نوساني سیاست هدف تعقیبوي او هڅه کوي، تر څو د کسر سیاست په وسیله اقتصادي حالت داسې تر تاثیر لاندې راولي، تر څو ملي اقتصاد په ممکنه بیړې سره د تعادل لوري ته میلان وکړي؛ دغه هدف ته هغه وخت رسیدلی شو، چې د یو اقتصادي بحران په حالت کې چې نظر مجموعي عرضې ته د مجموعي تقاضا د زیاتوالي په واسطه تشخیص کیږي دولت د بودیجوي وسایلو د پکار اچولو له لارې په اقتصاد کې مجموعي تقاضا تقویه (پیاوړي) کوي. پدې حالت کې باید ددولت مصارف تر هغه وخته پورې لوړ کړای شي چې له مخکې ټاکل شوی هدف ترلاسه شي. دغه هدف د یو کسري سیاست په وسیله له دوو لارو تر لاسه کیدای شي .

لومړی: دولت کولای شي چې په عین حال کې د مالیاتو له لوړولو پرته خپل مصارف لوړ کړي .

په لومړۍ مرحله کې د اضافي مصارفو په حیث اضافي پانګې اچونې د پام وړ ګرځي. د دې لپاره چې د بیکارانو شمیر د امکان تر حده پورې پر وخت سره کموالی وکړي. په ځانګړي ډول ددې ډول دولتي پروژې تطبیق او عملي کول هغه وخت مناسب او ځانګړي شوي څرګندیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د متکاثف کار غوښتنه وکړي. ددغه ډول پروژو بيلګې عبارت دی له :سړک جوړول، د اوبو لګولو پروژې، عمراني او نورې پروژې .

دويم: د اقتصاد د مجموعي تقاضا د لوړولو بله طريقه داده، چې دولت ماليات را ټيت کړي چې پدې وخت کې ماليه ورکوونکو ته دا امکان په لاس ورځي؛ تر څو د ټيټې شوې ماليې په اندازه خپل استهلاکي مصارف لوړ کړي، چې د هغه په پايله کې په اقتصاد کې مجموعي تقاضا زياتوالی وکړي؛ پدې ځای کې اساسي شرط لدې څخه عبارت دی، چې دولت په عين حال کې خپل مصارف ټيټ نکړي. چې پدې صورت کې د دولت د مصارفو کموالي د دا ډول توسعوي تاثيراتو په ضد انقباضي تاثيرات واردوي چې د مالياتو د ټيټولو او په پايله کې د ماليې د تاديه کوونکو استهلاکي مصارف لوړ ځي .اوس بايد وليدل شي چې د بوديجې کسر د کومو واملو له امله رامنځته شوی دی. هغه مهم عوامل چې د بوديجې د کسر د منځته راتلو باعث کيږي په لاندې ډول خلاصه کيږي .

**د اداري چارو له امله د بوديجې کسر**

د بوديجې دا ډول کسر د درست اداري سازمان د نشتوالی او تشکيلاتو د پراختيا په پايله کې رامنځته کيږي او په حقيقت کې د ناقص سازمان له امله او په کار کې د مديريت او همغږۍ د نشتوالي له امله زياتره اداري مخارج حيف وميل (ضايع کيدل) کيږي او د دولت د کارکوونکو د کار محصول په شدت سره راټيټيږي په ځانګړي ډول که چيرې پدې ډول موارد و کې پرته د موجود کار د ګټې اخيستنې له نظره د سازمان او مديريت د اصولو په پام کې نيول او يا دولت مجبور شي، چې د عمومي دندو د اجراء له نظره نوي کارکوونکي استخدام کړي په تدريج سره اداري مخارج له نورو مخارجو سره نا متناسب زياتوالی کوي او په پايله کې د دولت په عادي بوديجه کې کسر د اداري مخارجو په زياتوالي سره را څرګنديږي د اداري بوديجې کسر د سازمان د غلطو عوايدو د حصول په پايله کې رامنځته کيږي او حتی د ناقص عايد د لاسته راوړلو په پايله کې محصول ټيټ وي او پدې ترتيب سره د دولت عوايد له واقعي اندازې څخه لږ ترلاسه کيږي. ځينې وخت د اداري بوديجې کسر د ماليات و د حاصلولو د سازمانونو د اداري کادرونو د صلاحيت د نشتوالي په علت وي او د ماليې راټولوونکو ترمنځ په مختلفو لارو د رشوت او ماليې څخه د تيښتې او تقلب په شکل را څرګنديږي او په پايله کې د دولت مالياتي عوايد له واقعي مقدار څخه لږ تر لاسه کيږي، د اداري بوديجې کسر ممکن د غلط مالياتي سيستم د انتخاب له امله رامنځته شي، پدې مانا چې ممکن د مالياتي محصول کموالی د موجوده اقتصادي او اجتماعي وضعې سره د مالياتي سيستم د انطباق پايله وي. د بوديجو دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډول کسر هغه که د اداري مخارجو د نا متناسب زیاتوالي له نظره وي او یا د بودیجې د عوایدو د کموالي له امله وي، د بودیجې غیر معقول کسر ګڼل کیږي او باید د هغه په رفع کولو کې هڅه وشي (۱: ۳۰۳).

**د اقتصادي وضعې تغیرات د بودیجې د کسر د علت په توګه**

د بودیجې دا ډول کسر له یوې مرحلې څخه بلې مرحلې ته د اقتصادي وضعې د تغیر په تعقیب سره رامنځته کیږي او په نهایت کې په بودیجه کې د عمومي مصارفو او عمومي عوایدو ترمنځ تقارن (لیرې والی) او عدم هماهنګي را څرګندیږي. د همغږۍ دغه نشتوالی زیاتره د عاید د اقلامو د حساسیت او اقتصادي وضعې په مقابل کې د مصرف د اقلامو د عدم حساسیت له امله منځته راځي .نن ورځ دعاید اقلام په بودیجه او مالي جوړښت کې د مصارفو د اقلامو په نسبت زیات حساسیت لري. ځکه عمومي مخارج د دولت له لوري د قوانینو او مقرراتو په اساس تعهد شوي دي او د دولت عمومي دندې د اقتصادي وضعې د تغیر په مختلفو مراحلو کې نشي ځنډیدلی او دولت مجبور دی، چې د امنیت او نظم راوستلو له نظره او نورو عمومي دندو اجرأ کولو لپاره هر کال مصرف وکړي او د مصارفو کمول په بودیجه کې د اقتصادي وضعې د تغیر په صورت کې ډیر په کرار ډول صورت نیسي او حتی د اقتصادي وضعې د تنزیل په مراحلو کې نه یواځې دا چې نشي کولی چې مخارج محدود کړي، بلکې په ځینو مواقعو کې د استخدام سیاست له نظره د تولید د عناصرو کموالی او اقتصادي رکود سره مبارزې په وخت کې دولت مجبور دی چې خپلو مصارفو ته زیاتوالی ورکړي .

په هغه صورت کې چې برعکس د عاید اقلام په بودیجه کې د اقتصادي وضعې د تغیر په مقابل کې له شدید حساسیت سره را څرګندیږي او عاید کموالی کوي؛ هر څو که د اقتصادي وضعې د ترقۍ په مراحلو کې عواید زیاتوالی کوي، خو برعکس د اقتصادي وضعې د ښکته تلو په وخت کې عواید په شدت سره کموالی کوي نو د اقتصادي وضعې د ترقۍ پر وخت د عوایدو له مازاد سره مخامخ کیږي او د اقتصادي وضعې د ښکته تلو په صورت کې د کسر سره مخامخ کیږي. فصلي نوسانات د ملي محصول دکموالي په شکل وچکالي یا د مهمو ملي محصولاتو او د هغه په شان نورو د قیمت کموالي په پایله کې د ټولنې مالیاتي ظرفیتونه کموالی کوي او د هغه په تعقیب د دولت عواید کموالی کوي.

د اقتصادي اوضاع او احوالو له نظره د دولت د عوایدو کموالی امکان لري چې د غیر مترقبه پیښو لکه سیلاب، زلزله، سوځیدلو او هغه په شان نورو له امله ملي محصول ته کموالی ورکړي چې د هغه په تعقیب سره د ټولنې مالیاتي ظرفیتونه محدودیږي او ددولت مالیاتي سهم کموالی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي (۱:۳۰۵) .

د بودیجې هغه کسر چې د پورته ذکر شوي لارې څخه رامنځته کیږي، په نوي اقتصاد کې د اجتناب وړ ندی او دولت باید هڅه وکړي، ترڅو د بودیجې دا ډول کسر د دولت پولي او مالي سیاستونو د پکار اچولو له لارې کم کړي ترڅو پدې ترتیب سره اقتصادي وضع رونق پیدا کړي لدې پرته وضع نوره هم وخیمه کیږي په راتلونکو کالونو کې هم د دولت عواید کموالی کوي او په پایله کې بودیجه له کسر سره مخامخ کیږي هغه پوښتنه چې ددې موضوع په هکله را پیدا کیږي، دا ده چې د دولت د بودیجې د کسر د پوره کولو لپاره کوم ډول امکانات د دولت په واک کې شته د مالي سیاست د وسایلو له لارې د بودیجې کسر له منځه وړل کیدای شي، چې د هیواد په داخل کې د پورونو لاسته راوړلو او یا له بهرنیو هیوادونو او مؤسساتو څخه د پورونو تر لاسه کولو له لارې صورت ونیسي همدارنګه دولت کولای شي چې د فوق العاده مالي احتیاج په وخت په ځانګړي ډول د بودیجې د کسر پر وخت د خپلو شتمنیو یوه اندازه وپلوري او پدې طریقه د بودیجې کسر تمویل کړي د بودیجې د کسر د پوره کولو لپاره د دولت د مالي وسایلو دا ډول تهیه کول د ملي اقتصاد له نظره هغه وخت فوق العاده ګټور تماميږي چې نوموړې شتمنۍ د داسې کسانو لاسته ورشي چې په ګټوره توګه یې په کار واچوي .

چې پدې صورت کې له یو طرفه د دولت مالي اړتیاوې پوره کیږي او له بله اړخه په اقتصاد کې مؤلدیت لوړ ځی، پدې سربیره د بودیجې د کسر دا ډول رفع کول په اقتصاد باندې انفلاسیوني تاثیرات هم نه واردوي، ځکه چې پدې صورت کې په اقتصاد کې د پیسو مقدار نه زیاتیږي، بلکې یواځې د خرید قدرت انتقال او خصوصي برخې څخه دولتي برخې ته صورت نیسي. همدارنګه دولت کولای شي چې د بودیجې کسر د دولتي قرضې د اسنادو د نشر له لارې هم پوره کړي؛ په پرمختللو هیوادونو کې د بودیجې د کسر تمویل لپاره د دولتي قرضې د اسنادو نشر مهم رول لري اما په وروسته پاتې هیوادونو کې د خلکو د سویې د ټیټوالي او عامه اسنادو د ګټو څخه د ناخبرۍ له امله دولت ته لږ امکان په لاس ورځي تر څو لدې لارې خپل مالي اختیاجات رفع کړي، د دولتی قرضې اسنادو د نشر له امله د بودیجې د کسر په رفع کولو کې هم د اندیښنې وړ انفلاسیوني تاثیرات شتون نلري ځکه پدې ځای کې هم د قرضې اسنادو د اخیستلو په واسطه د خرید قدرت د خصوصي برخې څخه دولتی برخې ته انتقال پیدا کوي، نوپدې اساس په اقتصاد کې پیسې نه زیاتیږي، چې د انفلاسیون د رامنځته کیدو سبب شي .

ددولتي قرضې اسنادو د پلورلو له امله انفلاسیون یواځې هغه وخت رامنځته کیږي، چې نوموړي اسناد د هغو پیسو په واسطه واخیستل شي چې هغه د غیرې تولیدي ذخایرو او یا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



راکدو پیسو په بڼه موجودې وي؛ څرنگه چې دا وضعه په وروسته پاتې هیوادونو کې عمومیت لري، چې پدغو هیوادونو کې خلک د پام وړ پس اندازونه بانک ته نه وړي بلکې په کور کې یې ساتي .

دا ډول غیرې تولیدي پس اندازونه په اقتصادي جریان کې شامل ندي؛ نو پدې اساس په قیمتونوباندې هم تاثیرات نشی واردولی اما کله چې ددغو غیر تولیدي پس اندازونو سره دولتي قرضې اسناد هم خریداري شي، پدې صورت کې ددولت د مصارفو له لارې په اقتصادي دوران کې شامیلیږي؛ د پیسو د دوران سرعت لوړوي او په پایله کې د انفلاسیون او د قیمتونو د لوړوالي تاثیرات منځ ته راوړي. مخ پر ودې هیوادونو او همدارنگه افغانستان کې د بودیجې د کسر د رفع کولو امکان د قرضې اسنادو له لارې یا له سره شتون نلري یا یواځې په کمه اندازه شتون لري، ځکه چې د دولتي قرضې اسنادو د گټو څخه د خلکو بې خبري، د ازاد بازار د ربحې نرخ اود دولتي قرضې اسنادو د مفادو د نرخ ترمنځ توپیر اوځینې هم ددې له امله نه حاضریږي چې ربحه د اسلام له نظره حرامه ده د پولي سیاست د وسایلو له لارې د بودیجې کسر پوره کول یعنې په کمه یا زیاته اندازه د اضافي نوټونو نشر د انفلاسیون تمایلاتو سره هم یو ځای وي څرنگه چې اوس په افغانستان کې د سرمایې منظم بازارونه شتون نلري او دا امکان هم فعلاً شتون نلري تر څو دولت د اړتیا پر وخت خپل مالي احتیاجات د پورته ذکر شوو عواملو په اساس ددولتي قرضې اسناد د نشر له لارې رفع کړي، پدې اساس یواځنی امکان چې شتون لري دادی چې دولت د مالي احتیاج پر وخت د خپلې اړتیا وړ وسایل د افغانستان بانک څخه د قرضې له لارې تهیه کړي چې دتمویل دا ډول طریقه پورته ذکر شوه او لږ یا ډیره د قیمتونو د صعود سبب هم کیږي .

که چیرې د بودیجې د کسر پدې ډول تمویل کې د قیمتونو صعود په زیاته اندازه وي، پدې صورت کې د دولت مصارف هم په وروستیو دورو کې پورته ځي؛ ځکه چې دولت هم د خپل پرسونل د اړتیاوو پوره کولو لپاره د یوې تقافل کوونکي په حیث وي او پدې اساس کله چې قیمتونه پورته ځي پدې صورت کې دولت هم مجبور دی تر څو خپل مصرف له اسمي پلوه لوړ کړي؛ تر څو خپل عین احتیاجات چې د قیمتونو د لوړوالي څخه یې مخکې پوره کول پوره کړی شي پدې اساس لیدل کیږي چې د ذکر شوو شرایطو لاندې له یوه اړخه د قیمتونو لوړوالی په اقتصاد باندې منفي تاثیرات واردوي او له بله اړخه ددولت د بودیجې کسر په راتلونکو دورو کې نور هم زیاتیږي. د پورتنیو تاثیراتو په پام کې نیولو سره باید دولت د احتیاط او دقت څخه کار واخلي، تر څو له یو طرفه د اقتصادي وضعې د درست تشخیص په پام کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیولو سره د اضافي پیسو مقدار په اندازه سره په دوران کې واچوي تر څو د قیمتونو صعود د امکان تر حده ناچیزه وي ځکه چې ځینې پوهان د قیمتونو لوړوالی تر ۲ سلنه پورې نه یواځې چې مضر یې نه ګڼي بلکه د اقتصادي پراختیا یوه هڅوونکې وسیله یې ګڼي او له بله اړخه قیمتونه هم کنترول کړي له هغه پرته د پولي سیاست له لارې د بودیجې د کسر رفع کول مطلوب هدف لاسته نشي راوړلی .

**اقتصادي جوړښت د بودیجې د کسر د علت په توګه**

دا ډول کسر په اوږد مهال کې د عمومي عوایدو او مصارفو تر منځ د همغږۍ د نشتوالي له امله رامنځته کیږي، دغه د همغږۍ نشتوالی ځینې وخت د اقتصادي پراختیا له نظره د انکشافي مصارفو د زیاتوالي په پایله کې رامنځته کیږي. د انکشافي مصارفو زیاتوالی د هیواد د اقتصادي او اجتماعي زیربناوو د پیاوړي کولو لپاره صورت نیسي او د اقتصادي او اجتماعي زیربنا پیاوړي کول په ټولنه کې په اوږد مهال کې رامنځته کیږي او ټولنه بدلون کوي او د هیواد اقتصاد له ابتدایي پړاوونو څخه د پراختیا لوړو پړاوونو ته داخلیږي. د انکشافي مصارفو د مالي تامین له نظره د دولت د عوایدو پوره کول زیاتره د ټولنې د مالي توان د ضعف له امله دي او د مالي توان دغه کمزوري د عاید د کسر په صورت کې پدې وخت کې د انکشافي بودیجې د کسر په توګه را څرګندیږي، چې د انکشافي بودیجې د کسر په نوي مالیه کې د بودیجې کسر معقول ګڼل کیږي او کار پوهان تر یوه حده پورې له هغه سره موافق دي او ځینې لدې هم وړاندې ځي او ادعا کوي چې اصولاً د انکشافي بودیجې کسر د بودیجې د کسر په حیث نشو ګڼلای ځکه انکشافي مصارف تولیدي مصارف دي او د هغوی سره موازي د ټولنې اقتصادي ظرفیتونه لوړیږي او د اقتصادي ظرفیتونو توسعه د ټولنې د مالي ظرفیت د زیاتوالي سبب کیږي ؛ داسې چې دولت د اضافي عوایدو د لاسته راوړلو له لارې کولای شي، چې خپل عواید او مصارف سره متوازن کړي. د بودیجې د کسر ډولونه چې پورته ذکر شول اکثریت یې لنډ مهاله خاصیت او ماهیت لري، ځکه چې په نهایت کې د غیرې مترقبه او موقتي عواملو په اساس رامنځته کیږي او کله چې د غه عوامل له منځه یوړل شي د بودیجې کسر هم له منځه ځي .

اما د بودیجې دا ډول کسر چې د یوه هیواد د اقتصادي جوړښت سره اړیکه لري تر ډیره حده اوږد مهاله ماهیت لري د مخ پر ودې هیوادونو د بودیجې کسر په عمومي ډول په زیاته اندازه د دغو عواملو تابع وي، ځکه چې په مخ پر ودې هیوادونو کې په اقتصادي جوړښتونو لکه زراعتي جوړښت، صنعتي جوړښت، اقتصادي زیربناوو او نورو کې ضعف او نا متوازن انکشاف شتون لري چې د پورتنیو نیمګړتیاوو له منځه وړل په لنډ وخت کې امکان نلري، بلکې د اوږد

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهاله اقتصادي پلانونو د طرحې اوتطبيق غوښتنه کوي او پدې ترتيب سره د دولت مصارف لوړ ځي او په پايله کې د دولت بوديجه هم په دوامداره توگه له يو کسر سره مواجه کيږي. بايد پام وکړو چې د انکشافي بوديجې د کسر تامين معمولاً د پور له لارې صورت نيسي ځکه انکشافي پانگې اچونې زياتره اوږدمهاله پانگونې دي او د پيسو د نشر سياست او پيسو د انفلاسيون سياست په واسطه هغه نشو تامين کولی (۱: ۳۰۶).

ددا ډول تاثيراتو او تقريباً د بوديجې د مداوم کسر په ارتباط چې کومه پوښتنه مطرح کيږي داده چې ولې دولت دا ډول کسر په غاړه اخلي او ددې ډول کسر د زيانونو په مقابل کې کوم ډول گټې شتون لري. ددغې پوښتنې په ځواب کې بايد وويل شی چې پورتني مصارف چې په اوږد مهاله ډول له يوه اړخه د بوديجې کسر رامنځته کوي له بله اړخه په هيواد کې د اقتصادي توسعې حالت ته داسې تغير ورکوي چې د اقتصادي جوړښتونو په تغير سره هم د ودې په لور ميلان مومي .

ځرنگه چې دا ډول مصارف يوه اقتصاد جوړښت ته په نسبي ډول د يو پرمخ تللي اقتصاد په لور تغير ورکوي، له همدې امله دا ډول کسر د اقتصادي جوړښتونو په سبب د کسر په نامه يادېږي، د بوديجې دا ډول کسر بايد د پورونو د ترلاسه کولو له لارې او په ځانگړې توگه د اقتصادي او سياسي شرط او قيد پرته د بهرنيو پورونو له لارې تمويل شي. د هغه دليل دادی، چې ددې ډول ساختماني او زيربنايي پروژو مصارف په مخ پر ودې هيوادونو کې فوق العاده زيات وي او د هغه مالي منابع د داخلي منابعو څخه امکان نلري؛ له همدې امله ده چې نن ورځ د دولت د انکشافي پلانونو عمده او اساسي برخه په مخ پرودې هيوادونو او همدارنگه افغانستان کې د بهرنيو پورونو له لارې تمويلېږي، نو ددې په اساس بهرني پورونه د هيوادونو په توسعه کې مهم رول لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لنډيز

د پرنسيپ له نقطه نظره بايد بوديجه د توازن په حالت کې وي، خو په عمل کې د ځينو تغيراتو او اقتصادي بدلونونوپه اساس بوديجه کې کسر او مازاد هم راځي .د انفلاسيون او په ځانګړي ډول د نړيوال انفلاسيون تاثيراتو دغه نظريه په زياترو مواردو کې تائيد او حمايه کړې ده؛ چې د بوديجې د توازن اصل رعايت کول د يو سالم پولي سياست او پيسو د ارزښت ساتلو لپاره چې د اقتصادي سياست او مرکزي بانک سياست يو مهم هدف دی مهم شرط تشکيلوي.
د تجربو په اساس د بوديجې توازن د بوديجې د کلاسيکو اساساتو څخه د ۲۰ پيړۍ تر لومړيو پورې په جدي توګه رعايت کيده ؛ اما په ۲۰ پيړۍ او په ځانګړي ډول لومړۍ نړيوالې جګړې څخه وروسته د بوديجې د توازن اصل متزلزل شو .

ځکه له يوه اړخه د جنګ له امله د پيښو شوو زيانونو د جبران په موخه د مصارفو د زياتوالي له امله د هغو هيوادونو بوديجې له کسر سره مخامخ شوې، چې په جګړه کې شامل وو. څه وخت وروسته له لومړۍ نړيوالې جګړې څخه هڅه وشوه ترڅو د دريم ځل لپاره د بوديجې د توازن اصل ته مراجعه وشي؛ اما د نړۍ داقتصادي بحران او د هغه پايلې د دې سبب وګرځيدې، چې جان مينار کينز(J.M.Keynes) ددولت لپاره کسري بوديجه وړانديز کړه؛ ترڅو وکولی شي چې د اقتصادي بحران په ضد مجادله وکړي په نني اقتصاد کې د بوديجې له کسر څخه انکار نشي کيدی او د مختلفو عواملو په اساس رامنځته کيږي. په بوديجه کې مازاد هغه وخت رامنځته کيږي، چې عوايد له مصارفو څخه زيات شي هغه که د هر علت په اساس وي.
په بوديجه کې دغه مازاد په دوو طريقو سره رامنځته کيږي: د مصارفو د کموالی او د موجوده عوايدو ثابت ساتل او همدارنګه د عوايدو لوړول او موجوده مصارفوثابت ساتل. ځينې وخت د بوديجې مازاد پداسې حالاتو کې منځته راځي، چې د يو اقتصاد د رونق حالت موجود وي او قيمتونه د لوړيدو په حال کې وي په ځانګړي ډول د شديد انفلاسيوني حالت پر وخت پدې وخت کې دولت هڅه کوي، تر څو مالي وسايل قسماً د مصارفو په بڼه په کار ونه اچوي. او دغه وسايل په راکد ډول پرته له استفادې څخه وساتي پدې صورت کې د بوديجې مازاد د اقتصادي حالت د استقرار او د قيمتونو د استقرار د يوې وسيلې په حيث کار کوي. د بوديجې د کسر په واسطه دولت د يو نوساني سياست هدف تعقيبوي او هڅه کوي ترڅو د بوديجې د کسر سياست په وسيله اقتصادي حالت داسې تر تاثير لاندې راولي، چې ملي اقتصاد د امکان تر حده ژر د تعادل يو حالت ته ميلان وکړي .

پدې حالت کې بايد د دولت مصارف تر هغه وخته پورې لوړ شي، چې يوه بشپړه استفاده ور

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه ممکنه شي دغه هدف د بودیجې د یو کسري سیاست په وسیله په دوو طریقو تر لاسه کیدی شي یعنې :

لومړی: دولت کولی شي، چې خپل مصارف پرته له دې چې په عین حال کې مالیات لوړشي زیات کړي.

دویم: د اقتصاد د مجموعي تقاضا د لوړولو بله طریقه دا ده، چې دولت مالیات ښکته کړي؛ ځکه چې پدې صورت کې د مالیې تادیه کوونکی دا چانس پیدا کوي، ترڅو د مالیې د کموالي پر اندازه خپل استهلاکي مصارف لوړ کړي، چې د هغه په پایله کې په اقتصاد کې مجموعي تقاضا زیاتوالی کوي؛ هغه مهم عوامل چې د بودیجې د کسر د رامنځته کیدو سبب کیږي په لاندې توګه خلاصه کیږي.

**د اداري چارو له امله د بودیجې کسر:** د بودیجې دا ډول کسر د درست اداري سازمان د نشتوالي او د تشکیلاتو د پرخوالي له امله رامنځته کیږي او په حقیقت کې د ناقص سازمان په علت او د مدیریت په نشتوالي او په کار کې د همغږۍ د نشتون په پایله کې اداري مخارج زیاتره صیف و میل کیږي او د دولت د کار کوونکو د کار محصول په شدت سره ټیټیږي.

**د اقتصادي اوضاع تغیرات د بودیجې د کسر د علت په توګه:** د بودیجې دا ډول کسر له یو پړاو څخه بل پړاو ته د اقتصادي وضعې په تغیر سره رامنځته کیږي او په نهایت کې د بودیجې په عمومي مصارفو او عوایدو کې تقارن او عدم هماهنګي رامنځته کیږي .

**اقتصادي ساختمان د بودیجې د کسر د علت په توګه: د بودیجې دغه کسر** د عمومي مصارفو او عواید ترمنځ په اوږدمهال کې د عدم هماهنګۍ له امله رامنځته کیږي؛ دغه عدم هماهنګي ځینې وخت د اقتصادي پراختیا سیاست له نظره د انکشافي مصارفو د زیاتوالي پایله ده .

د انکشافي مصارفو زیاتوالی د هیواد د اقتصادي اواجتماعي زیربنا د پیاوړي کولو په موخه صورت نیسي، په ټولنه کې د اقتصادي او اجتماعي زیربنا پیاوړي کول په اوږدمهال کې صورت نیسي؛ ټولنه بدلون کوي او د هیواد اقتصاد د اقتصادي توسعې له ابتدایي مراحلو څخه د توسعې لوړو پړاوونو ته داخلیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پوښتنې

۱ – بوديجه کوم حالت لري ؟

۲ – د کومو علماوو له لوري د بوديجې د توازن په اساس تينگار کيده ؟

۳ – د بوديجې د توازن اساس څه بيانوي ؟

۴ – د بوديجې مازاد په کومو اشکالو سره تحقق کوي ؟

۵ – په بوديجه کې مازاد د څه لپاره صورت نيسي ؟

٦ – د دولت د بوديجې کسر کله رامنځته کيږي ؟

۷ – کوم عوامل د دولت په بوديجه کې د کسر لامل کيږي ؟

۸ – اداري چارې څرنگه د دولتي بوديجې د کسر سبب کيږي ؟

۹ – د اقتصادي وضعې تغير د دولتي بوديجې د کسر سبب کيږي ؟ که کيږي څه ډول ؟

۱۰ – د دولتي بوديجې کسر څه ډول تمويل کيدی شي ؟

۱۱ – د دولتي بوديجې کسر د اقتصادي جوړښتونو لپاره څه ډول منځته راځي ؟

۱۲ – د افغانستان د دولت بوديجه څه ډول حالت لري ؟ .

## ماخذونه

۱ موسوی، حبيبي او آقا خاني، عليرضا. (۱۳۸۴).اصول تنظيم و کنترول بوديجه دولتي، ناشر نور علم، تهران.

۲ عزيزي، غلام رضا. (۱۳۹۰). فراگرد تنظيم و کنترول بوديجه دولتی بر اساس نظام آمارهای مالی دولت، تهران.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نهم څپرکی

# د بودیجې قطعیه حساب

قطعیه حساب د قبلي او بعدي تادیاتو په تفکیک او د کلنۍ پیش بنۍ په مقایسه د تحقق شوو اوترلاسه شوو وجوهاتو په پام کې نیولو سره د دولت د عوایدو د مکمل ثبت سره منظوري شوې بودیجې په مقایسه د دولت د بودیجوي واحدونو د کالنیو مصارفو د اجرأ مکمل ثبت څرګندوي او یا په بل عبارت د دولت قطعیه حساب په حقیقت کې د یومالي کال په جریان کې د ترسره شوو مصارفو او تحقق شوو عوایدو مجموعه ده. قطعیه حساب د بودیجې د تحقق هنداره ده (۱: ۱).

## د قطعیه حساب اهمیت

د قطعیه حساب په ترتیبولو سره، د مالیې وزارت او ذیصلاح مقامات معلومیږي، چې بودیجوي اجرأتو څرنګه صورت نیولی دی، په کومه برخه کې وروسته پاتې والی شتون لري او په کومه برخه کې له اټکل زیات اجرأت شوي دي؛ د وروسته پاتې والي د علت ارزیابي کول او د تصویبوونکو او ترتیبوونکو مراجعو زیاتوالی د راتلونکي کال بودیجې په ترتیب کې مرسته کوي؛ که چیرې د اجرأتو له څرنګوالي څخه دقیق معلومات په واک کې ونه لرو، د راتلونکې بودیجې ترتیب آفاقي بڼه لري او دهغې تطبیق ادارې له ستونزو سره مخامخ کوي.

د هیواد د مالي وضعې څخه د واضح او څرګند تصویر درلودل او د بودیجې د نه تحقق او د تطبیق د احتمالي خطراتو څخه مخنیوی. د قطعیه حساب ترتیب یو اړین کار دی اوپه همدې دلیل سره قوانینو د هغه د ترتیب او بررسۍ هدایت کړی دی. د افغانستان اسلامي جمهوري دولت خپله بودیجه او قطعیه حساب تر دریو صورت حسابونو لاندې وړاندې کوي، دغه صورت حسابونه عبارت دي :د عادي بودیجې د مصارفو قطعیه حساب، د انکشافي بودیجې دمصارفو قطعیه حساب، دعوایدو قطعیه حساب، د دولت د عادي بودیجې مصارف د جاري کال له هغه عادي مصارفو څخه عبارت دي، چې له اجناسو او خدماتو څخه استفاده، د تکتاني پرداخت او پورونو قسط، سبسایډۍ ګانې اجتماعي سهمیو او د دارایۍ لاسته راوړل په کې شامل دي. قطعیه حساب ته په پام سره انکشافي مصارفو کې عمدتاً ۲ ۲ کوډ (له اجناسو او خدماتو څخه استفاده) او ۲۵ کوډ (د دارایۍ لاسته راوړل) شامل دي. حکومت د بودیجې واحدونو مصارف د خزانو د واحد حساب له لارې تنظیم کوي، پدې ترتیب وزارت خانې، مستقلې ادارې، مستوفیتونه او نور بودیجوي واحدونه بانکي حسابات مشخص او تر کنترول لاندې نلري اوهیڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډول مستقل نغدي بیلانس نلري، ځکه ټول عواید د مرستو د لاسته راوړلو په شمول او د عادي بودیجې پرداخت د دغه حساب له لارې اجراء او تنظیمیږي. د وزارتخانو، مستقلو اداراتو اونورو نهادونو ټول پرداختونه د ذیصلاح مقاماتو له لوري تر منظورۍ وروسته دمالیې په وزارت کې د خزاینو له واحد حساب څخه اجراء کیږي. پرداختونه د م ۱٦ فورم د محتویاتو مطابق او د هغه د ضمایمو نور اسناد د بشپړو شوو مراحلو د افغانستان د مالي مدیریت په سیستم ( Afghanistan financial Manegent system)کې ثبت کیږي انکشافي بودیجه چې عمدتاً د مرسته کوونکو هیوادونو د مرستو او تعهداتو په واسطه او قسماً د داخلي عوایدو اوپورونو له لارې اجرأ کیږي، هره پروژه په بودیجه کې د هغې مشخصو وجوهاتو ته پام سره په مخ وړل کیږي او په هغه صورت کې چې د پروژې کار د اړوند مالي کال په لړکې پای ته ونه رسیږي باقیمانده وجوه راتلونکي مالي کال ته انتقالیږي .

ټول هغه بانکي حسابونه چې د اصلي بودیجې له لارې د اجرأ وړگرځي، د خزاینو د واحد حساب تر کنترول لاندې وي دغه حسابات د عادي بودیجې او د هغو انکشافي پروژو په برخه کې چې د مرسته کوونکو هیوادونو له لارې تمویلیږي د خزاینو په واحد حساب کې شامل دي. د خزاینو واحد حساب په ورځني ډول او د میاشتنیو ولایتي راپورونو په اساس تطبیق کیږي. دولت د خپلې بودیجې داړتیا وو یوه برخه د داخلي عوایدو او مرسته کوونکو بنسټونو او هیوادونو له لارې تمویلوي او د ملی بودیجې له لارې یې په مصرف رسوي، خو یوه زیاته برخه انکشافي مصارف چې هم دبلاعوضه مرستو له برخې څخه دي په مستقیم ډول په مصرف رسیږي، چې د خارجي بودیجې په نامه یادیږي. او ددولت په قطعیه حساب کې شامل ندي، بناً د عواید د تحقق او تحصیل له بنې څخه د روښانه تصویر لرلو، د مالي کال د مصارفو د څرنگوالي او د بودیجې د تحقق اوتطبیق د نشتوالي د احتمالي خطرونو څخه د مخنیوي په موخه د قطعیه حساب ترتیب او څېړل یوه لازمه او اړینه چاره ده.

په همدې دلیل قوانین د هغوی د ترتیب او څېړلو لارښوونه کوي او مالیې وزارت مکلف دی، تر څو د مالي کال په پای کې هغه برخه عواید چې د دولت له لارې راټولیږي او هغه مصارف چې ددولت د بودیجې له لارې صورت نیسي، قطعیه حساب یې تر تیب او ملي شورا ته د قانون مطابق وړاندې کړي.

## د بودیجوي واحدونو مکلفیتونه :

بودیجوي واحدونه (وزارتونه او مستقلې ادارې) دعامه مصارفو او د مالي چارود ادارې د قانون د محاسبې تعلیمات نامې مطابق مکلف دي، چې د مالي کال په پای کې د هغه عادي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او انکشافي بوديجې م – ۱۹ فورم (قطعيه راپور )، چې په هغه کې د کلنۍ منظورۍ اصل، د کال په موده کې تعديلات، حاصله تخصيصات مصارف او باقيمانده (د بوديجې د منظورۍ اصل او تخصيصات) څرګندوي او همدارنګه م ۲۹ او م ۲۷ راپورونه (د مرکزي او ولايتي عوايدو راپورونه) د پيش بني شوو تحقق موندلو تسهيل شوو او باقيمانده عوايدو په پام کې نيولو سره ترتيب او ماليې وزارت ته وړاندې کيږي. د يادونې وړ ده، چې د بوديجوي واحدونو قطعيه حسابونه د مربوطه اسنادو د ثبت او د ولايتي عوايدو او مصارفو له مخې ترتيب او همدارنګه د دولت د عمومي قطعيه حساب د بوديجې قطعيه واحدونو په اساس چې وروسته د لومړۍ درجه ادارو د مسؤلينو د کنترول او امضأ څخه دماليې وزارت ته ليږل کيږي او وروسته د بوديجوي واحدونو د تطبيقاتو څخه توحيد اونهايي کيږي، د تفتيش عالي اداره دنده لري تر څو په قطعيه کې د مندرجو ارقامو له صحت څخه د اسنادو په کتلو سره ډاډ ترلاسه کړي او د پايلو راپور بررسي او د بې طرفۍ اصل مطابق او مستند ډول ترتيب او وړاندې کړي. بناً بوديجوي واحدونه مکلفيت لري، ترڅو خپل قطعيه حساب د ماليې او اړوندو دوهمي واحدونو سره له تطبيقاتو وروسته د اسنادو له ليدلو وروسته د ارقامو له صحت څخه پوهې په ترلاسه کولو سره په قطعيه حساب کې درج کړي او د دولت د عمومي قطعيې د توليد لپاره د ماليې وزارت ته ليږي. د دولت د عمومي قطعيي حساب ترتيب وروسته په قطعيه کې د مندرجو ارقامو د عدم صحت د مشکل هر ډول مسؤليت د حسابي مؤظيفينو او مسؤلينو په غاړه دی او د تفتيش عالي اداره د بوديجوي واحدونو او دولت د عمومي قطعيې په حساب کې د مندرجو اقلامو په برخه کې هيڅ ډول مسؤوليت نلري .

**د ماليې وزارت مکلفيت**

دماليې وزارت د مالي چارو او عامه مصارفو ادارې د قانون ۵۹ مادې د هدايت په اساس مکلف دي چې د قطعيې حساب د بوديجوي واحدونو د قطعيې په اساس ترتيب او د بررسۍ لپاره د کنترول اوتفتيش اداري ته وړاندې کړي .

دغې ته په پام سره چې اساسي قانون د تفتيش عالي ادارې قانون او مالي چارو او عامه مصارفو اداري قانون د قطعيه حساب ترتيب او د هغه د بررسي د پايلو راپور وړاندې کول جمهوري رياست مقام او ملي شوراى ته د مابعدي کال بشپړ لومړنۍ مياشتي قيد کړي دي بناً د ماليې وزارت مکلف دی تر څو د عادي او انکشافي بوديجې دمصارفو قطعيه حساب او دولت د عوايدو قطعيه حساب د مابعد کال د دريو لومړيو مياشتو په لړ کې ترتيب او د دويمې ربعې په پيل کې د بررسۍ لپاره د تفتيش عالي ادارې ته وړاندې کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کنترول او تفتیش اداري مکلفیت**

د کنترول اوتفتیش اداره د کنترول اوتفتیش اداري (۱۱) مادې (۱) فقرې، مالي چارو او عامه مصارفو اداري قانون (۹۵) مادې او اساسي قانون د (۹۸) مادې مطابق د مستقل خارجي تفتیش په حیث د هیواد په سطحه د مالي او حسابي چارو د بررسي کوونکي عالي ترین ارگان په حیث د قطعیه حساب په بررسۍ باندې چې د مالیې وزارت له لوري ترتیب اونهایي شوې وي مکلف دی او د بررسۍ راپور د جمهوري ریاست مقام اوملي شورا ته وړاندې کوي. د قطعیه حساب په بررسۍ کې لاندې چارې شاملې دي د ځینو نمونوي تطبیقاتوسره د دولت د عمومي قطعیې حساب سره د بودیجوي واحدونو د قطعیې حساب ترتیب او د مالي راپورونو په برخه کې د قوانینو او مقرراتو له رعایت څخه ډاډ حاصلول (په بانکي او نورو معاملاتو کې د مؤثرو مواردو د تخصیصاتو د صدور د تعدیلاتو قیدي تطبیق) همدارنگه د عوایدو د تحصیل اوتطبیق څرنگوالی او په وزارتونو او اداراتو کې د شتمنیو او اسنادو بررسي پکې شامله نده .

**د تفتیش د اظهار نظر ډولونه**

د دولت د قطعیه حساب په پایله کې، د تفتیش او کنترول اداره د نړیوالو معیارونو سره په مطابقت کې د تفتیش لاسته راوړنو ته په پام، د قطعیه حساب د ترتیب چوکاټ له لاندې شکلونه څخه په یو شکل نظر څرگندوي .

**موافق نظر څرگندول (اظهار نظر )**

دغه اظهار نظر هغه وخت وړاندې کیږي، چې قطعیه حساب په ټولو مهمو مواردو کې په مناسبه بڼه او مالي راپور ورکونې سره په مطابقت کې اجرأ او وړاندې کیږي او یا په بل عبارت د دولت د قطعیه ترتیب د بودیجې ادارتو د قطعیه حساب په کتلو د (AFMIS) سیستم په مطابقت کې په معین وخت کې د صورت حسابونو او عادی انکشافي بودیجو په تفکیک د بانکي تطبیقاتو او حامي اسنادو په لرلو سره پرته له هر ډول قلم خورد گۍ څخه ترتیب او مالیې وزیر له لوري لاسلیک او هر ډول نیمگړتیا او تیروتنې څخه خالي وي.

**مشروط موافق اظهار نظر**

هغه وخت مطرح کیږي، چې په مالي صورت حسابونو کې قطعیه حساب چوکاټ موافق نظر نه وي وړاندې شوی او د مشروطیت موضوع پکې پیاوړي او مشخصه کیږي؛ یعنې د قطعیه په ترتیب سره موافق ؤ؛ البته د هغه نیمگړتیاوو او مواردو څخه په استثنا چې په قطعیه کې شتون لري د بیلگې په توگه په معین وخت کې نه ترتیبیږي او یا یې په یوه مطلوبه طریقه ترتیب نه وي پیدا کړی عادي او انکشافي بودیجه نه وي تفکیک شوې او نور هغه موارد چې په داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اظهار نظر کې ذکر کیږي .

**په خاصوموضوعاتو باندې له ټینګار سره یو ځای موافق اظهار نظر**

داسې اظهار نظر تر ډېره حده د مشروط موافق اظهار نظر سره ورته والی لري اما هغه موضوعات چې قطعیه حساب اغیزمنوي ، د نوي بحث لپاره له نوروموضوعاتو جلا جوړیږي . همدارنګه هغه موضوعات چې پایله یې له راتلونکي سره اړیکه نیسې او ممکن د قطعیې په ترتیب باندې په راتلونکي کې هم اغیزه وکړي . لکه د مخکې کال د قطعیه د پایلو سپارښتنې ، په حسابي او نورو راپورونو کې د شفافیت تأمین مشخصیږي .

**مخالف اظهار نظر**

هغه وخت وړاندې کیږي چې تخلفات ډېر عمده وي او د قطعیه حساب تېروتنې او نیمګړتیاوې د پام وړ ډول اغېز من کړی وي او په بل عبارت مخالف اظهار نظر هغه وخت وړاندې کیږي چې د مرتبه قطعیه د بودیجوي بنسټونو له قطعیی او مالي سیستم سره مطابقت ونلري او د تیروتنو او نمګړتیاؤ په اساس غیر شفاف وي .

**د مسؤولیت د رد اظهار نظر**

دا نظر هغه وخت مطرح کیږي چې مؤظف کمیسیون د قطعیه حساب د باز رسۍ په جریان کې د تفتیش د مناسبو مدارکو په لاسته راوړلو قادر نه وي ، یعنې کمیسیون ته د بر رسي لپاره د مالیې محترم وزارت له لوري د قطعیه حساب په ترتیب پورې اړوند کافي معلومات او اسناد ارایه نشي کړای .

**د قطعیه حساب د ترتیب اړتیا**

- د بودیجې د تحقق د څرنګوالي په اړوند د معلوماتو تر لاسه کول .
- د توازن ارزیابي ( د عوایدو او مصارفو تر منځ تناسب) .
- دنویو عملیاتو د اجرأ لپاره د معلوماتو وړاندې کول .

**د قطعیه حساب د بازرسۍ اهمیت**

- د بودیجوي او وروسته پاتې والي یا له پلان څخه د زیاتو اجرأ اتو څخه د مراجعو خبرول .
- د وروسته پاتې والي او زیاتوالي د علت د ارزیابي کولو له لارې د بودیجې د ترتیب کوونکو مراجعو سره مرسته .
- د انکشا في بودیجې د نه اجراء کیدو د سببونو تثبیت .
- د عوایدود نه تحقق او تحصیل د سببونوتثبیت .

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د امکاناتو او حقایقو ( بودیجې عملي تحقق) په پام کې نیولو سره د راتلونکي کال دبودیجې دقیق ترتیب ته پاملرنه او په افاقي(خارجي) ډول د بودیجې له ترتیب څخه مخنیوی .
- د بعدي بودیجې د تحقق د احتمالي خطرونو کموالی.
- صلاحیت لرونکو مقاماتو ته د بودیجې د تحقق د څرنګوالي څخه د اطمینان ورکړاندې کول .
- په اجراأاتو کې د خلاؤ او نیمګړتیاؤ د رفع کولو لپاره د تدابیرو نیول .

**د باز رسی هدف او مرام**

❖ د منظوري اصل او بودیجوي بورډ له فیصلې څخه د اضافي غوښتنې نشتوالی .
❖ په بودیجوي تعدیلاتو کې د صلاحیت لرونکو مقاماتو دتعدیلاتو څخه عدم تجاوز .
❖ له احتیاطي بودیجې څخه په استفاده کې د جمهوري ریاست مقام څخه د حکم تر لاسه کول .
❖ د هیواد د مالي وضعې په اړه د تصامیمو دنیولو څرنګوالی .

**په افغانستان کې د دولت دقطعیه حساب تاریخچه**

څرنګه چې څرګنده ده ،د پیسو، شتمنۍ او حساب ورکونې پرته په بشري ژوند کې نظم امکان نلري بناءً دبشر په ټولنیز ژوند کې یې له لوموړیو څخه شتون درلود او د حسابي سیستمونو بنسټونو دنړۍ په ټولو هیوادونو کې خپله دبشپړتیا لړۍ یې تر سره کړې ده . په ګران افغانستان کې هم محاسبه په دولتي ارګانونو کې له پخوا وختونو څخه یې شتون درلود ،چې خپل انکشافي پړاوونه یې طی کړي دي . څرنګه چې د رقومو په نامه د محاسبې سیستم د ۱۲۹۵ هـ ش کال راپدې خوا په افغانستان کې په کار وړل کیده او ددې پر ځای بیا د ژیستون په نامه محاسبه د ۱۳۳۸ هـ ش کې کار ول کیده او دهغې نه وروسته ډبل انټري سیستم چه تر اوسه پورې په هغو ادارو کې کارول کیږي چه بودیجه مصرفوي . د محاسبې په ټولو سیستمونو کې باید په وروستیو کې د حساب توحید ترتیب شي ،د بیلګې په توګه د تصدۍ ګانو په محاسبه کې بیلانس او بودیجوي محاسبه کې د کالني حساب (عواید او مصارف)توحید چه د هغوی توازن د دولت د قطعیه حساب په نوم یادیږي ، ترتیب کیږي یعنې په حقیقت کې د دولت قطعیه حساب په یومالي کال کې د تحقق موندل شوو عواید اوتر سره شوو مصارفو مجموعه بیانوي ،چې د هغوی دمحاسبوي شکل ترتیب او نتیجه کیږي تقریباً دنړۍ په ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیوادونو کې یوډول دی . د ۱۳۰۹ تر ۱۳۱۲ هـ ش کالونو کې د افغانستان دوخت دولت چه د خپل دولتي نظام په بڼه او تشکیل کې یې د نړۍ د مډرن هیوادونو پیروي کوله د پارلمان ( شورا) او صدارت په ایجاد سره نور ادارات هم لکه د محاسباتو دتفتیش ریاست د لومړي ځل لپاره د وخت د صدراعظمی په چوکاټ کې تشکیل شوه او لومړنی رئیس یې ښاغلی غلام مجتبی خان " مستمندي" وټاکل شو چه د خپل وخت له ممتازو محاسبینو څخه ؤ .،څه وخت د مالیې وزیر ؤ، او زیات وخت یې د مالیې دمعین په حیث دنده ترسره کړیده او دمالیې وزارت له لوري چه کوم قطعیه حسابونه ترتیب کیدل د تفتیش ریاست د لوړ رتبه هیئات په واسطه بررسي کیدل اوتر ۱۳۵۸ هـ ل کال پورې په متواتر ډول قطعیه حسابونه بررسي شوي دي .او د هغه له بررسۍ څخه اطمینان حاصلیږي چه اټکل شوي عواید د قانون مطابق په وخت سره جمع اوري او د دولت خزانې ته تحویل شوي او مصارفو په معقوله لاره له ناوړه استفادې پرته صورت نیولی او د هغه له امله د ستونزو او پرابلومونو په اړه اصلاحي نظریات وړاندې کیږي . تاسې پوهیږی چې د دریو لسیزو جګړو دمادي او معنوي لحاظه دافغانستان لپاره زیان اړولی طبعاً د هغه ناوړه اغیزې یو د جنګ فرهنګ او بل د جنګ ورانۍ په ټولو اغیزه لرلې ده . څرنګه چه د مالیې وزارت له ۱۳۵۸ هـ ل کال وروسته یواځې یو ځل په ۱۳۶۵هـ ل یا ۱۳۶۹ هـ ل کال کې د دولت قطعیه حساب ترتیب کړی دی او نور تر ۱۳۸۱ هـ ل کال پورې د قطعیه حساب په ترتیب قادر نشو . دوروستیو کلونو د قطعیه حساب ترتیب په هیواد کې د وخت د نا مساعدو شرایطو په اساس نیمګړتیاوې او خلاګانې درلودې مثلاً د ۱۳۸۱ هـ ل او ۱۳۸۲هـ ل کالونو د دولت قطعیه حساب داسې ترتیب شوی ؤ، چې نظر دمالیې وزارت تشکیل ته ، د محاسباتو ریاست د دولت د قطعیه حساب د ترتیب مکلفیت درلود ، اما د خزاینو ریاست یواځې مخکې د عوایدو او محاسباتو د قطعیې له ترتیب څخه د عادي بودیجې د قطعیې په ترتیب پیل وکړ او د انکشافي بودیجې قطعیه حساب یې هیڅ ترتیب نکړ . د ۱۳۸۴هـ ل او ۱۳۸۵هـ ل کلونو قطیعه حسابونو وښودله چې دقطعیې حساب په ترتیب کې حسابي اصول اوموازین تر اوسه پورې هم لکه څرنګه چه اړینه ده ندي رعایت شوي او د هغه په ترتیب کې نیمګړتیاوې او کمۍ لیدل کیږي . د ۱۳۸٦ هـ ل کال په قطعیه کې دولت هم ددغې ادارې سپارښتنې په بشپړ ډول په پام کې ندي نیولې او د مالیې وزارت د مرتبې قطعیې د ځینو اداراتو له ارسالي قطعیو او ځینو د مالي ادارې له سیستم سره همغږي نه درلوده او اکثره بودیجوي اداراتو په ځانګړي ډول په ولایاتو کې د نوي مالي سیستم د کار له طریقې څخه بشپړه خبرتیا نلر له او همدانګه د کنترول او تفتیش اداره هم د جنګونو له امله متاثره شویده چه ددغې ادارې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارکوونکو د نه ستړي کیدونکو هڅو له امله چه د ۱۳۸۱ هـ ل کال د ثور (۵) تر نن ورځې د تفتیش او کنترول اداره چه ټول هغه څه چه لرل یې له لاسه ورکړي وو په یوه داسې ماډرنه اداره باندې بدله کړه چه فعلاً په نویو وسایلو وسایطو او تکنالوژۍ باندې مجهزه ده او هم یې هیواد په داخل او بهر کې د تفتیش د کادرونو د استخدام او تربیې په برخه کې د تفتیش ، اداري محاسبې ، کمپیوټر او انګلیسي ژبې کورسونو په ایجاد او کتابخانو جوړولو د تفتیش د فصلنامو د نشر په تاسیس ، دکلنیو درې کلنو پلانونو په ترتیب ، د راپور ورکونې نویو سیستمونو په ترویج د ASOSI-ECOSAI-INTOSAI سازمانونو او تفتیش نورو عامو اداراتو سره د اداري نږیوالو اړیکو پراختیا او ارتباط ، ترانسپورتي وسایلو تهیه او نورو اړینو مسایلو په شریکولو سره قطعیه حسابونه غني کیږي .

**د قطعیه حساب د تهیه کولو مراجع**

- د بودیجې مصرفوونکي او عوایدو تر لاسه کوونکي واحدونه ( بودیجوي واحدونه ) .
- مرکزي واحدونه (اولي ) .
- دویمي واحدونه ( مرکزي او محلی ).

د قطعیه حساب پلټونکې اداري او د هغوی دندې .

**مالیې وزارت**

د اړوندو سوابقو ( د تطبیقاتو د اجرأ) او بودیجوي واحدونو د وړاندې شوو مؤثقو راپورونو په لیدلو سره قطعیه حساب توحید اړین تطبیقات اجراء او هغه نهایي کوي .

**د کنترول او تفتیش اداري دفتر**

دکنترول اوتفتیش اداره د یوې عالي ادارې په حیث حساب اخیستل خپل رسالت یا دنده ګڼي تر څو د دولت د قطعیه حساب ، مالي او حسابي چارو د پلټنې په پایله کې د مالیې وزارت او بودیجوي واحدونو په اجرااتو کې نیمګړتیاوې او ستونزې تشخیص او څرګندې کړي او د هغوی په رفع کولو کې مشخص اصلاحي نظریات او لارښود وړاندې کړي او په مقابل کې له وزارتونو او هغو اداراتو څخه تمه لري چې د دولت له بودیجې څخه استفاده کوي تر څو هر څه زیات د مالي دسیپلین په تعیمم او انسجام کې او قوانینو او مقرراتو او د دغې ادارې د لارښونواو نظریاتو په پام کې نیولو د نیمګړتیاؤ په رفع او د کنټرولي سیستم (داخلي کنټرول)په پیاوړي کولو کې جدي پاملرنه وکړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دقطعیه حساب اجزأوې

**دمصارفو قطعیه :**

۱ – عادي بودیجه .

۲ – انکشافي بودیجه .

۳ – د احتیاط او بودیجې دموازنې اقلام .

۴ – مرکزي او ولایتي قطعیه .

**د عوایدو قطیه :**

۱ – د عادي او انکشافي بودیجې قطیعه .

۲ – مرکزي او محلي قطیعه .

**د تفتیش حدود**

نوموړی تفتیش دکال په تیریدو سره تعدیلاتو ، مالي حسابونو او AFMIS سیستم بانکي صورت حسابونو او قطعیه حساب او نورو تأید شؤو اسنادو تطبیق اومنظورې شوې بودیجې په پام کې نیولو سره د دولت د عمومي قطعیه حساب سره د بودیجوي واحدونو د قطعیه حساب په پلټنې او تطبیق پورې محدود دي .د عامه مصارفو او مالي چارو ادارې قانون مطابق ټول وجوهات(پیسې) د مرسته کوونکو هیوادونو او بنسټونو په شمول د عادي او انکشافي بودیجې په برخه کې د ملي بودیجې له لارې صورت نیسي د دولت د بودیجې او حسابدارۍ له لارې تنظیم او مدیریت کیږي ، لدې سره هم بهرنۍ بودیجه چه د مرسته کوونکو هیوادونو د مرستو یوه عمده برخه تشکیلوي د خزاینو د واحد حساب له لارې د اجرا وړ نه گرځي . څرنگه چه دولت پدې بودیجه کې د خیل نه دی او تصرف نه وربانديې لري پدې برخه کې د سکتور او اداراتو ترمنځ ددغې بودیجې د منابعو د تعین لپاره کوم معیاري چوکاټ شتون نلري نو د تفتیش عالي اداره نشي کولای چه د خارجي بودیجې د صورت حساب د شتوالي په صورت کې په هغه باندې نظر ورکړي ځکه ددغه ډول بودیجې په اړوند هیڅ ډول معلومات د دولت په قطعیه حساب کې نه وړاندې کیږي.

**حمایوی اسناد**

د قطعیه حساب په تفتیش کې هغه ډول اسناد پلټل کیږي چه قطعیه حساب د هغه په اساس باندې ترتیب شوی وي . او لاندې اسناد پکې شامل دي ، ملی بودیجه ، د بودیجې ضمیمه ، م ۲۷ او م ۲۹ فورمونه (د مرکزي او ولایتي عوایدو راپورونه ) م ۲۲ فورم ( ولایتي مصرف فورم) ت ۸ فورم (د مستوفیتونو او ولایاتو کې د مرکزي بانک د نماینده گیو تادیات راپورونه).

(c) ketabton.com: The Digital Library



دحساباتو بانکي بیلانس (۱۰۰ ٦۰۰ او ٦۰۰۱۰۲ ) د خزاینو عمومي ریاست او مرکزي بانک ډیبټ او کریډیټ صورت حساب د ( ب) ۲۳ او( ب) ۲۷ فورمونه ( بودیجوي تعدیلات او صادرې تخصیصات) ، د بودیجوي واحدونو د مصارفو قطعیه راپورونه د AFMIS په سیستم کې ثبت شوي ارقام او معلومات او نور هغه اسناد چه په قطعیه حساب کې درج شوي ارقام پیاوړي او حمایت کړي دغه اسناد د قطعیه حساب د حمایوي اسنادو په نامه یادیږي .

هغه اسناد چه د پلټنې د پایلو په راپور کې مندرج اسناد پیاوړي اوتقویه کړي د تفتیش د حمایوي اسنادو په نامه یادیږي .

## شفافیت

شفافیت په حسابي معلوماتو کې یو عمده اصل تشکیلوي . دمعاملاتو درست ، منظم ، سیستماتیک او په وخت سره ثبت ، اړوند مراجعو ته په معین وخت او زمان کې د حسابي راپورونو وړاندې کول په راپورونو کې د ټولو حسابي معاملاتو انعکاس ، د نادرستو څرګندونو څخه خالي او له هر ډول ابهاماتو څخه ځان ساتنه ، د ارقامو لیکل په عدد او تورو سره د مؤثرو او اغیزمنو کنترولي سیستمونو ایجاد، په اړونده فایلونو کې دحسابي اسنادو تنظیم او حسابي اسنادو د منظم فهرست موجودیت هغه موارد دي چه په حسابي چارو کې شفافیت رامنځته کوي .

هر ډول غلط حسابي ثبتونه ، د ارقامو نه مطابقت په حسابي فورمونو کې د ارقامو متفاوت ثبت، د حسابي فورمه جاتو منظورې شوې بودیجې ترمنځ د همغږۍ نشتوالی ، د AFMIS سیستم او قطیعه حساب، دحسابي اسنادو غیر منظم والی ، د اسنادو کمبود او یا په اړوندو فایلونو کې د اصلي اسنادو پرځای د فوټو کاپي ایښودل ، قلم خوردګي، رنګول او تراش او په ارقامو باندې د غلطۍ دوا څخه استفاده کول ، او نور د قطعیه حساب شفافیت متاثره کوي او تر سوال لاندې یې راولي او دقطعیه حساب په پلټنه کې د قبول وړ ندي .

## د تفتیش روش یا طریقه

د تفتیش عالي اداره ، خپله بازرسي یا پلټنه د هغومعیارونو په اساس ترسره کوي چه د تفتیش د عالي اداراتو(انتوسای) د نړیوال سازمان په واسطه رامنځته شوي دي . دغه معیار ته په پام سره تفتیش باید داسې پلانګذاري او تر اجرأ لاندې ونیول شي تر څو د اساسي اوعمده تیروتنو له شتوالي څخه او د دولت د مالي او حسابي صورت حسابونو له مناسبې ارایې څخه ډاډ تر لاسه شي . پدغه تفتیش کې د مالي صورت حسابونو او قطعیه حساب نورې اړونده حمایوي اسنادو او مدارکو پلټنه او ټولو حساباتو بشپړه ارزیابي شامله ده او همدارنګه پدغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تفتیش کې د پالیسۍ ګانو او رعایت شوو حسابدارۍ قواعدو ارزیابي او په ټوله کې د قطعیه حسابا‌تو وړاندې کول شامل دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لنډیز

قطعیه حساب د قبلي او بعدي تادیاتو په تفکیک د منظورېې شوې بودیجې په مقایسه د دولت د بودیجوي واحدونو دکلنیو مصارفو د اجرأ مکمل ثبت او کلنۍ پیش بینۍ په مقایسه د تحقق موندلو اوتحصیل شو وجوهو(پیسو) په پام کې نیولو سره د دولت دعوایدو بشپړ ثبت څرګندوي . د هیواد دمالي وضعې او بودیجې دعدم تطبیق اوتحقق له احتمالي خطرونو څخه د مخنیوي په موخه د څرګند او روښانه تصویر درلودلو په موخه د قطعیه حساب ترتیب او پلټنه اړینه او لازمي چاره ده له همدې امله قوانینو د هغه ترتیب او پلټنې لارښوونه کړیده د افغانستان اسلامی جمهوري دولت خپله بودیجه او قطعیه حساب تر دریو صورت حسابونو لاندې وړاندې کوي .

دغه صورت حسابونه دعادي بودیجې مصارفو قطیعه حساب ، انکشافي بودیجې مصارفو قطعیه حساب ، عوایدو له قطعیه حساب څخه عبارت دی .

د قطعیه حساب د ترتیب د طریقې چوکاټ یو په لاندې شکلونو سره اظهار نظر کوي چه عبارت دی له : موافق اظهار نظر ، مشروط موافق اظهار نظر ، په خاصو موضوعاتو باندې له ټینګار سره یوځای موافق اظهار نظر ، مخالف اظهار نظر او دمسؤولیت اظهار نظر . په ۱۳۰۹هـ ل تر ۱۳۱۲ هـ ل کلونو کې د افغانستان دوخت دولت چه دخپل دولتي نظام په شکل او تشکیل کې یې د نړۍ له مډرن هیوادونو څخه پیروي کوله . د پارلمان او صدارت په ایجاد سره نورې ادارې هم لکه د تفتیش او محاسباتو اداره د لومړي ځل لپاره د وخت د صدراعظمۍ په چوکاټ کې تشکیل شوي او هغه قطعیه حسابونه چه د مالیې وزارت له لوري ترتیبیدل د وخت د محاسباتو د تفتیش ریاست د عالي رتبه ( لوړ پوړي) هیأت په واسطه پلټل کیدل او تر ۱۳۵۸ کال پورې په متواتر ډول قطعیه حسابونه بررسي شول او د هغه له پلټنې څخه هدف د ډاډ حاصلول وو . له ۱۳۵۸ هـ ل کال څخه وروسته یواځې یو ځل په هـ ل ۱۳٦٥ یا ۱۳٦۹ هـ ل کال کې ددولت قطعیه حساب ترتیب شو او نور تر ۱۳۸۱ هـ ل کال پورې د قطعیه حساب په ترتیب باندې ندي قادر شوي . د وروستیو کلونو د قطعیه حساب ترتیب په هیواد کې د ځینو نا مساعدو شرایطو په اساس ځینې نیمګړتیاوې درلودې د بیلګې په ډول د ۱۳۸۱ هـ ل او ۱۳۸۲ هـ ل کلونو کې د دولت قطعیه حساب داسې ترتیب شوی ؤ چه نظر دمالیې وزارت تشکیل ته د محاسباتو ریاست د دولت د قطعیه حساب د ترتیب مکلفیت درلود.

اما د خزاینو ریاست په یواځیتوب سره مخکې د عوایدو او محاسباتو د قطعیې له ترتیب څخه د عادي بودیجې د قطعیې په ترتیب باندې پیل وکړ او انکشافي بودیجې قطعیه یې اصلاً ترتیب نکړه . د ۱۳۸۴ هـ ل او ۱۳۸۵ هـ ل کلونو قطیعه حسابونو وښودله چه د قطعیه حساب په ترتیب

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې اصول او موازين اوس هم په هغه شکل چه بايد وي ندي رعايت شوي او د هغه په ترتيب کې نيمگړتياوې او کمۍ شتون لري . د قطعيه حساب د پلټنې مراجع عبارت دي له : ماليې وزارت ، د کنترول او تفتيش ادارې دفتر، د قطعيه حساب په تفتيش کې هغه اسناد پلټنې ور گرځي چه قطعيه حساب د هغه په رؤيت سره ترتيب شوي وي په دغه اسنادو کې ملي بوديجه ، د بوديجې ضميمه م ۲۷ او م ۲۹ فورمونه شامل دي ، ت ۸ فورمونه ، م ۲۲ فورمونه د حزاينو عمومي رياست حباباتو بانکي بيلانس او د مرکزي بانک دبت يا کريډيټ صورت حساب (۶۰۰۱۰۰ او ۶۰۰۱۰ ) ب ۲۳ او ب ۲۷ فورمونه ( د بوديجوي تعديلات او صادرې تخصيصات )د بوديجوي واحدونو د مصارفو قطعيه راپورونه په AFMIS سيستم کې هغه ثبت شوي ارقام او معلومات چه په قطعيه حساب کې مندرج ارقام تقويه او حمايه کوي . دغه اسناد د قطعيه حساب د حمايوي اسنادو په نوم يادېږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library


## پوښتنې

۱ - قطعیه حساب تعریف کړئ ؟

۲ – د قطعیه حساب تهیه کول څه اهمیت لري ؟

۳ – د قطعیه حساب د تهیه کولو مکلفیت د کومو واحدونو دی ؟

۴ – دقطعیه حساب تهیه کولو په برخه کې بودیجوي واحدونه کوم مکلفیتونه لري ؟

۵ – د قطعیه حساب د تهیه کولو په برخه کې کوم دولونه د اظهار نظر شتون لري ؟

٦ – په افغانستان کې قطعیه حساب له څه وخت راپدیخوا تهیه کیږي .

۷ – د قطعیه حساب د تهیه کولو مراجع کومې دي .

۸ – د قطعیه حساب د پلټنې مراجع کومې دي ؟

۹ – د قطعیه حساب د اجزاوو نومونه واخلئ ؟

۱۰ – دقطعیه حساب د تهیه کولو لپاره حمایوي اسناد کوم دي ؟

۱۱ – د قطعیه حساب د تفتیش طریقه بیان کړئ ؟

## مأخذونه

۱ . اداره عالی تفتیش . ( ۱۳۹۱). گزارش اداره عالی تفتیش پیرامون حساب قطعیه سال ۱۳۹۱ دولت به مقام ریاست جمهوری ، شماره مسلسل ۱۰ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لسم څپرکی

# له مدیریت او حسابدارۍ سره د بودیجې اړیکې

بودیجه له مدیریت او حسابدارۍ سره تل په اړیکه کې وي چه دا څپرکۍ پدې برخه کې په تفصیل سره دغه اړیکې په جلا ډول مطالعه کوي .

## بودیجه او دولتي مدیریت

د دولتي مدیرانو له لیدلوري څخه بودیجه د طرحو د پراختیا او ایجاد اصلي وسایل دي . د طرحو د پراختیا لپاره د جلا برنامې جوړونې پروسې امکان تل شتون لري ، اما د ا ډول پروسه عالباً په مبهمو مطالبو باندې پرته له لومړیتوبونو څخه ټینګار کیږي ، بودیجه د دولت په وړاندیزونوپورې اړوندو معینو پولي مقادیرو بیانوونکې ده او دغه بودیجوي تصمیمونه د برنامې له اسنادو څخه په ډیره دقیقه توګه د دولت د طرحو انعکاس کوونکې دي . بودیجه بیانوي چې کومې برنامې باید فعالې وي تر تأکید او ټینګار لاندې نیسي یا محدودو منابعو ته په پام سره د دولت په لاسرسي کې نادیده ونیول شي ، په بودیجه کې د یوې جامع او تفصیلي طرحې ارایه کول په پام کې دي . د بودیجې د اعتبار د تأمین لپاره د وجوهو(پیسو) لاسته راوړلو لپاره د دولت په غوښتنو کې د طبقه بندۍ لپاره ګڼې لارې شتون لري . اما اکثریت دغه طبقه بندۍ ګانې د دندو کلي طرحه، برنامې او برنامه ریزي شوي فعالیتونه وړاندې کوي . برنامه ای او عملیاتي طبقه بندي د غوښتل شوو پیسو او دولتي فعالیتونو اړیکه په شفاف ډول بیانوي ؛ اما د مصرف د فصلونو طبقه بندي چه د هغه ټینګار په خاصو اقلامو باندې دی، چه باید د بودیجې له لارې خریداري شي هم د یو خبر لوستونکي لپاره د دولت د طرحه شوو فعالیتونو څخه یوه تفصیلي طرحه برابروي . د طرحې شوې برنامې بودیجه د تیرو تجربو په اساس د یو کال او راتلونکو اړتیاو لپاره ده .،حتی د صفر په اساس بودیجې لپاره هم معمولاً د تیرو تجربو څخه د هغو فعالیتونو دډول څرګندولو لپاره چه احتمالاً په وروستي کال کې قرار لري او د هغو لپاره بودیجه په پام کې ده استفاده کیږي . د بودیجې په ځینو مواردو کې د راتلوونکو اړتیاؤ بودیجه د راتلونکي کال لپاره چه په تیر او راتلونکې پورې اړوند اطلاعات د تصمیم نیوونکو لپاره د پام وړ اندازه ګټوره ده . تیر هغه ته دا خبرتیا ورکوي چه برنامه څه ترسره کولای شي او راتلونکي په جاري کال پورې اړوندو تصمیمونو اوږد مهاله خطر په ګوته کوي . په قطعي توګه ویلای شو چه بودیجه د دولت د اداري لپاره د وجوهو غوښتنه ده . همدارنګه بودیجه د وړاندیز شوو مصارفو متعادل کولو لپاره د عاید او اړتیا وړ مالي منابعو (لکه پور) بیانوونکې ده . څرنګه چه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوديجه اصلاح يا د تصويب ور شي ، د بوديجوي كال لپاره اجرايي ځانگه عملياتي بوديجې تنظيموي . يو د هغو تعريفونو څخه چه دمديريت لپاره ذکر شوی دادی : له مخکې څخه ټاکل شوو اهدافو ته د رسيدو په موخه د مادي ، مالي او انساني منابعو مؤثره او مثمره استفاده له مديريت څخه عبارت ده . له مادي منابعو څخه مؤثر او اغيزمنه استفاده د صنعتي مديريت د بحث موضوع ده د انساني منابعو درست په کار وړل د انساني منابعو د مديريت د مطالعې تر چتر لاندې قرار لري او بالاخره له مالي منابعو څخه درسته او مطلوبه استفاده د مالي مديريت د بحث موضوع تشکيلوي .په کلي ډول د سازمانونو له مالي منابعو څخه درسته استفاده د بوديجې هدف گڼلای شو او ددولتي بوديجې هدف عمومي اهدافو ته د رسيدلو لپاره د ټولنې د مالي امکاناتو او منابعو څخه مؤثره اومثمره استفاده گڼلای شو.

د تخصيص په برخه کې مؤثره استفاده د بوديجې شرط دی او اغيزمنه استفاده هغه وخت تحقق مومي چه د اعتباراتو مصرف د صرفه جويی ( سپما) په رعايت سره صورت نيسي . يعنې له حد اقل ( کمترينو) امکاناتو څخه حداکثر ( ډيره) استفاده .

**بوديجه او اداري نظام :**

بوديجه د اداري نظام د لوی ځنځير يوه کړۍ ده يا په بل عبارت بوديجه د اداري نظام د لويې منظومې له سپوږميو څخه يوه سپوږمۍ ده . که چيرې د هيواد اداري نظام د هغو دندو له مجموعې څخه عبارت وي چې دهيواد د عمومي چارو د مديريت او ادارې له لارې د يوه سلسله معينو اهدافو د تحقق په موخه دعمل او فعاليت ساحې ته داخل شي بوديجه يا بوديجوي نظام د هغو نظامونو يوه برخه ده ؛ ځکه د بوديجې جوړونې اصلاح هم يوازې د اداري نظام د اصلاح په چوکاټ کې ممکنه ده(۱:۵۳) .

## بوديجه او د مديريت پروسه

دمديريت پروسه يا د مدير دندې عبارت دي له : برنامه جوړونه ، سازماندهي، هماهنگي (همغږي)، هدايت اوکنترول . دغه عناصر يا دندې هره يوه د بوديجې د پروسې له عناصرو يا مراحلو سره تړلې گڼلای شو . د بوديجې پروسه عبارت ده له : سياست گذاري ، تهيه او تنظيم ، تصويب ، اجرأ اونظارت، د ذکر شوې پروسې پکار وړونکي اهداف، مديريت د دندو ترسره کول . په بل عبارت د بوديجې پروسه د مدير د لاس وسايل دي .،تر څو پدې وسيله سازمان ټاکلو اهدافو لوري ته بوزي .پدې اساس ويلای شو چې سياست کذاري ، دبوديجې تهيه ، تنظيم اوتصويب او دبرنامه ريزی(جوړنې ) اوسازماندهی لپاره وسايل دي ، او په بوديجه باندې نظارت د مديريت دکنترول وسايل دي (۵۵ : ۱ ) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بوديجه اوبرنامه ريزي

برنامه ريزي د مديريت لومړی دنده ده چه په هغې کې مقاصد -اهداف- کړنلارې او معيارونه په نظر کې نيول کيږي او د فعاليتونو لوری هم ټاکل کيږي . برنامه جوړونه عبارت ده له : د ملي اقتصاد دوضعيت طرحه کول ، د راتلونکو مالي منابعو اټکل او دبرنامې ( پروګرام) په اوږدو کې د مالي منابعو تخصيص پداسې طريقه چه له مخکې ټاکل شوي اهداف تر لاسه شي . په برنامه جوړونه کې عمومي او خصوصي برخې ته هر ډول پاملرنه په ملي اقتصاد کې له بنسټيزو مسايلو څخه ده په تيرو وختونو کې يې په سوسياليستي هيوادونو کې – " برنامه يي" اقتصاد لرونکو کې لدې امله ځانګړی اهميت درلود چه د توليد او ويش وسايل د دولت په واک کې وو او دولت اړؤ .چه د ټولنې د ټولو برخو لپاره برنامې جوړې کړي .

برنامه جوړونه په سرمايه داري هيوادونو کې چې د پانګوال نظام لرونکي دي نن ورځ د دولت د دندو په زياتيدو سره چه د اقتصاد يو مختلط شکل يې نيولی دی د ورځ تر بلې زياتيدونکي اهميت لرونکی دی . خونن ورځ ددريمې نړۍ هيوادونو برنامه يي اقتصاد منلی او په خپلو اداري تشکيلاتو کې د برنامه جوړونې واحدونه لري . دغه هيوادونه دملي اقتصاد په کنترول او ميلانونو په اټکل باندې باور لري او په هغو ټولو کې د برنامې ( پروګرام) سازمان ، د برنامې مرکز او يا د برنامې وزارت شتون لري(۵٦:۱)

## بوديجه او دبرنامې برخې

که چيرې برنامه د راتلونکي لپاره په هر ډول عملياتو مشتمله وګڼو، بايد ووايو چه برنامې توپير لرونکې برخې لري . هارولد کنتر ، هانس او ايريش برنامې په لاندې برخو طبقه بندي کړې دي:

۱ – رسالت اوماموريت .

۲ – هدفونه .

۳ ـ کړنلارې .

۴ – سياستونه.

۵ – د کار سرته رسولو طريقې .

٦ – مقررات اوقوانين .

۷- طرحې .

۸ – بوديجې .

بوديجې د برنامې هغه برخې دي چه د يوې ځانګړې زمانې دورې لپاره دتمه کيدونکي عايد او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصرف اندازه مشخصوي . په بل عبارت : بودیجه د اعدادو او ارقامو په چوکاټ کې مورد نظر پایلو مالي بڼه ده . په واقعیت کې د بودیجې جوړونې ښیګڼو څخه یوهم داده چه مدیران برنامه جوړونې ته هڅوي او څرنګه چه بودیجه د اعدادو اوارقامو په بڼه ده ، نو مدیران په برنامه جوړونه کې په دقت باندې اړولي ، ددې لید لوري څخه بودیجه د "دولت د برنامو" مصرف ګڼلای شو بودیجه هغه وسیله ده چه د هغې له لارې د مدیریت ټولې برنامې مطرح او یوې مقداري ( کمي) قاعدې په اساس ارزیابي کیږي . په واقعیت کې د راتلونکې برنامې دقیق تنظیم د دولت یا مؤسسې کړنې د یوې معینې دورې لپاره او بودیجوي کنترول په یو ( منل شوي چوکاټ) کې د عملیاتي برنامې د حفظ اوساتنې لپاره یوه وسیله ده . په یوه مؤسسه کې د بودیجې جوړونې نشتوالی فعالیتونه بې هدفه او مقصد نا معلوم ښیي .

په برنامه جوړونه کې درې اساسي عناصر شامل دي چه په لاندې ډول دي :

۱ – د موجوده وضعې بررسي ( چیرته یم ) ؟

۲ – د مطلوبې وضعې طرحه کول ( باید چیرته وم ) ؟

۳ – له موجوده وضعې څخه مطلوبې وضعې ته دحرکت لورى او څرنګوالى ( څرنګه غواړم چه هغه ځاى ته ورسیږم ) .

په هرو دریو ذکر شوو عناصرو کې د تحلیلونو او تجزیې اصلي محور د ټاکل شوو اهدافو د تحقق لپاره د منابعو او امکاناتو کیمیت او کیفیت دى .دې واقعیت ته په پام سره چه برنامه جوړونه راتلونکي ته کتنه ده او د هغې اساس پیشبیني تشکیلوي . مطلوبې وضعې (مقصد)ته هغه وخت رسیدلاى شو چه راتلونکي شرایط د کمي او دقیقو اطلاعاتو په اساس اټکل(پیش بیني ) شي او د برنامه جوړونې پروسه او عملیات په کمي مقیاسونو سره اندازه ګیري او بیان شي . کمي یا مقداري مقیاسونه کیداى شي چې فني او اجرأیي ځانګړتیاوې وي مقدار یا شمیر وي ، وخت وي او یا هم مصرف وي . ددغو پورتنیو عواملو له جملې څخه دبرنامو اقتصادیت او اهمیت په پام سره مهم عامل مصرف دى له پاتې عواملو او مالي بُعد څخه تر نورو بُعدونو ( اړخونو) مالي بعد مؤثر دى .

له بودیجه جوړونې څخه موخه د مالي پایلو اټکل دى چه په معینو زماني ابعادو کې د سازمان د برنامو، سیاستونو او عملیاتو له اجرأ څخه رامنځته کیږي . بودیجه په واقعیت کې د برنامو مالي او اعتباري تصویر دى ، پدې سربیره د هغې په طرحې او جوړښت کې نور اړین عناصر لکه دعملیاتو حجم فني مشخصات ، همدارنګه د وخت د ترتیب برنامه هم اټکل ، سنجش، تنظیم او منعکسوي ، بودیجه او برنامه یو له بل سره متقابلې اړیکې لري ؛ ځکه له یو اړخه برنامه

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړونه د بوديجوي اطلاعاتو څخه په استفادې سره شكل نيسي او له بله اړخه اهداف د بوديجې جوړونې او لنډ مهاله بوديجو اجرأ له لارې تحقق مومي . په ساده ډول پداسې حال كې چه بوديجه د برنامه جوړونې لپاره اړين اطلاعات برابروي په خپله د برنامې د اجرأ وسايل دي . لاندې موارد د داسې اړيكې شاهدي وركوي :

۱ – د بوديجوي واحدونو تلفيق ( تركيب كول) هم مؤسساتو په سازماندهۍ كې او هم د ټولنې په لوړه سطحه ( د مديريت او برنامه جوړونې سازمان ) .

۲ – د برناموي بوديجې په توګه د هيواد د مجموعي بوديجې تنظيم .

۳ – د منځ مهاله برنامو په چوكاټ كې د ملي توسعې د برنامو تدارك ( د بيلګې په ډول ، په ايران كې د پراختيا پنځه كلنه برنامه ) د برنامه جوړونې او مديريت سازمان په واسطه (۱ : ۵٦).

## بوديجه او اقتصادي برنامه جوړونه

په اقتصادي برنامه جوړونه كې د ملي اهدافو له تعين وروسته په پانګه اچونه كې مختلفې برخې څرګنديږي . په دغو برخو كې عمومي او خصوصي برخې شاملې دي په هغو پانګه اچونو كې د عمومي برخې سهم د هغو مخارجو په شكل دي چه د كالنۍ بوديجې په بڼه اټكل كيږي ؛ د بيلګې په توګه په مختلفو كالونو كې د ديوال جوړونې او سړک جوړولو لپاره د پيسو معين مقدارونه مشخص كيږي تر څو پدې وسيله برنامه د اجرأ پړاو ته داخله شي . پدې اساس بوديجه د معين وخت مثلاً ۵ يا ۷ كلونو لپاره د دولت مالي تصور دی .او بوديجه د يو كال لپاره وي . كالنۍ بوديجه بايد د برنامې مالي پراختيا او د هغې د اهدافو او همدارنګه د هيواد مالياتي او پور آخستنې ظرفيت ته په پام سره تعين شي . د بوديجې د نظر د خاوندانو له ليد لوري څخه بوديجه د دولت يو كلنه برنامه ده چه د ۵ كلنو منځ مهاله برنامو په چوكاټ كې وړاندې كيږي . هغوی د دوی دواړو ترمنځ همغږي د ملي اقتصاد د اړينو اصولو څخه ګڼي . په برنامه كې هر وړانديز شوی تغير بايد د بوديجې له لارې ترسره شي . پدې اساس بوديجوي برنامې ته اړينه انعطاف قبلونه وركوي بوديجه د دولت د برنامو او سياستونو د پراختيا له عمده وسايلو څخه ده په بل عبارت سره بوديجه د دولت د چارو د ادارې لپاره د منابعو او پولي وسايلو غوښتنه ده . نو بوديجه جوړونه او اړتيا وړ منابعو او مالي امكاناتو تخصيص د ټولو اقتصادي برنامه جوړونو د اجرأ ضامن دی .

پدې ترتيب سره اړينه ده تر څو په هره برنامه هغه كه لنډمهاله اوږدمهاله او يا منځ مهاله وي په ټاكل شوو وختونو كې د اړينو اعتباراتو تخصيص ته پام وشي . بوديجه جوړونه امكان لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه له بیلا بیلو اهدافو او مختلفو ډولونو په صورت کې تدوین شي ، لکه متداوله ( معموله) بودیجه جوړونه اوعملیاتي بودیجه جوړونه چې هره یوه ځانګړي اهداف تعیقیبوي او له فني لحاظه مختلف پراونه بشپړوي . په متداوله ( معمولي ) بودیجه کې د عوایدو منابع او د مصارفو ډولونه او یو کال لپاره مصارف تعینوي ، پرته لدې چه د هغې اړیکې او تړاو د اوږد مهاله اقتصادي طرحو او برنامو سره مشخص شي . په بودیجه کې د دولت اقتصادي اهدافو او سیاستونو ته پام کیږي او د هغوی په چوکاټ کې برنامه جوړیږي او د اړتیا وړ عواید او مصارف بررسي کوي .دغه ډول بودیجه جوړونه د هیواد اقتصادي پراختیا ته د رسیدلو او زیربنایي پانګه اچونو لپاره ډیره غوره وسیله ده د عملیاتي بودیجې له لید لوري څخه بودیجې ته د مدیریت د اجرا له لید څخه کتل کیږي او د کار د حجم په مقابل کې (( مصرف او ګټه )) د ( کار د حجم واحد په مقیاس) مطالعه کیږي او د اعتبار تخصیص صورت نیسي پداسې ډول چه د کار د حجم په مقابل کې اعتبار مشخص کیږي او په هغه باندې نظارت د عملیاتو د اجرأ د کیفي او مقداري معیارونو سره ترسره کیږي د برنامو عملیات ، برنامو کړنې د فعالیت او طرح په چوکاټ کې را څرګندیږي د موجوده ظرفیتونو فعالیتونه په ټولنه کې ساتي او ددولت د حاکمیت دپلي کولو عوامل برابروي ، له بله اړخه عمراني طرحې د ظرفیتونو د پروژې په چوکاټ کې د اساسي تعمیراتو له لارې کوي . موجوده ظرفیتونو ته پراختیا ورکوي او د اساسي تعمیراتو له لارې دظرفیتونو عمر زیاتوي یا د هغوی عمر تثبیتوي .

طرحې زمان بندي شوې برنامې لري یعنې له پیل څخه د وروستي پړاو پورې ټولو ته رسیږي پداسې حال کې چه فعالیتونه دوامدار حرکت لري او داجرأیي کار ځایونو د قانوني دندو په ډله کې شمیرل کیږي ( ۱ : ۵۸) .

## بودیجه او سیاست جوړونه

د بودیجو په اړه تصمیم نیونه د سیاسي چارو په اساس وي او تجزیه او تحلیل یواځې له دفاعي وسایلو څخه دی ، ځینې وخت سیاسي چارې غیر اخلاقي وي او ځینې وخت هم عقل اواخلاقي لید لوري حاکم کیږي . زیاتره هغه تصمیمات چه پیچلي او متضاد ارزښتونه په برکې نیسي په حد اقل تجزیه او تحلیل سره دملاتړ وړ ګرځي ځکه هغه داسې تصمیمونه دي چه باید ونیول شي ، لکه امنیتي مسایل هغه تجزیه او تحلیلونه چه په دولتي بودیجه جوړونه کې هغه ته پام کیږي یوازې هغه وخت د سیاسي لوبغاړو لپاره اهمیت لري چه هغه لوبغاړي نوموړي تحلیلونه په خپلو ارزیابۍ ګانو کې په کار یوسي ، آن تر دې کله چه نوموړي تحلیلو نه استفاده کیږي هم ، یوازې له دفاعي وسایلو څخه وي چه د نورو سیاسي لوبغاړو د تشویق او تحریک

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره په کار وړل کیږي . په ځینو ځایونو کې د ملي غرور په شان لاسته راوړنې کیدای شي چه له یو ماهرانه تحلیل څخه ډیرې مهمې وي ، په نورو ځایونو کې کیدای شي چه تحلیل د سیاسي لوبغاړو د تشویق لپاره کلیدي وسیله وي چه څه ډول باید یوې مهمې سیاسي موضوع ته رایه ورکړي .

بودیجې وړاندیز شوې طرحې دي . ځینې وختونه د یوې برنامې لپاره د بودیجې د ډول ارایه کول فرق کوي اما کله چه د برنامه سیاسي اړخ کمزوری وي د هغه لپاره د بودیجې دارایه کولو ډول توپیر نلري که ښه وړاندې شوې وي او که بده سیاسي اړخ د ماتې لامل کیږي او په هر حال ردیږي .

په ځینو ځایونو کې امکان لري چه د برنامې سیاسي اړخ دومره پیاوړي وي چه د بودیجې بد وړاندې کول هم برنامه له ماتې سره مخامخ نکړي زیاتره وړاندیز شوي طرحې یا د جمهور رئیس اجرایي بودیجې ددولتي سازمانونو په اقتصادي تصمیم نیونو کې مهم وسایل دي او د بودیجې د ارایه کولو کیفیت هم برنامې د مدیریتي د انعکاس کوونکي په حیث په پام کې نیول کیږي . په مختلفو هیوادونو کې نفوذ لرونکو سیاسي ډلو ته چې بودیجه جوړونه تر اغیزې لاندې راولي (سیاسي نفوذ لرونکي افراد) ویل کیږي . د پارلمان یو نفوذ لرونکی استازی یا یو اجرأیي سیاسي رئیس د یوې پروژې یا برنامې غوښتنه کولای شي . مهم د سیاسي لوبغاړي قدرت دی او د پروژې یا برنامې متناسب والی په وروسته درجه کې دی . په دولتي بودیجه جوړونه کې یو متخصص باید دا زده کړي چه اخلاقي یا قانوني ستونزه باید په منځ کې نه وي او څه ډول دا چاره وزغمي . دولتي بودیجه جوړونه د ورځې د سیاسي اهدافو په تړاو په داسې ډول په خلکو اغیزه کوي چه د هغوی په ګټه یا تاوان سره رایه ورکړي ددې پر بنا سیاست جوړوونکي غواړي چه وپوهیږي چې بودیجې څه ډول په هغه اهدافو پورې اړوندې کیږي . حیرانوونکي نه ده چه بودیجوي دلایل زیاتره د هغو اهدافو سره په تړاو په کار وړل کیږي ، یا لږ تر لږه مؤسسه اماده شي تر څو په برنامه اوحساسو سیاسي عناوینو پورې اړوندو پوښتنو ته ځواب ووایي . د بیلګې په ډول د رکود وخت کې چه زیات شمیر خلک بیکاره وي ، یوه مهمه دفاعي پروژه امکان لري چه لومړی د دندو په برابرولو او بیا د ملي امنیت په اساس توجیه شي.

انعکاسي بودیجه جوړونه ددلت له واقعي سیاست څخه ده ؛ ان تر دې چه د هغې انعکاس له خبرو او رسمي لیکنو تر انعکاس زیات دی داسې سیاست مداران باید وتاکل شي چه مقام او ځای ته لارسری وومومي . ځکه د دهغه د خبرو وضاحت امکان لري چه کار خراب کړي او بې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلیله د دښمنۍ پیدا کیدو سبب شي . همدارنګه سیاستونه غالباً په سختۍ سره په شفاهي توګه بیانیدای شي . پدې مانا نده چه ټول سیاستونه دې په بودیجه کې منعکس شي ځکه زیاتره مهم سیاسي مسایل مالي مفهوم نلري . همدارنګه باید ووایو چه ټولې بودیجې په څرګند ډول سیاست نه وړاندې کوي اما یو کار پوهـ کولای شي چه په هغه پیغام چه ددیوان لرونکو په وسیله عملي کیږي وپوهیږي . بودیجه جوړونه یوه حساسه او دقیقه چاره ده او زیات کار غواړي . کله چه سیاست جوړوونکي تصمیم ونیسي برنامه که په مالي ډول تأمین کړي او یا یې نکړي خلک په ژوره توګه تر تأثیر لاندې راولي او ژوند بدلیږي . د حیرانتیا خبره نده چه بودیجوي تصمیمونه د احساساتو د تحریک سبب کیږي ؛ ځکه دهغو تصمیمونو پایلې اوګټې ارزښتناکې او مهمې دي ، اود تفصیلي بودیجو په څنګ کې دي دبودیجې د کار کوونکي له لوري د ریاضي یوه غلطي ( تیروتنه ) یوه لویه تیروتنه ده ، ځکه داسې یوه تیروتنه ده چه هر کس هغه پیدا کولای شي . او د هغې په اړه نظر ورکوي او نیوکه ورباندې کوي . بودیجې معمولاً په سلګونو او زرګونو پاڼو کې لیکل کیږي او دغه پاڼې په جدولونو باندې زیاتوالی پیدا کوي . اطلاعاتو ددغه لوی حجم تیارول زیات کار غواړي . دضرب الاجل د پای نیټه او ساعتانه اضافه کار ته ډیره اړتیا لري ، په ځانګړي ډول که چیرې دغه ضرب الاجل مقننه قوې په وړاندیز کوونکي بودیجې په سپارلو پورې اړوند وي دیته اړتیا لري چه خپل ځان ټول د هغه لپاره وقف کړي .

د عمده سیاستونو او پالیسیو ټاکل د لوړو تصمیم نیوونکو مقاماتو په وسیله صورت نیسي تر څو ددولت ټول فعالیتونو او اقدامات د هغو سیاستونو او پالیسو په اساس اجرأ شي . سیاست بیانوونکي ده او بودیجه جوړونه د دولت د سیاست جوړونې د سیاست له مهمو وسایلو څخه شمیرل کیږي . سیاسي پروسه هغه طریقه ده چه دافرادو مطلوبیت هغه که متفاوت هم یوله بل سره نیږدې کوي او عملاً دغه چاره په بودیجه کې څرګندیږي ؛ د بیلګې په ډول د بودیجې لایحه د ټاکنیزو مبارزو په وخت کې وړاندې شوو پلانونو ته د جمهور رئیس د پابندۍ اندازه څرګندوي . د بیلګې په ډول د ټولنیز عدالت استقرار په هغو بسنتونو پورې تړلی دی ،چې د هغې له لارې شتمنۍ د عادلانه ویش ، فقر له منځه وړلو ، بیکارۍ اوتبعیض له منځه وړلو امکان وي . په هغه صورت کې چه دولت ددغو بنسټونو د استقرار لپاره د مجلس څخه اړین او لازم اعتبار او جواز واخلي . دا چاره په بودیجه کې په اړوند فصل کې څرګندیږي . او دا ټکی څرګندوي چه دولت پدې پړاو کې د خپل اجرائي اقدام پابند او خپلو برنامو ته په جدي ډول پام کوي او په وروستیو پړاوونو یعنې بودیجې په اجرأ کې هم د اعتباراتو او منابعو په مصرف سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددولت اراده څرگندوي . بودیجه د ستراتیژیک مدیریت مهمه وسیله ده چه دولت کولای شي له هغې څخه په متحولو شرایطو کې دخپلو برنامو د تحقق د گټې او مؤثریت په زیاتوالي او همدارنگه بحرانونو په کابو کولو کې استفاده وکړي . بودیجه په حقیقت کې ددولت کلنۍ پروگرام دی چه د لویو پالیسیو اومنځ مهاله اهدافو په چوکاټ کې تنظیم کیږي او په مختلفو سطحو کې ددولت مدیریت دنظارت او ارزیابۍ لپاره اود پارلمان دمهمو نظارتي وسایلو څخه شمیرل کیږي . دیته په پام سره چه د قوانینو وضع کول او د تصویب د مقننه قوې دنده ده او دقانون اجرا کول اجرایه قوې ته سپارل شوي دي باید ولیدل شي چه بودیجه د قانون یا د دولت د سیاست د یومهم سیاست په حیث د مقننه قوې په واسطه وضع کیږي او که د اجرائیه قوې ؟ په بل عبارت آیا سیاست او اداره یوله بل سره جلا دي که یو له بل سره تړلي دي ؟ په ځواب کې باید وویل شي چه اداري او سیاسي کارونه په ډیرو مواردو کې یو له بل سره تړلي دي چه دهغو جلا کول سخت کار دی . همدارنگه اداري او سیاسي لوړ مقامات د هیواد په اداري د ستگاؤ کې سره یو دي،داسې چه د وزیر مقام په عین حال کې د اداري مقام تر څنگ سیاسي مقام هم دی . دبودیجې په غوښتنو کې گڼ شمیر سلسله مراتب له اجرایي واحدونو څخه د اجرائیه قوې تر لوړې سطحې پورې بشپړوي او دلایحې په توگه مجلس ته وړاندې کیږي او تازه د بودیجې د لایحې دتصویب او د بودیجې په قانون باندې د هغه د تبدیل وروسته د سلسله مراتب له بشپړولو وروسته داجرأ لپاره واحدونو ته ابلاغ کیږي . باید وویل شي چه د بودیجې سند د هغه تصمیمونو راپور دی چه له اتباعو ، د دولت دبرخې د یوان لرونکو اواجرأ کوونکو سره په تعامل کې نیول کیږي . داسمه ده چه په نهایت کې د بودیجې قانون مقننه قوه وضع کوي خو د دغه قانون وضع د مقدماتو تهیه د دولت له لوري صورت نیسي . په بل عبارت د مقننه قوې د تصمیماتو تدارک عمدتاً د اجرائیه قوې له لارې صورت نیسي د بودیجې غوښتنې د اجرائیې واحدونو څخه پیل کیږي او پدې ترتیب سره د اجرائیې واحدونو هغه کار کوونکي چې د بودیجې غوښتنې تنظیموي د بودیجې د قانون په تشکیل کې ډیر مهم رول لري . او هغه غوښتنې چه پدې ردیف کې تنظیمیږي ، په لږ تغیر سره مجلس ته رسیږي په پارلمان کې هم له جزوي تغیراتو او تعدیلاتو سره په تصویب رسیږي ( ۱ : ٦٠) .

## بودیجه او سازماندهي

څرنگه چه ذکر شول د سازمان داهدافو په برنامه جوړونه کې او هغه اهدافو ته رسیدل مشخص کیږي . په بل عبارت په برنامه جوړونه کې مشخص کیږي چه کوم کارونه باید ترسره شي . د سازمان دهۍ په پړاو کې هم باید مشخص شي چه کوم کسان (کوم سازماني واحدونه ) باید

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم ترسره کړي او هر سازماني واحد بايد اهدافو ته په رسيدو کې څومره ونډه ولري . که چيرې په سازمان کې مالي يا اداري معاونيت ايجاد شي ، دا مانا لري چه دغه واحد د مؤسسې اهدافو ته د رسيدلو په خاطر د سازمان د ادارې او مالي چارو په برخه کې مرسته کوي . سازماندهي د افرادو او کاري ډلو تر منځ د کار د ويش او دندو اوفعاليتونو د طبقه بندۍ د پروسې په حيث او د هغوی ترمنځ د همغږۍ په حيث تعريف شويده د سازماندهۍ اصلي عناصر د کار ويش ، واک او مسؤوليت تمرکز او عدم تمرکز او سلسله مراتبو په شان چارې دي چه بوديجه په ټولو دغو عناصرو کې په يوه طريقه اغيزه کوي او له هغو سره اړيکه لري . د بيلګې په ډول لاندې عناصر ذکر کولای شو .

د اټکل شو عملياتو حجم او پر له پسې مصارفو په فصل کې د تصويب شوو اعتباراتو اندازه ، د سازمان اندازه ، د واحدونو شمير او سازماني مالي پستونو د زياتوالي او کموالي اړتيا ټاکي . ديوې طرحې يا فعاليت ايجاد خذف د انساني ځواک او هغه طرحې دسازماني پستونو يا فعاليت د کموالي يوه سطحه لکه د فصل، برنامې ، فعاليت او طرحې په شان چارې رامنځته کوي . چه هر يو د مناسب سازماني واحد په وسيله د اجرأ پړاو ته رسيږي . د مالي واک اندازه له لوړپوړو څخه ټيټ پوړو ته د واک سپارلو په اندازه عمده معيار او اصل دی . د ولايتي بوديجه جوړونې نظام د ولاياتو او تمرکز عمده ټاکونکی عامل دی . د بوديجې پروسه څرګندوي چه تر کومې اندازې پورې په تخصيص پورې اړوند تصميمات او په محلي سطحو کې د منابعو او لويت بندۍ کې ، او تر کومې اندازې پورې به مرکزي دولت کې نيول کيږي ( ۱ : ٦۴) .

## بوديجه او همغږي

همغږي هغه پروسه ده چه د هغې له لارې د مختلفو واحدونو اهداف او فعاليتونه د يو ډول والي تر څنګ يو ځای کيږي . تر څو د سازمان مجموعي اهداف په مطلوبه طريقه سره تامين شي . بوديجه د اجرائيي دستګا د فعاليتونو د همغږۍ لپاره اهدافو ته د رسيدو په موخه د دولت د فعاليتونو په لويه او کوچنۍ سطحه يوه مؤثره وسيله ده . څرنګه چه بوديجه ددولت د ټولو فعاليتونو لپاره تنظيميږي . سازماني سلسله مراتب په مختلفو طبقاتو کې د مصارفو د ارزيابۍ د مختلفو پړاوونو په لړ کې د دندو د تکرار او تداخل په شتون کې په مخ وړل کيږي . او دسازمان داخلي فعاليتونه او ددولت فعاليتونه همغږي کيږي .بوديجه د سازمان د مختلفو برخو له مديرانو سره مرسته کوي تر څو د خپلې واحدې رابطې په وسيله د تعامل له لارې د سازمان نورې برخې او ټول سازمان پيدا کړي (اړيکې پيدا کړي) . او همدارنګه مرسته کوي تر څو د اجرائيي دستګاؤ مديران هم د خپلې ادارې دستګا او اداري نظام اړيکه درک کړي . د عملياتو همغږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ځانګړي توګه پلاني بودیجې په تنظیم سره اسانه کیږي . پدې طبقه بندۍ کې د مشخصو دولتي دستګاؤ برنامې او موازي سازمان - هغه سازمانونه چې تر مختلفو نومونو لاندې یو ډول دنده سرته رسوي د دندو د تداخل یا تکراري مصرف په براوردونو کې تجدید نظر د مختلفو مراحلو په څنګ پرمخ ځي (۱ : ٦٦) .

## بودیجه او کنټرول

کنترول هغه پروسه ده چه په لړ کې یې واقعي کړنلارې له مقاصدو ، اهدافو سیاستونو او معیارونو سره تطبیق او مقایسه کیږي او د انحراف په صورت کې اصلاحي اقدام کیږي . مقاصد ، اهداف، سیاستونه او معیارونه د برنامه جوړونې په پړاو کې ټاکل کیږي . نو پدې اساس د کنترول موخه، هغه څه چې شته او هغه څه چه باید وي تر منځ مقایسه او دغه دواړو ترمنځ دمغایرت په صورت اصلاحي اقدام دی . په بل عبارت په کنترول کې ددې سوال په لټه کې یو چه آیا کارونه د برنامې مطابق پرمخ ځي ؟ څرنګه چه وویل شول بودیجه د برنامه جوړونې یوه برخه ده ؛ ځکه د بودیجې له تعریفونو څخه یو هم بودیجه د پولي ارقامو په چوکاټ کې د یو سازمان د برنامې وړاندې کول دي . په بل عبارت د یو سازمان بودیجه په مقداري ارایې سره یعنې په تفکیک سره د عملیاتو د مصرف په تعین سره اود معینو زماني چوکاټونو لپاره مشخص او معلومیږي ،چه کوم فعالیتونه باید ترسره شي ؛ پدې ترتیب سره د وروستیو اقداماتو لپاره داسې چوکاټ وړاندې کوي چې له هغه څخه پیروي د اجرأ کوونکو لپاره اړینه ده او مدیران د بودیجې په ټاکلو سره په ټولو فعالیتونو باندې خپل نظارت ترسره کوي . پدې سره بیره له بودیجې څخه د سازمان اهدافو ته د رسیدو لپاره د برنامو د توان اندازې او یا له اټکل شوې برنامې څخه انحراف د حدودو لپاره استفاده وکړو . د بودیجې عمده غوره والی دا دی چه د یوې مؤسسې د مختلفو فعالیتونو د همغږۍ سره د اندازه ګیرۍ د یو مشترک اساس په کار وړلو له لارې اوکنټرول کې مرسته کوي .

په کنټرول کې څلور لاندې پړاوونه شامل دي

۱ – له مخکې ټاکل شوو اهدافو ته په پام د معیارونو استقرار .

۲ – د کړنلارې اندازه ګیري .

۳ – د ټاکل شوو معیارونو سره د کړنلارې مقایسه اوانحرافاتو ارزیابي .

۴ – اصلاحي اقدامات . له معیارونو څخه موخه د دقیق او اندازه ګیرۍ وړ چوکاټ په داخل کې د اهدافو تفسیر دی . که چیرې کنترول ته د بودیجې د پروسې له لید لوري څخه وکتل شي نو ویلای شو چه مالي ، مالیاتي او په بودیجه کې تصویب شوي قوانین د بودیجې د کړنلارې

(c) ketabton.com: The Digital Library



معيارونه دي او واقعي يا اجرأ شوې بوديجه په مختلفو پړاوونو کې له دغو معيارونو سره ( تصويب شوې اوتخصيص شوې بوديجه ) د مقايسې وړ گرځي .د بوديجه جوړونې پروسه د کنټرول له طريقو سره هم د مقايسې وړ ده . د کنټرول روشونو دعملياتو د سرته رسولو د وخت له نظره په دريو برخو ويشلای شو :

۱ – مخکې له کړنلارې څخه کنټرول . لکه مخکې له پرواز څخه د الوتکې کنټرول .

۲ – دکړنو يا عملياتو په وخت کنټرول . لکه الوتکه د پرواز پر مهال کنټرولول يا موټر د چلولو په وخت کې کنټرولول .

۳ – وروسته له عملياتو کنټتول . لکه د محصول تر جوړيدو وروسته د هغه کيفيت کنټرول.

د بوديجې په کنترول کې هم د اقتصاد همدا ډولونه د کنترول صورت نيسي مخکې له مصرف کنترول د مصرف پر وخت کنترول او له مصرف وروسته کنترول د کنترول پورتني ذکر شوي ډولونه تصديقوي . په وزارتخانو او نورو اجرائيي دستگاؤ کې د وړاندې شوې بوديجې بررسي په سازمان کې مديريت او همدارنگه د بوديجې تصويب مخکې د عملياتو څخه د کنترول له ډول څخه دی . د اعتبار تأمين چه د بوديجې د مصرف له پړاوونو څخه دی د عملياتو پر مهال د کنترول لپاره يو مثال دی د بوديجې راپور چه وروسته دبوديجې له اجرأڅخه پارلمان ته وړاندې کيږي ورووسته د عملياتو څخه دکنترول ډول دی ( ۱ : ٦٧) .

## بوديجه او حسابداري

حسابداران د دقيقو معلوماتو د لاسته راوړلو په اهميت باندې ټينگار کوي بوديجه د حسابدارانو له نظره د مطلوب سياست بيانول دي او په واقعي مصارفو پورې اړونداطلاعات له بوديجې سره مقايسه کيږي . تر څو وکولای شو چه قضاوت وکړو چه آيا همغه لومړی سياست تعقيب شوی يا نه دحسابدارانو نظر په ځانگړي ډول د ارزيابي کوونکو له لوري د هغه د فعاليتونو د ارزيابي کولو څرنگوالی ټاکي . بوديجه له حسابدارۍ سره نيږدې اړيکه لري پداسې ډول چه ويلای شو چه نوموړي دواړه يو له بل سره تړلي دي . بوديجه د کار ځای ( دستگاه) راتلونکي اهداف او برنامه په پام کې نيسي . او د هغه د تحقق لپاره د اړتيا وړ اعتبارات اټکل کوي .دغه اټکل معمولاً د برنامې مصرف د فصلونو او د هغه د اجزاؤ په چوکاټ کې صورت نيسي ، ليکن په عمل کې بايد پداسې توگه تجديد شي چې حسابدار په مصارفو باندې دقيق کنترول ولري . ترسره شوي عمليات او د هغې پايلې د ارقامو او مالي راپورونو په بڼه استخراج کيږي او د بوديجې د واحدونو په واک کې قرار نيسي تر څو هم د عمل وړ کال کې د بوديجې د تغيراتو د لزوم او هم راتلونکي کال د اړتياؤ د براورد او د اټکل له لحاظه د استفادې وړ وگرځي . د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بودیجې تهیه او حسابدارۍ نظام په یو بل باندې متقابلې اغیزې لري ؛ پداسې ډول چه که چیرې د چارو لپاره کافي اعتبارات په پام کې نه وي نیول شوي د حسابدارۍ نظام له ګڼ شمیر ستونزو سره مخامخ کیږي او په همدې ترتیب که چیرې حسابداري ونشي کولای چه په وخت او اصولي ډول د حسابدارۍ دفاتر تهیه او مالي راپورونه استخراج کړي او د مسؤولینو په واک کې یې ورکړي نو د مالي دورې لپاره به د بودیجې اټکل ستونزمن وي او طبعاً د بودیجې کنترول او نظارت به هم امکان ونلري . کنترول د بودیجې په اجرأ کې د ټینګار وړ چارو څخه ډیره مهمه چاره ده ؛ ځکه د مقننې قوې او اجرائیه قوې مسؤولین دواړه پدې ټینګار کوي چه مؤسسات په بودیجه کې مقرر شوی سیاست تعقیب کړي . له مصرف څخه د پاتې نقدو پیسو څخه د درستې استفادې په برخه کې عمده اندیښنه د مالیاتو د لاسته راوړلو او پیسو د مصرف ترمنځ د وخت په اړه ده .کیدای شي نوموړې پیسې سرمایه ګذاري شي او د دولت لپاره اضافي عاید رامنځته کړي . د اجرائیي کار ځای ( دستګا) اطلاعاتو او عملیاتو ته لاسرسی او د مصرف شوؤ پیسو څرنګوالی د مقداري کمیتونو په اساس ایجادوي چه د کار حجم د هر واحد مصرف د حسابدارۍ د دستګا له نظام څخه استخراج او له کنترول او محدودیتونو څخه دوخت په هر ه برخه کې خبر ترلاسه شي . په هر پړاو کې د ترسره شوو عملیاتو په مقابل کې د مصرف شوو اعتباراتو له څرنګوالي څخه د خبرتیا لپاره او دبودیجې د اصلاح انعطاف په موخه لاندې چارې ترسره کیږي :

۱ – د بودیجې واحد تصویب شوې بودیجه د مصرف فصلونو او د هغو د اجزاؤ په اساس د هرې برنامې په چوکاټ کې د تفصیلي بودیجې په توګه د معاونتونو او اجرائیي واحدونو په څانګو یا ډولونو سره ځانګړې کیږي .

۲ – بودیجوي واحد په واک کې ورکوي ترڅو د بودیجې د تفصیل د اصل په اساس یې مصرف کړي .

۳ – د حسابدارۍ واحد ترسره شوي مصارف د هرې برنامې په چوکاټ کې او د مصرف د فصلونو او د هغوی د اجزأؤ په اساس په میاشتني ډول د بودیجې واحد ته راپور ورکوي او د مصرف میاشتنۍ کړنلاره او د هغې تعهدات چه نه وي پرداخت شوي د اعتبار د تخصیص په حد کې په جدولي ډول راپور ورکوي .

۴ – بودیجوي واحد د وصل شوو راپورونو په اساس نسبت برنامو او د مصرف فصلونو ته د انعطاف پذیرۍ د اصل په اساس اقدام کوي . د تصویب شوې او تخصیص شوې بودیجې(برنامې) سره د تفریغ شوې (عملي شوې) بودیجې مقا یسه کولو ته مالي نظارت ویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیږي .چې د دغې پروسې پایله د عملیاتواو فعالیتونو د اصلاح او تعدیل سبب کیږي او د هیواد اداري نظام او اجرائیي نظام د ټولنې د خیر ښېګنې په لور بیایي ( ۱ : ٦٨) .

## په بودیجه جوړونه کې له مرستو څخه استفاده

د مرستو په مټ کولای شو چه د لاسي کارونو حجم راکم کړو او د ستونزو حل لپاره ذهني او عقلي لارو ته مراجعه کوونکې هڅې زیاتې کړو. نن ورځ د مرستو تکنالوژي په سرعت سره د پرمختګ په حال کې ده .مؤثریت ،د ګتې زیاتوالی ،د احساساتو او ارتباطاتو د حالت کموالی، مرستندویه تکنالوژي نفوذ یې د بودیجې جوړونې په پروسه کې ورځ تر بلې زیاتوي . په اوس وخت کې بودیجوي اطلاعات په کمپیوټر کې ذخیره کیږي او د اړتیا په وخت کې په سرعت سره استخراج کیږي . څرنګه چه کالنۍ بودیجه دتیر په اساس براورد کیږي په تیرو کلونو پورې د اړوندو اطلاعاتو استخراج په اسانۍ سره په ډیر سرعت اهمیت پیدا کوي . د بیلګې په ډول ددغه علم کارول په مدیریت او دولتي برخه کې د اجرأ په اړه په عمراني طرحو باندې نظارت نوم اخیستلای شو . له کمپیوټر او مخکې جوړو شوو سیستمونو له استفادې پرته د لویو پروژو مدیریت تقریباً غیر ممکن دی .په پروژو باندې د نظارت لپاره د پروژو مدیران په منظمو دوراني راپورونو او کله هم غیر منظم د فوریت د اندازې په اساس هم لري د برنامه جوړونې سیستم د راپورونو زیات تهیه کول او بودیجې کنترول په سُنتي ډول او په همغه د اړتیا وړ وخت کې تقریباً امکان نلري ، ځکه د هر یوه راپور او اړتیا وړ اطلاعاتو برابرول د پروژې مدیریت دومره وخت نیسي چه ددغه وخت په بشپړولو کې سیستم ته نوي اطلاعات داخلیږي او په پایله کې د نیمه کاره راپورونو محتوا او درج شوي موضوعات بې اعتباره کوي او یا دا چه د پروژې مدیریت د مجبوریت له مخې د اړینو اطلاعاتو دنشتوالي له امله اړین تصمیم نیسي ؛ په پایله کې بیادې ډول راپورونو ته اړتیا نه لیدل کیږي ( ۱ : ۷۰) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لنډیز

د دولتي مدیرانو له لید لوري څخه بودیجه ددولتي طرحو او سیاستونو د پراختیا اصلي وسیله ده. بودیجه د دولت په ورانديز شوو فعالیتونو پورې اړوندو پولي مقادیرو بیانوونکي ده او دغه بودیجوي تصمیمات د دولت برنامو او سیاستونو انعکاس کوونکي ده البته د برنامه جوړونې له اسنادو څخه په دقیقه توګه . بودیجه د یو کال لپاره د تیرو تجربو او راتلونکو غوښتنو په اساس طراحې شوې برنامه ده . په قاطع ډول ویلای شو چه بودیجه د دولت د اداري لپاره د پیسو غوښتنه ده . له مخکې ټاکل شوو اهدافو ته د رسیدلو لپاره له مادي مالی او انساني منابعو څخه غوره او مؤثره استفاده له مدیریت څخه عبارت ده . په مجموعي ډول د بودیجې هدف د سازمانونو د مالي منابعو څخه درسته استفاده او دولتي بودیجې هدف عمومي اهدافو ته د رسیدلو لپاره د ټولنې د مالي امکاناتو او منابعو څخه غوره او مؤثره استفاده ګڼلای شو . د مدیریت پروسه یا د مدیریت دندې عبارت دي له : برنامه جوړونه ، سازماندهي ، همغږي ، هدایت او کنترول . له دغه دندو یا عناصرو څخه هریو د بودیجې په مراحلو یا عناصرو پورې اړوند ګڼلای شو . په بل عبارت د بودیجې پروسه د مدیر د لاس وسایل تر څو پدې وسیله سازمان مورد نظر اهدافو لوري ه بوزي . برنامه جوړونه د مدیر لومړی دنده ده برنامه جوړونه عبارت ده له : دملي اقتصاد د وضعیت طراحې کول ، د راتلونکو، د راتلونکو مالي میلانونو اټکل او د برنامې په اوږدو کې دمالي منابعو ځانګړي کول پداسې توګه چه له مخکې ټاکل شوي اهداف ترلاسه شي په ملي اقتصاد کې په برنامه جوړونه کې د خصوصي او عمومي بخش ترکیب ته هر ډول پاملرنه له بنسټیزو مسایلو څخه ده . بودیجې د برنامې هغه برخې دي چې دتمه کیدونکي عاید او مصرف اندازه د یوې ځانګړي مالي دورې لپاره مشخصوي . بودیجه هغه وسیله ده چه دمدیریت د ټولو برنامو له لارې مطرح کیږي او دیوې مقداري ضابطې په اساس ارزیابي کیږي . د مالي بودیجه جوړونې څخه موخه هغه مالي پایلې دي چه په معینو زماني اړخونو کې د سازمان د برنامو ، سیاستونو او عملیاتو څخه منځته راتلای شي . بودیجه او برنامه یو له بل سره متقابلې اړیکې لري : ځکه له یو اړخه برنامه جوړونه د بودیجوي اطلاعاتو څخه په استفادې شکل نیسي او له بله اړخه اهداف د بودیجه جوړونې او لنډ مهاله بودیجو د اجرأ له لارې صورت نسي . د ملي اهدافو له تعین وروسته په اقتصادي برنامه جوړونه کې په پانګه اچونه کې مختلفې برخې مشخصې کیږي. پدغه برخو کې خصوصي او عمومي برخې شاملې دي . پدغه پانګه اچونو کې د عمومي برخې ونډه د هغه مخارجو په بڼه وي چه په کلنۍ بودیجه کې اټکل شوي وي . د بودیجې دنظر خاوندانو له لیدلوري څخه بودیجه د دولت یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلنه برنامه ده او دولت سياستونه دي . په برنامه وي بوديجه کې ددولت سياستونو او اهدافو ته پام کيږي او د هغه په چوکاټ کې برنامه جوړيږي او د اړتيا ور مصارف او عايدات بررسي کوي . د بوديجو په اړوند تصميم نيونه د سياسي چارو په اساس وي او تجزيه او تحليل يواځې د دفاعي وسايلو يو ډول دی بوديجوي وړانديز شوی طرحې دي ځيني وختونه د بوديجې وړاندې کول د يوې برنامې لپاره توپير لري ؛ اما کله چه د برنامې سياسي اړخ کمزوری وي ، د بوديجې د وړاندې کولو ډول د هغه لپاره توپير نلري که ښه ارايه شي او يا بده سياسي اړخ د ماتې عامل کيږي او په هر صورت سره رد کيږي . دولتي بوديجه د وخت د شديدو سياسي اهدافو تر اغيزې لاندې ده . اهداف د وخت په تيريدو سره تغير کوي . بوديجه جوړونه ډير حساس او دقيق کار دی او زيات کارغواړي . کله چه سياست جوړوونکي تصميم ونيسي چه برنامه په مالي ډول تأمين کړي يا يې نکړي . خلک په ژوره توګه تر تاثير لاندې راځي او ژوندونه يې بدليږي . بوديجه ددولت د سياست بيانووکي ده او بوديجه جوړونه د دولت د سياست جوړونې نظام له وسايلو څخه ګڼل کيږي . بوديجه د ستراتيژيک مديريت له مهمو وسايلو څخه ده چه دولت کولای شي چه په متخولو شرايطو کې له هغه څخه د خپلو برنامو د تحقق او مؤثريت او مثمريت د زياتولو او همدارنګه مالي بحرانونو په کابو کولو کې استفاده وکړي . حسابداران د دقيقو مالی اطلاعاتو په ترلاسه کولو باندې ټينګار کوي ، د حسابدارانو په اند بوديجه د مطلوب سياست بيانول دي او په واقعي مصارفو پورې اړوند اطلاعات له بوديجې سره مقايسه کيږي تر څو وکولای شو چه قضاوت وکړو چه ايا هماغه لومړی سياست تعقيب شوی او که نه . د بوديجه تهيه او حسابدارۍ نظام يو پر بل متقابلې اغيزې لري . پداسې ډول چه که چيرې د چارو لپاره اړين اعتبارات په پام کې ونه نيول شي ، د حسابدارۍ نظام له ګڼ شمير ستونزو سره مخامخ کيږي . او په همدې ترتيب چه که چيرې د حسابدارۍ نظام ونشي کولای چه د حسابدارۍ دفترونه په موقع او اصولي ډول تهيه کړي او مالي راپورونه استخراج کړي او مسؤولينو ته يې وړاندې کړي د مالي دورې لپاره په بوديجې بيش بيني مشکله وي . او طبعاً بوديجوي کنترول او نظارت به هم تر سره نشي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پوښتنې

١ – دولتي مديران  د دولت بوديجې ته له کوم ليد لوري څخه ګوري ؟

٢ – بوديجه له دولتي مديريت سره څه اړيکه لري ؟

٣ – د مديريت پروسه يعنې څه ؟

۴ – بوديجه له پلان جوړونې سره څه اړيکه لري ؟

۵ – بوديجه د برنامې کومه برخه تشکيلوي ؟

٦ – په برنامه جوړونه کې کوم عناصر شامل دي ؟

٧ – له بوديجه جوړونې څخه موخه څه وه ؟

٨ – بوديجه له اقتصادي برنامه جوړونې سره څه ډول اړيکه لري ؟

٩ – بوديجه او سياست جوړونه يعنې څه ؟

١٠ – سازماندهي يعنې څه ؟

١١ – سازماندهي په بوديجه څه ډول اغيزې لري ؟

١٢ – په کنترول کې کوم پړاوونه شامل دی ؟

١٣ – د کنترول روشونه د فعاليتونو د ترسره کولو د وخت له مخې په کومو برخو ويشل شوي دي ؟

١۴ – بوديجه له حسابدارۍ سره څه ډول اړيکه لري ؟

## مأخذونه

١ . ابراهيمی نژاد ، دکتر مهدی ، فرجوند ، اسفنديار . (١٣٩١).اصول تهيه و تنظيم و کنترول بوديجه ، جلد دوم ، تهران .

٢ . عزيزی ، غلام رضأ . (١٣٩٠) . فرا ګرد تنظيم و کنترول بوديجه دولتی بر اساس نظام امار های مالی دولت ، تهران .

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library